پښتو

# خُطُبات

جلد سوم

## حقوق و آداب

مرتب

نامور مذہبی مُفکّر

مولانا مُفتی مُحمّد ایاز درانی حفظہ اللہ

ناشر

العلم پبلیکیشنز

عبدالغنی پلازہ محلّہ جنگی قصہ خوانی پشاور شہر

091-2580325 , 2590315

0333-4532836 , 0332-9241690

# فہرست مضامین (جلد سوم)


| نمبر شمار | عنوان | صفحه نمبر |
|---|---|---|
| 1 | د حقوق العباد اهميت | 1 |
| 2 | حقوق الله او حقوق العباد | 9 |
| 3 | اجتماعی حقوق | 16 |
| 4 | حقوق الوالدين | 22 |
| 5 | مسنون اداب خوراک | 30 |
| 6 | د خوراک مسنون طريقه او آداب | 37 |
| 7 | د اسلامی لباس مقدار او کفايت | 43 |
| 8 | په لباس کښی د جائز او ناجائز شرعی حيثيت | 51 |
| 9 | د لباس آداب (۱) | 56 |
| 10 | د لباس اداب (۲) | 62 |
| 11 | د صحت قدر (۱) | 70 |
| 12 | د صحت قدر (۲) | 77 |
| 13 | د صفائی احکام | 83 |
| 14 | سماجی طريقی او اصول | 89 |
| 15 | حجاب او حکايتی روايات | 98 |
| 16 | اداب بندگی (۱) | 104 |
| 17 | اداب بندگی (۲) | 114 |
| 18 | اداب بندگی (۳) | 120 |

| | | |
|---|---|---|
| 19 | اداب بندګی(٤) | 125 |
| 20 | اداب بندګی(٥) | 131 |
| 21 | اداب بندګی(٦) | 137 |
| 22 | اداب بندګی(٧) | 143 |
| 23 | د اولاد تربیت(١) | 149 |
| 24 | د اولاد تربیت(٢) | 155 |
| 25 | اخلاق او حیا | 160 |
| 26 | روحانی بیماریانی | 167 |
| 27 | عقلمند څوک | 175 |
| 28 | دکامیابی لارې | 182 |
| 29 | اصلاحی بیان | 189 |
| 30 | د نعمتونو مراقبه | 196 |
| 31 | صبر | 200 |
| 32 | خپل نفس متاؤکول | 208 |
| 33 | اسلام کښې د اخلاقو اهمیت او فضیلت | 214 |
| 34 | د اخلاقو بنیادونه | 220 |
| 35 | د محمد صلی الله علیه وسلم اخلاق | 225 |
| 36 | حسد | 231 |
| 37 | امانت | 239 |
| 38 | د وعدې پوره والې ( ایفائی عهد ) | 245 |

| | | |
|---|---|---|
| 39 | د ګناه نقصانات | 253 |
| 40 | د الله يره | 263 |
| 41 | مجاهده او د الله انعامات | 269 |
| 42 | په نيک کارونو کښې مسابقت | 276 |
| 43 | مجاهده نفس | 284 |
| 44 | د اخرت فکر | 290 |
| 45 | د نيکانو خلقو ملګرتيا | 295 |
| 46 | د نيا کښې د اعمالو سزا وجزا | 298 |
| 47 | د نبی صلی الله عليه وسلم نصيحتونه | 306 |
| 48 | د وسوسو بيان (۱) | 313 |
| 49 | د وسوسو بيان (۲) | 321 |
| 50 | د ګمراهی درې اسباب | 330 |
| 51 | د ګناهونو نقصانات | 339 |
| 52 | د کاميابی سفر او اسباب | 349 |
| 53 | د سفر اخرت تيارے | 354 |
| 54 | د اخرت په سفر کښې د توبې اهميت | 361 |
| 55 | مسنون اذکار | 366 |
| 56 | د ذکر او دعا اهميت | 371 |
| 57 | د سحر او ماښام دعا | 380 |
| 58 | زلزله او چاند ګرهن | 385 |
| 59 | استغفار | 391 |

| | | |
|---|---|---|
| 60 | كثرت ذكر | 399 |
| 61 | د فرائضو نه بعد د دعا ترغيب | 407 |
| 62 | فضيلت بسم اللّه | 415 |
| 63 | د كور نه د وتلو او داخليدو دعا | 422 |
| 64 | بيت الخلاء د د ننه كيدو او بهر كيدو دعا | 428 |
| 65 | د خوراك څكاك دعا | 434 |
| 66 | مسجد ته دَ د ننه كيدو او بهر كيدو دعا | 440 |
| 67 | د اودس دعاګانې | 446 |

# د حقوق العباد اهميّت

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ كَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَاءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَاءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِيْم ـ

﴿اِنَّ اللهَ يَأْ مُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الامٰنَاتِ اِلىٰ أَهْلِهَا وَاِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوْا بِالْعَدْلِ اِنَّ اللهَ نِعِمَّا يَعِظُكُمْ بِهٖ اِنّ اللهَ كَانَ سَمِيْعًا بَصِيْرًا﴾

(سورة النحل: ۵۸)

## انسان فطرتاً مدنی الطبع دے:

د قرآن پاك د سورة النساء يو ايت مباركه تلاوت شو، څنګه چې الله انسان پيدا کړے دے، د دې انسان سره پيدائشی، فطری، قدرتًا الله يو صفت ، يو خصلت پيدا کړے دے. هغه دا چې دا انسان الله مدنيِّ الطبع پيدا کړے دے، مدنی الطبع مطلب دا دے چې انسان د نورو انسانانو سره يو ځائے کيدل غواړی، ځان لره ژوند بغير د نورو انسانانو نه دا انسان نشي تيرولے د انسان فطرت دا دے چې د نورو انسانانو سره به تعلق ربط او مناسبت لری ځکه دا لفظ دَ انسان هم د (اُنس) نه مشتق دے د اُنس معنٰی ده محبت نو دا انسان به د بل انسان سره محبت لری او دغه بل انسان به د دې انسان سره تعلق لری اوکه چرته دا يواځې جدا شی نو که د ډير مال ،دولت،جائيداد خاوند شی نو بيا هم دې انسان ته به خپل ځان د قيد شوې جيهلې پشان ښکاری،بلکه دا د انسان د فطرت خلاف ده،

دغه وجه ده چې زمونږه دين اسلام يو عالمګير دين دے د هر انسان د فطرت لحاظ او خيال ته اسلام نظر کړے دے، بيا لکه څنګه چې دين اسلام د عقيدې بيان او وضاحت کړے دے ورسره د عباداتو بيان دين اسلام کړے دے نو د دې سره سره پوره په اهتمام سره دين اسلام د بل انسان سره ژوند کښې تعلق څنګه وی او دغه شان د بل انسان که هغه پلار دے، او که مور ده ، او که رور،خور ده اوکه ګاونډی يا ملګرے دے نو د دوی حقوق څه دی.

## د اسلام پنځه شعبې:

ځکه دين اسلام د پنځو خبرو نوم دے يو عقيده ده چې د انسان نظريه عقيده به څه وی دويم عبادات دی، چې انسان به د مونځ، روژې، حج زکوة، پابند وی، دريمه حصه معاملات دی، چې دا مسلمان به اغستل ، خرڅول، لين دين، تجارت په څه طريقه کار سره پوره کوی، څلورمه شعبه اخلاق دی. د مسلمان اخلاق به څه وی، پنځمه حصه معاشره د دين اسلام يوه اهمه شعبه ده، د دې نه يو انسان مسلمان انکار نشی کوے، لکه څنګه چې عقائد،عبادات ، د اسلام شعبې دی، دغه شان معاشره هم د دين اسلام شعبه ده، او اسلام د دې مکمل هدايات او تعليمات بيان کړی دی. خو افسوس او زمونږه بد نصيبی او بدقسمتی دا ده، چې معاشره زمونږه د مسلمانانو په نظر کښې د اسلام نه جدا، او د اسلام نه خارج څيز دے، چې د دې د اسلام سره څه تعلق نشته، ځکه زمونږه په ذهن کښې د دين تصّور دا دے، چې دا دين اسلام يو څو خبرې دی، څه خبرې د عقيدې دی او څه خبرې د عباداتو دی، بس دا مکمل دين دے، زمونږه په نظر کښې، حال دا دے چې دا د دين اسلام ناقص او نامکمل تصّور او تعريف دے.

## معاشره څه ته وئيلى كيږى:

او معاشره د دې نوم دے، چې د انسان به په انفرادى، اجتماعى ژوند كښې د نورو انسانانو سره تعلق په څه بنياد باندې وى كه دا انسان په كور كښې وى اوكه په بازار كښې وى اوكه په لاره كښې وى اوكه بل وطن كښې مسافر وى، نو د دغه نورو انسانانو سره به تعلق په څه طريقې سره وى، كه دغه نور انسانان د دهٔ ، عزيزان،رشته داران وى، اوكه د دهٔ دوستان وى، اوكه د دهٔ سره هم سفر وى، اوكه د دهٔ مور ،پلار،رونړه خويندې وى، نو د دوى ټولو سره تعلق او مناسبت د اسلام د طريقې مطابق لرل، دا دين اسلام دے.

په معاشره كښې ښه او بد ، دواړه قسمه انسانان موجود وى، نيك عمله،ښه انسان،چې خپل حق پيژنى او ورسره ورته د بل انسان حق هم معلوم وى، نورو انسانانو ته خير او فائده وركوى، او د دهٔ د شر او نقصان نه په هر وخت كښې نور خلقه محفوظ وى نو دا انسان د دين اسلام په نظر كښې د معاشري حق ادا كوؤنكے انسان دے. دغه د ټولې دنيا كوشش دے، كه هر ملك كښې قانون دان څه خلق وى نو هغوى دا كوشش كوى، چې په دې قوانينو كښې قوم ته نقصان او تكليف نه وى ځكه دا فطرتى خبره ده. او دين اسلام دې ته د حقوق العباد نوم وركړے دے.

## څلور جامع احاديث:

علمائے كرام وائى ، چې د نبى عليه السلام بے شماره، ډير زيات احاديث دى،او د دې ټولو احاديثو خلاصه، اونچوړ بيا په څلور احاديثو كښې راجمعه شوې دے. يو دا حديث دے.﴿إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ﴾ (بخارى) د عملونو دارومدار په نيت سره وى، مطلب د عمل بدله انسان ته د هغه د

نیت مطابق ورکولے شی. دویم دا حدیث دے ﴿إِنَّ الْحَلَالَ بَيِّنٌ وَالْحَرَامَ بَيِّنٌ﴾ (بخاری) نبی علیه السلام فرمائی، چې حلال او حرام واضحه دی، ښکاره دی په دې کښې د هیڅ چا شك شبه نه وی، چې آیا دا څیز حلال دے اوکه حرام دے؟ دریم حدیث ﴿لَايُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتّٰى يُحِبَّ لِأَخِيْهِ مَايُحِبُّ لِنَفْسِهِ﴾ (بخاری) کامل مومن هغه یو انسان نشی کیدے تر دې پورې چې د خپل رور د پاره هغه څه خوښ کړی چې کوم څیز دا انسان د خپل ځان د پاره خوښ او محبوب ګڼړی، او څنګه چې انسان د خپل ځان د فائدې په باره کښې سوچ فکر کوی ، دغه شان به دا انسان د بل مسلمان د خیر او فائدې سوچ فکر کوی، څلورم حدیث دا دے، نبی علیه السلام فرمائی ﴿مِنْ حُسْنِ إِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكُهُ مَالَا يَعْنِيْهِ﴾(ترمذی) د بنده د اسلام د حُسْن او ښائسته والی علامه دا ده چې فضول او بے فائدې کارونه به پریږدی، هغه کاورنه به نه کوی چې د هغې فائده ورته نه وی په دې څلورو احادیثو کښې د اول حدیث تعلق د عقیدې سره دے، د انسان د زړهٔ سره تعلق لری دویم حدیث د فطری هغه احکامو سره تعلق لری، چې انسان ته ورکښې د جائز او ناجائز تعلیم وی او د دریم حدیث تعلق د حقوق العباد سره دے، چې هغه څیز او کار د بل انسان د پاره خوښ او محبوب کړے شی، کوم څیز چې دې انسان ته بذات خود خوښ او محبوب وی، مطلب دا چې مسلمان به بل انسان ته ضرر او نقصان نه ورکوی، او فائده به ورته ورکوی چې د هغهٔ حق ادا شی څلورم حدیث هغه دا چې انسان فضول، عبث، اوبے فائدې کارونو نه لری شی نو د دې تعلق د انسان د اخلاقو سره دے. دا احادیث د ټول دین خلاصه اونچوړ دے، په دې کښې د حقوق العباد یعني د معاشرې ذکر هم شته دے، مطلب دا دے چې د

نبي علیه السلام په بےشماره احادیثو کښې څلورمه حصه احادیث د حقوق العباد په باره کښې دی.

## د آخرت درې رجسترې:

حدیث کښې راځی چې د قیامت په ورځ به د انسان سره درې رجسترې وی، درې د ریکارډ واله فائلونه به ورسره وی، او د دې سره به د الله په دربار کښې پیش کړے شی، لکه څنګه چې د دنیا په عدالت کښې انسان پیش کیدے شی، دغه شان به د الله په عدالت کښې انسان سره د خپل عمل نه پیش کړےشی یو فائل به هغه وی ، چې الله حکم کړے وی چې د دې په باره کښې هیڅ یو انسان ته هیڅ قسم د معافۍ ګنجائش نشته، مطلب که د انسان په دې رجسټر کښې جرم وی نو دا به ورته نه معاف کیږی او دَ دویم رجسټر په باره کښې به د الله حکم دا وی، چې زه د دې هیڅ پرواه نه لرم، که زما خوښه او مرضی وی. نو دا ګناهونه، جرمونه به زه دې انسان ته معاف کړمه اوکه زما خوښه او مرضی وی نو دې انسان ته به د دهٔ د ګناه سزا او عذاب ورکړمه او د دریم رجسټر په باره کښې به د الله حکم دا وی. چې زهٔ به د انسان سره د دې حساب کتاب اوکړمه، په اول رجسټر کښې معافی ځکه نشته چې په دغه رجسټر کښې به د انسان شرك، کفر، غلطه عقیده وی نو دا جرمونه الله په هیڅ یو صورت نه معاف کوی لکه الله فرمائی ﴿إِنَّ اللهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ﴾(سورۃ النساء:۱۱۶) الله شرك نه معاف کوی او د دې نه علاوه نور ګناهونه که الله ته خوښه شی نو دغه نور ګناهونه به الله دې انسان ته معاف کړی او په سورۃ مائده کښې الله رب العزت فرمائی

﴿اِنَّهُ مَنْ يُشْرِكْ بِاللهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَأْوَاهُ النَّارُ﴾ (مائده:۷۲) يقينًا شان دا دے، څوك چې د الله سره شرك كوى په دې انسان الله جنت حرام كړے دے او د دے انسان جهنم ځائے دے. دويم رجسټر چې كه دَ الله خوښه وى نو دغه انسان به معاف كړى اوكه الله ته خوښه نه وى نو دغه انسان ته به د ګناه سزا و عذاب وركړى. په دې رجسټر كښې به هغه ګناهونه وى، چې هغه د الله د حق سره تعلق لرى او په دريم رجسټر كښې چې الله د دغه رجسټر په باره كښې فرمائى چې د دې حساب، كتاب، سوال جواب ،به ضرورى وى نو په دغه رجسټر كښې به حقوق العباد وى ، د دې حقوق العباد په باره كښې به حساب كتاب ضرورى وى.

## د آخرت غريب انسان:

او په يو موقع نبى عليه السلام د صحابو نه تپوس كړے وو، چې آيا تاسو مفلس، غريب انسان پيژنئ؟ غريب انسان څوك دے؟ صحابو جواب وركړو، د الله پيغمبره مفلس او غريب هغه انسان دے چې مال دولت ورسره نه وى. نبى عليه السلام ورته اووئيل نا دا انسان مفلس ،غريب نه دے ځكه د دنيا يو څو ورځې غريبى وى بيا انسان مالداره شى او يا مړ شى نو خبره ختمه شى، حقيقى مفلس او د آخرت غريب هغه انسان دے چې د الله په دربار كښې پيش شى ډير نيك عملونه مونځونه ، حجونه، روژې، زكوٰتونه به ورسره وى د ډير اجرونو، ثوابونو خاوند به وى. خو دا نقصان به په دې انسان كښې وى چې دَ حقوق العباد خيال به ده په دنيا كښې نه وى ساتلے، نو د الله په دربار كښې به يو انسان راشى چې دهٔ ماته كنځلې كړې دى، بل انسان به راشى چې دهٔ زما سره ظلم زياتے كړے دے بل انسان به

راشی چې ده زما مال لوټ کړے وو، نور حقدار به راځی او په دې انسان باندې به د الله په دربار کښې شکایت کوی، الله به فرشتوو ته حکم اوکړی، چې دغه یو یو حقدار ته د دې انسان دا نیك عملونه ورکړۍ، نو فرشتې به د دے انسان یو یو نیك عمل دغه حقداروته ورکړی، تر دې پورې چې نیك عملونه به ختم شی او حقدار به نه وی ختم شوی، نور حقدار به باقی پاتې شوې وی، نو الله به بیا فرشتو ته حکم اوکړی چې د دې انسانانو حقدارانو دغه بد عملونه دې انسان ته ورکړۍ دغه بد عملونه به ورباندې بار کړے شی، الله به فیصله اوکړی چې اوس دغه انسان جهنم ته داخل کړۍ، د دې حدیث نه معلومه شوه چې د حقوق العباد خیال نه ساتلو د وجې نه د انسان نیك عملونه ضائع کیږی، او دې انسان ته د دغه نیك عملونو هیڅ فائده او خیر نه وی که یو طرف ته د حقوق العباد دومره اهمّیت او مقام دے نو بل طرف ته مونږه نفلی عبادات، ذکرونو فکرونو ته نظر لرو، خو د بندګانو د حقوقو هیڅ خیال او لحاظ نه کوو،په ذکر،اذکار او وظائفو، مونځونو . تهجدّونو باندې هغه انسان ته نجات او خلاصے نه ملاویږی، چې هغه د نورو انسانانو حقونه وهلې وی.

## تعظیم خالق او شفقت په مخلوق:

دغه وجه ده چې شیخ القرآن محمد طاهر رحمة الله علیه به فرمائیل چې د قرآن کریم خلاصه دوه خبرې دی یو تعظیم د خالق، د الله تعظیم دے، دویم د مخلوق حق دے، یو د الله عبادت، او تعظیم دے دویم دا چې د بندګانو، انسانانو حق ادا کړے شی خو خلقو څه اوکړل؟چې څنګه د الله حق ورنه ضائع شوے دے، نو دغه شان ورسره دَ بندګانو حقونه هم ضائع کړے شو ځکه الله فرمائی﴿ وَمَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِ﴾

دي خلقو د الله تعظيم هغه شان اونه کړو لکه څنګه چې د الله حق او تعظيم ضروری وو، او په قرآن کریم کښې ځائے په ځائے الله د خپل حق سره د بندګانو د حق بیان او ذکر کړے دے. الله فرمائی﴿ وَقَضٰى رَبُّكَ اَنْ لَا تَعْبُدُوْا اِلَّا اِيَّاهُ وَبِالْوَا الِدَيْنَ اِحْسَانًا﴾ (سورة بنی اسرائیل ۲۳) الله دا حکم کړے دے چې تاسو صرف د الله عبادت اوکړئ د الله سره په عبادت کښې هیڅ څوك شریك دار، حصه دار مۀ ګرځوئ او بیا ورپسې د حقوق العباد ذکر دے هغه دا چې د مور پلار سره ښیګړه نیکی او احسان اوکړئ د الله اول او بنیادی حق دا دے چې د الله توحید اُومنلے شی ، انسان خدا پرست او توحید پرست جوړ شی بیا د الله د حکم پابند شی چې د څه په باره کښې الله حکم کړے وی هغه اُومنی او د څه نه چې الله منع کړی وی د هغې نه بچ شی. زمونږه حالت دا دے چې مونږه اجتماعی طور سره د الله حق ضائع کوو که هغه په کور کښې وی اوکه هغه په بازار کښې وی اوکه هغه په معاشره ،مال تجارت کښې وی په هره موقع د الله حق ضائع کیږی او تباه کیږی او بل طرف ته د حقوق العباد دغه حالت دے،چې څوك ئے هیڅ پرواه نه لری.

والحمدلله رب العالمین

# حقوق الله او حقوق العباد

اَلْحَمْدُلِلّٰہِ کَفٰی وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِیَاءِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَاَصْحَابِہٖ الْاَتْقِیَاءِ اَمَّا بَعْدفَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّیْطَانِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِیْمِ۔

قُلْ تَعَالَوْا أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ أَنْ لَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلَاقٍ، نَحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ وَلَا تَقْرَبُوا الْقَوَا حِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللهُ إِلَّا بِالْحَقِّ ذٰلِكُمْ وَصّٰاكُمْ بِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ.(سورة انعام:۱۵۱)

## د الله او د مخلوق حق:

د سورة انعام يو آيت تلاوت شو، په دې ايت كښې الله لس خبرې ذكر كړي دى، څه خبرې د حقوق الله يعنې د الله د حق سره تعلق لرى او څه خبرې د حقوق العباد يعنې د بندګانو د حقونو سره تعلق لرى، او دا د قرآن د تعليماتو خلاصه او نچوړ هم دے. چې دا خلق به يو د الله حق ادا كوى دويم د بندګانو حق به ادا كوى ، د قرآن د نزول دا مقصد دے چې تعظيم خالق بيان كړے شى او شفقت على المخلوق بيان كړے شى، كوم انسان چې د الله حق ادا كړى او ورسره په مخلوق باندې شفقت اوكړى نو دا انسان كامل مسلمان دے، په دنيا كښې به ورته الله خوشحاله ژوند وركړى او په اخرت كښې به ورته الله جنت وركړى.

يو خبره دا ياد ساتل پكار دې چې دا دواړه حقونه جدا جدا نه دى دا دواړه حقونه د يو بل سره تړلے شوې دى او دا دواړه لازم او ملزوم دى، څنګه چې د الله حق پوره كول ضرورى دى دغه شان د بنده حق پوره كول ورسره هم ضرورى او لازم دے. ځكه د بنده حق پوره كول د

دي حکم او تاکید د الله د طرف نه او د نبی علیه السلام د طرف نه شوے دے نو د بنده حق ادا کول داسې عبادت دے لکه څنګه چې د الله حق پوره کول عبادت دے،او لکه څنګه چې مونځ روژه عبادت نیکی ده دغه شان د بنده حق ادا کول هم نیکی ده او نبی علیه السلام په یو حدیث کښې د دې شمار په نیك کارونو کښې کړے دے، لکه یو حدیث کښې راځی چې یو مسلمان د خپل رور سره په خوشحاله هیئت،روښانه مخ سره مخامخ او ملاؤ شی نو دا هم نیکی ده او یو حدیث کښې راځی چې تکلیف ده څیز د لارې نه لرې کول دا هم نیکی ده،

دا زمونږه د دې خلقو غلطی ده چې دا عقیده ساتی چې د الله حق ادا کولو سره د بنده حق معاف کیږی، دا غلطه خبره ده ځکه الله خپل حق کله کله یو بنده ته معاف کړی خو الله د بنده حق په هیڅ یو حالت کښې بنده ته نه معاف کوی، د دې بنده نه به د بنده د حق په باره کښې ضرور تپوس کیږی. لکه مخکښې حدیث بیان شوے وو؟ چې د قیامت په ورځ به د انسان سره درې رجسټرې وی.

## د الله حقوق:

د الله یو څو لوې لوې غټ حقوق دی، اوّل او بنیادی حق دا دے چې انسان د الله وحدانیّت اُومنی دا د الله لازم حق دے او دا حق الله هیڅ یو مخلوق ته نه دے معاف کړے که هغه بنده دے انسان دے که جنی او پیرے دے که پیغمبر دے اوکه اُمتی دے، نو دا حق الله نه معاف کوی.

دویم د الله حق دا دے چې انسان به فرض مونځ ادا کوی دریم که صاحب استطاعت ، صاحب نصاب وی نو زکوة به ادا کوی څلورم که روژه ور باندې فرض شوې وی نو روژه به نیسی پنځم که حج وربانديې فرض شوے وی، حج به ادا کړی، شپږم امر بالمعروف نهی عن المنکر، او د الله په لاره کښې به جهاد کوی، دا د الله حق دې.

## دبندګانو حقوق:

او د بندګانو حقوقو کښې څه هغه حقوق دی چې اجتماعی لحاظ سره د بندګانو په يو بل باندې لازم دی ، او څه هغه حقوق دی چې انفرادی لحاظ سره د بندګانو په يو بل باندې لازم دی په دې کښې اجتماعی حقوق لوې اهمّيت لری که د دې خيال او نه کړے شی نو معاشره ورسره خرابيږی، او عدل ،انصاف به ختم شی، ظلم او بربريّت ورسره زياتيږی، او عدم اطمينان او انتشار پيدا کيږی، لکه حديث کښې راځی نبی عليه السلام فرمائی : چې هم دا صدقه، اونيکی ده چې يو انسان د خپل ملګری دوست سره خوشحاله او روښانه تندی سره مخامخ او ملاؤ شی، د ابو ايّوب انصاری رضی الله عنه نه روايت دے، چې نبی عليه السلام يو ځل جنّت ته د تلو د پاره اعمال ذکر کړل، چې هغه څه اعمال دی چې انسان ورسره جنّت ته داخليږی اوّل عمل نبی عليه السلام دا خودلے دے، چې بنده د الله په داسې طريقه عبادت اوکړی چې هيڅ څوک په دې عبادت کښې د الله سره شريك نه کړی، او په سورة النحل کښې الله دې د پاره يو مثال ذکر کړے دے هغه دا چې زه تاسو ته دَ څناورو نه که يو طرف پکښې ته وينه ده او بل طرف ته ګندګی، خاشړه دی نو د دې په مينځ کښې ما تاسو ته خالص پے درکړې دی نه په دغه پيو کښې د وينې رنګ شته دے اونه پکښې د خاشړو بدبوئی او رنګ شته بلکه خالص او صفا دی دغه شان زما خالص او صفا عبادت اوکړی چې د شرك او ګندګۍ رنګ پکښې نه وی دويم د الله عبادت مونځ ادا کول دريم د مال زکوة ورکول، څلورم د رشته دارانو خپل خپلوانو سره حُسن سلوك او ښه اخلاق کول، نو دا په دې حديث کښې د بندګانو اجتماعی حق ذکر شوے دے. او لکه څنګه چې د دخول جنت د پاره توحيد، عبادت ضروری دے دغه شان د دخول جنت دپاره حسن اخلاق هم ضروری او لازم دی.

## د انسانانو سره محبت:

اجتماعی حقوق په احادیثو کښې ډېر ذکر شوی دی یو پکښې دا هم دے. چې مسلمان به د بل مسلمان سره مینه محبت کوی. محبت بنیادی حق دے، چې نفرت پکښې نه وی، او دا محبت یو داسې حق دے، که د یو انسان د بل انسان سره او د یو مسلمان د بل مسلمان سره محبت وی نو په دې سره د هغه ټول حقوق ادا کیدل آسان وی او څه مشکل ورته پکښې نه وی. نن د مسلمان د بل مسلمان سره محبّت نشته نو ځکه دغه حقوق ضائع کیږی دا وجه ده چې الله د صحابو صفت بیان کړے دے ﴿وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْ مَعَهٗ اَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ﴾. (سورة الفتح: ۲۹) د نبی علیه السلام صحابه د کافرو سره په دشمنۍ کښې ډېر سخت دی او دا هغه کافر مراد دی چې د دین اسلام د پاره رکاوټ وی او د دین اسلام نقصان او کمزوری غواړی او د صحابو په خپل مینځ کښې د مسلمانانو سره ډېر محبت لرونکی دی او قرآن کښې الله په بل ځائے کښې ذکر کړی دی ﴿فَاِنْ تَابُوْا وَاٰمَنُوْ﴾ که دې کافرانو توبه اوکړه او ورسره ایمان داره شو نو بیا ستاسو رونړه دی په دین اسلام کښې اګر که قام قبیله جدا ده رنګ نسل جدا دے، نور څه هیڅ قسم تعلق ورسره نشته خو د اسلام په بنیاد به د دې مسلمان رور وی.

## د اسلام رور ولی:

د صحابو په سیرت باندې که نظر اوکړے شی نو د یو طرف نه بلال رضی الله عنه د حبشې دے بل طرف ته صهیب رضی الله عنه د روم دے او بل طرف ته سلمان رضی الله عنه د فارس دے، رنګ، نسل ، زبان،

قام قبیله هر څه مختلف دی خو د اسلام مینه او محبّت دے چې د یو خپل رور به د بل رور سره دغه شان مینه او محبّت نه وی.

دویم حق دا دے چې د مسلمان نفس ، جان به د بل مسلمان د ضرر او تکلیف نه محفوظ او په امن کښې وی یو مسلمان ته به د بل مسلمان نه جانی تکلیف او ضرر نه وی، تر څو پورې چې انسان کافر وو او د اسلام په مقابله کښې وو نو اسلام د دهٔ وینه جائز کړې ده خو د کله نه چې اسلام کښې داخل شوے دے نو د کفر او د شرك د توبې نه بعد به د دې انسان وینه سالم، او محفوظ وی.

## د عرفې په ورځ خطاب:

دریم حق دا دے چې د یو مسلمان مال به د بل مسلمان نه محفوظ او په امن کښې وی، حدیث کښې راځی چې نبی علیه السلام د حجّة الوداع په موقع باندې یولاکه نه زیات صحابو ته دا خبره کړې وه چې دا کومه میاشت ده؟ او دا کوم ښار وطن دے او دا د څه ورځ ده؟ صحابو ورته د ډیر ادب د وجې نه جواب ورکړو چې الله او د الله رسول ښه پوهیږی، نبی علیه السلام بیا تپوس اوکړو، چې ولے تاسو ته معلومات نشته چې دا د مکی ښار دے، او دا د ذالحجة میاشت ده، او دا د عرفې ورځ ده، بیا نبی علیه السلام او فرمائیل لکه څنګه چې دا میاشت محترمه میاشت ده او دا ښار عزتمند ښار دے او دا ورځ د عزّت واله ورځ ده نو بلکل دغه شان په یو مسلمان باندې د بل مسلمان مال، جان او نفس حرام دے لکه څنګه چې په دې میاشت ،ښار، او ورځ باندې ګناه حرامه ده، او د یو مسلمان وینه په بل مسلمان باندې حرامه ده دغه شان د یو

مسلمان مال به په بل مسلمان باندې حرام وی د بل مسلمان د مال او جان حفاظت ورباندې داسې لازم دے لکه څنګه چې ورباندې د خپل جان او مال حفاظت لازم دے بیا نبی علیه السلام اوفرمائیل اے صحابو تاسو ته ما د الله د دین پیغام درکړو؟ صحابو جواب ورکړو د الله پیغمبره تا د الله د دین پوره حق ادا کړو نو نبی علیه السلام ورته اوئیل چې دا حاضر خلقه دې د الله دا دین غیر حاضر، غائب خلقوته اورسوی۔

بیا نبی علیه السلام دوباره د حقوق العباد په باره کښې یوه تاریخی خبره اوکړه اے خلقو زما نه بعد کافر نشئ، هسې نه چې یو مسلمان د بل مسلمان نه سرکټ کړی او هغه قتل کړی نو دا کار کفر دے، ځکه دا کار د مسلمان شان نه دے دا د کافر کار دے .

## د انسان د مال حرمت:

او د مال په باره کښې یو حدیث کښې راځی ﴿لَا یَحِلُّ مَالُ امْرِءٍ إِلَّا بِطِیْبِ نَفْسٍ مِنْهُ﴾ (مسند احمد) د یو مسلمان مال په مسلمان باندې حرام دے هاں که هغه ورته د خپل زړۀ په خوشحالئ او رضا مندئ سره ورکړے وی نو بیا جائز دے۔

مشهوره واقعه ده چې کله نبی علیه السلام د هجرت اراده کړې وه نو ابوبکر صدیق رضی الله عنه د دې هجرت د سفر د پاره دوه اوښې اغستې وی، کله چې د الله د طرف نه د هجرت د پاره حکم اوکړے شو نو ابوبکر رضی الله عنه دغه اوښه نبی علیه السلام ته پیش کره، نبی علیه السلام ورته انکار اوکړو چې زۀ به درته اول د دې اوښې قیمت درکړمه، ابوبکر رضی الله عنه اصرار اوکړو چې اے د الله پیغمبره دا اوښه ما ستا د پاره اغستې وه نو نبی علیه السلام هغه وخت رضا شو چې کله ئې ابوبکر صدیق رضی الله

عنه ته د هغهٔ د اوښې قيمت ورکړو، دا مطلب نه دے چې يو انسان به د بل انسان نه تحفه نه اخلی ، نا دا مطلب دے چې اُمّت ته تعليم ورکړے شی چې د حقوق العباد دومره زيات اهميّت او مقام او مرتبه ده.

## د بل انسان د مال حفاظت:

او کله چې نبی عليه السلام مدينې ته هجرت اوکړو او د مسجد نبوی د پاره ځائے خوښ کړے شو، نو دغه د مسجد نبوی زمکه د دوؤ يتيمانانو وه، نبی عليه السلام ته هغوی اووئيل چې دا زمکه مونږه په خپله خوښه د مسجد د پاره درکړې ده نو نبی عليه السلام انکار اوکړو او نبی عليه السلام ورته دغه قيمت ادا کړو د ابوبکر صديق رضی الله عنه د مال نه ئې ورته ورکړو، دا د مسلمان حقوق دی خو نن صبا نهٔ د مال حفاظت شته اونهٔ د جان حفاظت شته دے، دا ورته گناه نه ښکاری د بل انسان مال ورته خپل مال ښکاری سره د مونځ او د عبادت نه د بل د مال هيڅ پرواه نه لری.

څلورم حق دا دے چې يو مسلمان به د بل مسلمان سره د تکليف، غم، اوپريشانۍ په وخت کښې مدد کوی، حديث کښې راځی چې الله به د قيامت په ورځ دا اعلان اوکړی اے بنی ادم زما د خوراك ، څکاك ضرورت وو هغه تا ماته نه دے راکړے زهٔ بيمار شوے ووم تا زما تپوس نه دے کړے؟ دغه بنده به جواب ورکړی چې اے الله ستا لوې شان دے ، تاته د اُوبو، خوراك ، څکاك ضرورت نشته الله به ورته وائي چې اے بنده زما دا ضرورت زما د بنده ضرورت دَ دينه مراد دے ځکه دغه بيماری،لوګه، تنده، ورباندې ما راوستې وه لکه څنګه چې ما تاته مال درکړے وو ، ستا سره د مال دولت کېږې وس وو خو تا د هغه خيال نه دے ساتلے، نو دا د انسانانو حقوق دے. والحمدلله رب العالمين

# اجتماعی حقوق

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ كَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَاءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَاءِ اَمَّا بَعْدُ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

وقال رسول الله: حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ خَمْسٌ، رَدُّ السَّلَامِ وَعِيَادَةِ الْمَرِيْضِ وَاِتِّبَاعُ الْجَنَائِزِ وَاِجَابَةُ الدَّعْوَةِ وَتَشْمِيْتُ الْعَاطِسِ.

(رواه احمد الطيالسي)

## د حقوق الله او حقوق العباد خلاصه:

د مخکښې جمعې نه د حقوق العباد په باره کښې خبره شروع وه، په دې کښې څه حقوق اجتماعی حقوق دی، ځکه د دین اسلام خلاصه دا وه چې تعظیم د خالق او شفقت علی المخلوق دا دوه خبرې د دین اسلام خلاصه ده، بیا دا خبره په تفصیل سره ذکر شوې وه چې انسان کوم ذات ، پیدا کړے دے دغه ذات په ذات ، صفات ، افعالو کښې تنها اویکتا اوګڼړې او هغه سره په ذات ،صفات، افعالو کښې هیڅ څوك شریك حصه دار جوړ نه کړې او دَ بندګانو حق پوره ورکړے شی دا د قرآن پیغام او د قرآن د نزول مقصد هم دے مخکښې نور څه اجتماعی حقوق ذکر شوی وو.

په دغه حقوقو کښې یو حق دا هم دے که یو انسان نه غلطی خطا صادره شی نو هغه معاف کړے شی، عفو او درګزر ورته اوکړے شی او په قرآن کښې الله د مومنانو په نیك اوښه صفتونو کښې یو دا صفت هم ذکر کړۓ دے ﴿وَالْعَافِيْنَ عَنِ النَّاسِ﴾ او خلقو ته معافی عفو و درګزر کوؤنکی خلق نیك خلق دی.

## د خدمت خلق جذبه:

او يو حق دا هم دے د مسلمان او د انسان دا حق دے چې خدمت خلق به کوی،ځکه د خدمت خلق په اسلام کښې لوې مقام او مرتبه ده او دا په اجتماعی ذمه داريانو کښې يوه ذمه داری ده مطلب هر انسان به د بل انسان د خپل وس استطاعت او طاقت مطابق خدمت کوی، خدمت خلق دا دے چې په کوم کار کښې بل انسان ته فائده او نفع وی، او په اسلام کښې دا خدمت خلق په يو قوم يو فرقې يو خاص مذهب والو پورې خاص نه دے ، او په اسلام کښې د دې نه وسيع او فراخه مفهوم دے د خدمت خلق د پاره ځکه د انسان خدمت څه کړې که د ځناورو حيواناتو خدمت اوکړے شی نو دا هم په خدمت خلق کښې شامل دی، او قرآن پاك کښې الله د دې خبرو د تکميل د پاره نازل کړے دے يو دا چې الله رب العزت په عبادت سره راضی کړے شي دويم دا چې محمد رسول الله صلی الله عليه واله وسلم په اطاعت سره راضی کړے شی دريم دا چې عام مخلوقات په خدمت سره خوشحاله کړے شی.

او د خدمت خلق دومره لوې مقام دے چې نبی عليه السلام يو وړوکې کار ته ثواب ، نيکی او صدقه وئيله ده، نبی عليه السلام د نيکۍ او ثواب کارونه ذکر کړل چې په هر مسلمان باندې د صبا سحرکيدو سره صدقه لازم وی بلکه د انسان په هر اندام باندې صدقه واجب ده، صحابو عرض اوکړو اے د الله پيغمبره يو غريب بے وسه انسان به دا صدقه څنګه ادا کړی؟ نبی عليه السلام جواب ورکړو چې د مسلمان سره په خوشحاله مخ سره مخامخ کيدل صدقه ده هر سبحان الله، الحمدلله ، الله اکبر وئيل صدقه ده او د لارې نه ضرری څيز لرې کول هم صدقه ده.اوکه يو انسان سحر دوه رکعته ادا کړی نو دا دوه رکعته د دې ټولو اندامونو شکريه او

کفاره ګرځی. څومره چې د خدمت خلق لوې مقام وو او د اسلام اهمه شعبه وه، نن مسلمان د خدمت هيڅ جذبه او پرواه نه لری، تر دې پورې چې د کافرو ملکونه نن په دې شعبه کښې دلچسپي اخلی او د مسلمان چې دا څومره امتيازی شان او خصوصيّت دے دومره مسلمان د دې نه لری دے.

## د اسلام په تعارف پيش کولو کښې دَ خدمت خلق ذکر:

او د جعفر طيار رضی الله عنه نه چې کله نجاشی بادشاه تپوس کړے وو چې دا پيغمبر تاسو ته د څه تعليم درکوی نو جعفرطيّار جواب ورکړے وو چې مونږه يو داسې قوم واله وو چې د شرك او د کفر په تيارو ډوب شوې وو نبی عليه السلام تشريف راؤړو او د اسلام او توحيد رنړا ته هغه مونږه راباهر کړو او مونږه ته هغه د مظلوم او يتيم او د کنډو زنانو سره د مدد او نصرت تعليم راکړے وو او نبی عليه السلام د خدمت خلق تعليم راکړے دے نو دا د اسلام په تعارف کښې جعفر طيّار رضی الله عنه پيش کړے دے چې مسلمان به خدمت خلق کښې پوره پوره حصه دار وی، دا د دين اسلام امتيازی شان، او خصوصيّت وو او د خلفائے راشيدينو د ژوند او خلافت مقصد هم دا وو، خو افسوس دا دے چې نن په دې ميدان کښې غير مسلمه، خاص کر عيسائيت مخکښې مخکښې په نظر راځی او د هغوی مقصد صرف دا دے چې د عيسائيت پرچار په دې خدمت خلق لباس او جامه کښې اوکړے شی او خاص د مسلم غريب ممالك کښې د عيسائيت د ترويج د پاره دا اصلاحی او فلاحی کارونه په ډير زور شور سره کوی د دې د پاره چې د غريب مسلمانانو ايمان او عقيده

په دې سره واغستلے شي، نو خبره دا وه چې خدمت خلق د مسلمان په اجتماعی ذمه داریانو کښې پنځمه اجتماعی ذمه داری وه.

## سلام او د سلام جواب:

بل د مسلمان په بل مسلمان باندې سلام اچول او ورسره د سلام جواب ورکول، دا صرف د مسلمان حق دے، په دې کښې غير مسلم شامل نه دے، لکه حديث کښې راځی ﴿حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ خَمْسٌ﴾ د مسلمان په بل مسلمان پنځه حقونه دی يو دا دے ﴿رَدُّ السَّلَامِ﴾(بخاری) د سلام جواب ورکول دا د مسلمان يو حق دے، او عبد الله بن سلام رضی الله عنه وائی چې کله زهٔ مدينې منّورې ته د نبی عليه السلام زيارت د پاره راغلم نوما چې د نبی عليه السلام مخ اوليدو نو د هغه مخ د دروغژن سړی مخ نه وو او اوّله خبره ما د نبی عليه السلام نه دا اوريدلې وه چې اے خلقو﴿أَفْشُوا السَّلَامَ﴾ په يو بل باندې سلام کوئ سلام خور کړئ ﴿وَأَطْعِمُوا الطَّعَامَ﴾(ترمذی) په يو بل باندې طعام اوخوراك کوئ،﴿وَصَلُّوا بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ﴾ د شپې په وخت کښې مونځ ادا کړئ چې خلقه اودهٔ وی، نو دا دوه خبرې د حقوق العباد سره تعلق لری او دريمه خبره بيا د الله د حق سره تعلق لری ، ځکه مدينه اسلامی رياست او حکومت دپاره مرکز وو نو دا به په دې صورت کښې کامياب وی چې د حقوق العباد سره پکښې حقوق الله هم ادا کړے شی ، او په سلام سره د مسلمانانو په مينځ کښې تعلق او ربط پيدا کيږی او دا د اسلام مقصد دے چې د يو مسلمان به د بل مسلمان سره مينه محبت، تعلق او مناسبت وی، او د

سلام نه بعد به بل مسلمان د سلام جواب ورکوی، نو د دې اسلامی ریاست بنیاد نبی علیه السلام په خدمت خلق سره کیخودلے وو او بل بنیاد دا وو چې د الله حق هم ورسره ادا کړے شی ځکه چې په کوم اسلامی ریاست او مملکت کښې د الله د حق سره د بندګانو حقوق ادا کړے شی نو دغه کامیاب او خوشحال ریاست او مملکت وی.

## د مریض عیادت:

او بل حق د انسان په انسان باندې دا دے چې د مریض عیادت د پاره به ځی، د بیمار تپوس د پاره تلل، او دا صرف د مسلمان حق نه دے بلکه د نبی علیه السلام سیرت په دې باندې ګواه دے چې نبی علیه السلام د کافر د عیادت او د تپوس د پاره هم تلے دے، لکه نبی علیه السلام د خپل مشرك تره د عیادت د پاره تلے وو،او یو بل غلام وو یهودی وو د نبی علیه السلام خادم هم وو هغه بیمار شوے وو او نبی علیه السلام د هغهٔ د عیادت د پاره تشریف وړے وو بیا ورباندې نبی علیه السلام اسلام پیش کړو دغه یهودی د نبی علیه السلام د اخلاقو نه متأثره شو او خپل پلار ورته اووئیل ﴿أَطِعِ أَبَا الْقَاسِمِ﴾ د نبی علیه السلام خبرې ته غاړه کیږده، نو دغه د عین مرګ په حالت کښې مسلمان شو، او د دې عیادت د پاره څه آداب دی، یو ادب دا دے چې بیمار بنده ته تسلی ورکړے شی، دویم ادب دا دے چې د بیمارۍ دعا اووئیلے شی د نبی علیه السلام نه په دې موقع دا دعا نقل شوې ده ﴿ لَا بَأْسَ بِهِ طَهُوْرٌ اِنْشَاءَاللهُ﴾ (بخاری) دریم ادب دا دے چې په دغه ځائے کښې د ضرورت مطابق ناسته اوکړے شی، ډیر زیات وخت به ناست نه وی چې بیمار یا مریض د پاره د تکلیف سبب جوړ شی او د دې نه ورته نقصان پیدا شی.

## د مسلمان تعزیت:

بل حق د مسلمان دا دے چې څه حادثه پیدا شی ، مړې شوے وې نو د دغه مسلمان د تعزیت د پاره تلل چې تسلی او د صبر تلقین ورته اوکړے شی، نبی علیه السلام یو ځل د جنّت البقیع سره روان وو ځکه یوه زنانه وه د هغې بچے مړ شوے وو، نبی علیه السلام ورته اووئیل اے د الله بندې صبر اوکړه، دغه زنانه ته معلومات نه وو چې دا د الله پیغمبر دے، نو نبی علیه السلام ته وائی چې دا تکلیف په تا باندې نه دے راغلے ځکه دا خبرې کوې؟ نبی علیه السلام روان شو چا دغه زنانه ته خبر اوکړو چې دا خو د الله پیغمبر دے نو په منډه او تیزۍ سره د نبی علیه السلام خوا ته دغه زنانه لاړه او نبی علیه السلام ته ئې عذر اوکړو نبی علیه السلام ورته اووئیل﴿إِنَّمَا الصَّبْرُ عِنْدَ الصَّدْمَةِ الأُولٰى﴾(بخاری) انسان به د مصیبت په اول وخت کښې صبر کوی ځکه روسته دغه انسان په خپله قرار شی او هغه خفګان ختم شی، د غم په وخت کښې د سترګو نه اوښکې تلل منع نه دی ځکه دا بے اختیاره څیز وی، دا منع دې چې انسان په زور او په تیز آواز ژړا شروع کړی خپلې جامې ، قمیص چیر پاړ پیدا کړی ، د نبی علیه السلام خپل بچے ابراهیم رضی الله عنه وفات شوے وو نبی علیه السلام ژړل او ورته وائی ﴿وَ إِنَّا بِفِرَاقِكَ يَا إِبْرَاهِيمُ لَمَحْزُوْنُوْنَ﴾ (بخاری) مونږه ستا په جدا والې باندې غمګین او خفه یو او په دغه وخت کښې د نبی علیه السلام د سترګو نه اوښکې روانې وې نو دا د مسلمانۍ خلاف خبره نه ده د مسلمانۍ نه خلاف خبره دا ده چې انسان د جاهلیّت واله طور طریقې، رسم ورواج خپل کړی، نو دا د مسلمان یو حق دے چې د تعزیّت د پاره ورتلل، د غم په موقع خدمت ته مخکښې کیدل او د دغه خلقو سره د څه وخت د پاره ناسته کول، دا د مسلمان په حقوق کښې شامل دی. والحمدلله رب العالمین

# حقوق الوالدین

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ كَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَاءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ الْاَتْقِيَاءِ اَمَّا بَعْدفَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا﴾ (سورۃ بنی اسرائیل:۲۳)

## انفرادی حقوق:

د قرآن پاك يو ايت مباركه ذكر شو، مخكښې نه د حقوق العباد په باره كښې خبره شروع وه. اجتماعى حقوق العباد ذكر شوې وو او په دې مجلس كښې انفرادى اهم حق بيا نيږى څكه مور پلار انسان ته د ټولو نه نزدې او قريبى رشته ده ، قرآن او حديث كښې كه يو انسان نظر اوكړى نو دا خبره ورته معلومه شى چې الله د خپل حق د ذكر كيدو نه بعد په حقوق العباد كښې د مور پلار حق ذكر كړے دے، يو ځائے د الله د حق سره د مور پلار حق ذكر شوے دے او په دې ايت كښې الله ذكر كوى ﴿وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ﴾ستا رب دا حكم او فيصله كړې ده چې انسان به د الله عبادت كوى حكم قانون به صرف د الله منلے شى، خو د الله د حق نه بعد چې كله الله د بندګانو د حقوق تذكره كوى،نو د مور پلار تذكره به ذكر شوې وى﴿وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا﴾د مور پلار سره ښيګړه او احسان اوكړى، په ټولو اسمانى او غير اسمانى مذهبونو كښې د والدينو د حقوقو ذكر شته دے ، په تورات كښې دا ذكر شته دے انجيل كښې دا ذكر شته خو قرآن پاك ډير په اعتدال سره دَ افراط اوتفريط نه پاك د

والدينو د حقوقو تذکره کړې ده، د دې دومره اهميّت دے چې الله د خپل حق د ذکر کيدو نه بعد د مور پلار حق ذکر کړے دے.

## قرآن پاک کښې درې لازم ملزوم مقامات:

ابن عبّاس رضی الله عنه فرمائې چې په قرآن کښې درې مقامات دی او دا درې مقامات د يو بل سره لازم او ملزوم دی . که يو انسان د يو نه انکار اوکړی نو د دې بل نه انکار ورسره لازم وی يو مقام دا دے ﴿وَأَطِيْعُوااللهَ وَأَطِيْعُواالرَّسُوْلَ﴾ (النساء:٥٩) د الله او د رسول الله صلی الله عليه واله وسلم تابعدارې اوکړی که يو انسان الله منی او رسول الله صل الله عليه واله وسلم نه منی نو دا د الله منل نه دی ځکه دا دواړه د يو بل سره لازم او ملزوم دی اوکه يو انسان د نبی اطاعت کوی او د عاشق رسول کيدو دعوې لری خو د الله حکم ورسره ضائع کوی او د الله په توحيد کښې ورسره فرق راځی نو دعوی د عشق رسول بيا الله ته منظور نه ده. دويم مقام دا دے ﴿ وَاَقِيْمُوْ الصَّلٰوةَ وَاٰتُوْالزَّكٰوةَ﴾ (بقره:٤٣) د مونځ د پابندۍ سره د زکوة پابند جوړ شی ځکه که يو انسان زکوة ورکوی او مونځ نه ادا کوی نو دغه زکوة کما حقّه الله ته قبول نه دے اوکه يو انسان د مونځ پابند وی او د زکوة خيال نه ساتی نو دغه مونځ هم الله ته هغه شان قبول نه دے لکه څنګه چې مطلوب وو او دريم مقام چې د يو بل سره لازم او ملزوم دے هغه دا دے ﴿وَقَضٰى رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوا اِلَّا اِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا﴾ (بنی اسرائيل:٢٣) الله دا فيصله کړې ده چې انسان به صرف د الله عبادت کوی او د مور پلار سره به نيکی او ښيګړه کوې او دا حکم الله بنی اسرائيلو ته هم کړے وو، نو دا دوه حقوق د يو بل سره تړلے شوی دی.

## د مور پلار حقوق:

د مور پلار يو حق دا دے چې احسان ورسره اوکړے شي دويم حق دا دے چې په مور پلار باندې د وس مطابق خرچه او انفاق اوکړے شي او دريم حق دا دے چې د هغوی عزّت احترام او قدر اوکړے شي په يو موقع باندې يو صحابي د نبي عليه السلام خوا ته راغلے ورته وائی اے د الله پيغمبره زما پلار زه د کور نه راباهر کړمه او ټول مال او دولت ئې زما نه قبضه کړو نبي عليه السلام ورته وائی ﴿أَنْتَ وَمَالُكَ لِأَبِيْكَ﴾ (ابن ماجة) ته او ستا مال دواړه ستا د پلار په ملکيت کښې ئې مطلب د پلار په مقابله کښې ستا هيڅ حيثيت او مقام نشته، ځکه د مور پلار لوې مقام او مرتبه ده او په يو روايت کښې راځی که يو انسان خپل مور پلار ته د محبت په نظر ګوری نو الله دغه انسان ته د قبول شوې حج اجر وثواب ورکوی يو صحابي ورته وائی د الله پيغمبره که دا انسان مور پلار ته پنځه ځل په ورځ کښې ګوری نبي عليه السلام ورته وائی د پنځو نفلی حجونو ثوابونه به ورته الله ورکړی.

## څو څيزونو ته نظر عبادت دے:

او عبدالله بن مسعود رضی الله عنه وائی يو څو څيزونو ته نظر کول عبادت دے يو دا دے چې انسان مسجد ته نظر کوی بيت الله ته ګوری څنګه چې د ګناه ځائے ته نظر ګناه ده دغه شان د ثواب ځائے ته نظر کښې ثواب دے بل قرآن ته کتل عبادت دے يو قرآن زبانی لوستل دی دا هم عبادت دے او قرآن اوريدل هم عبادت دے او قرآن ته نظر کول هم په عبادت کښې شامل دی او دريم دا چې انسان که مور پلار ته ګوری نظرورته اوکړی نو دا هم په عبادت کښې شامل دی څلورم چې د الله د پاره د چا سره محبت رورولی وی، ذاتی مفاد دنيوی غرض پکښې نه وی نو

دا هم په عبادت کښې شامله حصه ده او يو حق پرست خدا پرسته تقوى داره عالم دين ته کتل هم عبادت دے.

## د مور پلار سره ادب:

او د مور پلار سره به تعلقاتو کښې ډير احتياط وى بے ادبى به نه وى بے عزّتى دل آزارى به بالکل نه وى، قرآن پاك په سورة بنى اسرائيل کښې الله رب العزّت د مور پلار، د تکليف ايذا رسانئ نه منع کړې ده ﴿فَلَا تَقُلْ لَهُمَآ اُفٍّ وَّلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُلْ لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيْمًا﴾ (سورة بنى اسرائيل: ١٥) دې مور او پلار ته به انسان اُف قدرې نه وائى چې هغوى ته تکليف او ضرر ملاؤ نشى د دې يو مطلب دا دے چې انسان به د مور او پلار په مخکښې د هغوى په خبرو باندې د ناراضيږئ اظهار نه کوى او يا دا مطلب دے چې د مور پلار په خدمت کښې انسان ستړے شى نو اُف قدرې خبره به نه کوى هسى نه چې مور پلار د بچى په تکليف سره خفه نشى، يو عالم وائي که د دې اُف لفظ نه لاندې بل کم مرتبې واله لفظ وے الله به هغه ذکر کړے وے ځکه د مور او پلار حق انسان ادا کوے نشى، که انسان هر څومره کوشش او خدمت اوکړى نو بيا هم د مور پلار کما حقه حق ادا کوے نشى.

## د مور لوې حق دے:

حديث کښې راځي يو انسان د حج د پاره راغلے وو د نبى عليه السلام خدمت ته حاضر شو او ورته وائي اے د الله پيغمبره زهٔ د ډير لرې وطن نه راغلے يمه او دا زما مور ډيره زياته کمزورې او ضعيفه ده، او دا ما په خپله ملا، اوګه باندې دلته حاضره کړه، د صفا مروا سعې، رمې جمرات او وقوف عرفې ته ما دا مور حاضره کړه، نبى عليه السلام ته وائى ما دا ټول کارونه سره د مشقت او تکليف نه ادا کړل نو آيا ﴿هَلْ اَدَّيْتُ حَقَّهَا﴾ ما د دې مور حق په دې سره ادا کړے دے، نبى عليه السلام جواب ورکړو ﴿لَا﴾ نا تا د دې مور حق نه دے ادا کړے، ځکه د بچى او د

مور په خدمت کښې لوې فرق دے ځکه مور د خپل بچی خدمت په دې نیت کوی چې دا بچے به لوې شی اوکه بچے د مور خدمت کوی نو په دې نیت باندې چې دا مور به کله مړه شی چې د دې بوج نه خلاص شمه، نو په دې نیت کښې د فرق د وجې نه بچے په هیڅ یو صورت د مور پلار حق ادا کوے نشی.

او بل فرق دا دے چې مور خپل بچے شپږ یا اُووُ میاشتې سره د تکلیف نه په ګېډه کښې ګرځوی،قرآن کښې الله فرمائی:﴿**حَمَلَتْهُ أُمُّهُ وَهْنًا عَلَىٰ وَهْنٍ**﴾(لقمان:١٤) بار کړے وی دې بچے لره خپلی مور سره د یو تکلیف او سره د بل تکلیف نه مطلب هر طرف ته مشقت پریشانی او تکلیف وی بیا د پیدائش نه بعد ورته نور تکلیف د شپې خوب د دغه بچی د پاره ضائع شی که بچے ځان ګنده کړی نو دغه مور ته تکلیف وی اوکه په ژړا شی نو نور تکلیف ورته وی، نو ځکه د مور د حق دا مرتبه ده.

یو حدیث کښې راځی چې بچے به د مور پلار حق څه نه څه په دې صورت کښې ادا کړی چې مور پلار غلامان وی او دا بچے په خپلو پیسو باندې هغوی لره آزاد کړی ځکه مور پلار د بچی د ژوند د پاره ظاهری سبب وو نو دا مور پلار د غلامۍ نه آزاد کیدل د هغوی د راحت او اطمینان سبب او زریعه وی نو په دې صورت کښې څه نه څه د مور پلار حق ادا کیدے شی.

## د مور د پاره دعاء:

او قرآن حکم کړے دے چې د مور پلار د حق ادا کیدو سره به انسان خپل مور پلار ته دعا کوی﴿**وَقُل رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرًا**﴾ (بنی اسرائیل:٢٩) اے الله زما په دې مور او پلار داسې رحم اوکړے لکه څنګه چې په ماشوم والی کښې مور او پلار زما تربیت کړے دے نو د مور پلار

تر دې پورې حق دے که د بچی سره ظلم زياتې د مور او پلار د طرف نه شروع شوے وی بيا به هم د مور او پلار خدمت نه به نه روسته کيږی لکه مخکښې په حديث کښې ذکر شو ﴿أَنْتَ وَمَالُكَ لِأَبِيْكَ﴾(ابن ماجة) ته او ستا دا مال دواړه د مور او پلار ملکيّت او حق دے که ستا سره زياتے کوی اوکه مال درنه اخلی نو بچے به بيا هم د مور او پلار خدمت نه نۀ روسته کيږی او يو بل حديث کښې راځی﴿ وَإِنْ ظَلَمَاهُ وَإِنْ ظَلَمَاهُ وَإِنْ ظَلَمَاهُ﴾ (شعب الإيمان)که دا مور او پلار دواړه ډير ظالمان شی ډير ظالمان شی ډير ظالمان شی نو بيا به هم خپل بچے د مور او پلار نافرمانی نه کوی.

هاں دا خبره ده که د مور او پلار د طرف نه د الله د نافرمانئ حکم شوے وی بيا دا خبره منل نشته د الله او د الله د رسول حکم به منلےشی او د مور پلار حکم به روسته کيدے شی لکه قرآن کښې الله فرمائی ﴿وَإِنْ جَاهَدَاكَ عَلَىٰ أَنْ تُشْرِكَ بِيْ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا﴾ (سورة العنکبوت:۸) که د دې مور او پلار کوشش دا وی چې بچے په شرك باندې مجبوره کړی نو بيا د هغوی خبره منل نشته او د دې مور پلار سره په دنيا کښې ښه ژوند کوه مطلب دا دے که مور او پلار کافر وی نو بيا هم د هغوی حق شته دے اګر چې د بے دينئ واله خبره به نه منل کيږی خو د انسانی حق او رشته دارې پورې د هغوی حق شته دے.

مشهور تابعی اويس قرنی رضی الله عنه د نبی عليه السلام د زيارت نه محرومه شوے وو او وجه د مور پلار خدمت وه چې دا د مور پلار په خدمت کښې مشغوله وو د دې وجې نه ورنه د نبی عليه السلام زيارت پاتې شوے وو.

## د مور پلار نافرمانی نه کول:

ځنګه چې د مور پلار د خدمت او د احسان لوئي مقام دے نو بل طرف ته د مور پلار د نافرمانئ لويه ګناه ده ځکه نبی عليه السلام يوه

ورځ د منبر په درې واړو پوړو باندې بره شو او درې ځل نبی علیه السلام امین اووئیلو صحابو تپوس اوکړو اے د الله پیغمبر تا دا امین د څه وجې نه اووئیلو؟ نبی علیه السلام ورته اووئیل دا جبرئیل علیه السلام راغلے وو چې زه به خیرې کومه او ته وربانډې امین وایه؟ بد دعا جبرئیل علیه السلام وائی او امین وربانډې نبی علیه السلام وائي! یوه خبره دا وه چې د رمضان میاشت په یو انسان باندې راشی او دې انسان ته مغفرت اونه کړے شی نو دا انسان دې تباه وبرباد شی جبرائیل وربانډې بد دعا اوکړه او نبی علیه السلام وربانډې امین اووئیلو دویم دا چې یو انسان د نبی علیه السلام نوم واؤرې او دا انسان وربانډې امین اونه وائی نو دغه انسان دې تباه شی نبی علیه السلام وربانډې امین اوکړو، بیا مسئله دا ده که په یو مجلس کښې باربار د نبی علیه السلام ذکر راشی نو یو ځل درود شریف وئیل کافی کیږی او دریم دا چې یو انسان خپل مور پلار د بوډا والی په حالت کښې رالاندې کړی او دغه انسان ته مغفرت اونه کړے شی نو دا انسان دې تباه وبرباد شی نبی علیه السلام وربانډې امین اوکړو مطلب د مور پلار خدمت که څوك نه کوی دا انسان د نبی علیه السلام د بد دعا د لاندې راځی او یو حدیث کښې راځی نبی علیه السلام فرمائی د هغه انسان دې پوزه ککړه شی درې ځل نبی علیه السلام دا خبره اوکړه صحابه ورته وائی دا څوك دے؟ نبی علیه السلام جواب ورکړو هغه انسان چې خپل مور پلار د بوډا والی په حالت کښې مونده کړی یا په دې دواړو کښې یو رالاندې کړی او دغه انسان ته مغفرت اونه کړے شی نو دغه انسان دې خوار او ذلیل شی ځکه الله ورته د جنت د داخلیدو د پاره موقع ورکړه او بیا هم دا انسان جنت ته داخل نه شو.

یو انسان وفات کیدو نبی علیه السلام ورته حاضر شو نبی علیه السلام ورته د کلمې تلقین اوکړو هغه کلمه نه وئیله نبی علیه السلام

تپوس اوکړو چې د دهٔ د مور راولې کله چې مور حاضر شوه نبی علیه السلام ورته اووئیل چې دې بچی ته معافی اوکړه مور انکار اوکړو چې زه ورته معافی نه کومه نبی علیه السلام صحابو ته حکم اوکړو لاړشئ لرګی خشاك راؤړئ ؟ نو دا مور تپوس کوی د څه د پاره دا راؤړئ؟ نبی علیه السلام اووئیل چې دا سیزمه ؟ هغه مور ورته وائی دا زما بچے دے، نبی علیه السلام ورته وائی الله دې په تاباندې رحم اوکړی ستا په دې خپل بچی باندې د دنیا اُور او عذاب نه زړه کیږی او د اخرت عذاب ته ورته تیاره ئې نو مور ورته معافی اوکړه بیا دغه انسان کلمه اووئیله او وفات شو.

والحمدلله رب العالمین

# مسنون آداب خوراک

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ کَفٰی وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِیَاءِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَاَصْحَابِہِ الْاَتْقِیَاءِ اَمَّا بَعْد!

فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّیْطَانِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِیْم۔

﴿وَكُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوا إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ﴾ (سورۃ الاعراف: ۳۱)

﴿عَنْ عمر بن أَبِي سَلَمَة قَالَ: كُنْتُ غُلَامًا فِي حِجْرِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَتْ يَدِي تَطِيْشُ فِيْ الصَّفْحَةِ. فَقَالَ لِيْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «سَمِّ اللهَ وَكُلْ بِيَمِيْنِكَ وَكُلْ مِمَّا يَلِيْكَ»﴾ (رواہ البخاری)

## آداب المعاشرة:

مخکښې دا خبره شوې وه چې مکمل دین کښې معاشرې ته لوې مقام حاصل دے که د یو انسان معاشره برابره نه وې نو د دې انسان دین کامل نه دے او معاشره په اصل کښې څه آدابو او حقوقو ته وئیلے کیږی امام نووی په خپل کتاب ریاض الصالحین کښې یو باب په دې نوم باندې قائم کړے دے آداب المعاشرت مطلب د معاشرې څه آداب دی؟ بیا د دې په باره کښې اول هغه د خوراك واله باب ذکر کړے دے او نبی علیه السلام هم دا فرمائی چې دوه نعمتونه دی او خلقه د هغې بے قدری کښې مبتلا دی یو صحت دے دا لوې نعمت دے دویم فراغت فارغ وخت په کار کښې نه راولی نه ورسره د الله د رضا څه غم شته دے او نه په دې کښې د دنیا څه کار کسب کښې مشغوله دے نو دا صحت یو نعمت دے او د دې د حفاظت د پاره ډیر اسباب دې یو سبب دا هم دے چې د صحت مندۍ د پاره خوراك څکاك ضروری دے.

## د هر څیز هدایات:

د دې خوراك آداب څه دی؟څکه زمونږه دین اسلام په هره موقع باندې آداب ذکر کړے دی په سلمان فارسی رضی الله عنه باندی یو مشرك اعتراض اوکړو چې دا پیغمبر عجیبه انسان دے تاسو ته د هر څه په باره کښې تعلیم درکوی تر دې پورے چې د قضائے حاجت اودس ماتی طریقه هم درته بیانوی؟ سلمان فارسی رضی الله عنه جواب ورکړو چې هاؤ دا د فخر خبره ده چې زمونږه پیغمبر په اُمّت ډیر مهربانه دے چې د هر څه آداب او طریقي ئې ورته خودلی دی تر دې پورې چې د استنجاء اودس ماتی په باره کښې هغه دا تعلیم ورکړے دے چې یو انسان به قبلې ته نه مخ کوی او نه به په هډوکی باندی استنجاء کوی نو دا د فخر خبره ده چې دا ټول نبی علیه السلام بیان کړی دی.

## د خوراک درې آداب:

په دې حدیث کښې نبی علیه السلام صحابی رضی الله عنه ته درې آداب د خوراك ښودلی دی دا صحابی رضی الله عنه د نبی علیه السلام پرکتے دے د اُم سلمه رضی الله عنها ځوے دے د مخکښې خاوند نه ئے دے او بیا اُم سلمه رضی الله عنها نبی علیه السلام په نکاح کښې اغستې وه نو دا صحابی وائی چې زۀ د نبی علیه السلام سره خوراك ته ناست ؤومه او زما دا لاس په کاسه کښې ګرځیدو راګرځیدو نبی علیه السلام راته اووئیل چې اے هلکه﴿ سَمِّ اللّٰهَ﴾ بسم الله وایه (وَكُلْ بِيَمِينِكَ ) په ښی لاس باندې خوراك کوه ﴿وَكُلْ مِمَّا يَلِيْكَ﴾ او د خپل نزدې ځائے نه

خوراك كوه دا وړې وړې خبرې ښكارى خو د دې خبرو په معاشره باندې ډير لوې بنيادى اثر وى. دا د دنيا د ترقۍ راز او سبب دے مفتى شفيع رحمت الله عليه خپل ځوے مفتى تقى عثمانى سره يو ځل په سفر باندې روان وو په جهاز كښې د قضائے حاجت ځائے ته دننه شو هلته يوه جمله ليكلے شوى وه چې د صفائۍ خيال اُوساتۍ نو مفتى شفيع رحمت الله عليه خپل ځوى ته وائى چې دا تعليمات څوارلس سوه كاله مخكښې نبى عليه السلام بيان كړې دى اګر چې دا نن صبا د يورپ او مغرب والو خپل كړې دى نو د هغوى د ترقۍ سبب جوړ شوے دے.

## بسم الله وئيل:

نو نبى عليه السلام دې صحابى ته يو ادب دا ښودلے دے چې بسم الله د خوراك په شروع كښې وايه ځكه دا سنت طريقه ده او د خوراك د بركت د پاره سبب هم دے كه څوك بسم الله اووائى دا هم كافى ده اوكه څوك مكمله كلمه وائى ﴿بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِيْمِ﴾ دا هم جائز ده په دې سره دا سنت ادا كيږى د ابوداؤد شريف روايت دے نبى عليه السلام فرمائى چې كله يو انسان خپل كور ته دننه شى او بيا د طعام په وخت بسم الله اووائى نو شيطان خپلو تابعدارو ته وائى چې تاسو واپس شۍ ځكه زمونږه نه په دې خوراك طعام كښې حصه نشته دے او كه يو انسان دا اذكار نه وائى نو شيطان خپلو تابعدارو ته وائى راځى زمونږه د پاره د شپې ځائے او د خوراك حصه پيدا شوه نو بيا په كور كښې جنګ جهګړې شر فسادات وى د شيطان د وجې نه اوكه د خوراك څكاك په موقعه بسم الله اونه وائى نو شيطان ورسره په دغه خوراك كښې حصّه دارشى.

په يو موقع باندې نبی علیه السلام سره يو انسان خوراك ته ناست وو خوراك کښې مشغوله وو بسم الله ورنه هيره شوې وه د خوراك په دوران کښې ورته بسم الله ياده شوه چې دا خو ما نه وه وئيلې نو دغه صحابی﴿بِسۡمِ اللّٰهِ اَوَّلَهٗ وَاٰخِرَهٗ﴾ (ترمذی) واله الفاظ اووئيل كله چې نبی عليه السلام دا واؤريدل نو په خندا شو بيا ئې اوفرمائيل چې شيطان ستا سره په دې خوراك کښې شريك وو كله چې تا دا بسم الله اووئيله نو هغه ټول خوراك شيطان اُولټی کړو نو په بسم الله نه وئيلو سره په خوراك کښې د شيطان د پاره حصّه وی.

## كثرت او بركت:

او بركت ډير والی ته نه وائی كله خوراك ډير وی هر قسم څيز انسان ته پروت وی خو په دې کښې د دې انسان جسم ته نقصان وی فائده ورته ملاؤ نشی كله دا وی چې خوراك څکاك موجود وی او دې انسان لره ښه نه وی، بند شوے وربانديې وی نو بركت جدا څيز دے حديث کښې راځی كله چې يو انسان د خوراك نه فارغه شی نو هغه باقی خوراك چې په ګوتو باندې نظر راځی دغه خوراك دې ورسره اوسټی ځکه انسان ته پته نشته چې د طعام بركت په کوم خوراك کښې دے ځکه نبی عليه السلام صحابی ته وائی د خوراك په شروع کښې ﴿بِسۡمِ اللّٰهِ﴾ وايه.

## ابتداء په مشر اوکړی:

او دويم دا چې كله د سترخوان باندې ډير خلق وی نو پکار دا ده چې د مشر د شروع کولو نه بعد خوراك باندې شروع اوکړے شی لکه

مور پلار وی یا سپین ګیرے انسان وی حذیفة بن الیمان رضی الله عنه وائی چې مونږه به په خوراك باندې تر هغه وخت پورې شروع نه وه کوله ترڅو پورې چې به نبی علیه السلام خوراك نه وو شروع کړے د دې حدیث نه دا اهم معلومه شوه چې انسان به د خوراك څکاك آداب خپلو بچو ته هم د دې تعلیم ورکوی چې کله په ماشوم کښې عقل تمیز پیدا شی نو دا آداب ورته ښودل پکار دی ځکه نبی علیه السلام عمروبن أبی سلمه رضی الله عنها ته دا آداب ښودلی وو.

## د بسم الله او الحمد لله فلسفه:

او د ﴿بِسۡمِ اللّٰهِ﴾وئیلو فلسفه دا ده چې دا رزق الله انسان ته ورکړے دے نو په دې باندې د الله نوم اغستل پکار دی او دا ضروری هم ده او د دې سره د الله په رازقیّت کیدو باندې د انسان نور ورسره ایمان او یقین مضبوط شی او بله فائده دا وه چې دا خوراك د انسان خپل ذاتی ضرورت دے خو که دا خوراك  د سنت په طریقه او د نبی علیه السلام په طریقه باندې اوکړے شی نو دغه خوراك ورته الله په عبادت سره بدل کړی.

بل دا چې په دې خوراك کښې د الله ډیر نعمتونه شامل وی اول دا چې دا خوراك بذات خود د الله د طرف نه یو نعمت دے او د دې نعمت شکر دا دے چې انسان د خوړلو په شروع کښې بسم الله اُووائی دویم نعمت دا دے چې دې انسان ته خوندور جوړ شی مزه ورته ورکړی دریم نعمت دا دے چې انسان ته دا خوراك په عزّت سره ملاؤ شی په بے عزّتی سره ورته نه وی ملاؤ شوے او بل نعمت د انسان عافیّت دے ځکه کله

ډیر نعمتونه وی خو دغه نعمتونه په انسان باندې بند وی او بل نعمت دا دے چې انسان سره ښځه بچی مور پلار ناست وی ځکه د دې نعمت اندازه هغه چاته وی چې هغه په سفر باندې تلے وی هیڅ څوك ورسره نه وی نو دا نعمتونه نه د دې ورکونکے ذات الله دے ځکه به انسان د شکریه په طور الحمدلله وائی.

## د الله د هر نعمت یاد :

او انسان دې په هره موقع د الله نعمت خپل ځان ته مخکښې کړی او هغه څوك دې خپل ځان ته یاد کړی چې الله ورباندې دغه نعمتونه نه دي کړې لکه کور ته دننه کیږی نو دا د الله نعمت دے څومره خلق به داسې وی چې هغوی په خیمو کښې ژوند تیروی نو په دغه وخت کښې به انسان ته دعا د شکر وریاد شی.

د طعام په وخت کښې دسترخوان کیخودل په زمکه باندې دا هم یو ادب دے او سنت طریقه ده نن صبا عام دا سنت پریخودلے شوے دی او د دې فائده دا ده چې زیاتی خوراك باندې به دغه ځائے نه ګنده کیږی بله دا چې د دغه ضائع شوی خوراك بے قدری به نه کیږی ځکه دغه خوراك به بیا په پاك ځائے کښې کیخودلےشی اوکه باقی شوے خوراك نور د استعمال قابل وی نو دغه خوراك انسان غریب مسکین ته ورکړی یا دغه خوراك خپل ګاونډی ته ورکړی ځکه حدیث کښې راځی چې کله ته خوروا غوښه پخه کړی نو اوبه پکښې زیاتې کړه او د ګاونډی حق ورسره یا د ساته. نو که زیاتی شوے څیز د استعمال قابل وی خپل ګاونډی یا حاجتمند ته دې ورکړے شی اوکه د انسان د استعمال قابل نه

وى نو بيا دے دغه ځيز ځناور ته ورکړے شى دا هم د خوراك عزّت دے. او بيا نبى عليه السلام د دسترخوان اوچتولو په وخت كښې دعا ښودلى وه چې انسان به دا دعا وائى (**اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ ، غَيْرَ مَكْفِيٍّ وَلاَ مُوَدَّعٍ وَلاَ مُسْتَغْنًى عَنْهُ، رَبَّنَا**)(بخارى) نو دين اسلام د هر څيز په باره كښې آداب ښودلى دى.

والحمدلله رب العالمين

# د خوراک مسنون طریقه او آداب

**اَلْحَمْدُلِلّٰہِ کَفٰی وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِیَاءِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَاَصْحَابِہِ الْاَتْقِیَاءِ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمَانِ الرَّحِیْم۔**

**عَنِ ابنِ عَبّاس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّ اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّمَ :اِذَا أَکَلَ أَحَدُکُمْ طَعَامًا فَلَا یَمْسَحْ أَصَابِعَهُ حَتّٰی یَلْعَقَهَا. (رواہ الحمیدی)**

## د خوراک په دوران کښې خبرې او نور آداب :

مخکښې دا خبره ذکر شوې وه چې خوراك څکاك د انسان يو اهم ضرورت دے د دې څه آداب دی؟څه آداب ذکر شوی وو چې بسم اللّٰه وئيل د خپلې مخې نه طعام خوړل او په ښی لاس باندې خوړل يو ادب دا هم دے چې انسان به خوراك څکاك په عاجزۍ سره کوی ځکه نبی علیه السلام د تکبر نه منع کړې ده . او عام په خلقو کښې مشهوره دا ده چې يو انسان د خوراك څکاك په وخت کښې خبرې کوی نو خلقه ورته وائي چې د خوراك په وخت کښې خبرې منع دی دا صحيح خبره نه ده بلکه د ضرورت مطابق لږے لږے خبرې په دغه موقع منع نه دی هاں دومره زياتې خبرې چې د انسان توجهو ورسره خرابه شی نو بيا دا خبرې منع دی.

## طعام نه ضائع کول:

په دې حديث کښې دا ادب بيان شوے دے چې يو انسان د خوراك نه فارغه شی نو ګوتې د صفا کيدو نه مخکښې به هغه ستلےشی ځکه د يو بل حديث نه معلومیږی چې دا پته نشته د انسان د خوراك په

کومه حصه کښې خیر او برکت دے د دې حدیث نه دا معلومه شوه چې د طعام نه بعد به انسان خپل لاسونه صفاکوی خو د صفا کیدو نه مخکښې به ګوتو باندې چې څه خوراك باقې وی هغه به اوسټلے شی.

## د لاسونو پاک والے:

د طعام یو ادب دا دے چې د طعام نه مخکښې به انسان خپل لاس په اوبو سره صفا کړی یو خو دا سنت عمل دے دویم دا چې د دې سره ګندګی د لاسونو نه لرې شی دغه شان د طعام نه بعد لاس وینځل.

او نن صبا په آرام سره اسلامی تهذیب د مسلمانانو په معاشره کښې د زوال طرف ته روان دے او دا د مسلمان د تباهۍ سبب دے ابن خلدون لوې مؤرخ دے هغه په خپل کتاب کښې ذکر کړې دی چې د قومونو د عروج او زوال یو سبب دا دے چې خپل تهذیب ورنه پاتې شی او په هغه باندې عمل پریږدی.

ځکه کله چې خپل تهذیب ختم شی نو د غیرو تهذیب وربانډې غالبه شی بیا د دغه قوم قوّت او طاقت زوال ته لاړ شی لکه نن صبا دا حالت دے چې په مسلمانانو د یهودو نصاراؤ د یورپ او مغرب تهذیب غالبه شوے دے او بله وجه دا ده چې یو قوم خپل ژبه پریږدی او د نورو خلقو زبانونو ته ترجیح ورکړی د غیر قومونو ژبه عام استعمال کښې شروع کړے شی لکه نن صبا چې زمونږه د ملك څه حالت دے . او یو دا ادب دے چې د طعام نه بعد به انسان خپلې ګوتې سټی ځکه انسان ته دا پته نشته چې د دۀ په کوم خوراك کښې برکت دے که د سټلونه مخکښې

په اوبو سره لاس صفا کړی نو هسې نه چې د اوبو سره دغه برکت د انسان د لاس نه لاړ شی.

## په طعام کښې د برکت مطلب:

دَ برکت مطلب دا دے چې دغه خوراك د انسان د پاره فائده مند شی هضم شی د بیمارۍ یا مرض سبب ورته جوړ نشی نو برکت دا دے چې د یو څیز نه مطلوب فائده واغستلے شی دې ته برکت وئیلے کیږی بل حکمت دا دے چې د دې انسان په دې ګوتو کښې الله یو قوّت پیدا کړے دے چې دغه قوّت سره جراثیم مړه کیږی او تباه کیږی. بعض خلق دا سنت د دې وجی نه پریږدی چې دا د دې دور د شائستګۍ او عام طور طریقې نه خلاف په نظر راځی ځکه ورباندې عمل نشته نو دا خبره یاد ساتل ضروری دی چې د یو مسلمان د پاره د خپل پیغمبر د طریقې نه علاوه هیڅ یوه طریقه د ښکلا واله نشته ښکلا حسن و جمال الله رب العزّت د نبی علیه السلام په طریقه کښې ګرځولے دے.

او عجیبه خبره دا ده چې د ځناورو پشان په ولاړه خوراك باندې نه شرمیږی که مور پلار بوډا کمزورے شی او د دۀ د مدد محتاج شی نو هغوی یو خاص ځائے ته ورکړی په دې باندې نه شرمیږی او نه ورته دا د تهذیب خلاف ښکاری دا عجیبه خبره ده.

## په درې ګوتو خوراک:

بل ادب دا دے چې انسان به خوراك په درې ګوتو باندې کوی صحابی رضی الله عنه وائی ما نبی علیه السلام لیدلے وو چې هغه خوراك په درې ګوتو باندی کړے وو او د دې حکمت دا دے چې وړوکے نواله په

درې ګوتو باندې واغستے شي نو هغه په ښاغونو کښې په ښې طریقې سره میده شي بیا ورته هضم کیدل اسان وی دویم دا چې غټه نواله لقمه اغستل د حرص علامه ده او وړه لقمه اغستل د قناعت او صبر علامه ده هاں دا خبره ده که ضرورت وی نو بیا په څلورو پنځو ګوتو باند خوراك خوړل جائز دے خو د انسان به دا مستقل عادت نه وی.

او په آخر کښې چې کاسه پلیټ کښې څه خوراك پاتې وی نو دغه خوراك دې ورسره انسان اوخوری ځکه مخکښې حدیث ذکر شو چې انسان ته دا معلومات نشته چې د دۀ په کوم خوراك کښې ورته الله برکت کیخودلے دے او بل حکمت دا دے چې د دې سره به خوراك طعام د ضائع کیدو نه بچ او محفوظ شی خو انسان لره د اوّل وخت نه دا ضروری ده چې دومره خوراك راواخلی چې څومره خوراك سره د دۀ ضرورت پوره کیږی.

## اجتماعی خوراک:

یو ادب دا هم دے چې ټول په یو ځائے طعام اُوخوری جدا جدا نه ځکه که موقع وی او ټول راجمع کیدے نشی نو په دې کښې الله انسان ته ډیر خیر او برکت ګرځوی اګر که ضرورت وی انسان ځان لره جدا خوراك هم خوړے شی لکه سورة النور کښې الله ذکر کړی دی ﴿وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ أَنْ تَأْكُلُوا أَشْتَاتًا أَوْ جَمِيعًا﴾ (سورة النور :٦١) په تاسو باندې ګناه نشته که یو ځائے خوراك کوئ اوکه جدا جدا او د اجتماعی خوراك یو حکمت دا دے چې کله کله انسان بچو د خبر ګیرئ نه خبرنه وی نو د هغوی د معلومات کولو د پاره ورسره یو ځائے کینی نو معلومات ورته حاصل شی او بله خبره

دا چې په دې سره محبت اتفاق وحدت د خاندان والو په مينځ کښې پيدا شي.

او نبی علیه السلام په بعض موقعو باندې باقی پاتې شوے خوراك يا اُوبه خپل خواته ملګری ته ورکړې وی نو د دې نه هم معلومه شوه چې باقی پاتې شوے خوراك به انسان نه ضائع کوی.

## د رزق بے قدری دے او نه کړے شی:

او بل ادب دا دے چې يو انسان خوراك ته ناست وی نو د دې خوراك طعام په دوران کښې د انسان نه يوه لقمه پريوزی او دغه لقمه باندې څه ګند لګيدلے وی نو هغه دې صفا کړی او شيطان ته دې دغه لقمه نه پريږدی ځکه په دې سره شيطان خوشحاله کيږی او د رزق د بے قدرۍ نه به انسان بچ وی. صحابو چې په کوم وخت کښې د ايران بادشاه کسري سره مخامخ کيدل نو هغوی ورته وئيلی وو چې ستاسو دا کپړې بے کاره او کمزوری دی د بادشاه سره په ښه بهترين لباس کښې مخامخ شی نو صحابو دا جواب ورکړے وو چې دا زمونږه د جهاد واله لباس دے که دا لرې کړے شی نو زمونږه تشخص برقرار نه پاتيږی ځکه دا لباس مونږه نه لرې کوو او په هم دې اسلامی لباس کښې به د کسری سره مخامخ کيږو نن مسلمان د يورپ او مغرب واله لباس خپل کړے دے ځکه ورته خپل ځان په اسلامی لباس کښې ناخوښ ښکاری صحابو لره دغه جامې کپړې بدلول هم جائز وو ليکن هغوی ته دا معلومه وه چې صرف کپړو سره په انسان کښې انقلاب نه وی او نه په دې سره انسان حقيقی انسان جوړيدے شی بلکه بنيادی خبره ايمان دے چې د انسان نه حقيقی انسان جوړ کړی.

کله چې دسترخوان خور کړے شو نو حذیفة بن یمان رضی الله عنه د لاس نه یوه لقمه پریوته دوباره ئي هغه را اوچته کړه چا ورته اشاره اوکړه چې داسې مه کوه نو حذیفة رضی الله عنه ورته جواب ورکړو (**أَأَتْرُكُ سُنَّةَ رسولِ اللهِ لِهٰؤُلَاءِ الحُمَقَاءِ**) آیا زهٔ به د نبی علیه السلام سنت د دې بےوقوفو خلقو د پاره پریدمه چې په سنت باندې به د دې د وجې نه زهٔ عمل نه کومه بیا ئې دغه لقمه اوچته کړه اوهغه ئې اوخوړه دا د صحابو حالت دے چې خپل تهذیب او آداب پریخودو ته په هیڅ یو صورت کښې تیار نه وو بلکه د کسری په دربار کښې همورباندې عمل کوی.

والحمدلله رب العالمین

# د اسلامی لباس مقدار او کفایت

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ کَفٰی وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِیَاءِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِیَاءِ اَمَّا بَعْدفَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّیْطَانِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِیْمِ۔

﴿یٰبَنِیْٓ اٰدَمَ قَدْ اَنْزَلْنَا عَلَیْکُمْ لِبَاسًا یُّوَارِیْ سَوْاٰتِکُمْ وَرِیْشًا وَ لِبَاسُ التَّقْوٰی ذٰلِکَ خَیْرٌ ذٰلِکَ مِنْ اٰیَاتِ اللهِ لَعَلَّهُمْ یَذَّکَّرُوْنَ﴾ (سورۃالاعراف:۲۶)

## د لباس خاص هیئت:

مخکښې دا خبره بیان شوې وه چې لباس د انسان فطری او عقلی ضرورت دے لکه څنګه چې شریعت د لباس په باره کښې حکم کړے دے دغه شان فطرت او عقل هم دا خبره منی نن دا خبره بیانو چې آیا په دین اسلام کښې د لباس څه خاص هیئت وضع قطع ساخت مقدار مقرر شوے دے اوکه نه دے مقرر شوے ؟په اصل کښې د انسانانو مزاجونه او طبیعتونه مختلف دی او د دې اختلاف وجه څه سماجی حالات دی او څه د قومیّت ملکیت رسم ورواج دې او څه علاقو کښې موسمی اثرات کار فرما دی څه د آب وهوا فرق وی او څه علاقو کښې وسائل او رسائلو کښې کمے بیشے کیدے شی او څه د خلقو د رجحاناتو او میلاناتو د اختلاف وجه ده نو دا یوه فطری خبره ده چې لباس کښې فرق کمے زیاتے کیدے شی فرق پکښې راتلے شی ها دا نشی کیدے چې ټول مسلمانان د هر قوم او ملك واله ټول عمر یو قسم او هیئت واله لباس استعمال کړی دا نشی کیدے ځکه مخکښې ذکر شو چې څه موسمی اثرات وی څه د هرې علاقې اَقدار او روایات وی څه د خلقو ذاتی میلانات او رحجانات وی

ځکه شریعت یو خاص لباس نه دے مقرر کړے ځکه دا د فطرت نه خلاف خبره ده.

دغه وجه ده چې کمیونسټو اشتراکیت والو په څه وخت کښې یوتحریك شروع کړے وو چې د انسان دا لباس دې هم یو شان وی نو دغه تحریك با لآخر خود بخود ناکام شو او دغه وجه ده چې اسلام دین فطرت دے یو داسې قانون او نظام نه غواړی چې هغه په ټوله دنیاکښې نشی چلیدے بلکه اسلام یو قانون مقرر کړے دے چې ټوله دنیا ورباندې عمل کولے شی.

## د عربو لباس:

د دې وجې نه اسلام څه قوانین څه اصول ذکر کړے دی چې دغه اُصول په لباس کښې موجود وی نو ټوله دنیا به د دې اصولو لحاظ ساتی بیاکه هر قسم لباس وی هغه اغوستل جائز دی که هر رنګه لباس وی او هرې وضع قطع واله لباس وی خو د دې اصولو پابندی پکښې ضروری ده.

دغه اصول څه دي؟ نو د دې نه مخکښې دا خبره ضروری ده چې د نبی علیه السلام د زمانې لباس څه وو؟ د عربو ډیر ساده لباس وو یو تهبند لنګ وو او دویم څادر وو چې دا دواړه به هغوی اغوستل که چرته خاص موقع به وه نو د هغوی قیمتی لباس دا وو چې یو رنګ واله لنګ او څادر به ئې استعمالوو دا د هغوی قیمتی اعلیٰ قسم لباس وو ورسره یو روایتی لباس دا وو چې پګړے په سر وهل ، دا د هغوی روایت وو طریقه وه نبی علیه السلام او صحابو هم د خپل ملك علاقې او قوم د روایاتو

مطابق لباس استعمال کړے وو دا ضروری نه ده چې صرف دغه شرعی لباس وو نا دا لباس په شرعی حدودو باندې برابر وو ځکه نبی علیه السلام او صحابو استعمال کړے دے که د شرعی یو مقرر حد نیشت والے به پکښې وو نو نبی علیه السلام ورته بیا دغه نقصان ښودلے دے چې د دې اصلاح دې اوکړے شی.

## دوه قسمه سنت:

د نبی علیه السلام د لباس متعلق دا خبره ضروری ده چې یو سنت عادی دے او یو سنّت شرعی دے یو هغه سنت دے چې عادت سره تعلق لری او یو هغه سنت دے چې د شریعت سره تعلق لری یعنې یو د نبی علیه السلام عام بشری عادت دے دویم د نبی علیه السلام شرعی حیثیت او سنت دے نو د اُمّت د پاره شرعی سنّت باندې عمل پکار دے د نبی علیه السلام دغه لنګ او څادر عادی دے اوس په اُمّت باندې دا لازم او ضروری نه ده چې دوی به خامخا لنګ او څادر اغوندی یا به هر اُمّتی خامخا پګړۍ په سر کوی او یا به په خر او خچر باندی سورلی کوی دا ضروری څیزونه نه دی هاں دا خبره ده که څوك په دې نیت باندې دا کوی چې زما دا لباس د نبی علیه السلام سره مشابه شی نو انشاء الله ، الله به ورته د دې اجر وثواب ورکړی خو دا مستقل سنت نه دے.

او عبادتی سنت یا سنت مؤکّده وی یا سنن زوائد وی نو دغه د عربو لباس د هغوی تهذیب او روایاتی لباس وو په لباس کښې عام طور د خلقو ضرورت ته نظر کولے شی ځکه هغه ګرم وطن دے په دغه وطن کښې عام طور پرتوګ اغوستل مشکل کار وو اوکله چې زمونږه په دې وطن کښې سخت مشکل کار به په ګرمۍ کښې کیدو نو خلقو به د دغه کار د

پاره د لنګ استعمال شروع کړو لکه د پنجاب عام خلقه لنګ استعمالوی. نو اسلام هم ورسره د خلقو ضرورت ته نظر کړے دے که چرته همیشه یخنی ده نو په هغه ځائے کښې ټول عمر خلقه ګرم لباس اغوندی.

## د پګړۍ استعمال:

د نمر نه د حفاظت د پاره بعضې خلق د پګړے استعمال کوی دا نبی علیه السلام او صحابو استعمال کړے دے خو د عبادت په نیت باندې نه بلکه د عام قومی روایاتو مطابق دے هاں پیغمبر استعمال کړے دے که یو انسان ئې استعمال کړی نو مستحب دے او دا صرف د عالم د پاره هم لازم نه دے بلکه عام اُمّتی انسان هم پګړے وهلے شی او یو عام بدعت دا جوړ شوے دے چې قاری صاحب کله د جمعې مونځ ته مخکښې کیږی نو پګړے استعمالوی دا هم غلط رواج دے او یو بدعت دے. ځکه دا د مونځ د ضروریاتو نه نه دے بلکه دا یو عام د لباس حصّه ده او خاص خاص د جهاد په موقعو باندې نبی علیه السلام پګړے وهلے وه د اشرف علی تهانوی رحمت الله علیه نه یو پختون تپوس کړے وو چې حضرت ته پګړے ولے نه وهی؟ هغه ورته جواب ورکړے وو چې ته لنګ ولے نه وهی. مطلب دا فرض واجب سنت مؤکد نه دے هاں نبی علیه السلام استعمال کړے وو زیات نه زیات مستحب دے.

## د لباس شرعی اصول او ضوابط:

نو د لباس د پاره څه خاص هیئت په شریعت کښې نه دے مقرر شوے هاں څه اصول او پابندۍ شریعت ښودلی دی چې د هغې لحاظ او خیال ساتل ضروری دی هغه اصول دا دی، یو اصل دا دے چې لباس که

په هر طرز باندې وی که هندوستانی پاکستانی افغانی یا عربي طرز ولې نه وی خو شرط دا دے چې ساتر به وی د انسان عورت به په دغه لباس سره پټ وی ښکاره به نه وی دویم دا چې قرآن وائی ﴿ وَزِيْنَةً ﴾ دې لباس کښې به انسان خائسته ښکاری بد شکله بد عمله به ورکښې نه ښکاری دریم دا چې په دې کښې به د غیر مسلمو سره مشابهت نه وی د یهودو خاص لباس به نه وی د نصارؤ یا هندوانو خاص لباس به نه وی څلورم دا چې په دې لباس کښې به تکبّر نه وی.پنځم دا چې دا لباس به حرام نه وی.

## لباس به ساتر عورت وی:

اول شرط دا وو چې ساتر به وی په دغه لباس کښې به عورت پټ وی کوم لباس کښې چې عورت پټ نه وی نو دغه لباس نه دے بلکه بے حیائی او فحاشی او عریانی ده نبی علیه السلام د اخری زمانې د زنانو په باره کښې فرمائیلی وو ﴿نِسَاؤُهُمْ كَاسِيَاتٌ عَارِيَاتٌ﴾ (حاکم) د اخری زمانی زنانه به لباس اغوندی خو سره د لباس نه به بربنډې وی ځکه دغه لباس به په نه لباس کښې شمار وی.

## د سړی او زنانه ستر عورت:

ستر څه ته وئیلے کیږی نو د زنانو د پاره اوّله درجه د ستر دا ده چې د ښځې او د خاوند په مینځ کښې هیڅ پابندی نشته دوی ته الله آزادی ورکړې ده چې خاوند ښځې هر اندام ته نظر کوے شی چې کله ضرورت وی دویمه درجه د ښځې محرم رشته دار چې د چا سره د دغه زنانه نکاح نه کیږی لکه د ښځې پلار نیکه رور وغیره نو د دوی په مخکښې د ښځې د پاره ستر نشته دے البته مواضع الزّینة ښکاره کول جائز دی د زینت

مواضع دا دي مخ لاسونه خپې څنګلې ست، مرۍ نو خامخا که یوه زنانه د کور په څه کار کښې مشغوله وی دا څه حصه ښکاره شی ګناه نشته نو دویمه درجه دا وه چې دغه د عورت ځایونه ښکاره کول جائز دی نور عورت به پټ وی او د سرې عورت د پنډۍ د سترګی نه واخله تر نامه پورې عورت دے دا به خامخا پټ وی د دې نه علاوه نور اندامونه کله کۀ ښکاره شی ګناه نه ده هاں البته حیاء ده بے ضرورته به دغه د حیاء اندامونه هم نه ښکاره کوی او ښځه ټول عورت دے لاسونه مخ او قدمونه دا به صرف د مونځ په حالت کښې ښکاره وی نور اندامونه به پټ وی.

دریمه درجه هغه رشته دار چې محرم وی معنی دا چې خپل وی خو نکاح ورسره جائز وی لکه د ترۀ ځوئے د ماما ځوئے لیور وغیره نو د دوی په مخکښې عورت او مواضع الزینة ښکاره کول دواړه حرام دی هاں صرف مخ لاسونه خپې ښکاره کوے شی اګر چې بعض علماء دا هم منع کوی خو زمونږه د حنفی مذهب واله کتاب فتاوی بزّازیّه کښې دا نقل کړے شوی دی او دا ځکه چې عام کورنه یو ځائے وی نو په هر وخت کښې زنانه د دغه قریبی رشته دار نه دا څیزونه نشی پټوے هاں د هغوی سره به آزادانه ناسته ولاړه ګپ شپ نه وی.

## د زنانه د پاره مکمل حجاب:

څلورمه درجه د اجنبی ده چې مکمل د کور رشته داری نه باهر وی نو د دوی نه به زنانه مکمل حجاب او پرده کوی او قرآن د ښځو دپاره حکم کړے دے چې کله باهر ته اووځی او تلل غواړی د کور نه د باهر کیدو اراده وی نو ﴿يُدۡنِيۡنَ عَلَيۡهِنَّ مِنۡ جَلَابِيۡبِهِنَّ﴾(احزاب:۵۹) په خپل ځانونو باندې به دغه خپل جلباب غټ څادرو نه رایوځائے کړی چې

زنانه پکښې د سر نه واخله تر خپو پورې پټه وی دا غلطه خبره ده چې د مغرب نه متأثر خلقه وائی چې د مخ پرده په شریعت کښې نشته او بعض خلقه وائی چې زړۀ صفا وی نو که مخ ښکاره وی بیا پرواه نشته دا هم غلطه خبره ده ځکه که زړۀ صفا وے نو مخ به پټ وے خو هر کله چې زړۀ صفا نه دے نو ځکه مخ ښکاره دے دا د شریعت حکم دے چې زړۀ به صفا وی دغه شان دا هم د شریعت حکم دے چې مخ به ورسره پټ وی، بعض خلق دا اعتراض کوی چې د حج په حالت کښې د زنانه مخ چې ښکاره وی نو دا هم غلطه خبره ده ځکه صرف د احرام په حالت کښې به د زنانه په مخ باندې داسې پرده نه وی چې د مخ سره یوځائے وی بلکه په دغه حالت کښې د پردې یوه خاص طریقه ده په دغه خاص حالت کښې به هم نارینه زنانه ته نه ګوری او نه به زنانه نارینه ته نظر کوی لکه قرآن حکم کړے دے ﴿قُلْ لِلْمُؤْمِنِيْنَ يَغُضُّوْا مِنْ أَبْصَارِهِمْ﴾ (النور:۳۰) مومنانو ته اووائې چې خپل نظرونه خکته کړی او فرمائی﴿قُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ اَبْصَارِهِنَّ﴾ (سوره النور: ۳۱) اے پیغمبره مومنانو زنانو ته اووایه چې خپل نظرونه خکته کړی کله چې احرام ختم شی بیا به مکمل مخ پټ وی.

## حجاب او سترعورت کښې فرق:

کله وائي چې څه کتابونو دا ذکر کړی دی نو دا هم غلطه خبره ده ځکه یو ستر دے او یو حجاب دے ستر عورت جدا څیز دے دا شریعت د کور د مینځ د پاره وئیلے دے او حجاب جدا څیز دے چې کله زنانه د کور نه باهر ته اوځی نو حجاب کښې به اوځی مخ لاسونه خپې به ورسره پټې وی دا به ښکاره نه وی قرآن کښې الله نبی علیه السلام ته خطاب

کړے دے ﴿ يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ ﴾ (سورة الاحزاب:۵۹) اے پیغمبره خپلو بیبیانو لوریانو او د مسلمانانو زنانو ته اووایه چې خپل ځان باندې خپل څادرونه رایو ځائے کړی کله چې د کور نه باهر ته اوځی نو دا اوّل شرط دے چې لباس به ساتر وی که هغه هر قسم هیئت واله لباس ولې نه وی.

د لباس خرابۍ درې خبرې دی یو دا چې ستر عورت حیاء پټکښې نه وی لکه ډیر وړوکے لباس لنډ لباس وی چې د انسان عورت پټکښې پټ نشی دویم دا چې لباس د مکمل کیدو سره دا ضروری ده چې باریك به نه وی داسې باریك چې په هغې کښې عورت په نظر رائی داسې به نه وی. دریم دا چې دومره جوخت تنګ لباس به نه وی چې یو یو ساخت اندام پکښې ښکاره او د انسان دَ یو یو اندام اندازه پکښې کیدے شی دا د هغه یو پابندۍ تفصیل دے.

والحمدلله رب العالمين

# په لباس کښې د جائز او ناجائز شرعي حيثيت

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ كَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَاءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَاءِ اَمَّا بَعْدفَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِيْمِ۔

يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ قَدْ اَنْزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُّوَارِيْ سَوْاٰتِكُمْ وَرِيْشًا وَلِبَاسُ التَّقْوٰى ذٰلِكَ خَيْرٌ ذٰلِكَ مِنْ اٰيَاتِ اللّٰهِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُوْنَ۔ (سورة الاعراف:۲٦)

وقال رسول الله ﷺ: كُلُّ اُمَّتِيْ مُعَافًا اِلاَّ الْمُجَاهِرِيْنَ. (رواه البخاری)

## د لباس مقاصد:

مخکښې جمعې نه د شريعت يو اهم رکن لباس او پوشاك په باره کښې خبره شروع وه چې د لباس د اسلام په نظر کښې څه ضرورت او څه اهميّت دے د دې اصول څه دی؟کوم لباس اغوستل جائز دی او کوم لباس اغوستل نا جائز دی؟مخکښې دا خبره ذکر شوې ده چې يو خاص لباس اسلام نه دے مقرر کړے هاں اسلام څه اصول ښودلی دی يو اصل دا وو چې لباس به ساتر وی او د دې تفصيل ذکر شوے وو او الله دغه اصول په دې ايت کښې هم ذکر کړی دی اے د آدم عليه السلام بچو ما تاسو ته لباس درکړے وو يو مقصد د دې لباس دا دے ﴿يُوَارِیْ سَوْاٰتِكُمْ﴾ چې په دې سره الله ستا سو بدنونه پټ کړی دی او دويم دا ﴿رِيْشًا﴾ د زيب او زينت د پاره الله رانازل کړے دے ځکه که په دې لباس سره مکمل د انسان بدن پټ نه وے نو دا انسان به څومره بد شکله ښکاری اوکه صرف يوه کپړه وے د سر نه واخله تر خپو پورې نو دا انسان به په

دې کښې تلل راتلل نشي کوے. او د لباس التقوی مطلب دا دے چې په دې کښې به د غیر مسلمو سره مشابهت نه وی.

هغه لباس چې د زنانه جسم او بدن پکښې ښکاره وی نو دا لوېه ګناه ده ځکه یوه ګناه دا ده چې انسان هغه ګناه کړې وی او ګناه ورته ښکاری او یو ګناه هغه ده چې انسان په دغه ګناه باندې فخر کوی او برسر عام دغه ګناه کښې اخته وی ځکه حدیث کښې راځی ﴿كُلُّ أُمَّتِيْ مُعَافًا إِلاَّ الْمُجَاهِرِيْنَ﴾ زما ټول اُمّت به معاف وی مګر هغه خلق به معاف نه وی چې په ښکاره باندې ګناه ته مخکښې کیږی لکه نن صبا د زنانو لنډ تنګ لباس او د بے پردګۍ لباس د فخر واله څیز جوړ شوے دے نو دا هغه ګناه ده چې الله دغه ګناه نه معاف کوی.

## شریعت او د خلقو طعنې:

او په اُمّت کښې فیشن پرستی پیدا شوې ده حیاء غیرت شریعت ته هیڅ نظر او مقام نشته او د میډیا غلامان جوړ شوې دی اګر که هغه ورته د اسلام خلاف د پښتو او غیرت خلاف تعلیم ورکړی نو په سر سترګو باندې د هغې قبلیدو ته تیار وی که څوك ورته د سمې او صحیح لارې تعلیم ورکړی نو بیا وائی چې دا د دې زمانې سره نه چلیږی ځکه دا د مخکښې زمانې خبرې دی خو په دې خبرو باندې د کامل مسلمان ایمان ته هیڅ نقصان نه رسی او نه د دې خبرو څه پرواه لری بلکه د دې خبرو سره هغه نور په خپل ایمان باندې ثابت قائم او دائم وی دا عیبونه او طعنې انبیائے علیهم السلام ته ورکړے شوې وې دا د انبیاؤ میراث دے چې کله یو نبی علیه السلام حق خبره د ایمان او د غیرت خبره د حیاء خبره کړې ده نو قوم والو ورپسې خندا سپك نظر عیبونه او طعنې ورکړے دے لیکن انبیائے کرام د دې هیڅ پرواه نه ده کړې او د الله دین ئې

خلقو ته بیان کړے دے د نوح علیه السلام نه واخله تر د محمد صلی الله علیه واله وسلم پورې یو پیغمبر د دې نه نه دے بچ شوے.
څکه مولنا ظفر علی خان وائی.

*توحید تو یہ ہے کہ خدا حشر میں کہہ دے*
*یہ بندہ دو جہان سے خفا میرے لیئے ہے*

توحید د الله بندګی دا ده چې د قیامت په ورځ انسان داسې حالت کښې د الله په دربار کښی پیش شی چې د دنیا نه د الله د پاره خفه شوے وی د خلقو لعن طعن ئې برداشت کړے وی.

بل دا چې انسان به څکه دین اسلامی واله روایات اقدار نه پرېږدی چې دغه بےحیاء خلق د بے حیائۍ د کارونو نه نۀ شرمیږی نو مسلمان به څنګه د حیاء د کار او د شریعت د حکم نه روستو شی او مسلمان به څنګه د حیاء په کار کښې شرم اوکړی.

دویم اصل چې قرآن بیان کړ ے دے هغه دا دے چې په لباس کښې به انسان خائسته ښکاری بد شکله بد مزاجه به نه وی او نه به د فطرت نه انحراف واله لباس اغوندی که لباس نه وے او دا انسان د څناورو په شان وے نو څومره بد صورته به وے انسان که انسان دے نو په دې لباس باندې انسان دے په یورپ کښې یو تحریك چلیږی او د دغه تحریك مقصد دا دے چې انسان دې لباس نه اغوندی څکه انسان بغیر د لباس نه په دنیا کښې پیدا شوے دے نو لباس به په یو انداز باندې وی چې د خلقو نفرت په مجلس کښې د دغه انسان نه نه پیدا کیږی.

## د الله د نعمت اثر:

بعض خلق بغیر د څه ضرورت نه د پیوند واله لباس استعمالوی نو دا څه ضروری خبره نه ده ځکه په هغه وخت کښې غریبی وه نور لباس موجود نه وو ځکه نبی علیه السلام دغه لباس استعمال کړے وو صحابه وائی په یو موقع نبی علیه السلام دومره قیمتی چوغه اغوستې وه چې د دغه چوغې قیمت د نبی علیه السلام په دور کښې دوه زره دینار قیمت وو نو دا قیمتی لباس هم هغه استعمال کړے دے نو دا هر انسان د خپل وسعت او مالدارۍ مطابق استعمالولے شی د نبی علیه السلام خوا ته یو انسان راغې نبی علیه السلام ورته تپوس اوکړو ﴿ أَلَكَ مَالٌ﴾ ستا سره مال شته دا ګنده جامې تا ولے اغوستې دی آیا ته غریب ئې؟دغه انسان جواب ورکړو چې اؤ زما سره مال شته دے نبی علیه السلام ورته اووئیل نو الله ته دا ډیر محبوب ده چې د خپل نعمت اثر په خپل بنده باندې اوګورې نو یو انسان قیمتی اعلیٰ لباس استعمالوے شی خو شرط دا دے چې تکبر ریاء کاری به پکښې نه وی.

## قیمتی لباس:

یو صحابی نبی علیه السلام نه تپوس کوی چې الله ماته مال دولت راکړے دے نو آیا زه خائسته قیمتی لباس استعمالومه دا خو تکبر نه دے نبی علیه السلام ورته اووئیل الله خائسته ذات دے او خائست او جمال ورته خوښ دے او یو صحابی رضی الله عنه ته نبی علیه السلام فرمائی ﴿كُلْ مَاشِئْتَ﴾ څه خیز چې ستا خوښه وی نو دغه خیز خوره ترڅو پورې چې الله طاقت درته درکړے وی ﴿وَالْبَسْ مَاشِئْتَ﴾(بخاری) او څومره لباس چې ته اغوستے شې نو دغه لباس استعمالوه او دوه خبرې دې

تا لره دهوکه نه کړی یو اسراف مه کوه دویم تکبر او بل انسان ته سپك نظرمه کوه.

او په زیب او زینت د لباس کښې دا هم شامل دی چې انسان صفا کړے شوے لباس استعمالوی ګنده لباس به نه وی چې نور چاته تکلیف ورکړی ځکه الله فرمائی ﴿خُذُوْازِيْنَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ﴾ (اعراف:۳۱) د هر مسجد خواته زینت قائم کړی ـ څه مطلب پاك صفالباس او د مسجد خیال اوساتی ـ ګنده لباس ګنده بدبودار هیئت کښې به انسان مسجد ته نه راځی ځکه نورو خلقو ته د دې نه تکلیف وی.

والحمدلله رب العالمین

# د لباس اداب (۱)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ كَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَاءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَاءِ اَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِيْمِ۔

﴿يٰبَنِيْ اٰدَمَ قَدْ اَنْزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُّوَارِيْ سَوْاٰتِكُمْ وَرِيْشًا﴾(سورة الأعراف:۲۶)

## لباس عظیم نعمت:

د قرآن پاك يو ايت تلاوت شو په دې كښې الله رب العزت د يو لوې نعمت لباس تذكره او د هغې مقصد بيان كړے دے الله په انسان باندې ډير نعمتونه كړې دى يو لوې نعمت الله په خپل بنده باندې د لباس او جامو په صورت كښې كړے دے او انسان چې د نورو مخلوقاتو نه په ظاهرى شكل و صورت كښې ممتاز دے نو دا په دې لباس سره دے ځكه مشهوره مقوله ده ﴿النَّاسُ بِاللِّبَاسِ﴾ دا خلقه په لباس باندې انسانان دى كه لباس نه وې نو بيا د نورو حيواناتو او انسانانو څه فرق نشى كيدے په قرآن كښې الله د دغه خلقو تذكره كړي ده چې څوك لباس نه پيژنى يا د لباس قدر وقميت ورته معلوم نه وى يا د يورپ تقليد كښې اخته وى چې هغه نيم ننګه نيم جسم ښكاره شوے لباس ته ترجيح وركوى او دا د هغه مشركين مكه د عادت پشان كار جوړ شوے دے چې كله به بيت الله ته راغلل نو بربنډ طواف كول د هغوى رواج وو او شيطان ورته په ذهن كښې دا خبره كيخودې وه چې دا د ثواب او نيكۍ كار دے ځكه شيطان د انسان د ګمراه كيدو د پاره يا هغه ته بد عمل خائسته كړى او يا دغه بدو كښې انسان په ښه سوچ او ښه ذهن سره مبتلا كړى او دا دويمه طريقه د

شیطان ډیره خطرناکه طریقه ده لکه عام بدعات نو دغه مشرکانو ته شیطان دا ګناه د نیکۍ په شکل کښې پیش کړې وه بیا د هغوی دا عقیده او نظریه جوړه شوې وه چې زمونږه دا جامې پته نه لږی چې دا به د حرام مال جامې به وی اوکه د حلال مال واله جامې به وی او بیا مونږه د الله کور ته راغلې یو د عبادت او د طواف د پاره نو په هغه لباس او جامو کښې مونږه څنګه د الله په کور کښې عبادت او طواف ته مخکښې شو چې په هغهٔ لباس کښې مونږه قسم قسم ګناهونه او د الله نافرمانیانې کړی دی نو بیا به دغه مشرکانو په بربنډه طواف کولو او نیت به د هغوی د ثواب نیت وو الله دغه نعمت په قرآن کښې بیان کړے دے او د مشرکانو په دې باطل غلط رسم باندې الله رد کړے دے ﴿قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِيْنَةَ اللّٰهِ لَعِبَادِهِ وَ الطَّيِّبَاتِ مِنَ الرِّزْقِ﴾( الاعراف: ۳۲) اے پیغمبره دې خلقو ته دا بیان اوکړه چې الله تاسو ته د زیب او زینت د پاره لباس در کړے دے او حلال رزق الله د خوراك د پاره در کړے دے نو دا په تاسو باندې چا حرام کړی دی دې ته تحریمات لغیرالله وئیلے کیږی چې الله یو څیز نه وی حرام کړے ، او انسانانو په خپل ځان باندې د خپل طرف نه حرام کړے وی.

## د لباس دوه مقصدونه:

دې د قرآن ایت کښې الله فرمائي ﴿ يَا بَنِيْٓ اٰدَمَ قَدْ اَنْزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُّوَارِيْ سَوْاٰتِكُمْ وَرِيْشًا﴾ (الاعراف:۲۶) اے د ادمؑ اولاده ما تاسو ته لباس درکړے دے او د دې لباس دوه مقصده دی، یو دا چې دا ستاسو د پاره ستر او پرده ده په دې سره به ستاسو عورت پټ وی ځکه که انسان په دې کښې پټ وی نو د دهغه عظمت حیاء به باقی وی او دویم مقصد دا

دے چې دا زیب وزینت دے او د دې سره انسان د ګرمۍ او د یخنۍ د نقصان نه محفوظ وی ریش په اصل کښې د مارغانو بنړو ته وئیلے کیږی لکه څنګه چې مارغان بنړکو پرونو سره د یخنۍ نه بچ وی او دا د هغوی د پاره زینت وی دغه شان لباس هم دے لباس په حقیقت کښې هغه لباس دے چې د انسان عورت ورسره پټ وی او دویم لباس هغهٔ دے چې انسان د موسمی اثراتو نه محفوظ کړی لکه ګرمی یخنی شوه او دریم دا چې په دې لباس کښې انسان مهذّب وی تهذیب یافته په نظر باندې راځی اوکه چرته د انسان لباس نه وے نو دغه انسان به انتهائی درجې بدصورته او بد شکله ښکاره کیږی اوکه چرته صرف کپړه وے او خاص هیئت او صورت واله نه وے نو دا انسان به بیا هم ښائسته صورت واله نه وے.

## لباس زینت دے:

د دې نعمت د استعمال آداب او اصول څه دی یو ادب دا دے چې لباس به داسې وی چې د انسان عزت شرافت او کرامت او تهذیب به پکښې محفوظ وی شریعت د دې د پاره څه خاص رنګ هیئت مقرر کړے نه دے او وجه دا وه چې دا یو عالمی دین دے دا صرف د عربو لباس جامې پورې خاص نه وو بلکه دا د ټولې دنیا د پاره د هر قوم د پاره د هر وطن او ملك د پاره یو دستور دے که چرته شریعت یو قسم لباس مقرر کړے وے نو د نورو قومونو علاقو واله د پاره به مشکل او سخت کار وی نو ځکه یو خاص هیئت د لباس د پاره انسان لره نه دے مقرر شوے بلکه څه خاص اصول او آداب د دې د پاره د الله د طرف نه مقرر کړے شوی دی او شریعت دغه آداب مونږه ته ښودلی دی نو که عرب یو خاص لباس چوغه اغوندی نو دغه به هم جائز وی که پرده پکښې وی او انسان د

موسمی اثراتو نه بچ کړی او انسان ټکبنې مهذّب خائسته ښکاری او که دغه لباس د پاکستان هندوستان افغانستان والو وی نو دغه اغوستل هم جائز دی چې دا آداب او اصول پکښې موجود وی نیم ننګا لباس به نه وی او حرام لباس به نه وی او د یو قوم غیر مسلمو واله مذهبی شعار او علامه به نه وی که د هندوانو خاص لنګ وی نو مسلمان به دغه نه استعمالوی اوکه د سیکهانو خاص پګړے وی نو مسلمان به دغه نه اچوی یا د عیسایانو د صلیب واله مذهبی شعار وی نو دغه قسمه لباس به مسلمان نه استعمالوی.

## لباس او لباس التقوی:

هر کله چې لباس د الله د طرف نه لوې نعمت دے نو انسان به د الله د دې نعمت شکر ځنګه ادا کوی د نعمت د شکر ویستلو د پاره ډیرې طریقې وی یوه طریقه د نعمت د شکریه د پاره دا ده چې د نبی علیه السلام نه کومه دعا په دې موقع نقل شوې ده انسان دې د هغه دعا وئیلو اهتمام اوکړی او د دې د پاره بل شکر دا دے چې د دې ظاهری لباس سره الله یو بل لباس پیدا کړے دے چې هغې ته تقوی وئیلے کیږی قرآن دا دواړه لباسونه ذکر کړی دی او بیا فرمائی چې ﴿وَلِبَاسُ التَّقْوٰى ذٰلِكَ خَيْرٌ﴾ (اعراف:۲۶) دغه د تقوی واله لباس بهتر او غوره لباس دے ځکه که د تقوی واله لباس نه وی نو د انسان ظاهری لباس ته بیا څه خاص ضرورت نشته.

د تقوی په لباس کښې دوه خبرې دی یو دا چې په دې لباس کښې باطنی پاك والے وی او ورسره ظاهری تقوی پرهیزګاری وی باطنی پاك والے دا دے چې د دې ظاهری لباس زیب وزینت د وجې نه په انسان کښې

غرور تکبر او غلورانشی او ظاهری تقوی دا ده چې په دې لباس کښې به غیرو مذهبونو سره مشابهت نه وی یا دا دے چې د نارینه لباس به د زنانه واله نه وی او د دې مشابهت بیا ډیر صورتونه دی یو دا دے چې د نارینه گهټنې (گیټه) به ښکاره وی پینسې به اوچتې وی او د زنانه گهټنې قدم به پټ وی پینسې به خکته وی په دې نن صبا دور کښې دا خبره بالکل عکس شوې ده کوم اصول چې شریعت د نارینه د پاره ذکر کړی وو هغه اصول زنانه خپل کړی دی او کوم اصول چې شریعت د زنانه د پاره ذکر کړی وو هغه اصول نارینه خپل کړی دی او په دې باندې عمل کوی د ښځې لباس کښې به ټول جسم اندامونه پټ وی اوکه د سړی په لباس کښې لاس خپې پنډۍ ستړ ښکاره وی نو دا جائز دی خو نه به په ویښتو کښې داسې مشابهت وی د نارینه ویښتهٔ به د زنانو پشان نه وی او د زنانه ویښتهٔ به د نارینه پشان نه وی.

## د لباس خوشحالی او دعا:

بل دا که انسان نوے لباس واچوی نو په دې باندې د خوشحالۍ اظهار به کوی ځکه نبی علیه السلام به په لباس باندې د خوشحالۍ اظهار سره دعا وئیله اول به د دغه لباس نوم په خولهٔ باندې راوستو که څادر به وو که کپړې به وې اوکه پګړۍ به وه او بیا به ئې دا دعا وئیله ﴿اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ، كَمَا كَسَوْتَنِيهِ، أَسْأَلُكَ خَيْرَهُ وَخَيْرَ مَا صُنِعَ لَهُ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهِ وَشَرِّ مَا صُنِعَ لَهُ﴾(ابوداؤد) ټول شکرونه حمدونه الله لره دی چې دغه لباس ئې مونږه ته راکړے دے او الله اوس ستا نه د دې لباس خیر غواړم چې زما عورت ورسره پټ وی موسمی اثراتونه محفوظ وی او الله د دې د

شر نه پناه غواړم چې دا زما د پاره د بے عزتۍ د بے دینۍ او خلاف تقوی سبب جوړ نشی .

د عمر رضی الله عنه نه روایت دے چې نبی علیه السلام فرمائي که یو انسان نوے لباس واچوی نوکه دې انسان ته ګنجائش وی دغه خپل زوړ لباس دې غریب مسکین ته هبه کړی ځکه دا هم د لباس د شکر ویستولو طریقه ده او یو حدیث کښې دا دعا نقل شوې ده ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ کَسَانِیْ مَا اُوَارِیْ بِهٖ عَوْرَتِیْ وَ اَتَجَمَّلُ بِهٖ فِیْ حَیَاتِیْ﴾ (ترمذی) حمدونه الله هغه ذات لره دی چې په لباس سره هغه زما په شرم او حیاء باندې پرده رواسته او هغه زۀ د دنیا په ژوند کښې د دې لباس سره خائسته کړمه نو دا ادب دے چې دعا وئیل او ورسره د خوشحالۍ اظهار کول.

والحمدلله رب العالمین

# د لباس آداب (۲)

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ قَدْ اَنْزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُّوَارِيْ سَوْاٰتِكُمْ وَرِيْشًا﴾(سورة الاعراف26)

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ، لَعَنَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ الْمُتَشَبِّهَاتِ بِالرِّجَالِ مِنَ النِّسَاءِ وَالْمُتَشَبِّهِينَ بِالنِّسَاءِ مِنَ الرِّجَالِ ، (ترمذی)

## د زنانه او نارینه لباس کښې فرق:

مخکښې نه د لباس په باره کښې خبره شروع وه چې دا د الله يو لوې نعمت دے او د انسان او حيوان په مينځ کښې فرق او امتياز د دې سره ظاهرے دی شی او په دې کښې د شريعت د آدابو خيال اوکړے شی د دې يو ادب دا هم دے چې د سړی او د ښځې لباس کښې به فرق وی نارينه به د زنانه د لباس پشان رنګ ډنګ نه اختيار وی او نه به زنانه د نارينه واله لباس ته ميلان کوی د ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه نه روايت دے چې ﴿لَعَنَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ الْمُتَشَبِّهَاتِ بِالرِّجَالِ مِنَ النِّسَاءِ﴾ نبی عليه السلام په هغه زنانو باندې لعنت وئيلے دے چې خپل ځان د سړو سره مشابه او يو شان کړی او دغه شان نبی عليه السلام په هغه نارينه باندی هم لعنت وئيلے دے چې د زنانو سره مشابهت هغوی اختيار کړے وی زنانه به د نارينه سره په لباس شکل هيئت رنګ ډنګ کښی يو شان والے نه کوی او نه به نارينه د زنانو په شان لباس رنګ طرز طريقې ته غاړه ګدی په دې دواړه قسمه خلقو باندې نبی عليه السلام لعنت وئيلے

دے.أم المؤمنين عائشة رضی الله عنه وائي يو ځل يو انسان د يوې ښځې په باره کښې تذکره اوکړه چې د نارينه پشان چپل پيزار اغوندی نو په دغه موقعه نبی عليه السلام اوفرمائيل چې په هغه ښځو باندې لعنت دے چې خپل ځان د سړو پشان جوړول غواړی نو دا يو ادب دے او د دې خيال ضروری دے.

## د دوپټې استعمال:

يو ادب دا هم دے او دا د ښځو د پاره خاص دے چې ښځې به دوپټه غټ څادر اغوندی د حجاب او پردې به د کور نه باهر پابنده وی او خپل کور کښې به دوپټه استعمالوی د دوپټې مقدار به کم از کم دومره وی چې په هغې سره د انسان سر او سينه پټه وی دا به نه ښکاری قرآن پاك سورةالنور کښې الله خاص زنانو ته دا خطاب کړے دے ﴿وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلٰى جُيُوْبِهِنَّ﴾ (النور:۳۱) دې زنانو لره پکار دی چې دا څادرونه او دوپټې په دې خپلو سرونو او سينو باندې راتاؤ کړی دا دوپټه به زنانه په کور کښې هم اچوی نبی عليه السلام ته په يوه موقعه د مصر نه د ململ کپړه په تحفه کښې راغلې وه دغه کپړه نبی عليه السلام دوه ټکړې کړه يوه ټکړه ئې دحية الکلبی رضی الله عنه ته ورکړه چې د دې نه د ځان د پاره قميص او څادر جوړ کړه او دويمه ټکړه ئې هغه ته ورکړه چې دا به ستا د ښځې د پاره دوپټه وی او ورسره ورته نبی عليه السلام دا هدايت هم کړے وو چې ستا ښځه به د دې نه لاندې يو استر يوه بله کپړه اچوی هسې نه چې د جسم څه اندام پکښې ښکاره نشی نو د دې واقعې نه معلومه شوه چې باريکه کپړه به انسان نه استعمالوی يو ځل نبی عليه

السلام اسماء رضی الله عنها اولیده چې هغې دوپټه اغوستې وه او باریکه وه نبي علیه السلام ورنه اعراض اوکړو مخ ئې ورنه واړو او ورته ئې اووئیل اے اسماء د یوې ځوانې ښځې د پاره دا جائز نه دی چې د هغې د جسم یو اندام بل چا ته ښکاره یا محسوس شي مطلب ستا دا دوپټه باریکه ده.

اُم المؤمنین عائشة رضی الله عنها فرمائي کله چې د قرآن دا ایتونه نازل شو ﴿وَلۡيَضۡرِبۡنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلٰى جُيُوۡبِهِنَّ﴾ (سورة النور:۳۱) نو زمونږه د مسلمانانو زنانو تمامې باریکې دوپټې او کپړې لرې کړې او غټې مضبوطې کپړې استعمال کول هغوی شروع کړل نو زنانه به په کور کښې دوپټه اچوی او د کور نه باهر به جلباب اچوی او نن صبا سرا سر د قرآن د دې ایت مخالفت دے د زنانه د سر ویښتهٔ کولاؤ وی او نور اندامونه ورسره هم ښکاره وی.

## دَ وسعت مطابق لباس:

یو بل ادب دا هم دے چې هر انسان به د خپل وسعت مطابق لباس اخلی که هغه جامې وی که څادر وی اوکه نور لباس وی که د یو انسان د ښه لباس اغوستو وس وی او دا انسان بے کاره کمزورے لباس اچوی او بل انسان دے چې د اعلیٰ قیمتی لباس وس نه لری اولګیا شوې دے د هغې د پاره قرض اخلی نو دواړه په افراط او تفریط کښې داخل دی او شریعت کښې منع دی که څوك اعلی او قیمتی لباس اغوندی نو په دغه لباس باندی به فخر نمائش ځان لوې ګنړل نه وی او بل چاته به حقیر او سپك نظر نه کوی.

دا وجه ده چې بعض بے علمه خلق چې هغوی صرف دا اوریدلی وی چې صحابو په خپلو جامو کښې پیوندونه لګولی وو نو هغوی هم په خپل لباس کښې سره د وسعت نه پیوندونه لګولی وی دا صرف جهالت دے ځکه په هغه دور کښې غربت او تنګی وه دومره اسباب او سهولیات نه وو بل طرف ته جهالت دا دے که یو انسان اعلی او خائسته لباس کښې ملبوس وی نو دغه انسان ته د دنیا دار په نظر سره کتلے شی او د عام خلقو ذهن دا وی چې دا د دین نه خلاف لباس دے دا خبره هم غلطه ده.

## خائسته او قیمتی لباس:

ابوالحسن الشاذلی لوې عالم دے نو هغه به خائسته قیمتی اعلی لباس استعمالو چا ور باندی اعتراض کړے وو چې ته خو عالم ئی ته ولے دا لباس اغوندې؟ هغه جواب ورکړو چې اعلیٰ قیمتی لباس اچول د شریعت نه خلاف نه دی بلکه دا د الله شکر ویستل دی چې الله په یو بنده باندې نعمت کړے وی نو الله ته دا خوښ وی چې په دغه بنده باندې د دې نعمت اثر او ګوری نو دا لباس زۀ د الله د نعمت د شکر ویستلو په نیت اغوندم اوکه د یو انسان وسعت وی او بیا هم سره د طاقت نه د سوالګرو پشان لباس کښې ملبوس وی نو دا دین نه دے او د الله د نعمت نا شکری او بے قدری هم ده.

امام مالك رحمت الله علیه لوې امام دے هغه به په مسجد نبوی کښې د حدیثو درس ورکو لرې لرې نه به خلقه د دۀ په درس کښې شاملیدل هغه دومره نظافت پسند انسان وو چې روازنه به درس حدیث ته هغه نوې کپړې اچولې کله چې به هغه یوه جامه بدله کړه نو دغه مخکښې کپړې به خیراتی یو غریب مسکین ته هغه ورکړه چا ورباندې

اعتراض کړے وو چې ته خو د دنیا لوې غټ امام ئې دا دومره تکلف ته څه ضرورت دے نو په جواب کښې ورته امام مالك د قرآن دا ایت تلاوت کړو ﴿قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِينَةَ اللَّهِ الَّتِيٓ أَخْرَجَ لِعِبَادِهِ وَالطَّيِّبَاتِ مِنَ الرِّزْقِ﴾ (سوره الاعراف:۳۲) چې خوراك اولباس د الله د طرف نه نعمت دے که یو انسان ته الله بهترین خوراك عمده لباس ورکړے وی نو بیا څوك دی چې د الله دا نعمت به په دې بنده باندې حرام او بند کړی نو دا یو ادب دے چې د طاقت مطابق لباس به اچوی تکبر او اسراف به پکښې نه وی. یو صحابی د نبی علیه السلام سره ملاؤ شو د هغه جامې بے کاره وې نبی علیه السلام ورنه تپوس اوکړو آیا ستا څه مال شته دے صحابی جواب ورکړو اؤ د الله پیغمبره زما سره مال شته دے نبی علیه السلام ورته اووئیل څه مال الله درکړے دے صحابی ورته اووئیل اوښان ګډې چیلۍ اسونه نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل هر کله چې الله تا ته مال درکړے دے نو الله ته دا خوښه ده چې د خپل نعمت اثر په بنده باندې اوګوری او په دې بنده باندې به د الله د نعمت اثر ظاهر وی او د انسان مال په دنیا کښې هغه مال دے چې اوخوړلے شی اوڅکلے شی یا د الله په دین باندې خرچ شی یا ښه لباس ورباندې واغستلے شی دا د انسان مال دے.

جابر رضی الله عنه صحابی دے هغه وائې نبی علیه السلام یو ځل زمونږه کور طرف ته راغلے په دغه دوران کښې ئې یو سړے اولیدو په بد حالت باندې وو ویختهٔ ګډوډ شوی وو نبی علیه السلام اووئیل چې ګمنز وغیره درسره نشته چې دا ویختهٔ ورباندې برابر کړی او یو بل انسان نبی علیه السلام اولیدو چې ګنده جامې ئې وی نبی علیه السلام اووئیل د دهٔ

سره څۀ داسې څيز نشته چې جامې ورباندې صفا کړی نو د دې نه معلومه شوه چې دا تقوی نه ده چې د يو انسان سر يا ګيره ببره وی او په بد حالت باندې وی تقوی دا ده چې انسان په زړۀ کښې د الله نه يريږی او په ظاهر باندې د الله نعمت وربادندې ښکاری.

## اعلی قيمتی لباس او تکبر:

يو سړے نبی عليه السلام خوا ته حاضر شو او تپوس ئې ورنه اوکړو يا رسول الله زما زړۀ غواړی چې ښۀ لباس پيزار سورلی راسره وې دا څيزونه خو به په تکبر کښې داخل نه وی نبی عليه السلام جواب ورکړو دا څيزونه په تکبر کښې داخل نه دی او الله د دې واله انسان ته ښه او محبوب نظر سره ګوری يعنې دا د شريعت نه خلاف نه دی عبد الله بن عمر رضی الله عنه د نبی عليه السلام نه تپوس کړے وو چې دا خو به تکبر نه وی چې انسان ښۀ لباس واغوندی نبی عليه السلام جواب ورکړو دا جمال دے الله بذات خود خوبصورته دے او الله ته داسې انسان هم محبوب وی ځکه نبی عليه السلام فرمائې چې کله يو انسان مسجد ته حاضر شی نو الله د دې ډير حقدار دے چې يو انسان الله ته په ښۀ حالت کښې حاضر شی نو انسان به دا قيمتی جامې اغوستلې وی او نبی عليه السلام د جمعې په باره کښې ذکر کړی وو چې انسان دې د غسل نه بعد د الله دربار ته حاضر شی هاں بيا هغه تکبر څه څيز دے نو نبی عليه السلام اوفرمائيل ﴿بَطَرُ الحَقِّ وغَمْطُ النَّاسِ﴾(مسلم) تکبر دا دے چې د حق نه انکار اوکړے شی او دويم دا چې بل انسان ورته په نظر کښې سپك ښکاری او خپل ځان ورته اوچت او بره ښکاری دې ته تکبر وئيلے کيږی تر دې پورې چې ښه مزيداره سورلی او ښه چابك هم تکبر نه دے

دا د شریعت اسلامی مزاج دے چې انسان به اعلی قیمتی لباس اغوندی که وسعت طاقت لری او دا تکبر نه دے.

## مهذب او دَ ذوق مطابق لباس:

بل ادب دا دے چې د انسان لباس به د ذوق او سلیقې مطابق وی د عام روایاتو او تهذیب خلاف لباس به نه وی نبی علیه السلام یو ځل مسجد نبوی کښې ناست وو په دغه حالت کښې یو انسان رادننه شو ببر ببر ویختهٔ ګډوډه ګیره نبی علیه السلام ورته د لاس په اشاره باندې اشاره اوکړه چې دا برابر کړه ګمنز ئې کړه دوباره دغه انسان راغلے او د هغه ویختهٔ برابر شوی وو چې نبی علیه السلام دوباره اولیدو نو نبی علیه السلام اوفرمائیل چې د یو انسان ویختهٔ برابر او صحیح وی دا ښه ده او که نه دا ښه ده چې د یو انسان ویختهٔ ګډوډ وی او داسې په نظر باندی راځی لکه شیطان چې وی ځکه د شیطان ګنده شکل دے او یو ځل څوك د وفد واله راغلی وو نو نبی علیه السلام خپل ویختهٔ برابر کړل اُم المؤمنین عائشة رضی الله عنها ورته وائي د الله پیغمبره میلمانهٔ راتللو سره به انسان دا برابر وی؟ نبی علیه السلام جواب ورکړو دا ښه خبره ده چې انسان د میلمنو سره په ښهٔ حالت کښې ملاؤ شی او یو حدیث کښې راځی چې یو انسان به داسې نه کوی چې په یوه خپه کښې ورسره چپل وی او به بله خپه کښې د هغه چپل نه وی یا به دواړه وی او یا به دواړه نه وی او یا د یو انسان د پرتوګ یو طرف اوچت وی بل طرف اوچت نه وی یوه جرابه وی بله جرابه نه وی دا ځکه منع دی چې دا د تهذیب او سلیقې خلاف عمل دے.

## بل انسان ته د لباس تحفه:

او د لباس يو ادب دا هم دے چې د خپل وسعت طاقت مطابق غريب مسكين خلقو لره لباس واخلىۍ نبى عليه السلام فرمائي كه په دنيا كښې يو مسلمان بل مسلمان ته لباس وركړى نو د قيامت په ورځ به دغه انسان ته الله د جنت شين رنګ والا لباس وركړى دا به د دې انسان د پاره انعام او بدله وى او بل حديث كښې دى چې يو انسان بل ته لباس وركړى نو تر څو پورې چې د هغه په بدن دغه لباس موجود وى الله به ورسره د دې انسان حفاظت او نګرانى اوكړى.

آخرى دا چې انسان به خپل غلام نوكر مذدوركار شاګرد لره هم د خپل طاقت پورې لباس اخلى ابوذر رضى الله عنه وائي يو ځل ما خپل غلام اووهلو نبى عليه السلام چې خبر شو هغه ما ته ډيرې خبرې اوكړې او دا خبره هم راته هغه كړې وه چې دا غلامان ستاسو رونړه دې او دا الله ستاسو د لاس نه لاندې ګرځولى دى نو څه خيز چې تاسو پخپله خورىۍ نو هغه خيز دوى ته هم وركوے او څه لباس چې تاسو اغوندىۍ هغه لباس دوى ته هم وركړىۍ او دوى ته هغه كار مۀ وركوه چې د هغې طاقت نه لرى اوكه ډير مشكل كار وى نو تاسو ورسره مدد اوكړىۍ د دوى سره په دغه كار كښې حصه واخلىۍ.

والحمدلله رب العالمين

# د صحت قدر (۱)

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

وَلَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ و قال رسول لله : نِعْمَتَانِ مَغْبُونٌ فِيهِمَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ الصِّحَّةُ وَالْفَرَاغُ (رواه احمد)

## دوه نعمتونه:

د قرآن کریم یو ایت او د نبی علیه السلام یو ارشاد مبارك تلاوت شو په دې حدیث کښې نبی علیه السلام د دوه لوې نعمتونو ذکر او د اُمّت غفلت او بے پروائی بیان کړی ده فرمائي ﴿نِعْمَتَانِ مَغْبُونٌ فِيهِمَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ﴾ دوه نعمتونه داسې دی چې خلق ډیر لوې تاوان او خساره کښې د هغې په باره کښې دې دغه دوه لوې نعمتونه دې خو خلق د دې په باره کښې کوتاهي ناقدری کښې اخته شوی دی یو﴿اَلصِّحَّةُ﴾ صحت د الله لوې نعمت دے چې الله روغ تندرست صورت انسان له ورکړے وی خلق د دې ناشکرے کښې اخته دی، دویم نعمت ﴿وَالْفَرَاغُ﴾ ژوند او وخت دا د الله لوې نعمت دے چې الله انسان ته ورکړے دے اګر چې انسان د دې په باره کښې په غفلت کښې پروت دے .

## وخت څه څیز دے؟

وخت څه ته وئیلے کیږی وخت د انسان د ژوند نوم دے که هغه لحظه ده که یو منټ دے اوکه یو سیکنډ دے که ورځ ده میاشت ده اوکه کال دے دا زندګی ده یو یو میاشت او یو یو کال تیریدل دا ډیره لوې د غم

او خفګان خبره ده ځکه کله نه چې انسان پیدا شوے دے او د هغه مثلاً شپیته کاله عمر دے نو که دا یو ورځ تیره شی دغه ورځ د دې انسان د عمر نه کمه شی دا دوباره په هیڅ یو صورت کښې نۀ واپس کیږی که میاشت تیره شی اوکۀ یو کال تیر شی نو مطلب دا شو چې د دې انسان دومره وخت ختم شو دا یو یو کمیږی نن زمونږه د خلقو حالت دا دے چې کله کال نوے شی نو خوشحالی مناؤ کړی یا د چا یو رسمی طریقه دا وی چې یوم پیدائش سالګره مناؤ کړی په حقیقت کښې دا د خوشحالۍ خبره نه ده دا د خفګان او د افسوس مقام وی چې ستا د ژوند نه دغه وخت ختم شی بلکه د سوچ او فکر خبره ده چې دومره ژوند زما د دې عمر نه کم شو او دومره پاتی دے په دې کښې زما د پاره څه کول پکار دی او دغه تیر شوی عمر ژوند کښې ماته څه نقصان او څه فائده شوې ده ځکه په دې حدیث کښې نبی علیه السلام دوه نعمتونه ذکر کړې دی اول د صحت ذکر دے او بیا د وخت بیان شوے دے.

## د مسلمان غفلت:

ځنګه چې وخت یو عظیم نعمت وو دغه شان صحت هم یو عظیم او لوې نعمت دے او نبی علیه السلام چې کومه خبره د دې په حق کښې کړي ده رشتیا خبره ده ځکه پیغمبر د خپل ځان د طرف نه خبره نه کوی هغه ته د الله د طرف نه وحی کیږی ځکه که نن نظر اوکړے شی نو د د وخت ضیاع ډیره ده او دغه شان د صحت قدر دانی نشته زمونږه په اُمت مسلمه باندې نن افسوس پکار دے اول خو دین اسلام طرف ته توجو نشته او که څه نه څه خلق توجو لری د هغوی په نزد دین اسلام صرف د مونځ عبادت او روژې نوم دے ځکه زمونږه دین اسلام د یو څو

عبادتونو عقیده نظریو نوم نه دے دا یو مکمل نظام حیات دے په دې کښې د پیدائش نه واخله مرګ پورې د انفرادی ژوند نه واخله اجتماعی ژوند پورې د کورنه واخله تر مسجد پورې د خوشحالۍ نه واخله تر غم پورې هر څه په دې دین اسلام کښې موجود دی خو دین زمونږ خلقو پیژندلے نه دے. ځکه د وخت قدردانی او د دې په باره کښې د اسلامی تعلیماتو او شرعی هدایاتو نه مونږه ناخبره او بے پرواه شوی وو.

## د امانت مفهوم:

که یو طرف ته صحت یو عظیم نعمت دے نو بل طرف ته د الله د طرف نه د دې انسان سره یو لوې امانت هم دے او د امانت حفاظت او امانت داری اصولی لحاظ سره شرعی اخلاقی لحاظ سره په انسان باندې لازم او واجب ده او څوك چې د امانت پاسداری نه کوی او د هغې خیال نه ساتی نو دا خیانت دے او حدیث کښې راځی **﴿لَاإِيْمَانَ لِمَنْ لَا أَمَانَةَ لَهُ﴾** (احمد) د هغه چا ایمان نه وی څوك چې د امانت خیال او لحاظ نه ساتی دغه انسان بے ایمانه ناقص ایمان واله وی امانت یو وسیع مفهوم لری امانت صرف دانۀ دے چې انسان به د بل د مال خیال ساتی د دې امانت بے پروائی عظیم جرم او ګناه هم ده او د الله د نعمت بے پروائی ناشکری هم ده.

د صحت خیال نه ساتلو مثال دا دے چې وړوکے چینجے حشرات الارض (وَینۀ) ورته وئیلے کیږی کله چې دغه څیز په لرګی کښې پیداشی نو دغه لرګې په لږ وخت کښې تباه وبرباد کړی دغه شان لږ شان نقصان بیمارۍ چې د انسان چمړې یا یو اندام ته اولګی نو بدن د دغه

بیماری د وجې نه هلاك شی او برباد شی نو د دې نعمت لګه شان کوتاهی او ناشکری د انسان د هلاکت او تباهی د پاره سبب اوګرځی.

او یو حدیث کښې راځی نبی علیه السلام فرمائي چې قوی مومن طاقتور مومن الله ته  د ضعیف او کمزوری مومن نه زیات محبوب او خوښ دے وجه دا ده چې کله په دې انسان کښې صحت او قوّت وی نو د الله عبادت به په ښهٔ طریقه باندې ادا کولے شی او که یو انسان معذور دے کمزورے دے نو دا انسان به د الله عبادت او د الله رضا څنګه حاصله کړی ځکه دا بذات خود پخپله د بل چا محتاجه دے نو عبادت خدمت به څنګه اوکړی.

## درې نصیحتونه:

او انسان ته الله درې قیمتی جواهر ورکړي دی یو ورته الله عقل ورکړے  دے دویم ورته الله ایمان ورکړے دے دریم ورته الله اخلاق ورکړي دی اوکه یو انسان سوچ او فکر کړي وی نو د دې درې خبرو دارومدار په انسانی صحت باندې بناء کړے شوے دے که صحت کمزورے وی نو شعور عقل صحیح کار نه کوی اوکه صحت کمزورے وی نو انسان ښهٔ اخلاقو ته عملی شکل د خدمت په صورت کښې نشی ورکولے دویم ایمان دے نو د ایمان تقاضه دا ده چې د الله عبادت د الله د دین خدمت اوکړے شی که د یو انسان کمزورے صحت وی نو دغه کارونه نشی پوره کولے درس تدریس تبلیغ دعوت د الله د دین نصرت بل مسلمان سره احسان اوښیګړه دا هیڅ څه یو انسان بیا نشی پوره کولے دغه وجوهات دی چې زمونږه په شریعت کښې د صحت لوې مقام دے دا انسان په زمکه باندې د الله خلیفه دے الله ورته د زمکے خلافت

ورکړے دے او د دې د پاره لوی ذمه دارياني وی که يو انسان کمزورے وی نو دغه ذمه داری پوره نشی پوره کولے او د الله عبادت ، د الله نظام منل او په بل انسان نافذکول دا ټول په دې خلافت کښې شامل دی .

## د صحت حفاظت:

د دې لوې اهميت په بناء څه هغه کارونه انسان ته حواله کړے شوی دی چې د دې صحت قدردانی او شکريه ادا کړے شی د قرآن او سنت په حوالی سره يو سبب د صحت د پاره دا دے چې انسان هر وخت خو شحاله مطمئن وی تروتاز وی هر وخت په ښۀ اخلاقو او خائسته نورانی مخ سره يو انسان سره مخامخ کيږی د دنيا د حرص د وجې نه مونږه ډير زيات لوې مسائل خپل ځان ته جوړ کړې دی په وړه وړه خبره باندې غم دے په نۀ خبره باندې تعلق کټ کول تنګ نظری کول د دې خيزونو نتيجه دا وی چې دا يکدم په انسان باندې اثر کوی کله په دماغو باندې د دې اثر وی نو د انسان دماغی قوّت ورسره متأثره او کمزورے شی او دا خيزونه د انسان په نظام انهضام معده باندې هم اثر کولے شی دغه وجه ده يو حديث کښې راځی صحابی وائی چې ما نبی عليه السلام اکثر د هغه په مخ باندې مسکراهټ ليدلے وو سره د دې نه چې د نبی عليه السلام په شان ذمه داری او د هغه پشان غم او فکر د هيڅ چا نشی کيدے او بيا هم چا سره خوشحاله خنده پيشانۍ سره مخامخ کيدل نو د عام ملسمانانو د پاره هم دا ضروری ده چې په هر وخت کښې به هشاش بشاش تروتازه وی عمر رضی الله عنه يو انسان اُوليدو هغه ناراسته ناراسته روان وو نو عمر رضی الله عنه ورنه تپوس کړے وو په تا باندی څه شوې دی چې ته داسې رفتار باندې روان ئې آيا ته بيمار ئې هغه ورته وائې بيمار نه يمه نو

عمر رضی الله عنه ورته اووئیل بیا داسې د بیمار خلقو هیئت مه جوړ وه. ځکه مسلمان به دشمن ته خپل ځان کمزورے بے وسه نه ښکاره کوی.

## د مشرکانو اعتراض او عملی رد:

دې وجې نه کله چې مکې والو د مسلمانانو په باره کښې دا پروپیګنډه کړې وه چې مسلمانانو باندې مرضونه مسلط شوی دی د مدینې اب وهواء د مسلمانانو د پاره د هلاکت زریعه جوړه شوې ده نو نبی علیه السلام صحابو ته دا ارشاد کړے وو چې کله تاسو عمرې د پاره طواف ته روان شی نو رمل په دې کښې اوکړۍ رمل مطلب لګه شان منډه وهل تیز روانیدل دا په اول درې ګردشونو کښې وی اوګې خوزول او منډه وهل دا حکم نبی علیه السلام د دې حکمت د پاره صحابو ته کړے وو چې دشمن ته معلومه شی چې صحابه کمزوری ضعیفه خلق نه دی نو خبره دا وه چې مسلمان به د وړو وړو خبرو د وجې نه غم نه اخلی هشاش بشاش تروتازه به وی.

نبی علیه السلام د حج په موسم کښې بوډا سړے اولیدو چې د ځوانانو په اوګو باندې ئې لاس کیخودلې وو نبی علیه السلام ورنه تپوس اوکړو آیا تهٔ بیمار ئی څه تکلیف دے تا ته نو دې بچو ئې ورته جواب ورکړو یا رسول الله دا زمونږه پلار دے او دهٔ نظر منلے وو چې پیاده به زهٔ د حج د پاره زمه نبی علیه السلام چې دا واؤریدل نو ډیر زیات خفه شو او ورته وائې ستا سو د دې پیاده حجونو الله ته څه ضرورت نشته چې وس طاقت نه لرۍ نو ولے په خپل ځان باندې تا نذر لازم کړے دے الله د دې هیڅ پراوه نه لری هغه بے نیازه ذات دے هاں دا تا خپل ځان بچپله په دې

مصيبت کښې اخته کړے دے ځکه الله د حج حکم کړے دے بيا ورته نبی علیه السلام اووئيل چې په سورلۍ، اُوښ باندې سور شه.

## د نفس حق:

يوځل نبی علیه السلام راغلو څه ګورى چې په کور کښې يوه رسۍ زوړنده ده نبی علیه السلام تپوس اوکړو دا څه دی جواب ورکړے شو چې دا خو د زينب رضی الله عنها رسۍ ده هغه د شپې عبادت کښې مشغوله وی کله چې ستړې شی نو بيا د دې رسۍ د نيولو په زور باندې د الله عبادت ادا کوی نبی علیه السلام په غصه شو او حکم ئې اوکړو چې دا رسۍ لرې کړۍ تاسو د الله عبادت هغه وخت پورې ادا کوۍ کله پورې چې ستاسو په بدن کښې نشاط او تازګی وی کله چې دغه نشاط او تازګی ختمه شی نو بيا اودۀ شۍ او د عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه پلار د دۀ په باره کښې نبی علیه السلام ته شکايت کړے وو چې دا ټوله ورځ روژه وی او د شپې په عبادت کښې مشغوله وی او د دۀ بی بی ښځۀ هم موجود ده نبی علیه السلام ورته ډير وصيتونه کړی وو يو وصيّت دا هم وو ﴿وَلِنَفْسِكَ عَلَيْكَ حَقٌّ﴾ (ترمذی) ستا د دې نفس په تا باندې حق دے دې نفس ته به تکليف نه ورکوې نوکه انسان سوچ اوکړی شريعت په عباداتو کښې هم د نفس د حق خيال ساتلے دے که يو انسان د الله عبادت ادا کوی او ولاړه کښې ورته تکليف وی صحت ته نقصان وی نو دغه رکن به په ناسته ادا کړے شی وجه دا ده چې د انسان صحت ته نقصان ورنۀ کړے شی.

والحمدلله رب العالمين

# د صحت قدر (۲)

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿قال رسول الله ﷺ : نِعْمَتَانِ مَغْبُوْنٌ فِيهِمَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ اَلصِّحَّةُ وَالْفَرَاغُ﴾ (رواه احمد وابن مبارک فی الزھد)

## صحت او وخت:

مخکښې جمعې نه د صحت د قدردانۍ او آدابو په باره کښې خبره شروع وه چې صحت د الله رب العزّت یو نعمت دے او نبی علیه السلام فرمائی دوه نعمتونه دی چې د هغې نه کوتاهی او غفلت کیږی یو صحت دے ، دویم وقت دے، صحت د الله عظیم نعمت وو کله چې د یو انسان صحت درست وی نو دغه انسان د دنیا او آخرت دواړو د پاره څه کټه کوے شی اوکه چرته د دے صحت بے قدری اوکړے شی نو دا انسان نۀ د دنیا وی او نۀ د اخرت وی د صحت د حفاظت په اسبابو کښې یو سبب بیان شوے وو چې خوشحاله روښانه خندا پشانۍ سره د بل مسلمان سره مخامخ کیدل وو.

## د مشقت برداشت:

دویمه خبره د صحت په حوالې سره دا وه چې انسان په دې ژوند کښې دومره بوج په خپل ځان باندې بار کړی چې څومره بوج دغه انسان برداشت کوے شی که هغه د دنیا بوج دے اوکه د آخرت غم او فکر یا عبادت دے بله خبره د صحت د پاره دا هم ضروری وه چې انسان په دنیا

کنبې د مشقت عادت وی محنت کش او جفاکش وی د سخت وخت سره به مقابله کولے شی او دې ته به تیارهم وی ځکه عمر رضی الله عنه فرمائي چې خپل ځان کنبې د محنت مشقت برداشت کولو څۀ ماده پیدا کړی ځکه د الله دا نعمتونه راحتونه نعمتونه ټول عمر په انسان باندې همیشه نه وی انسان باندې سخت وخت هم راتلے شی د هغه سخت وخت سره خپل ځان عادت اوګرځوی او دا ځکه ضروری حکم دے که په انسان بیا څه سخت وخت راشی نو د دغه وخت مقابله بیا نشی کولے.

## صحابه کرام او ساده ژوند:

او نبیؐ معاذ رضی الله عنه یمن ته لیږلے وو هغۀ ته نبی علیه السلام ډیر وصیتونه کړې وو ورسره یو وصیّت دا هم نبی علیه السلام کړے وو چې د عیش پرستۍ او آرام پرستۍ نه به ځان ساتې د دې عادتی او اموخته به نه جوړیږې دا وجه ده چې ټول صحابه که مالداره دی او که غریبانان دی هغه ټول محنت کش او د مشقت سره اموخته او مانوسه خلق وو لوې لوې خلفاء ابوبکر صدیق عمر فاروق عثمان غنی علی المرتضی دا د عام بادشاهانو پشان نه وو د وړوکو ملکونو بادشاهان نه وو بلکه لوې لوې براعظمونه ورسره وو د عمر رضی الله عنه د دور خلافت رقبه (21 ) لاکهه مربع میل وه او د هغه حالت دا دے چې محنت کش انسان دومره وو چې یو ځل د عراق نه وفد راغلے وو چې هغوی اوکتل هیڅ محل دفتر د خلیفه د پاره نشته صرف یو مسجد نبوی دے بس دغه وفد والو تپوس اوکړو چې عمر رضی الله عنه چرته دے جواب ورکړے شو چې هغه د خپل مسجد نه باهر ته تلے دے ځکه دا وخت د هغه د فیصلو وخت نه دے د فیصلو مقرر وخت نن ختم شوے دے بیا وفد تپوس کړے وو چې

هغه چرته تلے دے جواب ورکړے شو چې هغه د بیت المال د اُوښانو او ګډو چېلو اسونو د خصمانې د پاره تلے دے کله چې وفد واله دغه ځائے ته حاضر شو نو عمر رضی الله عنه نمرته ولاړ دے او اوښانو باندې یو بوټے دے رانزړۀ ورته وائي هغه لګوی ځکه دا د اوښانو د زخمونو د پاره فائده مند وی هغه خلق حیران شو چې چرته د خلیفه وقت مقام اومرتبه او چرته دا د مشقت واله عمل پوره کیدل او په یو موقع د ایران وفد راغلے وو عمر رضی الله عنه په یوه ګټه خخته باندې سر کیخودلے وو او اودۀ شوے وو د یوې وُنې د لاندې چې د ایران وفد دا حالت اولیدلو نو مسلمانانو ته وائي چې تاسو ته شکست درکول سخت او ګران کار دے ځکه ستاسو د خلیفه دا حالت دے چې آرام راحت نه خوښوی بلکه خپل مشقت ته خوشحاله وی او دا د دۀ د عاجزۍ او خاکسارۍ حالت دے چې سره د مال دولت سرمایه نه اوسره د دومره لوې خلافت نه د یوې اُونې د سوری لاندی اُودۀ شوے دے او دغه د ایران واله وفد دا خبره کړې وه چې تا خلقو ته عدل امن او انصاف ورکړے دے ځکه ته په امن سره اُودۀ شوے ئې دا عجیبه خبره ده ځکه نن حکمران عدل و انصاف او امن عوامو ته نه دے ورکړے نو پخپله په امن کښې نه دی.

په شریعت اسلامیه کښې د روژې یو حکمت دا دے چې انسان د لوګې تندې سره اموخته وی د دې د پاره چې صبا که چرته سخت حالات ورباندې راشی نو دغه حالاتو برداشت کیدو ته تیار وی.

## مصنوعی آلات:

بل د صحت تباهی نن صبا د جدّت واله مصنوعی خوراکونه دی دا فاسټ فوډ دے دا کولډ ډرنك کُك دے او دا فلانے څیز دے دا فلانے څیز

دے د دې سره د انسان صحت ته نقصان رسی د یورپ او مغرب همیشه دا کوشش دے چې مسلمان په میدان کښې شکست خورده کیدے نشی نو مسلمان ته نقصان د پاره کله جسمانی کله دماغی صلاحیتونو او قوّتونو ته نقصان او تاوان رسول غواړی نو دا د هغوی په چالونو کښې یو چال دے چې په دې سره د مسلمان صحت ته نقصان ورکوی اوکه بیماری پیدا شی نو د هغې د پاره علاج معالجه نه وی اوکه څه علاج د پاره دوائې موجود وی نو هغه په انسان کښې نور سل مرضونه او بیماریانې پیدا کړی.

لکه څنګه چې د صحت په باره کښې حکم نارینه ته شوے دے دغه شان حکم زنانو ته هم شوے دے چې د کور واله کار کسب به زنانه بذات خود ټپله پوره کوی مخکښې زمانه کښې به زنانه په کور چې جارو وهله جامې وینځل لوښی آلات صفاکول نو د هغوی صحت ته به نقصان نه وو کله چې دغه څیزونه ختم شو جدید آلات پیدا شو نوکران د کور په خدمت کښې اخته شو نو زنانو ته کله چکر راځی کله د بلډپریشر مسئله وی کله شوګر وی کله هارټ اټیك وی کله یو بیماری وی او کله بله بیماری وی.

## فاطمة رضی الله تعالی عنها او مشقت:

د صحابیاتو حالت دا دے چې د نبی علیه السلام لور فاطمه الزهراء رضی الله عنه نبی علیه السلام فرمائي ﴿ فَاَطِمَةُ بِضْعَةٌ مِنِّیْ ﴾ (بخاری) فاطمه زما د زړهٔ ټکړه ده دې فاطمه رضی الله عنها به د کور غنم وربشې ټپله په میچنې باندې وړهٔ کولې او اُوبهٔ به د کور د پاره هغوی ټپله په مشك باندې راؤړلې د دې کار د مشقت د وجې نه د هغې په لاسونو کښې چاؤدی جوړ شوی وو علی رضی الله عنه ورته وائي څه لاړه شه نبی علیه السلام ته غلامان ملاؤ شوی دی هغه تقسیم کیږی تالره به د خدمت

د پاره يو غلام درکړی او دغه غلام به ستا سره د کور خدمت کښې لګيا وی نبی عليه السلام په دغه موقعه باندې په کور کښې نه وو عائشه رضی الله عنه موجود وه نو فاطمه رضی الله عنها ورته پيغام ورکړو چې نبی عليه السلام ته بيا دا خبره اوکړه کله چې نبی عليه السلام کور ته حاضر شو نو د فاطمې رضی الله عنها کور ته راغې ورته وائي تهٔ د څهٔ د پاره راغلې وې نو هغې جواب ورکړو چې غلام يا وينزه که غنيمت کښې وی نو ماته د خدمت د پاره يوه وينزه يا غلام راکړه نبی عليه السلام ورته اووئيل په غلام او وينزه باندې څه کيږی کله چې ته اودهٔ کيږې نو درې ديرش ځله سبحان الله درى ديرش الحمدلله او څلور ديرش ځله الله اکبر وايه دا ستا د پاره د غلام او وينزې نه ډير غوره عمل دے.

## سحروختی پاسيدل:

بله د صحت حوالې سره دا خبره ده چې انسان خپل ځان د سحر وختی پاسيدو عادت جوړ کړی که يو طرف ته سحر وختی پاسيدل يو ښهٔ عادت دے نو بل طرف ته دا زمونږه نه د شريعت مطالبه هم ده لکه قرآن کښې الله د مومنانو صفات بيان کړی دی يو صفت د دغه مومنانو دا دے چې سحر وختی د الله نه استغفار کوی دغه شان د شپې په څه حصه کښې الله ته اودريږی او يو حديث کښې د سحر او ماسخوتن مونځ فضيلت راغلے دے چې که د يو انسان نه دا ضائع شی نو ګويا چې د دې انسان اهل اومال ضائع او برباد شو ځکه په دغه وخت کښې شيطان انسان ته وسوسه اچوی .او دا د شريعت حکم دے چې مسلمان به د شپې وختی اودهٔ کيږی او سحر وختی به پاسيږی او يو روايت کښې دی چې د شپې د مونځ نه بعد به انسان ګپ شپ فضول مجلسونو کښې نه مشغوله کيږی .نبی عليه السلام يو ځل د فاطمې رضی الله عنها کور ته د سحر مونځ نه بعد ورغې ورته وائی اے

فاطمې پاسه دا خو د رزق او برکت تقسیم کیدو وقت دے او تهٔ اودهٔ شوې ئی عمر رضی الله عنه وائي که ما ته پته اولګی چې فلانے ښه انسان دے او بیا ماته دا معلومات اُوشی چې دا خو د ناوخته پورې اُودهٔ وي نو زما د دې انسان نه نفرت پیدا شی ځکه د دغه انسان بیا نه دین صحیح وی او نه د دغه انسان دنیا صحیح وی عبد الرحمان بن عوف رضی الله عنه نه چا تپوس کړې وو څهٔ وجه ده چې الله تاله دومره لوې مال دولت درکړے دے نو هغه جواب ورکړو چې سحر وختی زهٔ بازار ته زم نو ځکه الله مالره دا رزق راکړے دے.

## ضبط نفس:

بل د صحت د پاره بنیادی سبب ضبط نفس دے چې د انسان جذبات خواهشات غصه به د دهٔ په اختیار کښې وی بے اختیاره به نه وی دې سره په انسان کښې جسمانی کمزوری پیدا کیږی یو حدیث کښې راځی چې د سترګو زنا بد نظری ده ژبې زنا فحش خبرې دی او د انسان عورت د دې تصدیق یا تکذیب کوی او یو بل حدیث کښې دی چې طاقتور انسان هغه دے چې خپل ځان د غصې په وخت کښې قابو کښې او ساتی بے اختیاره به نه وی یو حکیم وائي چې اے مسلمانانو خپل ځان ګناه نه بچ کړی ځکه دې خبرو سره د انسان دنیا برباده وی او د دی خبرو سره د انسان آخرت برباد وی د دنیا خرابیدو واله خبرې دا دی چې ګناه سره د انسان د مخ نه اثر ختم شی دویم د ګناه د وجې نه د انسان په رزق کښې فقر فاقه تنګی پیدا کیږی دریم عمر مختصر او بے برکته وی د آخرت تباه کونکے څیز یوه نشه ده شراب څکل وغیره ځکه حدیث کښې دی چې شراب د ټولو ګناهونو سر دے دغه شان رشوت اغستل وغیره په دې سره د انسان اخرت تباه کیږی.

والحمد لله رب العالمین

# د صفائی احکام

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَن يَتَطَهَّرُوا ۚ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ﴾ (التوبة:۱۰۸)

## کامل مسلمان:

په دې ایت کښې یو اهمه مسئله ذکر شوې ده، چې هغه د نبی علیه السلام د ارشاد مطابق پاکیزګی طهارت هم ورته وئیلے کیږی الله په دې ایت کښې د دغه طهارت بیان کړے دے اوکله چې دا خبره پیژندل ضروری دی او د اسلام بنیاد په دې خبره دے چې بل چاته تکلیف ورنه کړے شی بلکه حدیث کښې راځی چې کامل مسلمان هغه دے که په خپله په تکلیف کښې وی خیر دے خو چې بل مسلمان د دهٔ د تکلیف نه محفوظ وی او حدیث کښې راځی ﴿اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِسَانِهٖ وَيَدِهٖ﴾ (بخاری) کامل مسلمان هغه دے چې نور مسلمانان د هغه د ژبې او لاس د تکلیف نه بچ وی که یو انسان د مونځ اودس سره بل چاته تکلیف ورکوی نو مطلب دا نه دے چې دا کافر دے کافر نه دے خو کامل مسلمان هم نه دے که یو مسلمان ډیر عبادتونه ریاضتونه کړی وی نو دا کامل نه دے کامل به په دې صورت کښې وی چې نور مسلمانان د دهٔ د تکلیف نه بچ وی او دا انسان د نورو مسلمانانو د پاره خیر خواه او احسان مند جوړ شی نو بیا به دا انسان کامل مسلمان وی ځکه اشرف علی تهانوی رحمت الله علیه دا خبره بار بار ذکر کړې ده ، چې د بزرګ

جوړیدو نه مخکښې انسان جوړیدل ضروری دی، اول به انسان ځان په انسانیت باندې پوهه کړی بیا بزرګ جوړیدل ورته اسان دی او د انسان جوړیدو مطلب دا دے چې انسان به د اسلامی معاشره د آدابو نه خپل ځان خبر کړی.

## درې قسمه ځناور:

او امام غزالی فرمائی چې ځناور په درې قسمه دی یو هغه ځناور دے چې انسان ته صرف نقصان ورکوی یو هغه دے چې فائده ورته ورکوی او یو هغه دے چې نقصان او فائده دواړه نه ورکوی.

صرف فائده ورکونکے ځناور لکه غوا ګډه چیلۍ دویم قسم ځناور چې فائده او نقصان دواړه نه لری لکه د ځنګل واله ګیدړ لومبړې وغیره دریم قسم چې صرف نقصان پکښې وی لکه مار لړم نو امام غزالی وائي اے انسانه ته اشرف المخلوقات ئي تا لره الله په دې ټولو مخلوقاتو باندې فضیلت او مقام درکړے دے نو اول خو خپل مقام او مرتبه اوپیژنه بیا که انسان نشې جوړیدے نو په حیواناتو کښې هغه ځناور جوړ شه چې نه فائدې واله وی او نه نقصان واله وی اوکه چرته دغه هم نه وی دا انسان بیا هغه خالص درنده ځناور دے چې نقصان لری او هیڅ فائده نه لری .

د دې تمهید مقصد دا دے چې انسان به پخپله صفا وی او ګندګی به نه خوروی چې نورو خلقو د پاره تکلیف او د ضرر سبب جوړ نشی ځکه نبی علیه السلام فرمائي چې د ایمان څه د پاسه اویا (۷۰) شعبې دی د لارې نه ګنده او تکلیف رسا څیز لرې کول دا هم د ایمان شعبه ده دې وجې نه په اسلام کښې ګندګی خورول په عام مجالسو کښې ګنده مکروه لباس اغوستل یا د بدبو واله څه څیز خوړل دا منع دی ځکه د نبی علیه

السلام مزاج ډیر نفاست او لطافت واله مزاج وو او هغه ته دا ټول پاك، صفا څیزونه محبوب وو ځکه نبی علیه السلام ته په اول وخت کښې دا حکم شوے وو ﴿وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ﴾ (مدثر:٤) اے پیغمبره دا کپړه صفا ساته ځکه مسلمان په پاکو صفا جامو کښې خوشحاله وی.

## د الله د نعمت اثر:

په یو موقع نبی علیه السلام په مسجد کښې ناست وو یو انسان دننه راغلے نبی علیه السلام چې د هغهٔ حالت اولیدو ګنده جامې ګنده لباس نو دغه حالت ورته ناخوښ شو او بیا نبی علیه السلام اوفرمائیل ﴿أَمَا كَانَ هَذَا يَجِدُ مَاءً يَغْسِلُ بِهِ ثَوْبَهُ﴾ (ابوداؤد) ایا دا انسان داسې څه څیز نه مومی چې دا خپلې کپړې وربادنې صفا کړی څه اُوبهٔ صابون وغیره ورته نه ملاویږی چې دا وربادنې کپړې صفا کړی زمونږه په شریعت کښې نوې قیمتی جامې اغوستل ضروری نه دی خو صفا پاکې جامې اغوستل د شریعت حکم ضرور دے او په یوه بله موقع یو صحابی راغې مالك بن فضله د هغه جامې پاکې نه وې نبی علیه السلام ورنه تپوس کوی ﴿أَلَكَ مَالٌ﴾ ستا سره څه مال دولت شته دے غریب ئې اوکه مالداره ئې؟ نو ما ورته جواب ورکړو د الله پیغمبره مال شته دے بیا نبی علیه السلام رانه تپوس اوکړو ﴿أَيَّ مَالٍ﴾ څه مال درسره دے نو ما ورته جواب ورکړو چې الله ماته د اوښانو غواګانو ګډو چېلو د دې ټول هر څه نه الله ماله څه حصه مال راکړے دے نو نبی علیه السلام ورته اووئیل چې الله تا ته دومره مال دولت درکړې دے نو بیا الله دا خوښوی چې د خپل نعمت اثر په بنده باندې اوګوری آیا زما د دې نعمت اثر په دې بنده باندې ښکاری اوکه نه ښکاری او یو صحابی د نبی علیه السلام نه تپوس کړے وو

د الله پیغمبره ښۀ صفا لباس اغوستل خو په اسراف کښې داخل نه دی نبی علیه السلام ورته جواب ورکړے وو چې ښۀ لباس اغوستل اسراف نه دے ځکه ﴿إِنَّ اللهَ جَمِيْلٌ يُحِبُّ الجَمَالَ﴾ (مسلم) الله خائسته دے او خائسته والے الله ته خوښ وی.

## د ویختو او ګیرې صفائی:

دغه شان که د یو انسان ویخته په سر باندې وی نو د دغه ویختو حفاظت په دې انسان باندې لازم دے اوکه یو انسان د ټولو انبیاؤ سنت ادا کړے وی ګیره ئې پریخودې وی نو د ګیرې خیال به ساتی او د هغې حفاظت به ضرور کوی یو ځل نبی علیه السلام یو انسان اولیدو ګنده ببر سرواله او ګیره ئې ګنده شوی وه چې کله ورباندې د نبی علیه السلام نظر پریوتو نبی علیه السلام ورته اشاره اوکړه چې دا صحیح کړه دوباره دغه انسان داخل شو نبی علیه السلام اولیدو نو نبی علیه السلام اوفرمائیل چې آیا دا صورت د انسان خائسته نه دے د هغه صورت نه چې په هغې کښې انسان د شیطان پشان ښکاری او یو روایت کښې دی چې د چا ویختهٔ وی نو د هغهٔ ویختو حفاظت دې اوکړی او دا د دین حصه ده چې لاره به صفا وی نبی علیه السلام د مدینې د لارو د پاره ښنګه د صفائی انتظام او بندوبست کړے وو دا خبره بار بار ځکه کومه چې مونږه ته دا شرعی اسلامی حکم نه ښکاری بلکه دا خبرې مونږه د دین نه باهر کړې دی او یو حدیث کښې راځی نبی علیه السلام فرمائی چې د هغه دوه لعنتی ځیزونو نه ځان بچ کړی ځکه که یو انسان د دې دوؤ ځیزونو نه ځان بچ نهٔ کړی نو د الله او د خلقو د لعنت وئیلو سبب به جوړ شی صحابو دا تپوس اوکړو چې هغه دوه د لعنت واله ځیزونه څه دی نبی علیه

السلام جواب ورکړو هغه دا دی، يو دا چې يو انسان د خلقو په عامه لاره روږ باندې تش بول يا غټه ګندګی کړې وی ﴿أَوْ فِيْ ظِلِّ﴾ يا د سورى واله ځائے کښې ئې اودس ماتے کړے وی چې د ونې د لاندې د مسافرو د آرام د پاره څه ځائے وی نو دا دوه کارونه د لعنت وئيلو سبب دے نبیؐ د قضائے حاجت د پاره د ځائے تالاش به هغه کولو چې کوم ځائے به د دې د پاره موزون او ښهٔ ځائے وو.

معاذ رضی الله عنه يو ځل د خپلو شاګردانو سره په لاره باندې روان وو په لاره کښې يو کاڼړے وو هغه ئے اوچت کړو او يو طرف ته ئې کيخودو شاګردان ورته وائي دا کار تاسو ولے اوکړو معاذ رضی الله عنه جواب ورکړو چې ما د نبی عليه السلام نه اوريدلې دی چې څوك د لارې نه تکليف دِه څيز لرې کړی نو دې انسان ته الله نيکی ورکوی داسې نيکی چې د هغې په سبب باندې دا انسان جنت ته داخليدے شی دا د شريعت حکم دے بلکه په شريعت کښې د لارې ګنده کول ګناه ده، جرم دے.

## د نبی عليه السلام په دور کښې صفائی:

دغه شان په لاره کښې تکلف ده څيز کيخودل لکه ګټې کاڼړی يا د کيلے پوستکی وی، ځکه نبی عليه السلام د مونځ اودس عباداتو د تعليم سره د دې څومره زيات خيال ساتلے دے په مدينه کښې د نبی عليه السلام او د خلفائے راشدينو په دور کښې پوره انتظام موجود وو لکه په يو موقع باندې مدينې ته د عيسايانو يو وفد راغلے وو د يو عيسائي سره خپل ځوئے هم وو دغه ځوی چې به کله خوراك کهجوری خوړې نو هډوکی به ئې په زمکه غورزول چې دغه عيسائی ته معلومه شوه نو خپل بچی ته وائي داسې مهٔ کوه ځکه تهٔ خو د نبی عليه السلام ښار کښې ئی او

هغه په دې باندې خفه کيږی نو دغه بچے شروع شو او هغه ټول غورزولے شوې هډوکی ئې راغونډ کړل بيا خپل پلار ته وائی اوس به امير خوشحاله وی پلار ورته جواب ورکړو چې اوس به الله هم خوشحاله وی ځکه د دوی دا امير د ځان د طرف نه خبرې نه کوی الله چې ورته څه حکم کړے وی دغه حکم انسانانو ته بيانوی د صفا نظام دومره لوې شهرت وو که د باهر طرف نه څوك غير مسلمه به راغلے وو هغهٔ ته هم دا اندازه وه چې په اسلام کښې د صفائۍ څه اهميت دے او د مسلمانانو په نزديك د صفائۍ څه مقام دے ځکه څومره اهمّيت او مقام د نظافت باره کښې چې اسلام بيان کړے دے دومره هيڅ يو مذهب هيڅ يو قوم والو نه دے بيان کړے او نه ورسره د دې څهٔ اهميت شته دے يو طهارت دے اويو نظافت دے طهارت دا دے چې خپله بذات خود پاك وی او نظافت دا دے چې نور چا ته د دهٔ د طرف نه د ګندګۍ تکليف نه وی د طهارت مثال لکه غسل استنجاء پاکې جامې وغيره او د نظافت مثال لکه لاره پاکه وی مجلس حجره پاك وی ګنده او بهٔ نهٔ پريدی بل چاته تکليف نه وی او شريعت اسلاميه د دې دواړو په باره کښې حکم ورکړے دے.

والحمدلله رب العالمين.

# سماجی طریقی او اصول

اَلْحَمْدُلِلّٰہِ وَکَفٰی وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِیَآءِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَاَصْحَابِہِ الْاَتْقِیَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۔

﴿وَاِذْ قَالَ اِبْرَاهِيْمُ رَبِّ اجْعَلْ هٰذَا بَلَدًا اٰمِنًا وَّارْزُقْ اَهْلَهٗ مِنَ الثَّمَرَاتِ مَنْ اٰمَنَ مِنْهُمْ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ﴾(بقرہ:۱۲۶)

## د عمل سرچشمه:

قرآن کریم د دین اسلام اول او بنیادی مأخذ دے دویم د نبی عیله السلام فرامین او ارشادات دی. د دین چې ځومره مسائل او احکامات په څلورويشت ګنهټو کښې انسان ته مخې ته راځی نو دا انسان به دغه د قرآن او د نبی علیه السلام د احادیثو نه اخذ کوی د دې مسائلو شرعی حل به دې کښې موجود وی که عبادات، عقائد، نظريات، معاملات، معاشره،حسن اخلاق،اوکه رياست، او حکومت، نو په دې ټولو ځيزونو کښې به د مسلمان د پاره بنياد قرآن او سنت وی کله چې مسلمان په ټول ژوند کښې د دې سرچشمو نه اخذ کړے وی نو دا حقيقی او کامياب مسلمان دے په دې دنيا کښې الله رب العزت د مختلف قومونو د عروج او زوال د پاره مختلفې طريقې، اسباب، او اُصول ذکر کړی دی، دا اُصول د هر قوم ملت او اُمت د پاره مستقل جدا جدا خپل اُصول دی، د مسلمان د پاره خپل اصول دی د کافر د پاره خپل اصول دی د دنياوی ترقۍ خپل مستقل څه اصول دی او بيا څه اصول د قرآن او سنت په رنړا کښې او

فطرتًا هم مشترك اصول دی په دې کښې د مسلمان او کافر څه فرق نشته لکه مثلًا فطری دا دی چې زمکه پټے زمین دار واړوی غله، دانه، ورته ورکړی د هغې خصمانه او خيال ساتی که د اوبو يا نمر ضرورت شی نو اوبۀ او نمر ورته ورکوی څه وخت بعد وړوکے تيغے راپيدا شی بيا غټ بوټے ورنه جوړ شی او دې زمين دار ته دوباره دغه دانه واپس ورکړی دا د کائنات فطری اصول دی که دغه زمين دار کافر وی او که مسلمان وی اوکه دهری وی نو د دې ټولو محنت به دغه نتيجه ورکوی دا ناممکنه ده چې کافر لره به الله په دې طريقې سره غله ورکړی او مسلمان لره په بله طريقه دا نشی کيدے دا داسې اصول دی که مسلمان دا اصول خپل کړی وی نو دې مسلمان ته به د دۀ د محنت دغه ثمره ملاؤ شی اوکه کافر په دې باندې عمل کړې وی نو دې کافر ته به د دۀ د عمل خپله نتيجه او ثمره ملاؤ شی دا د مسلمان او کافر تر مينځه مشترك اصول دی څه اصول صرف د مسلمان د پاره دی او څه اصول صرف د کافر د پاره دی .

## د ژوند عام اصول:

که عالم دے که جاهل دے حتی که د پيغمبر بچے دے يا بذات خود پيغمبر دے که هغه دا اصول خپل کړی نه وی نو دې انسان ته د نيوی فائده نشی ملاؤيدے يوه معجزه او کرامت دے هغه جدا مستقله موضوع ده خو عام مشترك اصول دا دی دغه شان د انسانی ترقۍ د پاره او د سماجی بهتر والی پيدا کيدو د پاره الله او د هغه رسولانو څه اصول څه قوانين وضع کړی دی. دغه اصول که چا خپل کړل که هغه مسلمان دے او که هغه کافر دے د هغه معاشره به ترقی کوی او هغه به ترقی يافته معاشره وی او هغه سماج به ترقی يافته سماج وی که مسلمان دغه خپل

کړی نو دغه مسلمان به خوشحاله ترقی یافته مسلمان وی دا افاقی قرآنی اصول دی. نن هر مفکر سکالر ثقافت یافته د خپل ځان د طرف نه څه اصول راوستل غواړی چې په دې سره به سماج، معاشره ، ملك، وطن ،او قوم ترقی یافته جوړ شی خو قرآن او سنت د ملك قوم او وطن د ترقۍ د پاره درې اصول بیان کړی دی.

## دری اهم اصول:

ابراهیم علیه السلام د هغه واقعه الله په قرآن کښې بیان کړې ده د هغهٔ د امامت، نبوت، او امتحان تذکره الله کړې ده چې په هغهٔ باندې څهٔ څهٔ امتحانات د الله د طرف نه راغلی وو . هغه امتحانات ابراهیم علیه والسلام پاس کړی وو نو الله د دغه قربانۍ په بنیاد ورته انعام ورکړے وو﴿اِنِّیْ جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ اِمَامًا﴾ (البقرة ١٢٤) زهٔ تا د دې خلقو د پاره مشر، رهنماء، او امام ګرځومه. ابراهیم علیه السلام سوال کړے وو﴿وَمِنْ ذُرِّيَّتِیْ﴾ زما د دې بچو نه هم امامان رهبران جوړ کړه نو الله ورته جواب کړې وو چې زما وعده ظالم خلقو ته نه ملاویږی مطلب ستا په دې اولاد کښې به دا سلسله وی خو څوك چې ظلم کوؤنکے وی هغهٔ ته به امامت نه وی ملاؤ شوے د دې دعا سره بیا د بیت الله تعمیر او یوه بله دعا ابراهیم علیه السلام د الله نه کړي وه﴿وَارْزُقْهُمْ مِنَ الثَّمَرَاتِ﴾ الله دې قوم والو ته رزق د میوو ورکړې دغه درې خبرې چې په دې سره معاشره ملك قوم او وطن ترقی یافته جوړیدے شی دا خبرې د ابراهیم علیه السلام په دې واقعه کښې الله بیان کړی دی یو عدل او انصاف دے په کوم وطن ملك معاشره کښې چې د قانون بالادستی وی او عدالت په انصاف سره فیصله کړی وی ما ورائے عدالت حکم او فیصله نه وی نو دغه ملك او

قوم کامیاب و کامران وی دویم هغه معاشره چې هغې کښې امن و امان وی د انسان مال او جان محفوظ وی سیاسی استحکام وی دریم چې د کومې معاشرې معاشی استحکام وی معیشت او قتصاد کښې خود مختاره او مضبوط وی نو دغه مضبوط ملك او معاشره وی دا درې خبرې كه چرته د مسلمان په معاشره کښې وی اوکه د کافر په معاشره کښې وی نو دغه خوشحاله او کامیابه معاشره ده دا درې مشترك اصول دی او دا د ابراهیم علیه السلام په دې واقعه کښې الله بیان کړی دی یو دا چې ماتالره دې خلقو د پاره امام جوړ کړے ئې که ستا په دې بچو کښې څوك ظالم وی نو هغه به امام نشی جوړیدے نو دا د عدل بیان دے دویم د الله نه دعا غواړی خو دغه دعا کښې د الله نه د امن و امان د پاره سوال کوی چې دا کلے د امن واله کلے او علاقه جوړه کړې دریم دعا دا ده چې دوی ته رزق ورکړې مطلب معاشی خوشحالی د دوی نصیب کړې کله چې په مسلمان کښې دا اصول موجود وو نو مسلمان په دې دنیا ایك هزار سال بادشاهت اومشری کړی وه خو کله چې مسلمان د دې اصولو نه لرې شوے دے نو په مسلمان باندې زوال بد امنی او ذلّت مسلط شوے دے.

## د نبی علیه السلام وصیت:

نن که زمونږه حالت سره د اسلام نه دا جوړ شوے دے چې کفری ممالکو ته شوق لرو او دغه ممالك سره د کفر او بے دینۍ نه ترقی یافته خوشحال او پرامن دی وجه دا ده چې دا درې اصول هغوی په خپل ځان باندې لازم کړی دی زمونږه د اسلامی ملکونو معاشره د دې اصولو نه یکسر خالی ده ځکه دا د امن د خوشحالۍ او د ترقۍ واله معاشره نه ده.

او دا درې خبرې نبی علیه السلام په نصیحت کښې یو صحابی ته کړې وې یو صحابی رضی الله عنه د نبی علیه السلام نه تپوس کړے وو چې یا رسول الله ما ته وصّیت اوکړه نبی علیه السلام ورته وائی ﴿ثَلاثٌ مَنْ جَمَعَهُنَّ فَقَدْ جَمَعَ الْإِيْمَانَ﴾ درې خبرې دی که په چا کښې موجود شی نو په دې انسان کښې به ایمان موجود شی مطلب دغه انسان کامل مسلمان مومن دے د ابراهیم علیه السلام په واقعه کښې الله دا اصول د معاشرې د اصلاح د پاره ذکر کړی دی او په دې حدیث کښې نبی علیه السلام دا درې اصول د فرد د اصلاح د پاره ذکر کړی دی یوه خبره ﴿اَلِانْصَافُ مِنْ نَفْسِكَ﴾ خپل ځان کښې انصاف پیدا کړه چې انصاف انسان کښې پیدا شی او د خپل حد پورې انصاف دار جوړ شی نو دا د عدل تقاضه ده دویمه خبره ﴿وَبَذْلُ السَّلَامِ لِلْعَالَمِ﴾ د ټول عالم د پاره د سلامتیا تلاش کول خپل سوچ ذهن د ټول عالم د پاره د سلامتیا جوړول دریم ﴿وَالْإِنْفَاقُ مِنَ الْإِقْتَارِ﴾ (بخاری) چې انسان سخی جوړشی خپل ضرورتونه راکم کړی او د نورو خلقو ضرورتونه پوره کړی دا درې خبرې د فرد او د ټول عالم د اصلاح د پاره الله او د الله رسول بیان کړې دی، د نبی علیه السلام او ابوبکر، عمر، عثمان علی رضی الله عنهم تر دې پورې چې د خلافت بنی اُمیّه دور پورې مسلمان په عالمی سطح باندې د اقلیت واله وو خو په دغه دور کښی سره د مسلمان د عالمی اقلیت نه حکومت او سلطنت په ټول عالم باندې دوی کړے وو.

## د پیغمبر صلی الله علیه وسلم او صحابو سیرت:

اوکه یو انسان د پیغمبر او صحابو سیرت مطالعه کړی نو دا ټولې خبرې د هغوی په عملی ژوند کښې موجود وې او نن زمونږه عدالتی نظام

او قاضيان د عدل او انصاف نه لرې دی او ناخبره دی بلکه د عدل او انصاف په ځائے باندې د پيسو او لالچ په بنياد ظالمانه او جابرانه فيصله د دغه ځائے نه صادر کيږی او د نبی عليه السلام په دور کښې د فتح مکې نه بعد يوه فيصله وجود ته راغله يوې زنانه غلا کړې وه او دغه زنانه د ډير لوې خاندان واله وه فيصلې والو دا خبره نه خوښوله چې زمونږه د قبيلې د زنانه نه لاس کټ کړے شی ځکه دا زمونږه بے عزّتی او بے حرمتی ده قبيلې واله دې باندې راجمع شو چې نبی عليه السلام ته دې د دې زنانه په باره کښې شفارس اوکړے شی څوك به سفارش کوی ځکه څوك جرأت نشي کولے چا ورته اُسامه بن زيد اوخودلو چې دا د نبی عليه السلام سره نزدې پاتې شوے دے او هغه ته ډير محبوب دے اُسامه د نبی عليه السلام خوا ته راغلے او ورته وائی يا رسول الله که د دې زنانه نه لاس کټ کړے شی نو دا خلق وائي چې دا زمونږه بے عزتی ده که تهٔ نوره څه جرمانه غواړې نو مونږه به دغه جرمانه تا ته درکړو خو د دې زنانه نه لاس مهٔ کټ کوه نبی عليه السلام چې دا خبره واؤ ريدله نو مخ مبارك ئې سور شو د ډيرې غصې د وجې نه ورته وائی مخکښې قومونه الله د دې وجې نه هلاك کړې وو چې په مالداره ، عزتمند انسان د الله حکم نه جاری کيدو او غريب باندې به دغه حکم جاری کيدو ، بيا نبی عليه السلام او فرمائيل که د محمد رسول الله صل الله عليه واله وسلم لور فاطمه غلا اوکړی نو زهٔ به د هغې نه لاس کټ کړمه ځکه دا د الله حکم دے او دا به جاری کيږی دا عدل وو.

## پیغمبر اسلام او امن:

او د نبی علیه السلام په زمانه کښې د امن دا حالت دے چې مسلمان خولا څه کوې کافر ته هم امن ورکړے شوے دے د عدی بن حاتم خور په جنګ کښې قیدی شوه بیا نبی علیه السلام آزاده کړه اوپه امن سره ئې هغه خپل وطن ته واپس کړه کله چې هغه خپلې علاقې ته په امن سره واپس شوه نو دغه خپل رور ته وائی بے غیرته نبی علیه السلام خو چا لره تکلیف نه ورکوی تهٔ ولے د هغه د دربار نه تختیدلے ئې زهٔ ستا د حفاظت ذمه داری اخلمه او تا به د نبی علیه السلام سره مخامخ کړمه هغه به تا ته تکلیف نه درکوی بیا روستو د نبی علیه السلام دربار ته حاضر شو او ورسره مسلمان هم شو دغه عدی د نبی علیه السلام نه تپوس کړے وو او د اسلام په باره کښی ورنه یو څو سوالات کړی وو ځکه نوے اسلامی تحریك دے نوے نظام دے او نوے قانون دے نو د انسان په ذهن کښې ډیر شکوك او شبهات وی هغه لرې کول غواړی چې آیا دا یو عارضی تحریك دے اوکه نه دا مستقل یونظام حیات دے نو د نبی علیه السلام نه یو دا تپوس کوی د امن د امان به څه صورت حال وی نبی علیه السلام جواب ورکړو چې په دې ټول اسلامی علاقه کښې به امن و امان عام شی عدی تپوس کوی یا رسول الله د بنوطئ قبیلې هغه ډاکوان به څه کوی نبی علیه السلام دوباره جواب ورکړو چې دغه ډاکوان به د امن علمبرداران جوړ شی تر دې پورې چې یوه زنانه به د عراق د سرنه واخله تر مدینې پورې راځی نو د دغه ښځې سره به الله د یرې نه علاوه د بل چا یره نه وی عدی وائي دغه حالت په دې خپلو سترګو باندی ما لیدلے دے چې یوه ښځه وه د سروزرو نه پوره ډکه وه او د عراق نه بیت الله ته راغلې وه پوره د امن و امان سره هیڅ نقصان ورته نه وو شوے.

## معاشي خوشحالي او احسان:

دريم معاشي خوشحالي ده كه په ملك كښې د چا سره معيشت نه وى نو ذهن كوكله شى بيا انسان د ترقۍ سوچ نه لرى د يو بل سره احسان نه وى احسان هله وى چې معاشي خوشحالي وى ځكه د نبي عليه السلام طريقه دا وه كه يوه جنازه به حاضره شوه نبي عليه السلام به تپوس اوكړو چې ستاسو په دې صاحب باندې څه قرض شته دے كه قرض به وربانديې موجود وو نو نبي عليه السلام به جنازې ته نه مخكښې كيدو يو ځل يوه جنازه وه نبي عليه السلام تپوس اوكړو چې په دې انسان باندې څه قرض شته دے صحابه جواب وركوى اؤ د الله پيغمبره په دې انسان باندې قرض شته دے نبي عليه السلام ورته اووئيل﴿صَلُّوْا عَلٰى صَاحِبِكُمْ﴾ (ابن ماجة) تاسو په دې خپل ملګرى باندې مونځ د جنازې اوكړئ ابوقتاده رضى الله عنه ورته وائي يا رسول الله د دۀ قرض به زۀ ادا كړمه زۀ د هغه قرض ذمه داريمه نو بيا نبي عليه السلام مخكښې شو او په دغه سړى باندې نبي عليه السلام مونځ ادا كړو دا د نبي عليه السلام د دور ابتدائي حالت دے او نبي عليه السلام بذات خود دا اعلان كړے وو چې ائنده څوك مړ شى او ميراث ورنه پاتې نشى نو ﴿فَإِلَيَّ وَعَلَيَّ﴾ د دې انسان دا قرض ادا كول په ما باندې لازم دى اوكه يتيم بچے ورنه پاتې شوے وى نو د هغه كفالت به زۀ كومه د دې بنياد چې د رعيّت ضرورتونه به رياست او بيت المال پوره كړى د دې بنياد نبي عليه السلام كيخودلے وو او دې ته نوره ترقي عمر رضى الله عنه وركړې وه ځكه كه ماشوم به پيدا شو نو د هغه خرچه به په بيت المال باندې وه دغه شان بوډا د پاره به خرچه د بيت المال نه وه.

## د انسانیت همدردی:

د عمر رضی الله عنه په دور خلافت کښې یوه بوډا انسان دے په بازار کښې د خلقو نه سوال کوی عمر رضی الله عنه چې اولیدلو حیران شو چې دوی ته وظائف د ملاویدو سره بیا هم سوال کوی چې تپوس ئې ورنه اوکړو دغه بوډا جواب ورکړو چې زهٔ یهودی یمه ما ته چې کومه خرچه د بیت المال نه ملاؤ شی دغه خرچه صرف زما د پاره کافی کیږی او زهٔ بیت المال ته سالانه ټیکس ادا کومه نو د هغه ټیکس ادا کولو د پاره په دې بازار کښې سوال کومه عمر رضی الله عنه ورته وائی صبا بیت المال ته حاضر شه نور غټ صحابه عمر رضی الله عنه راجمع کړل او دا مسئله ئې ورته پیش کړه چې ددې متعلق قانون سازی ضروری ده اخر اتفاق په دې باندی راغلے که څوك غیر مسلمه بوډا وی او خرچه ورسره نه وی بله زریعه د امدنی ورسره نه وی نو هغه ته په بوډا والی عمر کښې ټیکس معاف دے دا فلاحی ریاست دےاو دا کامیاب مملکت دے.

او د عمر بن عبدالعزیز په دور کښې د زکوة حقدار اغستونکے نه ملاویږی د شپې په وخت کښې ورته یو انسان غټه تهیلے ورکړه یا امیر المؤمنین دا واخله هغه تپوس کړے وو دا څه دی نو جواب ئی ورکړو، دا د زکوة مال دے دومره دومره میلونو کښې څوك زکوة اغستونکے نشته دا تا ته درکومه چې د بیت المال په مال کښې ورسره دا واخلې اوکه چرته غریب وی نو هغه ته دے حواله کړې شی دا حالت څکه دے چې سلطان عادل او انصاف دار حاکم دے.

والحمدلله رب العالمین

# حجاب او حکایتی روایات

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿يَاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِاَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِيْنَ يُدْنِيْنَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيْبِهِنَّ ذٰلِكَ اَدْنٰى اَنْ يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَحِيْمًا﴾

(سورۃ الاحزاب:۵۹)

## د حجاب حکم:

په دې ايت کښې د قرآن او د سنت اهم حکم بيان شوے دے چې هغې ته پرده وئيلے کيږی نبی عليه السلام ته الله حکم کوی چې دې مسلمانانو زنانو ته خپلې بيبانو او لوريانو ته دا حکم ورکړه چې کله باهر ته د ضرورت د پاره ځی نو په خپل ځان باندې دے پرده او حجاب راچوی نو فائده به دا وی ﴿ذٰلِكَ اَدْنٰى اَنْ يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ﴾ دا ډيره لائقه خبره ده چې دا زنانه به اوپيژندلې شی چې دا حياء دارې زنانه دی نو دوی ته به تکليف ورنه کړی شی اوکه چرته او نهٔ پيژندلے شی نو شرارتی خلقه به ورته تکليف ورکړی او غلط خلق به زيات شی فحاشی عريانی به عامه شی او هم دغه عزتمنده زنانه به بے عزته شی ځکه دا د قرآن او سنت حکم وو.

زمونږه بد قسمتی دا ده چې په دې اسلامی ملك کښې کله يو د اسلام خلاف دفعه پيش شی او کله په بله طريقه د اسلام خلاف کيږی لکه څو ورځی مخکښې دا دفعه پيش شوې وه چې سکول کالج واله زنانه

به بغير د حجاب نه سکول کالج ته ځی بيا ماښام دغه دفعه دوباره واغستلے شوه.

دا د سورت احزاب ايتونو کښې الله دا حکم بيانوی چې په دې کښې د هيڅ يو فرقې يوې ډلې يو مذهب يو مسلك واله اختلاف نشته او هغه حکم دا دے چې زنانه کله د ضرورت د پاره باهر ته اوځی نو حجاب او پردې سره به اوځی د پردې اهتمام اوخيال به ضرور ساتی.

## د جلباب حکم او مطلب:

يو لفظ استعمال شوے دے جلباب ورته وئيلے کيږی جلباب هغه غټ او لوې څادر ته وائی چې د انسان ټول جسم او بدن ورسره پټ کړے شی يو لوې تابعی دے قاضی شريح دا د عمر رضي الله عنه د عثمان او علی رضی الله عنه په دور کښې قاضی القضاة پاتې شوے دے او دومره لوې قاضی دے چې بذات خود به د دۀ عدالت ته خليفه هم پيش کيدو يو ځل د دۀ په دربار کښې د دۀ نه د جلباب په باره کښې تپوس اوکړے شو نو هغه يکدم اودريدو او خپل څادر ئې د ځان نه راچاپيره کړو صرف د هغه سترګې ښکاره وې او نور جسم پټ وو نو قاضی شريح جواب ورکړو چې جلباب دې ته وائی او دا د قرآن د ايت مطلب دے چې ښځه د کور نه باهر ته اوځی نو سترګې به ښکاره وی نور جسم به پټ وی دا د قرآن د ايت مطلب دے او دا د اسلام حکم دے، او ابن عباس رضي الله عنه وائی چې ټول بدن به پټ وی صرف يوه سترګه به ښکاره وی ځکه د ليدو ضرورت په يوې سترګې سره پوره کيږی.

## د صحابياتو زنانو پرده:

صحابياتو او اُمّهات المؤمنين د دې حکم دومره پابند وو چې په قرآن کښې الله ذکر کوی که يو انسان د صحابياتو نه تپوس کوی

﴿فَاسْئَلُوْ هُنَّ مِنْ وَرَاءِ الحَجَابِ﴾ (احزاب:٥٤) د پردې نه اخوا، مطلب په پرده کښې به وی بیا به ورنه دغه تپوس او سوال اوکړے شی سره د دې نه چې قرآن دا پخپله ذکر کړې دې چې د پیغمبر بیبانې د اُمّت والو میاندې موریانې دی د دوی حیثیت د مور دے بیا هم د پردې دومره اهمیت دے چې د دې لحاظ ورسره ضروری دے.

اُمّ خلاد یوه صحابیه ده په یوه موقعه د هغې بچے شهید شوے وو چې کله نبی علیه السلام مدینې ته راغې د سفر نه نو د دغه زنانه بچے شهید شوے وو نبی علیه السلام ته په جلباب او پوره پرده کښې راغله تپوس کوی یا رسول الله زما بچے په رشتیا شهید شوے دے صحابه حیران شو چې دومره درد ناك خبر اوریدو نه بعد هم دا زنانه په دې غټ څادر او جلباب کښې دلته حاضره شوې ده یو صحابی تپوس کوی چې ته دومره لوې د غم په حالت کښې هم په داسې لوې څادر او جلباب سره راغلې ئی؟ زنانه جواب ورکوی چې زما بچے مړ شوے دے حیاء خو نه ده مړه شوی زما بچے ورك شوے دے حیاء نه ده ورکه شوی چې زۀ به بغیر د پردې نه باهر اوزم ځکه الله په سورت احزاب کښې دوباره زنانو ته حکم کړے دے: ﴿وَ قَرْنَ فِيْ بُيُوْتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُوْلٰى﴾ (الاحزاب :٣٣) زنانوو ته خطاب دے په کور کښې پابند شی او د کور نه باهر مه اوځی.

**د تَبَرُّجْ معنا** کانې :

تَبَرُّجْ درې قسمه خبرې دی یو د مخ واله زیب او زینت ښکاره کول دې ته تَبَرُّج وائی باهر به د مخ حسن زیب او زینت به ښکاره نه وی او بل مطلب دا دے چې د زنانه لباس جامې به ښکاره نه وی دریم خپل قدم به پټ ساتی په چال ډهال سره به قدم ښکاره نه وې لکه سورة النور

کښې الله ذکر کوی ﴿وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ﴾ خپلو خپو ته به په زور سره ګوزار نه ورکوی چې عام خلق ورته متوجه شی ځکه دا ذکر شوې څیزونه د زنانه په عورت کښې شامل دی.

حدیث کښې راځی چې کله یوه زنانه د خپل کور نه اوځی نو شیطان ورپسې شی تر هغې پورې ورپسې شیطان لګیدلے وی چې تر څو پورې خپل کور ته واپس شوی نه وی او هغه وخت پورې د الله د رحمت نه لرې وی تر څو پورې چې خپل کور ته واپس شوې نه وی او یو بل روایت کښې دی چې ښځه ټول په ټول د سرنه واخله تر خپو پورې عورت دے چې باهر ته اوځی په پرده سره به اوځی حجاب به ورسره وی که ضرورت وی لکه د هسپتال یا ډاکټر ضرورت وی اوکه تعلیم د پاره وی نو په دې حالتونو کښې به د پردې سره به د کور نه باهر ته ځی دا حجاب د ښځې د نسوانیت ذمه دار څیز دے ښځه به هله ښځه وی چې د پردې پابنده او حیاء داره وی که پرده نه وی اوکه حیاء نه وی نو دغه ښځه ښځه نه ده ځکه بیا د سړی او ښځې تر مینځه فرق باقی نه وی.

## پښتون قوم:

څۀ ورځې مخکښې یو قانون پاس شوے وو چې د سکول کالج واله زنانه بغیر د پردې او بغیر د حجاب نه به سکول کالج ته راځی دا خبره که یو طرف ته د شریعت بے عزتی او بے حرمتی ده نو بل طرف ته د پختون قوم اقدار او روایات په دې سره پا مال کیږی نه شریعت د دې اجازت ورکوی او نه پختون قوم او ملت دا برداشت کوی دا د پختنو توهین دے ځکه پختنو سره شرم حیاء غیرت او اسلام تړلے شوی څیزونه دی دا منصوبه دراصل د سیکولر خلقو او د لیبرل سوچ والو او ورسره یو څو د

میډیا اینکران د هغوی په شاباش باندې شوې وه ټول مسلمان مملکت او عام طاقت د دې قانون نه مطمئن نه دے بلکه دا قانون د هغوی د پاره د غیظ وغضب سبب ګرځیدلے دے. صرف یو فیصد خلق د سرمایه په زور باندې دا لوبه لوبوی او نهه نوی خلقه اودهٔ دی اونه دې طرف ته څه توجو لری عام خلق دا عذر پیش کوی چې دا د حکومت کار دے او زیات نه زیات عالم مُلا به د دې خلاف آواز اوچتوی ځکه د دین ذمه دار او پاس دار خلق صرف دغه دی مسلمانی صرف دوی پورې خاص ده دا غلط سوچ او غلطه نظریه ده د اسلام حفاظت او د اسلام د پاره آواز لګول د هر مسلمان ذمه داری ده مسلمان بحیثیت مسلمان به د دې خلاف آواز کوی او دا به خپله دینی فریضه ورته ښکاری.

## د حاکمیت اعلی اختیارات:

ورسره دا د ائین پاکستان بے عزتی او بے حرمتی ده ځکه ائین پاکستان اسلامی ائین دے د اسلام خلاف دفعات به په دې ائین کښې نه وی ځکه د دې ائین بنیاد دا دے چې حاکمیت اعلی به صرف د یو اللّٰه قانون وی د شریعت او قرآن او سنت خلاف قانون او دفعات به په دې ملك کښې نه وی افسوس دا دے چې اویا (۷۰) کاله بعد تر اوس پورې زمونږه مقتدره طبقه هیڅ یو اسلامی دفعه یا قانون پاس کول نه غواړی اوکه بالفرض نافذ شی نو هغه باقی نه وی پاتې شوے. اخر هغه کوم اسلام دے چې دا خلق هغه نافذ کول غواړی دوی هغه اسلام غواړی چې شراب څکل پکښې جائز وی ګانې بجانې منع نه وی فحاشۍ او عریانۍ باندې څه قیدو پابندی نه وی دا اسلام چې دوی غواړی دا اسلام چرته مونږه نه

دے ليدلے چې د حرامو او حلالو فرق ورکښې نه وی او د شريعت يو قانون پکښې نافذ شوے نه وی.

دغه خلقو ته نه ائين پاکستان په نظر راځی او نه ورته هغه خطبات په نظر راځی چې علامه اقبال او محمدعلی جناح د تحريك پاکستان په وخت کښې وئيلی وو چې يو خِطّه د دې د پاره غواړو چې هغې کښې اسلامی آفاقی اصول عملی شی . او دنيا ته عملی اسلام ښکاره کړی چې اسلام دغه څيز دے او په هغې کښې د اسلام اقتصادی ، معاشی ، سياسی نظام ورسره اسلامی اخلاق اسلامی معاشره او اسلامی تهذيب عملی شوے وی مونږه د داسې اسلامی ملك د پاره مطالبه کوو مونږه حيران دا يو چې پرده او حجاب لرې شی نو بيا د اسلام اقدار څه ته وائی او د دې قوم ثقافت او روايات څه معنٰی لری دا لوې د افسوس خبره ده چې يو انسان قانون نه نافذ کوی کله چې هغه نافذ شی نو هغه دوباره منسوخ کول داجرم دے دا توهين دے دا اسلام نه برداشت کوی او دا د مسلمانانو په عقلونو پورې خندا کول دی.

والحمدلله رب العالمين

# آداب بندګی (۱)

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتّٰى يَأْتِيَكَ الْيَقِين﴾ (سورة الحجر:۹۹)

## د الله غلامی :

دا يقيني خبره ده چې الله انسان په دنيا کښې د خپلې بندګۍ د پاره پيدا کړے دے بندګی په ساده پښتو کښې غلامۍ ته وئيلے کيږی چې انسان به دا خپل ژوند بحيثيت غلام تيروی د الله غلامی به کوی د الله د خودلے شوی قانون او د نبی عليه السلام د خودلے شوې طريقې مطابق به ژوند تيروی او دا د الله عبادت او بندګی به د دې انسان د سحر پاسيدو نه واخله تر د شپې اودهٔ کيدو پورې د پيدائش نه واخله تر مرګه پورې او د کور نه واخله تر بازار پورې د انفرادی ژوند نه واخله تر اجتماعی ژوند پورې چې په دې ژوند کښې انسان څه کار کوی بحيثيت تابعدار بحيثيت غلام او بنده به دا انسان په دغه حکم باندې عمل کوی په دې ټولو مرحلو کښې به دا انسان د الله دحکم تابعدار او فرمانبردار وی د الله حکم ته به غاړه ګدی او دا مقصد د قرآن د دې ايت دے ﴿وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتّٰى يَأْتِيَكَ الْيَقِين﴾ (حجر:۹۹) ،او د قرآن د دې ايت هم دا مطلب دے ﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾ (سورة الذاريات ۵۶)

که یو انسان په مسجد کښې د جمعې سره باجماعت مونځ ادا کړی د مسجد نه باهر په بازار کښې په تجارت یا دوکانداری کښې دا انسان د الله د حکم تابع نه وی نو دا بندګی نه ده او نه دا انسان په صحیح معنی کښې د الله بنده دے.

## درې حقوقو کښې توازن:

عبادت په مختصر الفاظو کښې درې حقوقو کښې توازن راوستل دی یو د الله حق دے دویم د بندګانو حق دے او دریم د دې انسان د خپل نفس حق دے دا درې حقوق ادا کول دا بندګی ده او په دې کښې توازن رواستل ضروری دی په دې کښې توازن راوستل دا د دین اسلام نوم دے او کله چې یو انسان په دین اسلام باندې روان وی نو دا د الله عبادت ګزار بنده دے او د الله یو قسم غلام دے . د دۀ بندګی عبادت صحیح عبادت دے او دا د الله د حکم تابعدار دے اسلام داسې یو جامع دین دے چې الله او د هغۀ رسول صلی الله علیه واله وسلم د دې منونکو ته موقع په موقع باندې هدایات کړی دی او بیا د الله د بندګۍ د حقوقو سره سره اداب هم بیان کړے شوی دی ځکه دین اسلام ټول ادب ادب دے که د الله سره تعلق دے نو دا د الله ادب دے اوکه د پیغمبر پاك صل الله علیه واله وسلم سره تعلق دے دا د پیغمبر ادب دے که یو انسان د مسجد سره مناسبت لری نو دا د مسجد ادب دے اوکه یو انسان په خپل کور کښې د شریعت مطابق ژوند تیروی نو دا د کور ادب دے که په حجره مسجد کښې د شریعت مطابق ناسته ولاړه وی دا د حجری او مجلس ادب دے که په بازار کښې اغستل خرڅول د شریعت مطابق وی نو دا د بازار ادب

دے ځکه عرب وائی ﴿اَلدِّينُ كُلُّهُ أَدَبٌ﴾ دا دين اسلام تمام سراسر ادب دے او دا نن چې ځومره مشكلات او مصائب مونږ ته رامخامخ شوي دی نو د دې اصلی وجه دا ده چې مونږه د معاشرې د معاملاتو د اخلاقو د لين دين تعلقاتو ساتلو اداب نه پيژنو ځكه دا نقصانی حالات پيدا کيږی كه په دې ادابو باندې مونږه عملی پابند شو نو زمونږه ژوند به ډير د اطمينان او د خوشحالۍ ژوند وی.

شپه او ورځ څلوريشت گهنټې د الله په عبادت کښې صرف کول د دې څه اداب دی نو د دې تفصيل دا دے چې كله سحر يو انسان د خوب نه پاسيږی په دې کښې مونځ د كور والو سره تعلق بازار ته اووتل په د كان تجارت کښې مشغوله كيدل د ښځې او بچو د حقوقو خيال ساتل خوراك څكاك غم ښادی پوره كول نو په دې ټولو باندې په دې لحاظ سره عمل كول چې د اسلام د تعليماتو موافق وی نو دې ته د الله عبادت وئيلے کيږی.

## مشرقی جائز او ناجائز آداب:

په دې کښې څه اسلامی اداب دی او څه مشرقی اداب دی او دا ځکه چې كله نبی عليه السلام په مكه کښې وو او كله چې هغه مدينې ته هجرت كړے وو نو د دغه علاقو والو آداب روايات اقدار دستور رسم ورواج په دې ځيزونو باندې د نبی عليه السلام ډير عميق نظر وو كوم عادات او اطوار چې د اسلام د تعليماتو سره تضاد لری نو هغه نبی عليه السلام ردكړی وو او د كومو رواجونو چې د نبی عليه السلام د تعليماتو

سره تصادم او تضاد نه وو نو هغه نبی علیه السلام په خپل ځائے باندې پرېخودې وو بلکه نبی علیه السلام چې کوم دستور جوړ کړے وو د میثاق مدینه په نوم باندې نو په هغې کښې هم نبی علیه السلام څه څیزونه پرېخودلې وو چې دا څیزونه او دا عادات دې په خپله زړه طریقه باندې برقرار پاتې وی که څه نقیبان سرداران د مخکښې نه مقرر شوی وو او د خلقو ورباندې اعتماد وو نو نبی علیه السلام هغه پرېخودی وو او کوم کارونه چې خلاف شریعت وو نو نبی علیه السلام د هغې رد کړے وو نو په دې آدابو کښې مشرقی څه هغه اداب دی چې د قرآن او سنت د اُصولو سره تضاد او مخالفت لری او څه هغه اداب دی چې د دې خلاف نهٔ دی لکه حیاء عفت پاکدامنی صفائی د ګاونډی خیال ساتل وغیره.

## سحر وختی پاسیدل:

په دې آدابو کښې اول ادب دا دے چې کله یو انسان سحر وختی پاسیږی نو د پاسیدو یو ادب دا دے سحر به وختی په وخت باندې پاسیږی ځکه حدیث کښې راځی نبی علیه السلام دا دعا کړې وه الله زما امت والو ته په سحر وختی پاسیدلو کښې خیر او برکت کیږدې یو خو دا اسلامی ادب دے دویم دا مشرقی طرز او طریقه هم ده کوم خلق چې د ورځې په لس یوولس بجو باندې راپاسی دا د مغرب نه اغستلے شوے رسم دے دا روایات مشرق والو د خپل جهالت او کمزورۍ د وجې نه د مغرب نه اغستې دې په یو موقع نبی علیه السلام د سحر مانځهٔ نه بعد د خپلې لور فاطمه رضی الله عنها کور ته تشریف یوړو په دغه وخت کښې هغه اودهٔ کیده نبی علیه السلام ورته اووئیل الله دی په تا باندې رحم اوکړی

په دې وخت کښې د رزق او د اخلاقو تقسیم کیږی دغه وجه ده علمائے کرام وائی څوك چې د سحر مونځ نه بعد بغیر د څه ضرورت نه اوده کیږی نو د دې انسان په رزق کښې به برکت نه وی او ورسره به د دې انسان اخلاق هم خراب وی اوکه یو انسان ته ضرورت وی لکه د سفر نه د شپې ناوخته راغلے وی یا بیمار وی نو اوده دې شی څه پرواه نه کوی خو دا عادت جوړول ښه نه دی.

د عبدالله بن عمر او عبدالله بن زبیر رضی الله عنه دواړو په باره کښې راځی هغوی وائی که مونږه ته معلومه شی چې فلانے ښه او نیك انسان دے بیا دا معلومات مونږه ته راکړے شی چې دوی د سحر ناوخته د خوب په حالت کښې غافله اوده وی نو زمونږه به ورسره نفرت پیدا شی او د عبدالرحمان بن عوف رضی الله عنه نه چا تپوس کړے وو چې دا دومره سرمایه مال دولت تا ته څنګه ملاؤ شوے دے نو هغه ورته څه اصول خودلې وو چې زۀ د دې اصولو پابندی کومه ځکه راته الله دا مال راکړے دے یو اصل ورکښې دا وو چې زۀ سحر وختی پاسم او د مونځ عبادت نه بعد په وخت باندې بازار ته زمه نو ځکه الله زما په دې مال دولت کښې برکت کیخودلے دے.

## د سحر صبا کیدو دعا ګانې:

دویم ادب دا دے چې د پاسیدو سره به انسان د سنت طریقی مطابق دعا غواړی یوه دعا ورکښې دا ده نورې مختلفې دعاګانې دی، ﴿الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِی أَحْیَانَا بَعْدَ مَا أَمَاتَنَا وَإِلَیْهِ النُّشُورُ﴾ (مسلم) بیا د دې نه بعد د مونځ واله اذکار او دعاګانې بیا د سحر کیدو او د صباح کیدو اذکار

او دعاګاني به وائی لکه ﴿اَللّٰهُمَّ بِكَ أَصْبَحْنَا وَبِكَ أَمْسَيْنَا وَبِكَ نَمُوتُ وَإِلَيْكَ النُّشُورُ﴾ (ترمذی)، ورسره دا دعا ﴿اَصْبَحْنَا وَأَصْبَحَ الْمُلْكُ لِلّٰهِ﴾ (الصحيح الجامع)، د نمر راختلو سره ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِی أَقَالَنَا يَوْمَنَا وَلَمْ يُهْلِكْنَا بِذُنُوبِنَا﴾ (مسلم) د دې دعاګانو لوې خير او فائده انسان ته ملاويږی.

## صفائی د مسلمان شان:

يو ادب دا هم دے چې انسان به په دغه وخت کښې صفائی کوی د دې خيال به ساتی ځکه خوب نه بعد هغه ټول نشاط او تروتازګی الله انسان ته په دې اودس او نورې صفائی سره واپس کوی او حديث کښې راځی ﴿الطُّهُورُ شَطْرُ الإِيمَانِ﴾ (مسلم) صفائی د ايمان حصه ده او قرآن کښې الله د هغه خلقو صفت بيان کړے دے څوك چې د صفائۍ خيال ساتی ﴿فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَنْ يَتَطَهَّرُوا وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ﴾ (التوبه ۱۰۸) په دې مسجد قباء کښې څه داسې خلق دی چې هغوی صفائی خوښوی او الله د داسې خلقو سره محبت لری او د انسان سره الله پيدائشی دا خبرې تړلې دی چې دې انسان ته به د قضائے حاجت ضرورت وی او د دې نه بعد صفائی ضروری ده ځکه زمونږه دين دا تعليمات هم دې امت ته خودلې دی دا وجه ده چې په سلمان فارسی رضی الله عنه باندې چا اعتراض کړے وو دا ستا سو ځنګه پيغمبر دے چې دَ اودس ماتی طريقه هم تاسو ته زده کوی هغه ورته په جواب کښې وائی آؤ (حَتَّى الْخِرَاءَةَ) د اودس ماتی پورې طريقه زمونږه پيغمبر مونږه ته بيان کړې ده او دا د دين اسلام امتيازی شان او کمال دے چې د هرې موقع مناسب احکامات الله

په دې کښې بيان کړې دی،که هغه د غټې نه غټه خبره وی اوکه د وړې نه وړه خبره وی د دې ټولو وضاحت په شريعت اسلامی کښې موجود دے بيا ورته سلمان فارسی رضی الله عنه دا وئيلی وو چې آؤ دا خبرې زمونږه پيغمبر بيان کړي دی چې کله انسان استنجاء کوی نو په ښی لاس باندې به استنجاء نۀ کوی قبلې طرف ته به مخ نۀ کوی او نۀ به ورته شاه کوی د دې ټولو خبرو به خيال ساتلے شی دا د دين اسلام معجزه او خکلا ده.

## د قضائے حاجت آداب :

کله چې يو انسان په غور سره قرآن او سنت مطالعه کوی نو دې انسان ته يو پنځۀ خبرې مخې ته راځی چې د دې خيال به ورسره ساتلے شی اوله خبره دا ده چې په دې صفائۍ استنجاء اودس غسل کښې به ستر پوشی وی مکمل د پردې په نظام کښې پټ او محفوظ به دا کار پوره کولے شی دويمه خبره د مخلوق ايذاء رسانۍ نه به خپل ځان بچ کوی چې مخلوق خدا ته د دې ګندګۍ نه دل ازاری تکليف او نقصان او نۀ رسيږی د دې لحاظ به ورسره وی دريم د صفائۍ خاص خيال ساتل مکمل به انسان خپل ځان صفا کوی چې د ګندګۍ بدبو يو اثر قدرې ورباندې باقی پاتې نه وی څلورم په دې کښې به د شعائر الله د عزت احترام خيال ساتلے شی چې د هغې بے ادبی بے عزتی يا بے حرمتی او نه کړے شی لکه قبلې ته مخ کول په ښې لاس باندې استنجاء نه کول قرآن يا د حديث څه حصه دغه ګنده ځائے ته نه دننه کول د قرآن تلاوت په دغه مقام کښې نۀ کول وغيره پنځمه خبره چې انسان ته خپله کمزوری مخکښې وی فضول

اسراف او نۀ کړے شی دا ټول تعلیمات پیغمبر پاك صل الله علیه واله وسلم د دې صفائۍ سره خپل امت ته په پوره وضاحت سره بیان کړې دی.

## پرده او ستر پوشی:

اوله خبره ستر پوشی وه نو کله چې انسان بیت الخلاء ته ځی دا بیت الخلاء به د څلورو طرفونو نه بنده وی د انسان بے پردګی به ښکنبې نه کیږی د انسان عزت به په دغه ځائے کنبې نه پا مال کیږی که نزدې علاقه کنبې بیت الخلاء نه وی او په عام میدان کنبې اودس ماتے یو انسان کوی نو بیا ادب دا دے چې په لاندې کنده کنبې دې اودس مات کړی یا لرې دې لاړشی او څه څیز څادر وغیره ګټه غر د هغې نه پناه دې خپل ضرورت پوره کړی ځکه صحابه وائی چې نبی علیه السلام به د قضائے حاجت د پاره لرې تلو او د څه څیز حائل کیدو نه بعد به هغه خپل قضائے حاجت پوره کولو او د یو څیز نه پناه کیدل ځکه ضروری دی چې دې سره د انسان ستر پوشی او پرده کیږی اوکه یو میدان کنبې قضائے حاجت کوی نو کله چې دا انسان زمکے ته نزدې شی په دغه وخت کنبې دې خپل عورت کولاؤ کړی او بیا دې قضائے حاجت پوره کوی او په دې لرې تلو کنبې یوه بله فائده دا ده چې د دې اودس ماتی د بد بوئۍ تکلیف بل چا ته اونۀ رسیږی.

## مخلوق خدا ته تکلیف نه ورکول:

دویمه خبره داوه چې مخلوق خدا ته د دغه اودس ماتی نه تکلیف ایذاء رسانی نه وی لکه یو حدیث کنبې راځی چې تاسو تش اودس ماتے په سوراخ یا سوری کنبې مۀ کوۍ ځکه که په دې سوراخ کنبې کۀ تکلیف ده څیز وی نو تا ته به د دې نه تکلیف ملاؤ شی اوکه بے ضرره

مخلوق وی هغوی ته به د تکلیف او نقصان زریعه جوړه شی په دې زمانه کښې د بیت الخلاء او واش روم په استعمال سره مخلوق خدا په دې طریقه د ضرر نه بچ کیږی چې په دغه ګندګۍ باندې او به واړولے شی او د اوبو په ذریعه سره لرې کړے شی ځکه که بل انسان د ضرورت پوره کولو د پاره دغه مقام ته دننه شی نو هغه ته به د دې نه تکلیف ملاؤ شی او د دې نه په احادیثو کښې منع شوې ده او په دې موقع زهٔ دا بیان ضروری ګنړم چې د مفتی شفیع رحمت الله علیه متعلق د هغه ځوئ مفتی تقی عثمانی دا واقعه ذکر کړې ده چې په یو سفر کښې زهٔ او زما پلار مفتی شفیع رحمت الله علیه په طیاره جهاز کښې روان وو نو هغه ته د قضائے حاجت ضرورت پیش شو کله چې هغه فارغه شو ماته وائی تقی ما ته اوس دا خبره معلومه شوه چې د مسلمانانو د زوال وجوهات څه دی کله چې زهٔ دې واش روم ته دننه شوم نو په هغه ځائے کښې دا هدایات ذکر شوی وو چې د صفائۍ خیال ساتۍ هسې نه چې بل انسان ته د تکلیف سبب جوړ نهٔ شی وغیره نو ما دا سوچ اوکړو چې دا تعلیمات نبی علیه السلام د معاشرې متعلق څوارلس سوه کاله مخکښې ذکر کړی دی خو کله چې مسلمان په دې باندې عمل نه کوی ذلیله شو او کله چې کافر په دې باندې عمل شروع کړے دے نو دغه کافر چې عبادات الله او د الله رسول نه منی خو یو څو معاشرتی اخلاقی اصولو باندې د اسلام مطابق عمل کوی ځکه نن په دنیا باندې راج کوی او حکومت او سلطنت دنیا وی ترقی د هغوی په لاس کښې ده.

## د اودس ماتی نهٔ کولو مقامات:

او په دې ایذاء رسانۍ کښې دا خبره هم شامله ده چې نبی علیه السلام یو څو مقامات ښودلی دی چې په دغه مقاماتو کښې به انسان

اودس ماتے نه کوی لکه عامه لاره چې په هغې باندې خلقه تیریږی راتیریږی یا د اُونې د سوری لاندې یا د دیوال د سوری لاندې اودس ماتے کول ځکه په دې سره مخلوق خدا ته تکلیف او اذیت رسیږی یا د انسانانو د پاره انتظاره ګاه وی یا داسې یو مقام وی چې هغې ته خلقه راجمع کیږی او حدیث کښې راځی نبی علیه السلام فرمائی د دوه لعنت کړے شوو اسبابونه ځان اوساتۍ یو عامه لاره ده او دویم د سوری واله ځائے په دې کښې اودس ماتے مۀ کوۍ اوکه یوه میوه داره ونه وی نو دغه ځائے کښې به اودس ماتے نه وی.

څلورم انسان به په دې اودس ماتی کښې د صفائۍ خیال ساتی لکه په ولاړه باندې اودس ماتے کول ځکه په دې سره انسان ته د تش اودس ماتی دارې کیږی که یو انسان ته تکلیف وی نو بیا جائز دی خو کله چې عذر نه وی نو عام اخلاق وقار او تهذیب دا دے چې انسان دې په ناسته باندې اودس مات کړی او حدیث کښې راځی چې په نرم ځائے باندې اودس ماتے کوے ځکه دغه نرمه زمکه دا د اودس ماتی اوبه جذب کوی او په داسې ځائے کښې هم منع شوی دی چې د هغې اوبه په انسان باندې واپس راځی نو په دې ځائے کښې دې هم انسان اودس ماتے نه کوی که دا خبرې یو انسان په مغرب یورپ کښې اوګوری نو د هغوی د کمال چر چه بیانوی او اسلام څلورلس سوه کاله مخکښې دا آداب صرف د اودس ماتی استنجاء متعلق ښودلی دی خو مونږه د دې هیڅ پرواه نه لرو او د دې یو ادب دا هم دے چې د اودس ماتی په ځائے کښې به انسان غسل نه کوی چې ګنده نشی او وسوسه کښې مبتلا نشی ځکه دا دَ وسوسې سبب دے.

والحمدلله رب العالمین

# آداب بندګی (۲)

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ﴾ (سورۃ البقرۃ:۲۲۲)

## د عذاب قبر سبب او صفائی:

مخکښې جمعې نه په دې عنوان باندې خبره شروع وه چې عبادت او بندګی څه ته وئیلے کیږی نو د شریعت د آدابو خیال ساتلو ته عبادت او بندګی وئیل کیږی په دې آدابو کښې یو قضائے حاجت وو او د دې متعلق اسلام پنځهٔ اصول ښودلې وو دریم اصل دا وو چې انسان به په طهارت کښې وی ښه مکمل صفائی به کوی په دې کښې یو صورت دا هم دے چې انسان به د خپلې تشې او ډکې ګندګیِ نه ځان ساتی ځکه حدیث کښی راځی ﴿اسْتَنْزِهُوامِنَ الْبَوْلِ فَإِنَّ عَامَّةَ عَذَابِ الْقَبْرِ مِنْه﴾ (دارقطنی) تاسو خپل ځان د قضائے حاجت د ګندګیِ نه لرې ساتیِ ځکه عام عذاب قبر انسان ته د دې د وجې نه ملاویږی نو په دې کښې به مسلمان خپل احتیاط کوی او د دې صفائیِ استنجاء په وخت کښې به انسان ښې لاس نه استعمالوی بلکه ګس لاس به په استعمال کښې راولی حدیث کښې راځی چې نبی علیه السلام به ښې لاس په ښه کارونو کښې استعمالو خو دا ګس لاس به هغه عام طور د طهارت د پاره استعمالو او یو دا ادب دے چې په داسې څیز به انسان اودس ماتے صفا کوی چې هغه جازب وی اوکه کاڼړے یا لوټه وی نو درې عدد ځان سره اغستل مستحب او سنت دې او په دې سره زیاته صفائی انسان ته حاصلیږی او د دې سره

بيا د اوبو استعمال د انسان د پاره مستحب دې او ثواب ورکښې شته دے که يو انسان په کانړی لوټې سره اودس ماتے اوچ کړی نو بيا د اوبو استعمال فرض او لازم نه دے خو دا په آدابو کښې شامل وی ځکه عام د عربو عادت دا وو چې د اودس ماتی د پاره په لوټه او کانړے استعمال ليدو کله چې مديني ته هجرت اوشو نو د مسجد قباء خلقو به ورسره اُوبه هم يوځائے کولے نو الله رب العزت د هغه خلقو تذکره په قرآن کښې اوکړه ﴿فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَنْ يَتَطَهَّرُوا﴾ (سورة التوبه:۱۰۸) دې کښې داسې خلق دی چې هغوی د خپل ځان صفائی کول غواړی کله چې الله دا ايتونه نازل کړل نو نبی عليه السلام ورنه تپوس کړے وو تاسو څه عمل کوی هغوی ورته جواب ورکړے وو چې زمونږه عمل دا دے چې د کانړی لوټی سره د اوبو د استعمال خيال ساتو کله چې انسان فارغه شی نو دغه ګنده لاس به وينځی يا صابن سره يا لوشن وغيره سره ځکه نبی عليه السلام دا بيان کړے وو چې د استنجاء نه بعد به انسان خپل لاس په يو د يوال وغيره باندې راخکښې نو په دې زمانه کښې د کچه ديوال او خاورې متبادل څيز صابون وغيره څيزونه دې انسان به په دې سره لاس صفا کوی.

## د شعائر الله عزت او احترام:

دريمه خبره د طهارت په باره کښې دا وه چې انسان به دې حالت کښې د شعائر الله عزت او احترام کوی لکه مثلا يو انسان به بيت الخلاء ته د ځان سره قرآنی آيات دعاګانې سورة وغيره نه دننه کوی او په شعائر الله کښې دا هم داخل دی چې انسان به قبلې طرف ته نه مخ کوی ځکه قبله محترمه ده او حديث کښې د دې نه منع شوې ده چې انسان به د اودس ماتی په وخت کښې نه قبلې ته مخ کوی او نه به ورته شاه کوی.

څلورمه خبره د الله د نعمت قدر دانی ده او د دې د ضائع کیدو نه خپل ځان ساتل لکه یو انسان به په استنجاء اودس ماتی کښې د داسې څیز استعمال نه کوی چې د هغې سره د الله د نعمت نا قدری او شی لکه قیمتی قابل استعمال کپړه اودس ماتی کښې استعمال کړی یا قیمتی عام د لیك د پاره د خط کتابت واله کاغذ باندې اودس ماتے کوی اوکه چرته د اودس ماتی د پاره تیار شوے کاغذ وی نو بیا دا اودس ماتے په دې سره جائز دے او په حدیث کښې نبی علیه السلام په هډوکی او خاشنړو غوشیان د غوا میخې ګندګۍ باندې د اودس ماتی نه منع کړې وه د هډوکی

د عدم استعمال، د نهٔ استعمال یوه وجه دا ده چې دا تیرهٔ وی دهاری دهار وی نو انسان ته زخم رسولے شی دویمه وجه دا ده چې هډوکی ملائم وی جاذب نه وی نو صفائی ورسره مشکله وی او دریمه وجه د دې دواړو دا ده چې دا ستا سو د رونړو جناتو پیریانو خوراك دے هډوکے جنات بذات خود خوری او په دې باندې ورته الله غوښه پیدا کوی او خاشنړهٔ غوشیان د هغوی د ځناورو خوراك دے او دَ خاشنړو د عدم استعمال دویمه وجه دا ده چې په دې سره صفائی نه راځی بلکه ګندګی ورسره راځی.

## د الله ذکر او یاد:

د طهارت سره پنځمه خبره د الله ذکر اویا دهانی ده ځکه د مومن سړی شان دا دے چې په هر حالت کښې به ورته الله یاد وی د الله نه به غافله ناخبره نه وی ځکه قرآن کښې الله مومنانو ته خاص دا خطاب کوی ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا﴾ ( سورة الاحزاب:٤١)اے د ایمان خاوندانو الله ډیر ډیر یاد وی۔هر وخت هر ساعت هر قدم کښې به ورته الله یاد وی هر کله چې انسان د قضائے حاجت د پاره بیت الخلاء ته

لاړشي نو په دغه ځائے کښې انسان هيڅ ذکر نشي کوے او خاموش به وی نو دغه ځائے ته دننه کيدو نه مخکښې شريعت څه دعاګانې ښودلې دی چې انسان د دغه وخت د غفلت او عدم ذکر نه د عوض او بدل پوره کولو د پاره به دا دعاګانې مخکښې وائی يوه مشهوره دعا دا ده ﴿اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُبِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ﴾ (مسلم) که بيت الخلاء ته دننه کيږی نو لږ شان مخکښې به دا دعا وائی او که په عام ميدان کښې وی نو د کشف عورت نه مخکښې به دا دعا وائی او د دې دعا وجه دا ده لکه زيد بن ارقم رضی الله عنه د نبی عليه السلام نه روايت کوی چې کله يو انسان قضائے حاجت د پاره ځی نو دغه ځائے کښې مذکر او مونث شيطانان اوسيږی د دې نه د پناه غوختلو او حفاظت کيدو د پاره به دا دعا انسان وائی ځکه دا شيطان د انسان دشمن دے کله چې د الله د ذکر نه غافله شی او د دې انسان نه د حفاظت واله فرشتې لرې شی نو دغه شيطان ورباندې حمله کوی ځکه به دا انسان د دې دعا اهتمام کوی .او داسې يوه واقعه شوې وه چې يو صحابی د اودس ماتی په دورانيه کښې وژلے شوے وو نو بيا نبی عليه السلام د دې دعاګانو تعليم ورکړے وو.

## د قضائے حاجت نه بعد دعا:

کله چې انسان فارغه شی نو دا دعا به وائی ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ أَذْهَبَ عَنِّی الْأَذَی وَعَافَانِي﴾ او ورسره به دا دعا به وائی ﴿ غُفْرَانَكَ﴾ د قضائے حاجت نه بعد ځکه دا دعا وئيل کيږی چې څنګه انسان مخکښې د حفاظت دعا غواړی نو بعد کښې د ګندګۍ نه بچ کيدو دعا به غواړی او ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ به ورسره وائی ځکه د الله مدد ورسره شامل حال شی که د الله مدد د يو انسان سره نهٔ وی نو دغه خوراك څکاك ورته لوې مصيبت بلکه د مرګ زريعه هم جوړيدے شی د هارون الرشيد نه يو حکيم بزرګ

تپوس کړے وو چې يوه صحراء کښې د ملګرو نه جدا ځان له تۀ ځی روان ئي او سخته لوګه درته لګيدلې وی تر دې پورې چې نزدی ده چې د لوګې د وجې نه مړ شې نو که يو ګلاس او به تا ته ملاؤ شی دغه اُوبه به په څو روپو ، درهمو باندې واخلې چې ته ورسره د مرګ نه بچ شې نو هارون الرشيد ورته وائی چې نيمه بادشاهی به دې انسان ته د دې يو ګلاس اوبو په عوض کښې ورکړم بيا ورته دغه بزرګ وائی که دغه اوبه دننه شی او د تش اودس ماتی په صورت کښې ستا په مثانه کښې بندې شی نو بيا به ورسره څه کوې هغه ورته وائی چې دغه نيمه نوره بادشاهی به ورباندې زۀ ورکړم خو چې د دې مصيبت نه خلاص شمه نو دغه بزرګ ورته د نصيحت په طور وائی چې دا يو ګلاس اوبه اغستل او هضم کيدل د الله دومره لوې نعمت دے چې ستا دا ټوله بادشاهی ورسره پوره برابريږی نو دا د الله لوې نعمت دے د دې احساس هغه انسان ته کيږی څوك چې په دې کښې بذات خود مبتلا شوے وی ځکه د الله پيغمبر وائی چې په دې موقع به انسان ﴿اَلْحَمْدُلِلّٰه﴾ وائی او ﴿غُفْرَانَكَ ﴾ ځکه وائی چې په دې وخت کښې انسان د الله د ياد نه غافله وی په دې باندې د الله نه مغفرت طلب کوی.

بل د قضائے حاجت ادب دا دے چې انسان خپل عورت شرمګاه ته نظر نه کوی بل ګندګۍ ته به نه ګوری هاں د ضرورت په بنياد يا د صفائۍ په غرض ورته نظر کوے شی.

## د صفائۍ نور احکامات:

د صفائۍ سره متعلق د غاښونو صفائی هم مطلوب ده ځکه شريعت مسواك د اودس دوران کښې مقرر کړے وو بلکه د اودس نه علاوه اُم المومنين وائی چې نبی عليه السلام به کله کور ته دننه شو نو

مسواك به ورسره په لاس كښې وو اوكه د شپې اودهٔ كيدو وخت به وو نو د مسواك اهتمام به هغه كوو او دا مسواك د صحت د پاره مفيد څيز دے او د دې صفائۍ په غرض نبي عليه السلام د جمعې د ورځې د غسل په باره كښې حكم كړے وو او كله چې مسجد ته راځى نو بدبو دار څيز لكه پياز اوګه به نه خورى نوكان به اخلى وېختۀ سنت اغستل په هفته كښې يو ځل او د دې آخرى حد څلوېښت ورځې دې ورسره د كپړو صفائۍ اهمه ده . د نبي عليه السلام خوا ته يو انسان حاضر شو ګنده كپړې ئې وې نبي عليه السلام ورته وائى چې آيا دا انسان دومره اُوبه نه مومى چې دا خپلې كپړې وربانديې صفا كړى خپل كور صفا ساتل دغه د كور مخه لاره صفا ساتل او دا به د نبي عليه السلام په دور كښې مسلمان او يهودى په مينځ كښې د فرق كولو ذريعه وه چې د مسلمان د كور دننه او باهر دواړه به صفا وو او د يهودى د كور دننه او باهر دوړاه طرفونه به ګنده وو او دا د ايمان يوه حصه هم ده لكه حديث كښې راځى **﴿إِمَاتَةُ الْأَذٰى عَنِ الطَّرِيقِ﴾** (ابوداؤد) تكليف ده څيز د لارې نه لرې كول دا هم د اسلام تعليم دے.

والحمدلله رب العالمين

# اداب بندګی (۳)

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْدُ !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ كُلُوا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَالًا طَيِّبًا﴾ [سورة البقرة:۱٦۸]

## ساده صفا خوراک:

مخکښې نه د الله د عبوديت په باره کښې خبره شروع وه چې د الله بندګی مکمل په دين اسلام باندې د عمل کولو نوم دے په دې کښې يوه شعبه د خوراك څکاك ده چې انسان به دا خوراك څکاك د شريعت د اُصولو مطابق کوی ، نو دا اګر که د انسان ذاتی ضرورت دے دا به ورته الله په عبادت سره بدل کړی اسلام په هره معامله کښې خپل منونکو ته د سادګۍ دعوت ورکوی او د سادګۍ مطلب دا نه دے چې انسان به خوراك څکاك نه کوی بلکه په دې خوراك څکاك کښې به تکليف نه وی د دې د وجې نه شريعت پر تکلفه خوراك، زيات خوراك، حرام خوراك ضرری خوراك دا به انسان نه کوی، يو تابعی د سهل بن سعد رضی الله عنه نه تپوس کوی چې آيا دا روټۍ غنم وربشې غله تاسو صفا چهان کړې ده او که نه دا په اصلی حالت کښې خوری نو هغه جواب ورکړے وو چې دا ټول رزق دے الله مونږه ته راکړے دے دا بغير د چهاڼ کولو مونږه خورو او طبی نقطه نظر سره دغه خوراك فائده مند وی ځکه دا هضم کيږی انسان ته نقصان نه ورکوی د دې خبرې دا مطلب نه دے چې چهان کړے شوی وړه خوړل جائز نه دی هغه خوړل جائز دی خو نبی

علیه السلام چې کومه سادګی خپله کړې وه نن بیا دنیا هم دې طرف ته راروانه ده او انس رضی الله عنه د نبی علیه السلام خادم دے د هغه نه چا تپوس کړے وو چې نبیﷺ چرته چهان کړې شوې روټۍ خوړلې وه نو انس رضی الله عنه ورته جواب ورکړے وو چې نبیﷺ ټول عمر په هیڅ یوه موقع باندې چهان کړے شوې روټۍ نه وه خوړلې او نه دا د نبی علیه السلام عادت وو او نن چې دا څومره مسئلې د بیماریانو په باره کښې جوړې شوې دی شوګر بلډپشر د زړهٔ مسئلې نودا د دې سادګۍ خلاف پر تکلف خوراك واله وجه وی.

## د ضرورت مطابق خوراك:

د دې خوراك یو ادب دا هم دے چې دا د انسان ضرورت دے د ضرورت مطابق به انسان خوراك کوی په دې کښې به اسراف زیاتے نه کوی زیات خوراك د صحت د پاره نقصانی دے تر دې پورې چې نبی علیه السلام ته د مصر د بادشاه د طرف نه تحفه ورکړے شوې وه په دغه تحفو کښې ئې ورته په یو موقع یو طبیب ډاکټر نبی علیه السلام ته ورکړے وو چې دا به د مدینې د خلقو علاج معالجه کوی نبی علیه السلام ورته دغه واپس کړو او ورسره دا پیغام نبی ورکړے وو چې مونږه ته د طبیب حکیم ضرورت نشته ځکه مونږه لږ خوراك واله یو او تر دی پورې خوراك نه کوو تر څو پورې چې لوګه نه وی او بیا په دسترخوان باندې ځان پوره نه مړو نو دا غټ غټ مرضونه نه وو وجه دا وه چې کم خوراك او ساده خوراك وو ځکه الله په قرآن کښې ذکر کوی ﴿كُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوا﴾ (اعراف:۳۱) تاسو خوراك څکاك کوۍ او په دې کښې اسراف مهٔ کوۍ.

## د لباس پوشاک ضرورت او آداب:

د خوراك څكاك نه بعد په دې روز مره معاملاتو كښې انسان لباس پوشاك ته ضرورت لرى د شريعت د قانون مطابق په لباس كښې به يو څو خبرې وى يو دا چې د انسان عورت به ورسره پټ وى په پرده كښې به وى دويم دا چې د انسان زينت به ورسره وى په دې كښې انسان خائسته ښكارى لكه يو انسان د ځان نه صرف يوه كپړه راچاپيره كړى نو دا انسان په دې كښې د قبر د مړى پشان ښكارى دريم دا چې په دې لباس كښې به د غير مذهب واله خلقو سره مشابهت او يوشان والے نه وى دا به د كافرانو خاص لباس نه وى او د هغوى مذهبى رواج رسم او طريقه به نه وى او انسان به د كپړو صفائى كوى د دې خيال به ساتى او بل سپينې كپړې اغوستل مستحب دى نو هر رنګ لباس اغوستل جائز دے خو خالص سور قسم لباس به نه اچوى دغه شان پګړے ټوپۍ اغوستل هم د مسلمان طريقه ده د دې نه بعد كور ته دننه كيدو او باهر كيدو آداب دى كله چې يو انسان د كور نه باهر كيږى نو دا دعا به وائي ﴿بِسۡمِ اللّٰهِ تَوَكَّلۡتُ عَلَى اللّٰهِ لاَ حَوۡلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ﴾ (ترمذى) او د كور دروازه به انسان په زور زبردستۍ سره نه بندوى ځكه دا د عقل خلاف ده بل دا چې اودهٔ انسان ته به د دې نه تكليف وى او په دې سره به دغه دروازې ته نقصان هم نه وى ځكه حديث كښې راځى ﴿مَا كَانَ الرِّفۡقُ فِيۡ شَيۡءٍ إِلَّا زَانَهُ وَمَا نَزِعَ مِنۡ شَيۡءٍ إِلَّا شَانَهُ﴾ (صحيح الجامع) نرمى داسې صفت دے چې دا په يو څيز كښې وى نو هغه ورسره اوچت وى خائسته وى او د يو څيز نه چې اوويستلے شى نو په دغه څيز كښې نقصان او فساد پيدا كوى او ام المومنين عائشه رضى الله عنها وائي چې نبى عليه السلام به د شپې مونځ د پاره راويخ شو نو دروازه به هغه كولاؤ كړه او هيڅ يو بنده ته به د دې

احساس نه کیدو اوکور ته دننه کیدو دعا دا ده ﴿بِسْمِ اللّٰهِ وَلَجْنَا وَبِسْمِ اللّٰهِ خَرَجْنَا وَعَلَى اللّٰهِ رَبِّنَا تَوَكَّلْنَا﴾ (ابوداؤد) مخکښې د باهر کیدو دعا په وخت کښې انسان خپل ځان په الله باندې حواله کوی ځکه د کور نا باهر په کور کښې دننه د انسان حفاظت کونکے ذات صرف الله رب العزت دے دې وجې نه انس رضی الله عنه وائی کله چې یو انسان دا دعا وائی نو د الله د طرف نه ورته اواز کیږی چې تا ته لاره اوښودلے شوه او ستا د کارونو نه زۀ کافی کړے شوم او د ټولو برایانو بد کارونو نه ته محفوظ کړے شوې بیا شیطان چې دا خبره واوری نو د دې انسان نه نااُمیده شی چې څنګه به مونږه دا ګمراه کړو چې الله د دۀ امداد او نصرت کوی .

## د سفر نه د واپسئ او د ملاقات آداب :

بل ادب دا دے چې کله د سفر نه واپس کیږی او کور ته راځی نو مخکښې نه به کور ته اطلاع کوی خبردارې به کوی ځکه نبی علیه السلام به چې کله کور ته راتلو نو مخکښې نه به هغه اطلاع کوله نن صبا دور کښې به انسان د موبائیل فون په زریعه سره اطلاع کوی او د دې حکمت دا دے چې خلقه به مخکښې ذهنی لحاظ سره تیار وی او عبد الله بن مسعود رضی الله عنه وائی چې مخکښې نه به د انسان کور واله ښځه تیارے کوی ځکه په کور کښې چې خاوند نه وی نو کله د ښځې جامې سخا وی ګنده وی نو خاوند ته په نظر کښې سپك راځی او کله چې کور ته دننه کیږی نو د هر انسان یوه خپله طریقه وی یا خپو لره ګوزار ورکوی یا غاړه آزاده کړی بل چې انسان یکدم کور ته دننه شی نو یو خوف پیدا کیږی دغه شان په کور کښې دننه به انسان د بل کمرې ته بغیر د اجازت نه نۀ دننه کیږی په سورة النور کښې چې کله الله د فحاشۍ بے حیائۍ د روك تهام د پاره تعلیم ورکوی نو درې اصول قرآن بیان کړې دی یو اصل

دا دے چې خپل نوکران ماشومان به بغير د اجازت نه کمرې ته نهٔ دننه کيږی بلکه اجازت به ضروری وی او دا ځکه چې کمره کښې انسان په هر حالت کښې کيدے شی کله د انسان يو حالت وی او کله د انسان بل حالت وی او بله خبره دا ده چې د غلا بد ګمانۍ شبهه به وربانديې نه وی او د شريعت دا حکم دے چې د هر بالغ بچی به خپله جدا جدا کمره وی او جابر رضی الله عنه وائی که يو انسان د خپلې مور بوډۍ ښځے کمرې ته دننه کيږی نو اجازت به اخلی.

بل دا چې کله يو انسان د ميلمه يا ملګری سره ملاقات کوی نو خپل ځان به صفا کړی او نوې يا پاکې کپړې به اغوندی يو ځل نبی عليه السلام ته اطلاع شوی وه چې وفد راغلے دے ستا سو سره ملاقات کوی نو نبی عليه السلام په کور کښې ګيره ويختهٔ ګمنز کړل ام المومنين عائشه رضی الله عنها ورته وائی دې ته څه ضرورت دے نبی عليه السلام جواب ورکړو چې دا ښه خبره ده چې يو انسان د بل سره په ښه حالت کښې ملاؤ شی بل ادب دا دے که د يو انسان وس وی نو د خپل وس مطابق تحفه اغستل بل دا اجازت اغستل يا درې ځله پورې سلام اچول که بيا هم اجازت يا جواب ملاؤ نشی نو انسان به واپس کيږی اوکه يو انسان د دروازې نه دننه د تعارف تپوس کوی صرف دا به ورته نه وائی چې زهٔ يمه بلکه خپل نوم ورسره د پلار نوم اغستل ضروری دی يو صحابی نبی عليه السلام ته دروازه وهلې وه نبیﷺ ورته وائی څوك ئې هغه جواب ورکړے وو (انا ) زهٔ يمه نبی عليه السلام واپس شو او ورته ئې او وئيل زهٔ هم زهٔ يمه او په دې باندې خفه شو نو انسان به پوره تعارف کوی.

والحمدلله رب العالمين

# آداب بندگی (٤)

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَاعْبُدُوا اللّٰهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهٖ شَيْئًا﴾ (نساء:٣٦)

## دانسان ژوند:

د شریعت د آدابو متعلق خبره شروع وه چې یو مسلمان سحر رابیدار شی نو ټوله ورځ به څنګه د دې آدابو پابندی کوی په دے کښې یو شرعی حکم سفر هم شامل دے چې یو انسان به دیوې علاقې نه بلې علاقې ته څنګه په سفر باندے ځی د دے آداب او شرعی احکام څه دی؟ او بیا د دې انسانی ژوند هیڅ مقرر وقت ، ګارنټی نشته ، د دې اختیارات الله هیڅ یو بنده ته نه دی ورکړې تر دې پورې چې عظیم مخلوق انبیائے کرام هغوی ته هم الله د دې اختیارات نه دی ورکړې نو هر کله چې د دې ژوند هیڅ ګارنټی ، مقرر وقت نشته نو که یو انسان په اوګد لوې سفر باندې روان شی نو خپل ټول امانتونه به امانت دارانو ته واپس کړی او قرضدارانو ته به قرض واپس کړی که د نور چاحقونه په دې انسان باندې وی نو د دغه حقونو په باره کښې به وصیت اولکی او خپل وارثانو ته به دغه هدایات حواله کړی د دې وجې نه د نبی علیه السلام نه دا نقل شوې دی که په یو مسلمان باندې د چا قرض وی نو په دۀ باندې دوه ورځې نه وی تیرې شوې مګر د دۀ شرعی وصیت به تحریر کړے شوے وی دغه شان که عام معاملات وی نو د دې په باره کښې به هم انسان وصیت کوی او وجه دا ده که دا انسان وصیت نه کوی نو د نورو حقدارانو حقونه به

ضائع شی او په دې کښې به دا انسان ګناه ګار وی اوکه يو انسان د مرګ نه مخکښې وصيت کړے وی نو دا انسان به په داسې حالت کښې د دنيا نه لاړ شی چې برئ الذمة به وی د دې انسان غاړه به خلاصه وی.

## ظاهری اسباب:

دويم ادب د سفر د پاره دا دے چې کله يو انسان د سفر په نيت روان شی نو خپل کور واله بچی او اهل وعيال ته به مکمله خرچه پريدی بيا به روان شی د خوراك څكاك لباس پوشاك ضرورت چې کله پوره شی نو بيا به دا انسان په سفر باندې روان شی يو انسان به دا نه کوی چې زما په الله باندې توکل بهروسه عقيده ده ، او خالی حالت کښې اهل وعيال پريدی ، دا توکل نه دے بلکه دا ناپوهی ده په خپله د سفر سازوسامان به د خپل ځان سره اخلی او کور والو ته به هم نفقه ، خرچه پريدی ځکه نبی عليه السلام چې کله هم په سفر باندې تلے دے نو د ځان سره توره، ډهال، سورلی هرڅه اخلی او بيا روانيږی د دې اسبابو نه بعد به يو انسان په الله باندې يقين کوی اعتماد او بهروسه به په الله باندې لری.
تفسير قرطبی واله د ايت توکل په تفسير کښې د سهل رحمت الله عليه قول ذکر کړے دے چې توکل دا نه دے چې انسان ظاهری اسباب پريدی اوکه څوك دا عقيده لری (**اَنَّ التَّوَکُّلُ مِنْ تَرْکِ الاَسْبَابِ فَقَدْ طَعَنَ عَلٰی سُنَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ**) څوك چې دا عقيده لری چې توکل ترك دَ اسبابو ته وائی نو دې انسان د نبی عليه السلام په سنت باندې عيب او طعن کړے دے نو انسان به په کور کښې د خپل وس مطابق نفقه پريدی ځکه په انسان باندې د مور پلار او د بچو د خرچې حق دے او دا يو قسم لره عبادت هم دے.

## یو جماعت مسافر:

بل ادب دا دے چې انسان په سفر باندې ځی نو درې ملګری یا یو پوره جماعت به وی بیا به روانیږی ځکه عبدالله بن مسعود رضی الله عنه وائی چې د شپې په وخت کښې به انسان یواځې سفر نه کوی او یو حدیث کښې راځی چې یو انسان شیطان دے دوه انسانان شیطانان دی او درې ملګری پوره جماعت دے او که د جهازواله سفر وی یا نن صبا واله د بسونو سفر وی نو که انسان یواځې وی هیڅ پرواه نه کوی ځکه د نورو خلقو لوې جماعت ورسره وی او بل ادب دا دے چې په دې درې کسانو کښې به یو انسان امیر هم وی.

## د زنانه سفر او محرم:

اوکه زنانه اوګد سفر کوی نو محرم به ورسره خامخا وی د اوګد سفر مقدار (۷۸ ) کلو میټر دے عبدالله بن عباس د نبی علیه السلام نه روایت کوی چې هیڅ یو لره نه دی پکار چې یواځې سفر اوکړی ځکه هیڅ نارینه او زنانه ذات که چرته یواځې شی نو د دوی په مینځ کښې دریم نمبر واله شیطان وی نو سړے به د ښځې سره په تنهائۍ کښې ملاقات نه کوی او نه به ښځه بغیر د محرم نه اوګد سفر کوی.

بل ادب دا دے چې په سفر باندې روانیدو نه مخکښې انسان د قضائے حاجت نه خپل ځان فارغه کړی ځکه د سفر په دوران کښې انسان ته سل مسئلے جوړیدے شی او دا هم انسان ته معلومات نشته چې دوباره د دې قضائے حاجت د پاره دې انسان ته به مناسب ځائے ملاؤ شی اوکه نه اوکله چې انسان باهر کیږی نو د اودس په حالت کښې به د خپل کور نه اوځی او د اووتلو نه مخکښې یو دوه رکعته مونځ په خپل کور

کښې ادا کړی بیا به سفر شروع کړی او د کور نه اووتلو واله دعا په اهتمام سره اووائی.

## د سفر دعاګانې:

او ورسره خاص د سفر واله دعاګانی او وائی یوه دعا دا ده ﴿اَللّٰهُمَّ اَنْتَ الصَّاحِبُ فِی السَّفَرِ وَالْخَلِیْفَةُ فِی الْاَهْلِ﴾(مسلم)الله تهٔ زمونږه په دې سفر کښې یارومددګار ئی او زمونږه نګهبان ئی نو په دې دعا سره دا انسان خپل ځان او کور واله الله ته حواله کړی الله به د دوی حفاظت کوی بیا چې کله سورلئی باندی بره کیني نو د ختلو په دوران کښې به ( بسم الله ) وائی کله چې د هغې د بره کیني بیا به (الحمدلله ) وائی او بیا به د قرآن دا آیت او وائی ﴿ سُبْحَانَ الَّذِیْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهٗ مُقْرِنِیْنِ ﴾ (مسلم) او د بحری سفر د پاره په کشتئ کښې به دا دعا وائی ﴿بِسْمِ اللهِ مَجْرٖیهَا وَمُرْسَاهَا اِنَّ رَبِّیْ لَغَفُوْرٌ رَحِیْمٌ ﴾(هود:٤١) او یو بل روایت کښې دا راځی چې انسان به درې ځله سبحان الله درې ځله الحمدلله او بیا به دا دعا وائی ﴿سُبْحَانَكَ اِنِّیْ ظَلَمْتُ نَفْسِیْ فَاغْفِرْ لِیْ فَاِنَّهٗ لَا یَغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اَنْتَ ﴾(الإیفاح)

او دا اذکار د سیدنا علی رضی الله عنه نه د سفر په موقع باندې نقل شوی دی او حدیث کښې راځی چې الله رب العزت په دې باندې خوشحاله شی اوخاندی بیا الله وائی چې زما دې بنده ته پته ده چې ګناهونو معاف کونکے ذات صرف یو الله دے ځکه زما نه د مغفرت سوال کوی او زهٔ به ورته بخنه کومه اوکه د سفر په دوران کښې د ضرری مخلوق یا دشمن نه یره پیدا شی نو دا دعا به وائی ﴿اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَجْعَلُكَ فِیْ نُحُوْرِهِمْ وَنَعُوْذُبِكَ مِنْ شُرُوْرِهِمْ﴾(ابوداؤد) او دا د عام دشمن نه د حفاظت دعا هم ده.

کله چې مسافر په سفر باندې روانیږی نو د کور واله خلق به ورلره دا دعا کوی ﴿اَسْتَوْدِعُ اللهَ دِیْنَكَ وَاَمَانَتَكَ وَخَوَاتِیْمَ عَمَلِكَ﴾ (ابوداؤد) د مسافر

انسان دعا الله قبلوی د دې وجې نه دا ډیر ضروری دی چې مسافر به د دنیا او آخرت د کامیابۍ دعاګانې د خپل ځان، کور واله ،ملګرو ، مسلمانانو، د پاره غواړی حدیث کښې راځی درې دعاګانې نه رد کیږی یو د مظلوم دعا بل د مسافر دعا دریم د پلار دعا چې هغه د خپلو بچو په حق کښې دعا غواړی.

## ضرورت پوره کیدل او سفر:

او حدیث کښې راځی ﴿السَّفَرُ قِطْعَةٌ مِنَ الْعَذَابِ﴾ (بخاری) سفر د عذاب یوه حصه ده یو انسان د خوراك څکاك او خوب نه منع کوی کله چې یو انسان خپل ضرورت پوره کړی نو بیا دې په جلدۍ سره کور ته واپس راځی، د سفر په دوران کښې به انسان عبث او فضول ګانې بجانې نه اوری حدیث کښې راځی چې د رحمت فرشتې د هغه قافلې سره نه ملګری کیږی په کومه قافله کښې چې ګانې بجانې یا مزمار یا سپے وی او په حدیث کښې دی چې ګانې بجانې منافقت په زړهٔ کښې داسې پیدا کوی لکه څنګه اوبهٔ فصل پیدا کوی او رازرغونوی او په سورت لقمان کښې الله د دغه خلقو په باره کښې وائی ﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِىْ لَهْوَ الْحَدِيْثِ﴾ (لقمان:٦) بعض خلق عبث خبرې اخلی هغه اوری د دې د پاره چې ګمراه شی د الله د لارې نه، نو د دغه خلقو د پاره سپکونکے عذاب دے د لهوالحدیث نه مراد عبثې خبرې او ګانې بجانې اوریدل دی.

کله چې انسان د سفر نه بعد واپس کیږی نو دا دعا به وائی ﴿آيِبُوْنَ تَائِبُوْنَ عَابِدُوْنَ سَاجِدُوْنَ لِرَبِّنَا حَامِدُوْنَ﴾ (ترمذی) کور ته د راتلو نه مخکښې به مسجد کښې دوه رکعته شکرانه نفل مونځ ادا کړی او د شپې

به ناڅهانه يکدم کور ته نه داخليږی بلکه مخکښې نه به اطلاع کوی کور والو ته چې هغوی تيار وی.

او يو ادب دا هم دے چې د مسافر انسان نه دعا اوغوختلے شی د دعا د پاره به د هغه نه مطالبه کولے شی ځکه عمر رضی الله عنه د عمرې د پاره روان دے او نبی عليه السلام ورته وئيلے وو ﴿لَا تَنْسَنَا يَا أُخَيَّ مِنْ دُعَائِكَ﴾ (ابوداؤد)اے روره مونږه په خپلو دعاګانو کښې مۀ هيروه بلکې ستا په دعاګانو کښې مونږه ياد ساته د دې نه معلومه شوه چې فاضل د مفضول نه او مقيم د مسافر نه دعا طلب کوے شی.

والحمدلله رب العالمين

# اداب بندګی (۵)

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿سُبْحَانَكَ لَا عِلْمَ لَنَا اِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا اِنَّكَ اَنْتَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ﴾

(سورة التوبة :۳۲)

## انسان بحیثیت انسان:

د اسلام د ادابو باره کښې خبره شروع وه چې انسان باندې څومره مرحلات راځی په دې ټولو مرحلو کښې به دا انسان د دین اسلامی پابند وی ځکه په انسان کښې اعلی او اوچت صفت هغه انسانیت دے چې دا به یو پوره انسان وی د انسان په شکل کښې به ځناور صفت نه وی او دا به پوره کامل انسان په دې صورت کښې وی چې د ژوند په هره مرحله به د دې ادابو خیال ساتی اشرف علی تهانوی رحمت الله علیه وائی که زما خوا ته یو بنده د دې دپاره راځی چې زما نه عالم، مفتی، ولی الله، بزرګ ، جوړ شی نو په دی نیت دې زما طرف ته رجوع نه کوی بلکه په دې نیت دې راځی چې زما نه انسان جوړ شی نو د انسان جوړیدو نه بعد به ولی الله یا د عالم جوړیدو د پاره کوشش کوی او دا انسان به انسان کامل په دې صورت کښې وی، چې د شریعت اسلامیه او د هغې د ادابو او طرز زندګۍ نه به دا انسان خبر وی د دې معلومات به ورته حاصل وی.

## کامل انسان:

د محمد رسول الله صل الله علیه واله وسلم پشان کامل انسان دې دنیا ته نه دے راغلے هغه یو داسې انسان دے چې په انسانیت کښې تر

نن تاریخ پورې داسې انسان نه دے لیدلے شوے او نه به تر ورځ د قیامت پورې داسې انسان دنیا پیش کړی نو انسان به انسانیت د محمد رسول الله صل الله علیه واله وسلم د تعلیماتو ارشاداتو احکاماتو نه زده کوی چې هغه ځنګه ژوند تیر کړې وو د هغه د کور ژوند انفرادی اجتماعی د پیدائش نه واخله تر وفات پورې او د بعثت نه واخله تر د وحی ختمیدو پورې ځنګه تعلیمات خپل اُمت ته ورکړے وُو.

## شریعت کښې د میلمه اداب:

د دې متعلق څه اداب ذکر شوې وو په دې کښې یو حکم دا دے چې د میلمه تلل راتلل یا د دې انسان د بل چا سره ملاقات میلمه کیدل د دې څه اداب او احکامات قرآن او سنت ښودلی دی د میلمه کیدو او د یو انسان سره د مخامخ کیدو د پاره یو څو خبرې ضروری دی یو دا چې انسان د پاره به د دې معلومات کول ضروری وی چې کوم وخت ضروری او مناسب دے څو مره ساعت کښې به ورسره زۀ خبره اوکړمه دا وخت د دې خبرې په باره کښې د ملاقات د پاره مناسب دے اوکه نه دے د هغۀ سره به فرصت وی اوکه نه به وی که قریبی رشته دار وی نو د هغۀ سره د ملاقات مقصد به رشته داری پالل وی اوکه دوست وی نو د هغۀ سره د ملاقات مقصد به خیر او بهلائی وی دنیا وی کار کسب یا بل خپل ذاتی غرض به مقصد نه وی اوکه دا مقصد وی نو د هغه د برداشت او تحمل پورې به وی د هغۀ د برداشت نه به باهر نه وی.

## فضول خبرو نه پرهیز:

د مجلس ادب دا دے چې فضول خبرې غیبت ګپ شپ به ورکښې نه وی، بلکه مقصدی خبره په مختصر الفاظو کښې ادا کول به مقصد وی.

محمد بن شهاب الزهری ډیرلوی عالم او محدث دے بلکه د حدیثو تدوین د عمر بن عبدالعزیزچې یو انصاف دار عادل خلیفه وو د عدل او انصاف د وجې نه ورته عمر ثانی وئیلے کیږی د دهٔ په حکم باندې ابن شهاب الزهری او ابن حزم د نبی علیه السلام ا حادیث کتابی شکل کښې مدوّن کړی وو ، صحابه کرامو ابوبکرصدیق قرآن مدوّن کړے وو ځکه د دې اوله درجه ده او تابعینو احادیث د نبی علیه السلام مدوّن کړې وو د دې ورپسې درجه ده او تبع تابعینو فقه مدوّن کړې وه د دې دریمه درجه ده دغه عالم محمد بن شهاب فرمائی کوم مجلس چې بے مقصده خبرو باندې اوګدشی نو شیطان په دې کښې خپله حصه اخلی بے مقصده خبرې په مجلس کښې شیطانی کار دے.

کله چې د یو انسان سره ملاقات کوې نو په داسې وخت کښې به ورسره ملاویږې چې د ارام وخت به نه وی د بل ضروری مصروفیت یا د ذمه دارئ وخت به نه وی مخکښې نه به معلومات کوی چې آیا په دې وخت کښې ملاقات کیدے شی اوکه نشی کیدے دا ضروری خبره ده یو دا ده چې بےتکلفه تعلق د هغه سره وی لکه یار، دوست وی، قریبی رشته دار وی نو بیا پرواه نه کوی او څه خلق داسې دی چې د هغوی ژوند مصروف ژوند وی نو د هغوی سره ملاقات کیدو د پاره ضروری ده چې د مخکښې نه به وخت مقرر کړے شوے وی معلومات رابطه به ورسره شوی وی.

## د ملاقات څه آداب :

د ملاقات په مجلس کښې بے ادبه تیزې خبرې نه کول شور شغرب نه ځان ساتل ، مقداد بن اسود رضی الله عنه وائی چې د شپې په وخت کښې به مونږه د نبی علیه السلام د پاره پئ تیار کړې وو هغه به مسجد ته

راتلو نو دومره په ارام سره به هغه سلام اوکړو چې اودهٔ انسان ته به تکلیف نه وو، او ویخ انسان به دغه سلام اوریدو د دې نه معلومه شوه چې انسان به په مناسب کلام سره خبرې کوی چې بل ته تکلیف نه وی.

که یو انسان د ملاقات نه عذر اوکړی او هغه معقول عذر وی لکه بیمار دے یا د کور نه ډیر لرې دے نو پکار ده چې د هغهٔ دغه عذر قبول کړے شی قتادة بن دعامه السدوسی رضی الله عنه فرمائي ځوك چې تاسو د خپلې دروازې نه واپس کړی نو دا ضروری ده چې دغه انسان به واپس کیږی ځکه څنګه چې ستا ضرورت دے دغه شان به د دې بل بنده ضرورت هم وی او په قرآن پاك سورة النور کښې الله رب العزت د معاشرې څه اداب ذکر کړي دی یو دا چې سلام به اچوی دویم اجازت به غواړی دریم ﴿وَإِذَا قِيلَ لَكُمُ ارْجِعُوا فَارْجِعُوا﴾ (سورة النور ۲۸) که تاسو ته دا وئیلےشی چې واپس شی نو بیا واپس شئ او دا ډیر پاك والے دے ستاسو د پاره.

## کورته نظر نهٔ کول:

د ملاقات یو ادب دا هم دے چې انسان د بل انسان دروازې مخکښې اُودریږی نو په کور باندې دننه به نظر نه کوی، کور ته به نه ګوری، یو طرف ته به ولاړ وی سعد بن عباده رضی الله عنه وائی که یو انسان د بل انسان کور ته ګوری نو د دې اجازت طلب کولو څه مطلب دے؟ او په یو حدیث کښې د دې نه منع راغلې ده عمر رضی الله عنه وائی دا انسان په دې باندې فاسق کیږی ګناهګار کیږی سهل بن سعد رضی الله عنه وائی چې یو انسان د ملاقات د پاره په دروازه باندې ولاړ وو هغه په سوری کښې کتل کله چې نبی علیه السلام ته پته اولګیده نو

ورته ئې اووئيل که ماته دا پته وے نو د دې انسان سترګې به ما په دې ډکې باندې وهلے وے.

## د کور په مينځ کښې آداب :

کله چې يو انسان ته اجازت ملاؤ شی نو په مهذب طريقې سره به رادننه کيږی د کور واله په ذاتی معاملاتو کښې به مداخلت نه کوی هيڅ يوڅيز به په خپل اختيار نه بے ځايه کوی که د مالك د طرف نه اجازت اوکړے شی چې دلته کيناستل اوکړه نو انسان به په دغه مقام کښې کينی عدی بن حاتم رضی الله عنه وائی چې نبی عليه السلام زۀ د خپل ځان سره کور ته دننه کړم يوه تکيه چې هغه د کهجورو د پاڼړو نه ډکه وه هغه ئې ماته راکړه او دا خبره ئې راته اوکړه چې عدی په دې باندی کينه ما ورته وئيل يا رسول الله صل الله عليه واله وسلم دا تاسو واخلئ نو نبی عليه السلام بيا انکار اوکړو نو زۀ ورباندې کيناستم او نبی عليه السلام ماته مخامخ ناست وو او ميلمه لره پکار دی چې د ناستې کوم ځائے دے په هغه ځائے کښې به کينی که د کور به د پاره مخصوص ځائے وی نو هغه به کوربه د پاره وی ميلمه به ورباندې نه کينی لکه يو حديث کښې راځی چې امام د امامت ډير حقدار دے په نسبت د باهر واله انسان او بل حديث کښې راځی چې د کور به مخصوص نشت حقدار هم دغه کور به دے ځکه دا د ده د پاره تکرمه ده عزت دے که هغه درته اووائی چې دلته کينه نو بيا کيناستلے شې.

اوکوربه د پاره دا ضروری ده چې د ميلمه د خوراك څکاك د ارام د پاره ځائے تيار کړےوی او انتظام به د مخکښې نه شوے وی اوکه د مونځ

ضرورت وی نو قبله ورته ښودل که د اودس ضرورت وی نو اوبه وغیره د هغهٔ د پاره ورته تیارول، د څکلو د اُبو انتظام کول د اودس ماتی (قضائے حاجت) ځائے ورته خودل د میلمه سره په ناسته کښې روښانه پراخه تندی سره، خندا پشانۍ او پراخه انداز باندې خبرې کول د هغه ذاتی معاملات نه یا دول د ګناه په کار فیلم ټی وی وغیره کښې هغه نه مشغوله کول د هغه حوصله افزائی شکریه ادا کول دا ټول د میلمه اداب دی .

والحمدلله رب العالمین

# اداب بندګی (٦)

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿سُبْحَانَكَ لَا عِلْمَ لَنَا اِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا اِنَّكَ اَنْتَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ﴾

(سورۃالتوبۃ :۳۲)

## صاف ستهرا نظام:

د مخکښې نه اسلامی اداب ذکر شوې وو چې مسلمان به څلورویشت ګهنټې ژوند څنګه د الله د حکم مطابق تیروی او بیا د ملاقات په باره کښې د میلمستیا په باره کښې څه اداب ذکر شوې وو او څه نور په دې مجلس کښې به ذکر شی یو ادب دا هم دے چې کوم کور ته میلمه راځی نو د دغه کور واش روم بیت الخلاء به صفا وی په دې کښې به نا مناسب څیز نه وی ځکه د صفا ستهرا نظام معلومات دوؤ خبرو نه ممکن کیدے شی چې دا کور والا د صفائۍ اهتمام کونکی خلق دی او که د صفائۍ خیال نه ساتی دا پیژندل په دوؤ خبرو سره کیدے شی، یو دا چې کچن مطبخ دغه ځائے صفا وی بل دا چې بیت الخلاء به صفا وی دا اداب فطرتی خبرې هم دی او شریعت هم دے لکه یو حدیث کښې راځی چې تاسو د خپلو کورونو صحن صفا ساتۍ په دې کښې به ګندګی نه وی.

## د میلمه خیال:

ورسره د دې ادب خیال ضروری دے چې مهمان خانه کښې به شور شغرب نه وی ماشومان به دغه ځائے ته نۀ ځی راځی دا د میلمه حق

تلفی ده چې د ارام په ځائے کښې ګپ شپ یا ماشومان شور اوکړی ورسره دا هم یو ادب دے چې د میلمه راتلو انتظام به وی او په ښه حالت او ښه هیئت کښې به د هغه سره ملاقات کوی میلمه او کور به دواړو لره دا پکار دی او ضروری ده چې خپل حقوق او ذمه داری اُوپیژنی د دعوتی پروګرامونو په سلسله کښې یو عالم یا میلمه ته داسې وخت مقرر کول چې هغۀ لره په دې کښې شرکت ممکن وی ورسره د هغه ځائے رابطه نمبر وغیره دغه میلمه لره ورکول او د دې میلمه د پاره د هغه د شان مطابق انتظام حفاظت کول.

## په مجلس کښې د خبرو آداب:

د میلمه سره په مجلس کښې د خبرو خیال ساتل، پوره په ادب سره به خبره وی، سیاسی یا د چا غیبت یا د دې میلمه ذاتی موضوعات د هغه قومی ملکی منفی پهلو باندې د خبرو کولو نه پرهیز کول ځکه میلمه چې کله د یو انسان کور ته راشی نو دې کوربه ته دا یو قسم عزت ورکړے شو اوکه دا کوربه په داسې موضوعاتو باندې خبرې شروع کړی نو د هغه بے عزتی کوی هغه تا لره عزت درکړو او ته د هغه بے عزتی کوې ځکه یو مزاح دے او یو مزاق دے مزاحیه خبرې ، چې په هغې کښې هتك حرمت دل ازاری نه وی ،او مزاحیه خبرې هغه دې چې د بل بے عزتی سپکاوے پکښې وی کله کله د مزاح نه، د خوش طبعۍ خبره مزاق او بد اخلاقۍ ته لاړه شی وجه دا وی چې د مجلس د ادابو خیال نه وی ساتلے شوے نبی علیه السلام یو ځل د علی رضی الله عنه سره ناست وو داوړو کهجورې خوړې علی رضی الله عنه طرف ته به نبی علیه السلام د کهجورو هډوکی کیخودل کله چې د خوراك نه فارغه شو نبی علیه السلام ورته وائی تاڅومره زیاتې کهجورې خوړلې دی علی رضی الله عنه جواب ورکړو چې

ما صرف مغز خوړلے دے او تاسو د هډوکو سره خوړلې دی نو ځکه ستاسو د کهجورو هډوکی نشته دې حد پورې مزاح چې صرف مختصر خوش طبعی او مزاح وی نو دا جائز دے.

د میلمه د راتلو د پاره استقبال کول ځکه نبی علیه السلام ته چې به کله یو جهادی لښکر واپس راتلو نو د هغوی سره به ملاویدو دغه شان کله چې میلمه فارغه شی د فراغت نه بعد د څه حد پورې د هغه سره یو ځائے پورې تلل دا هم یوه ښهٔ طریقه ده.

## د هر انسان حیثیت:

که په مجلس کښې خلق ناست وو نو د مشر او کشر خیال دے او ساتلے شی ځکه حذیفه بن یمان وائی مونږه به د نبی علیه السلام سره په دسترخوان باندې یو ځائے د خوراك د پاره ناست وو تر هغې پورې به مونږه څه نه خوړل تر څو پورې چې نبی علیه السلام به هغوی ﷺ شروع نه وه کړې او میلمه سره به د هغه د حیثیت مطابق خبرې کولے شی که هم عمر دے او که مشر دے او که کشر دے کومه خبره مناسب ده او کومه خبره نا مناسب ده خارجه بن شبیب وائی یو ځل د ام المؤمنین عائشة رضی الله عنها کور ته یو سائل سوال کونکے راغې نو ام المؤمنین ورته د روټۍ یوه ټکړه ورکړه او هغه ئی رخصت کړو لږ ساعت بعد یو بل بنده راغے ام المؤمنین ورته د خوراك د پاره روټي تیاره کړه دا خارجه بن شبیب ورته وائی ام المؤمنین تا دا فرق ولے اوکړو ؟ هغې جواب اوکړو چې ما د نبی علیه السلام نه اوریدلې دی چې د هر یو انسان سره د هغهٔ د حیثیت مطابق معامله اوکړۍ دا یو عام سوال ګر دے او دا بل سفید پوشاك واله عزتمند انسان دے دهٔ ته یقینی ضرورت وو ځکه ورته ما دا پوره اوښهٔ خوراك مخکښې کړو.

## د ښي طرف نه شروع:

او كه مجلس يا د خوراك دوران كښې يو انسان يو څيز په بل انسان باندې پيش كول غواړي نو د ښي طرف نه به شروع اوكړي اول به دغه څيز په ښي طرف كښې چې څوك ناست يا موجود وي په هغۀ باندې پيش كړي دويم ادب دا چې مشر لره وركړے شي څكه نبي عليه السلام ته په يوه موقعه باندې د پيو، لسي پيش كړے شوه ښي طرف ته يو باندۀ يچي عام انسان ناست وو اوګس طرف ته ابوبكر صديق رضي الله عنه ناست وو نبي عليه السلام چې اوكتل نو دغه پيۍ لسي ئے هغه باندۀيچي ته وركړه او نبي عليه السلام بيا اوفرمائيل (اَلْأَيْمَنَ فَالْأَيْمَنَ) اول شروع به د ښي طرف نه كولے شي اوكه خلق ناست وي د هغوي سره مصافحه كول نو كه د ښي طرف نه شروع كړے شي دا ادب دے او په يو موقع نبي عليه السلام ته د څكاك د پاره پيۍ پيش كړے شو نو ښي طرف ته ماشوم وو او ګس طرف ته مشران ناست وو نبي عليه السلام دغه ماشوم ته وائي چې دا حق خو ستا دے اوكه ستا خوښه وي نو زۀ به دا دې مشرانو ته وركړم هغه وائي يارسول الله ستا نه باقي شوے څيز زۀ د خپل ځان نه بغير هيڅ چاته نه وركومه دا مبارك څيز دے دا به زه اخلمه نبي عليه السلام دغه څيز دې ماشوم ته وركړو.

## ماشوم ته د ادب تعليم:

كه يو ماشوم يا عام بنى ادم خوراك ته ناست وي د خوراك د ادابو خيال به ساتي لكه عمروبن ابى سلمه وائي زۀ ماشوم وومه او د نبي عليه السلام سره په طعام باندې ناست ووم زمادا لاس په كاسه كښې ښي اوګس طرف ته تلو راتلو د نبي عليه السلام چې په مابانديې نظر شو نو ما ته وائي ( يَاغُلَامُ سَمِّ اللهَ ) اے بچيه بسم الله وايه او خپل نزدې ځائے نه

خوراك كوه او په ښى لاس باندې خوراك كوه او يو روايت كښې راځى كه په دسترخوان باندې كهجورې وى نو دا كهجورې دوه دانې يو ملګرے مۀ اخلې كه نور ملګرى يو ه يوه كهجوره اخلى نو دوه اغستل د هغوى حق تلفى ده او دا نن صبا چې كومه طريقه ځپله ځان لره خوراك په شادى هال كښې راغستل وى، نو پكار ده چې انسان دومره خوراك راواخلى چې څومره خوراك هغه كوے شى د ضرورت نه زيات خوراك به نه اخلى ځكه كه لګ خوراك وى او نورو ته ضرورت پيش شى نو دوباره به نور خوراك راواخلى اوكه زيات شى نو هغه به فضول ضائع شى خراب به شى كه دا خلق د اسراف نه ځان بچ كړى، نو هيڅ يو غريب به اوګے پاتې نشى هر طرف ته فضول خرچى اسراف او عبث كارونو باندې مال دولت ضائع كيږى په عالم عرب كښې فضول خرچى اسراف يو رواج جوړ شوے دے او زمونږه په دې وطن كښې خلقه په پروګراماتو كښې خپل مال دولت ضائع كوى.

## د ميلمه خپل احتياط:

كه يو ميلمه په يو ځائے كښې مقيم وى سكونت په هغه ځائے كښې اختيار كړى، نو ضرورى ده چې د دغه ځائے د واش روم بيت الخلاء د صفائۍ خيال به كوى . ځكه د كوربه په ذهن كښې د دغه ميلمنو متعلق يو ذهن وى چې څومره صفائۍ واله خلق وو يا ګنده خلق وو دغه تأثر كوربه خلق اخلى نو ميلمه به د رحلت كولو سره انتظام برابر كړى او صفائى به پوره كوى بيا به د دغه ځائے نه روان شى.

بعض خلق په هوټل كښې شپه كوى نو د هغه ځائے پرده وى يا نور څه څيزونه وى په هغې باندې خپل لاس يا سپلۍ صفاكوى دا ډيره د بے ادبۍ خبره ده او كه د يو څيز د پاره خپل مقرر ځائے وى نو دغه څيز به

په دغه مقرر ځائے کښې کیخودلے شی که د ګند یا فضول څیز د پاره ډسټ بین وی په هغې کښې به اچولے شی عام طور په لارو کوڅو روډونو کښې حکومت والو ډبې کیخودې وی زمونږه بے حسی دومره وي چې خلق په هغه ډبو کښې ګند نه اچوی بلکه دغه ګند کله په لاره باندې وی کله د چا د کور مخې ته وی او بیا شکوه د حکومت نه کیږی چې حکومت د صفائی انتظام نه دے کړے حدیث کښې راځی دا د ایمان یوه حصه ده ﴿اِمَاتَةُ الْاَذٰی عَنِ الطَّرِیْقِ﴾ (مسلم) ضرری او تکلیف ده څیز د لارې نه لرې کول دا د ایمان حصه ده.

## د مشر لحاظ:

که په یو مجلس کښې مشر موجود وی نو کشر به د هغهٔ په موجودګۍ کښې خبرې نه کوی هاں که چرته مشر ورته اجازت کړے وی نو بیا که کشر څه خبرې کوی بیا صحیح ده دغه شان په مجلس کښې که دوه کسان څهٔ خپلې ذاتی خبرې کوی په دې کښې مداخلت جائز نه دے او د دوو کسانو مینځ ته بغیر د هغوی د اجازت نهٔ نه داخلیدل، په حدیث کښې راځی چې یو انسان د دوو کسانو خبرو کښې بغیر د هغوی د اجازت نه مداخلت کوی نو د قیامت په ورځ به د دې انسان په غوږونو کښې تامبه سیسه ویلې کړے شی اوکه په مجلس کښې درې کسان وی نو دوه کسان به په خبرو سره نه جدا کیږی ځکه دغه بل انسان به دا ګمان کوی چې دوی ماپسې خبرې کوی که څلور کسان وی دوه دوه مشغوله وی نو بیا جائز دی که میلمه رخصت کولے شی نو د څه ځائے پورې د هغهٔ سره تلل دا هم ادب دے.

والحمد لله رب العالمین

# اداب بندګی (۷)

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبٰى وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ وَابْنِ السَّبِيْلِ﴾ (النساء:۳۶)

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ لَا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ﴾ (رواه احمد)

## د شریعت مقاصد او ادب:

د اسلامی ادابو متعلق خبره شروع وه چې دین اسلام مسلمانانو ته په هر قدم باندې د ادابو تعلیم او تاکید کړے د دې ادابو په پابندۍ کښې ژوند تیرول اصل ژوند او کمال او جمال دے د انسان د پاره د کامل انسانیت علامه اونبسه ده دا شریعت اسلامیه چې زمونږه نه د ادابو مطالبه کوی دا یو اضافی ، فضول ، عبث څیز نه دے دا د شریعت په مقاصدو کښې شامل دی دا یو اختیاری حکم نه دے چې د هغې عملی کول یا نه عملی کول یو برابر وی نا داسې نه ده او نۀ داسې ده که انسانورباندې عمل کوی نو اجروثواب ورته ملاؤ شی اوکه عمل ورباندې نه کوی نو څه ګناه نشته جرم نه دے دا اداب د شریعت لازمی حکم دے او د شریعت په مقاصدو کښې په ادابو باندې عمل کول شامل دی او دا د شریعت اسلامیه اصل روح رواه دے امام قرافیؒ په خپل کتاب ( الفروق) کښې د ادب او عمل په مینځ کښې نسبت او فرق ښودلے دے چې ادب څه څیز دے او عمل څه څیز دے نو هغه وائی ادب ته په عمل باندې فوقیت حاصل دے او لږ شان ادب د ډیر عمل نه زیات بهتر اوغوره دے د عمل نه مراد فرض مونځ حج روژه زکوة مراد نه دے بلکه د عمل نه مراد نفلی

عبادات ذکرواذکار مراد دی دغه ډیر نفلي عبادات دي نه وی خو دا چې په انسان کښې ادب وی ځکه که نفلي عبادات ډیر زیات وی نو د بے ادبۍ د وجې نه دغه نفلي عبادات تباه وبرباد کیږی یو بل عالم خپل ځوی ته وصیت کوی او دا خبره ورته په وصیت کښې کوی چې د خپل عمل نه مالګه جوړه کړه او د ادب نه وړۀ جوړ کړه یعنې عمل دې لږ شان عمل وی خو چې ورسره ادب زیات وی نو د ادب سره عمل برابر وی نه ضائع کیږی .

## د ادابو حیثیت:

ځومره چې ادب د اهمیت واله او ضروری حکم دے نو بل طرف ته دومره زمونږه معاشره د ادب نه خالی شوې ده، هر طرف ته د کشر مشر لحاظ نشته ناسته ولاړه د شریعت مطابق نه ده د بےادبۍ سره د انسان شخصیت مجروحه کیږی او د ادب سره انسان ته په معاشره کښې ښۀ د انصاف واله نظر کیدے شی بل طرف ته ځومره چې مسلمان د ادابو نه لرې شوے دے نو کافر دغه اداب خپل کړې دی.

## د ګاونډی اهمیت:

په دې اسلامی ادابو کښې یوه مسئله د کور ذاتی مسئله ده او دویمه د ګاونډی متعلق خبره ده د قرآن کریم په دې ایت کښې الله د ګاونډی اداب ذکر کوی ځکه انسان ته د خپل کور والو نه بعد قریبی انسان هغه د دۀ ګاونډی دے د رشته دارۍ په بنیاد به رشته دار نزدې وی خو د سکونت په اعتبار ورته دغه ګاونډی ډیر نزدې دے د دې پړوسی سره قرب اونزدیکت د وجې نه قرآن او سنت د ګاونډی سره د حسن سلوك او د ښۀ اخلاقو لوې تاکید کړے دے د مور پلار نورو رشته دارنو

نه بعد په دې ایت کښې الله د ګاونډي د حق ذکر کړے دے ﴿وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبٰى وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ وَابْنِ السَّبِيْلِ﴾ (النساء:٣٦) لکه ځنګه چې د مور پلار حقوق دی دغه شان احسان او ښیګړه به انسان د قریبي رشته دار ګاونډي او هغه ګاونډ واله چې رشته دارنه وی او ورسره د اړخ واله ملګرے دا درې مرتبې دی د دې به انسان خیال ساتی.

## د ګاونډي حقوق:

د صاحب جنب نه مراد یا وقتی ملګرے دے لکه په کلاس کښې، سفر کښې، تعلیم ګاه اداره کښې، ستا ملګرے وی نو د دې نه مراد یا دا دے نو دا درې قسمه دی یو دوه حقونه لری د رشته دارۍ حق او د ګاونډي کیدو واله حق دویم صرف د ګاونډي کیدو حق لری چې مستقل ګاونډي وی دریم عارضی وقتی ګاونډي مراد دے چې د هغه حق دے د حقوقو ادابو په لحاظ سره په دې کښې هیڅ فرق نشته ها درجه کښې فرق کیدے شی د چا درجه به اوچته وی او څوك به لاندې درجې واله وی د دغه درجو په لحاظ سره د دوی حقوق مقرر شوې دی تر دې پورې که مسلمان ګاونډي دے نو د هغهٔ خپل حق دے او که غیر مسلم ګاونډي دے نو د هغهٔ خپل مستقل ذاتی حق دے. یو ځل عبدالله بن مسعود رضی الله عنه یو چیلے حلال کړے وو خپلې بی بی ته وائی دا په دې ګاونډ والو کښې تقسیم کړه کله چې هغهٔ ته پته اولګیده نو بی بی ته وائی چې تاسو هغهٔ فلانی یهودی ګاونډي ته ولے حصه نه ده ورکړې د هغوی د ګاونډیتوب حق دے اُم المؤمنین عائشه رضی الله عنه وائی چې نبی علیه السلام فرمائی ماته جبرئیل علیه السلام د ګاونډي په باره کښی دومره زیات وصیتونه کړی دی چې زما سره ویره پیدا شوه هسې نه چې دا راسره په میراث کښې شریك نه کړے شی ځکه میراث صرف نسبی وارث اخلی

نو اشاره ده دې خبرې ته چې د ګاونډي ډير لوې حق دے . او يو حديث کښې راځی نبی عليه السلام درې ځله دا خبره کړې ده ﴿وَاللّٰهِ لَا يُؤْمِنُ﴾ قسم په الله مومن نه دے ، قسم په الله مومن نه دے قسم په الله مومن نه دے صحابه ورته وائی يا رسول الله دا څوك دے دا کومه غټه ګناه ده نبی عليه السلام ورته وائی ﴿مَنْ لَا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ﴾ (بخاری) دا هغه انسان چې ګاونډی د دهٔ د تکليف نه په امن کښې نه وی مطلب خپل ګاونډی ته تکليف ورکوی او په يو حديث کښې راځی دغه انسان جنت ته داخل کيدے نشی کوم انسان چې د خپل ګاونډ والو ته تکليف ورکوی نو د دې حديث نه معلومه شوه چې ګاونډی ته تکليف ورکول لوې غټه ګناه ده د کامل مسلمان علامه دا وی چې د هغهٔ ګاونډی د هغهٔ نه مطمئن وی چې دا ما ته څه تکليف نه راکوی.

## کامل مؤمن:

يو انسان لکه څنګه چې خپل ګاونډی ته به تکليف نه ورکوی دغه شان دغه ګاونډی سره به خير ښيګړه هر قسمه تعاون کوی ښهٔ سلوك او ښهٔ اخلاق به ورسره کوی لکه حديث کښې راځی :﴿ مَا أٰمَنَ بِيْ مَنْ بَاتَ شَبْعَانَ وَجَارُهُ جَائِعٌ إِلَى جَنْبِهِ وَهُوَ يَعْلَمُ بِهِ﴾ (مجمع الزوائد)هغه انسان مومن نشی کيدے چې په خپله باندې موړ وی او د هغه ګاونډی د هغه طرف ته اوګے وی او دهٔ ته دَ دغه ګاونډی باره کښې معلومات وی چې دې ګاونډی اوږې شپه تيره کړې ده او دهٔ ورته څه څيز خوراك د پاره نه وی ورکړے نو دې انسان حقيقت د ايمان نه دے پيژندلے .

## بهترين انسان:

او يو بل حديث کښې راځی (وَخَيْرُ الْجِيرَانِ عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرُهُمْ لِجَارِهِ) (ترمذی) بهترين ګاونډی هغه دے چې د خپل ګاونډيانو سره ښه

وی غوره او بهتر سلوك ورسره كوې او بل روايت كښې دې چې څوك ګاونډی ته تكليف وركوی دغه انسان ماته تكليف راكوی او څوك چې ماته تكليف راكوی دغه انسان الله ته تكليف وركوی څومره خلق په دې معاشره كښې داسې شته دے چې هغوی ګاونډی ته په هر قسمه طريقه باندې تكليف وركول غواړی د ګاونډی عزت لوټ كوی حال دا دے چې په حديث كښې راځی كله چې تاسو غوښه پخه كړئ نو خوروا شوربه پكښې زياته كړے چې د ګاونډی د پاره پكښې حصه وی د دې وجې كوم انسان چې د هغوی د پاره په طعام كښې حصه نه كوی نو په داسې طريقه دې دغه خوراك تيار كړی چې ګاونډی ته د دې طعام خوشبو محسوس نشی هسې نه چې د هغوی دې خوراك ته زړۀ شوے وی نو تكليف به ورته ملاؤ شی.

## په ګاونډی باندې خاص شفقت:

بل دا چې انسان به په خپل ګاونډی باندې رحم او شفقت كوی بلكه عام مسلمانانو باندې به شفقت كوی لكه قرآن كښې الله خطاب كړے دے نبی عليه السلام ته : ﴿وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ﴾ (سورة الشعراء:۲۱۵) او يو حديث كښې راځی يو مسلمان د بل مسلمان رور دے نه به ورباندې ظلم كوی اونه به ورته تكليف وركوی او نه به دا مسلمان بل چاته د ظلم د پاره حواله كوی.

كه د ګاوندی څه ضرورت پيش شی لكه قرض وی منده تړه وی حادثه وی غم مصيبت ورباندې راشی نو په دې موقعو كښې به د هغۀ سره مدد كولے شی د هغۀ د پردې خيال ساتل هم ضروری دی كه خوشحالی اعزاز ومقام ورته حاصل شی نو مبارك باد ورته وركول كه د

خدمت موقع وی نو د هغه خدمت کول عام حالاتو کښې د هغۀ سره ناسته ولاړه کول تحفه تحائف ورته ورکول د هغۀ زيارت کول که کور کښې څوك نه وی مسافر وی نو د هغوی د کور خيال ساتل دا ټول د ګاونډی په حقوقو کښې شامل دی.

والحمدلله رب العالمين

# د اولاد تربيت (١)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا﴾ (سورة التحريم:٦)

## د مسلمان ذمه داري:

د قرآن پاك د يو ايت څه حصه تلاوت شو په دې كښې الله رب العزت مونږه او تاسو مسلمانانو ته خطاب كوى او ډيره اهمه خبره چې د هغې تعلق د آخرت سره دے او د آخرت د كاميابئ سره د هغې تعلق دے هغه خبره بيانوى اے مومنانو خپل ځان او خپل اولاد د جهنم د اور نه بچ كړئ دا د هر مسلمان ذمه داري ده بلكې هر كمزورې نه كمزورې ايمان واله مسلمان كه ولى نه وى خو هغه دا غواړى چې زۀ د جهنم نه محفوظ او بچ شمه او الله ما لره د جهنم نه پناه او حفاظت او امان راكړى خو څنګه چې په مسلمان د خپل ځان حفاظت لازم دے دغه شان ورسره يوه بله غټه ذمه داري دا ده چې خپل اهل وعيال اولاد به هم ورسره بچ كوى او د دې د پاره به پوره مكمل كوشش كوى نو دا دوه اهمې خبرې شوې يو د خپل ځان بچاؤ دويم د خپل اهل وعيال واله بچ كول دا په انسان لازم دى نن دا موضوع د اهل وعيال په باره كښې ده خاص كر د هغوى دينى اسلامى سوچ تعليم و تربيت سره تعلق لرى.

## د تربیت اوله مرحله:

دا مسلّمه خبره ده چې د انسان د پرورش او ترقۍ د پاره اوله مرحله د ماشوم والی مرحله ده څنګه چې دا خبره د فطرت مطابق ده دغه شان ماهرین نفسیات ټول په دې خبره متفق دی چې د ماشوم د ذهن مثال د یو خالی لوښی پشان دے په دې کښې چې انسان هر څه کیخودل غواړی نو دغه ذهن دا هر څه اخلی او د دې قبول کولو ته تیار وی بیاخپل د مستقبل ټول عمر او ژوند د هغې مطابق تیرول غواړی که ښه سوچ فکر وی اوکه بد سوچ فکر وی د کومو خلقو په باره کښې چې دوی ته څه خبره څه قصه او کهانی بیا نیږی نو دغه خبره اخلی او په مستقبل کښې د هغې مطابق روان وی دغه خبرې پخې شی بیا رورو د دې خبرو نه اخلاق کردار زده کوی او څه وخت بعد د دې ماشوم دغه خبرې عادت جوړے شی تر دې پورې چې دَ کوم کلی علاقې رشته دارانو سره محبت زده کړی نو تر مرګه پورې د هغه علاقې سره مور پلار رونړو سره محبت لری د کور نه واخله تر مسجد او بازار پورې د خبرونه عکس او صورت اخلی هغه خبرې ورته زده وی او بیا د هغې نه تر بیت اخلی د هغې مطابق خپل عمل کوی او ژوند تیرول غواړی دا وجه ده چې زمونږه په شریعت کښې د اولاد په تربیت باندې ډیر تاکید قرآن او سنت کړے دے.

## درې ضروری مقامات او تربیت:

د ماشوم والی نه که په سمه لاره باندې روان شی نو همیشه به دا انسان په صحیح لاره باندې روان وی اوکه د ماشوم والی نه په غلطه لاره روان شی یا د دې انسان غلط تربیت کیږی نو تر مرګ پورې به دا انسان په

غلطه لاره روان وی او بیا د تربیت د پاره درې مقامات کیدے شی یو د انسان خپل کور دے دویم سکول کالج مکتب دے د تربیت د پاره دریم مسجد او مدرسه د تربیت بنیادی او اهم مواقع دی ځکه مسلمان بچے به یا په کور کښې وی یا به سکول کالج کښې وی او یا به مسجد مدرسه کښې وی د دې نه به اثرات اخلی او په مستقبل کښی به په هغې باندې به روان وی که په دې ملك او په دې معاشره کښې دا درې مقامات د دې اصلاح اوکړے شی کور کښې صحیح ذهن سازی اوکړې شی په سکول معاشره کالج مکتب کښې تربیت ورکړے شی او مدرسه او جماعت مسجد خپل صحیح کردار ادا کړی نو ټول ملك او معاشره به په صحیح لاره باندې روان شی د دې اصل وجه د تعلیم کم والے نه دے بلکه د دې اصل وجه د تربیت نیشت والے دے تعلیم زیات دے خو تربیت نشته تعلیم کمال نه دے تر څو پورې چې ورسره تربیت یو ځائے شوے نه وی نن په سکول مدرسه کور کښې تعلیم شته دے خو اصل وجه دا ده چې ورسره تربیت نشته ځکه نن مونږه مجموعی لحاظ سره د نقصان طرف ته روان یو.

## د اولاد د حفاظت طریقه:

په کور کښې د تربیت ذمه داری د مور او د پلار ذمه داری ده چې دا به خپل بچے د جهنم د اُور نه بچ کوی د اُور نه بچ کول دا نه دی چې بچے د لاس نه اونسی او ځان طرف ته به هغه رانزدې کړی دا د اُور نه بچ کول نه دی بلکې د تعلیم او تربیت په طریقې سره به خپل بچے د اُور نه بچ کوی هغه لره به اسلامی ذهن سازی کوی د قرآن او سنت تعلیم به ورکوی دا د اُور نه بچ کول دی او انسان په دې طریقې سره د الله د عذاب نه بچ کیدے شی دغه شان عملی تربیت مور پلار که په خپل کور کښې څه کوی نو بچے هغوی ته نظر کوی او دغه عمل بخپله باندې کوی که مور پلار په جائے نماز باندې

ولاړ وی نو بچے دغه عمل کوی که مور پلار تې وی ته ناست وی د هغې نظاره ګوری نو ورسره بچے دغه عمل کوی اګر که څه احساس د نیکۍ او د بدۍ ورته نه کیږی که مور پلار د قرآن په تلاوت کښې مشغوله وی نو بچے هم دغه عمل کوی اوکه په یو کور کښې ګانې بجانې ډمامې رقص وی نو دغه بچے که احساس ورته نه کیږی نو خپل لاس خپې به حرکت کښې راولی او دغه فن به زده کوی په دې باندې به عملی مشق کوی. تر دې پورې که د کور نه باهر چرته په لاره باندې روان وی نو دغه حرکات به د دې ماشوم د بدن نه صادریږی او د دې عملی اظهار به کوی.

نن صبا د معاشرې د پاره زهر قاتل سمارټ فون دےچې مور پلار ورځ شپه په هغې کښې مشغوله وی نو بچے د ماشوم والی نه د هغې عادتی شی او د هغې په سکرین چې څه حرکات مخکښې راځی دغه حرکات زده کوی او تاثرورنه اخلی بلکې هر قسمه بے حیائی د هغې بنیاد دغه موبائیل سمارټ فون دے . دا ټول حرکات د بچی په ذهن باندې نقش کیږی اګر که د هغی په باره کښې ورته تلقین نه وی شوې د هغې د زده کولو حکم ورته نه وی شوے بیا هم د هغه ذهن دا یوه یوه خبره نقش کوی.

**د مورکردارډیر اهم دے:**

بیا په مور پلار کښې د مور لوې کردار دے د خپل بچی په تربیت کښې، ځکه د مور غیګه د بچی د زده کړې دپاره اوله مدرسه وی خو بد قسمتی دا ده چې کوم مور پلار پخپله د تربیت محتاج دی هغوی به په کومه طریقه د خپل بچی تربیت اوکړی د بچی په مخکښې یو ځائے تې وی سکرین باندې ګانې بجانې اوری نو بچې به څه تاثر د دې نه اخلی کوم پلار چې د بچی په مخکښې سګریټ څکی نشه کوی او بچے چې په ښه بده باندې

پوهیږی نو په دې عمل باندې به دهٔ شروع کړی وی که د کور په مینځ کښې د مور په سر باندې د حیاء لباس دوپټه نشته نو ماشوم لور به دا حرکت بغیر د خود لونه زده کوی او په دې باندې به عمل کوی بلکه د نن صبا سائنس واله دا دعوی کوی چې د مور پلار صفتونه بچی ته وراثتی طور سره نقل کیږی بچے د مور پلار نه دا صفات د حیاء بے حیائی بهادری بزدلی د میراث په طریقې سره نسلا در نسلا اخلی او په دې باندې روان وی دې وجې نه نیك خلق اسلاف د هغوی معمول دا وو که مور به خپل بچی ته پئ ورکول نو ورسره به مور په تلاوت یا ذکر کښې مشغوله وه نوبچی به دا اثرقبول کړو او د بچی عملی تربیت به شروع وو نو د جهنم نه خپل بچے بچ کول په دنیا کښې په اسلامی تربیت سره کیږی دا بنیاد دے.

او ورسره اسلامی تعلیم ورکړے شی نن صبا زمونږه سوچ او ذهنیت دا جوړ شوے دے چې زمونږه تعلیم د دنیا او پیسوګټلو د پاره وی دا غلطه نظریه او سوچ دے د تعلیم مقصد دا دے چې دا انسان اخلاق کردار سلوك رویّه او صحیح لاره او پیژنی او په هغې باندې روان شی دا د تعلیم اصل مقصد دے د اسلام په نظر کښې تعلیم د دې دپاره وی چې انسان ورباندې عمل کوی کار او روزګار روستو خبرې دی دا د انګریز سوچ دے.او دا غلط سوچ دے چې مونږه د انګریز نه اغستے دے دې وجې نه زمونږه اعلی تعلیم د څه حیثیت اومعیار قابل نه دے صرف د ډګرۍ حد پورې تعلیم دے او عملی هیڅ څه حیثیت نه لری.

او په اسلام کښې د تعلیم سره لازم څیز هغه تربیت دے په قرآن کښې چې د نبی علیه السلام کومې ذمه دارۍ بیان شوی دی په هغې کښې

يو دا ده ﴿وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ﴾ د قرآن تعليم به وركوى خو د تعليم سره ﴿وَيُزَكِّيهِمْ﴾ تربيت ورنه مراد دے ځكه ناقص تعليم بغير د تربيت نه وى صرف ډګرى د دنيا مقصد د پاره دا مكمل تعليم نه دے چې د ملك د قوم د انسانيت او مسلمان خدمت ورسره نه وى او صرف دنيا او خپل ځان مقصد وى دا تعليم فائده مند تعليم نه دے ځكه د مخلوق خدا خدمت په دې تعليم كښې مقصد نه دے او وجه دا ده چې تربيت ورسره نشته او دا تعليم د نجات نه بلكه كله د هلاكت د پاره يو انسان ته سبب جوړ شى ځكه الله دا ذمه دارى مور پلار ته وركړې ده چې خپل ځان او خپل بچى د جهنم د اُور نه بچ كړىاو دا به په تربيت سره وى.

والحمدلله رب العالمين

# د اولاد تربیت (۲)

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا﴾ (سورة التحريم:٦)

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ : عَلِّمُوا أَوْلَادَكُمْ وَأَحْسِنُوا أَدَبَهُم أَوْ كَمَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ﴾ (ابن ماجه)

## د مور پلار اهمه فریضه:

مخکښې نه د اولاد د تربیت په باره کښې خبره شروع وه چې دا یو اهم فریضه ده د مور پلار ، چې د خپلو بچو تربیت به کوی خو د دې فریضې او د دې حق نه اکثر والدین بے پرواه دی سره د دې نه چې فطری اخلاقی طبعی او شرعی لحاظ سره دا د مور پلار فریضه ده ځکه د بچی د تربیت د پاره درې مکانات دی چې د هغې شروع د مور پلار نه ده ځکه الله په دې ایت کښې ذکر کوی ﴿قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا﴾ اے مومنانو مسلمانانو خپل ځان او خپل بچی د جهنم د اُور نه بچ کړی۔ شیخ التفسیر احمد علی لاهوری رحمت الله علیه فرمائی چې عام مسلمانان نن د دې فریضې بلکه د فرض عین نه نا خبره دی د دې خبرو څه پرواه نشته ځکه نبی علیه السلام هم فرمائی ﴿عَلِّمُوا أَوْلَادَكُمْ وَأَحْسِنُوا أَدَبَهُم﴾ خپل بچو ته تعلیم ورکړۍ او دوی ته خائسته ادب تربیت ورکړي مجدد الف ثانی رحمت الله علیه فرمائی چې د اولاد په تربیت باندې دې مور پلار خپل

زړه نه تنګوی ځکه په دې کښې لوی اجر او ثواب دے او دا د مور پلار ذمه داری ده.

## د مغرب طور طریقې:

او بیا افسوس دا دے چې مورپلار د بچی په غلطه لاره روانولو کښې کردار ادا کوی د ماشوم والی نه انګریزی لباس د مغرب ویخته کور کښې ځائے په ځائے تصویران اویزان کول نو د ماشوم والی نه دا غلط تصورات د دې ماشوم په ذهن باندې نقش کیږی او هغه ورنه تأثر اخلی بیا چې کله یو ماشوم په دې طریقه طرز زندګی اختیار وی او په دې لاره باندې د روان کیدو کوشش کوې نو دا مور پلار سوچ نه کوی چې ایا زما دا بچے د دې خبرو او عاداتو په بنیاد دَ نیکۍ طرف ته روان دے او که د بدۍ یا د ګناه طرف ته روان دے نو د کور د ماحول نه واخله تر د قوم خاندان ملك معاشرې پورې هر څه د یورپ او د مغرب په طریقه کار باندې روان دې که چرته صرف انګریزی ژبه زده کول ضروری وی نو زمونږه نا پوهی دومره ده چې صرف د ژبې زده کولو د پاره د خپل بچی نه انګریز جوړولو ته تیار یو.

## د ګمراهۍ جدید اسباب:

د مور پلار د غفلت نه بعد بیا سوشل میډیا ټی وی فیس بك سمارټ فون وغیره دا ګمراهی ده چې مونږه د دې د وجې نه په غلطه لاره باندې روان یو او دغه څیزونه زمونږه د مستقبل حصه جوړیږی ځکه بچے د مور پلار په لاس کښې دا د ګناه څیزونه مشاهده کوی اوکه بچے په څه ښه بده باندې پوهه شی نو هغه پخپله بذات خود د دې څیزونو ښکار

شوے وی او په دې لاره باندې تلل غواړی چې په دې لاره باندې روان شی بل غم دا دے چې زمونږه په معاشره کښې د ماشوم د پاره د تعليم لباس پيزار د پاره خرچه شته دے خو د تربيت د پاره هيڅ خرچه نشته.

## د پيدائش سره د تربيت لحاظ ساتل:

د بچی د تربيت د پاره څه اصول دی چې يو انسان د دې اصولو لحاظ اوکړی الله به ورته اجر او بدله ورکوی او د دې انسان اولاد به الله نه ضائع کوی يوه دا خبره ده چې د بچی د تربيت مرحله به د پيدائش سره شروع کيږی بلکه د حمل د وخت نه به دا سلسله شروع کيږی دا د شريعت حکم دے او نن صبا ترقی يا فته سائنس دا خبره منی چې دغه وخت کښې د مور پلار څه صفات او عادات بچی ته منتقل کيږی او شريعت ورسره دا حکم کوی چې مورپلار به دغه وخت کښې د حرامو نه ناجائز څيزونو نه ځان لرې ساتی او دې ته به نۀ نزدې کيږی ځکه د حرام ناجائز غذاء په بچی باندې يو بد اثر کيږی دغه شان د گناه کار به نه کوی د کتاب مطالعه يا د قرآن تلاوت کښې به مشغوله وی زمونږه د اسلافو په تاريخ کښې دا خبره شته دے چې بچے د پيدا کيدو سره د قرآنی څو سورتو نو حافظ وی ځکه د هغه په ز ړه او دماغو کښې د دغه مورپلار د تلاوت دا آوازونه نقش شوی وی.

کله چې يو مور خپل بچی ته پۍ ورکوی نو په دغه حالت کښې به د گناه د حرام څيزونو نه ځان بچ ساتی نن مصيبت دا جوړ دے چې د بچی لوې حق د مور پۍ بچی ته نه ورکول کيږی ځکه د مور په ذهن کښې دا خبره وی چې د دې سره زما صحت ته نقصان رسيږی او دا مشاهده ده

چې کله کله د دغه مور سینې ته د کیسنر مرض اولیږی وجه دا وی چې بچی ته د هغه حق نه ورکوی بل دا چې کله ماشوم پیدا شی نو د پیدائش نه بعد څه کهجوره وغیره یو نیك بزرګ سړے په خپله خولهٔ کښې لمده کړی او بیا دې دغه د کهجورې اثرات د بچی په خلق پورې یو ځائے کړے شی نو دا سنت طریقه د دې اهتمام ورسره پکار دے.

## صحیح نوم کیخودل:

د بچی د تربیت سره تړلے شوې خبره دا هم ده چې مور پلار به خپل بچی ته صحیح برابر نوم ګدی لکه د پیغمبرانو نومونه دَ صحابو نیکانو اولیاو نومونه او یو روایت کښې راځی چې په کوم کور کښې د محمد په نوم باندې ماشوم وی نو دغه کور کښې الله خیر او برکت رانازلوی او دغه کور والو ته الله د جهنم د عذاب نه حفاظت ورکوی .زمونږه رواج دا جوړ شوے دے چې بچی ته هغه نوم کیخودلے شی چې په ډرامه فلم کښې وی یا د کرکټ یا بلې لوبې واله یو انسان د هغه نوم خپل بچی ته بطور فخر کیخودلے شی دا لوې جهالت دے چې کله بچے په کور کښې پیدا شی نو د شریعت احکام روستو کړے شی او غلط رسومات رواجونه د الله نافرمانۍ او د ګناه کارونو ته توجو ورکولے شی.

## د نیکو خبرو تعلیم ورکول:

بیا چې کله یو ماشوم د دې قابل شی چې خبرې کولے شی نو هغهٔ ته دې د خپل حقیقی خالق مالك نوم لفظ الله ورزده کړے شی بیا د دې نه بعد ورته لا اله الا الله کلمه وغیره نورې خبرې زده کړے شی زمونږه په دې معاشره باندې د باهر د طرف دومره لوې فکری غلبه ده چې کله

ماشوم د خبرو وخت ته نزدې شی نو هغه ته ماما پاپا وغيره نومونه زده کولے شی يا ورته ردې بدې خبرې کنځلې غلط نومونه ور يادولے شی نو د دې وجه دا وی چې هغه ماشوم بچے اسلامی روايات اقدار نه پيژنی هغه ته د سلام کولو فضيلت معلوم نه وی او نه د ماشوم والی نه د هغه عملی تربيت په دې سره شوے وی دا زمونږه فکری غلامی ده.

**اولاد ته ويره نهٔ ورکول** :

بل دا غلط سوچ دے چې ماشوم بے ځايه دباؤ کړے شی ويرولے شی نو هغه خپل غم خوری تر دې پورې چې بغاوت کولو ته مجبوره شی او کله د ډير وهلو د وجې نه کلك شی او د دې سره عادت شی کله د ډير ملامته کولو د وجې نه د هغه شخصيت مسخ شی دې وجې نه نبی عليه السلام وصيت داسې کړې وو چې (**لَا تَرْفَعْ عَنْهُمْ عَصَاكَ أَدَبًا**)(احمد) د ادب د وجې نه همسا مهٔ پورته کوه مطلب دا نهٔ دے چې هر کله په معمولی معمولی خبره وهل اوکړے شی نه بلکه عفو و درگزر کول د دې سره په بچی کښې دا صفت پيدا کيږی او د هغهٔ ذهن سازی کيږی او بچی ته دا عفو او درگزر خبره په نرمۍ سره مخکښې کول چې دا کار مهٔ کوه په دې سره الله ناراضه کيږی مور پلار خفه کيږی بد اثرات بے برکتی پيدا کيږی په دې طريقه به مور پلار د خپل بچی تربيت کوی .

والحمدلله رب العالمين

# اخلاق او حیاء

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْدُ !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿قال رسول الله ﷺ : إِنَّمَا بُعِثْتُ لأُتَمِّمَ مَكَارِمَ الْأَخْلَاقِ﴾ (اخرجه احمد)

﴿وقال رسول الله ﷺ: اَلْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الْإِيمَانِ او كما قال عليه السلام﴾ (متفق عليه)

## د اخلاقو او عقيدې تزکيه:

د نبي عليه السلام دوه ارشادات ذکر شو په دې کښې نبي عليه السلام د خپل بعثت دنيا ته بحيثيت پيغمبر راتلو مقصد بيانوی دنيا ته چې الله کله پيغمبر راليږلے دے نو د انبياؤ د بعثت ډير مقاصد دی په دې کښې يو اهم مقصد دا دے چې دنيا ته بهترين اخلاق خائسته معاشره د هغې تعليم ورکړے شی د نبي عليه السلام د بعثت په مقاصد و کښې يو اهم او ضروری مقصد هغه تزکيه نفس دے لکه ابراهيم عليه السلام چې کله د نبي عليه السلام د بعثت د پاره دعا غواړی نو د نبي عليه السلام د بعثت په مقاصدو کښې دا هم دی چې ﴿وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ﴾ (سورة البقرة:١٢٩) دوی ته به د الله د کتاب تعليم او د نبي عليه السلام د سنتو تعليم ورکوی او د دوی تزکيه نفس به ورسره کوی ځکه دا د پيغمبر د بعثت يو اهم مقصدے څنګه چې د عقيدې تزکيه ده دغه شان

د اخلاقو تزکیه هم ده انبیائے علیهم السلام چې ښنګه خلقو ته د عقیدې د پاك والی تعلیم ورکوی چې عقیده د شرك او کفر نه پاکه شی نو دغه شان ورته د اخلاقو په باره کښې هم تعلیم ورکوی چې بد اخلاق ناخوښ اخلاق ګنده اخلاق پرېږدلے شی او نیك خائسته بهترین اخلاق انسان خپل کړی او په دې باندې عملی پابند شی د توحید د محنت او دعوت نه بعد انبیائے کرامو په خپلو امتونو باندې د نیك او ښه اخلاقو محنت او پابندی کړې وه دا د انبیاؤ د بعثت مشترك مقاصد دی کومه عقیده توحید چې نورو انبیاؤ امتونو ته ښودلې وه هم دغه توحید نبی علیه السلام خپل امت ته ښودلې ده او کوم عبادات چې نورو انبیاؤ خپلو امتونو ته د هغې تعلیم ورکړے وو دغه شان نبی علیه السلام هم خپل امت ته د عباداتو تعلیم ورکړے دے او کوم اخلاق چې نورو انبیاؤ امتونو والو ته ښودلې دی دغه شان اخلاق نبی علیه السلام هم خپل امت ته خودلي دی خو د دې ټولو عقائدو تکمیل او د عباداتو تکمیل او د اخلاقو تکمیل بیا الله رب العزت د خپل آخری پیغمبر محمد رسول الله صل الله علیه واله وسلم په زریعه سره کړے دے ځکه ملت او دین ټول یو دے د ادم علیه السلام نه واخله تر د نبی علیه السلام پورې دین یو دے خو شریعتونه مختلف دی او د دې ټولو تکمیل الله د نبی علیه السلام د بعثت په صورت کښې پوره کړے دے ځکه الله په قرآن کښې وائی ﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ﴾ نن ورځ ما ستاسو دا دین اسلام پوره کړو نو دا مکمل او کامل دین الله په نبی علیه السلام سره پوره کړے دے دغه شان اعلی او بهترین اخلاق د هغې کمال بیا الله رب العزت په نبی علیه السلام سره کړے دے الله خپل

پیغمبر صل الله علیه واله وسلم ته داسې اخلاق ورکړی دی چې داسې اخلاق بل امت والو ته نه دی ملاؤ شوې.

## د پیغمبر ﷺ اخلاق:

په قرآن کښې الله رب العزت خپل پیغمبر ته خطاب کوی ﴿وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ﴾ اے زما پیغمبره ته د لوې اخلاقو خاوند ئې الله تا لره لوې اخلاق درکړی دی که یو طرف ته پیغمبر ته الله لوې اخلاق ورکړے دی نو بل طرف ته د دغه اخلاقو تعلیم پیغمبر صل الله علیه واله وسلم خپل امت ته هم ورکړے دے ﴿ إِنَّمَا بُعِثْتُ لِأُتَمِّمَ مَكَارِمَ الْأَخْلَاقِ ﴾ الله زما بعثت د دې د پاره کړے دے چې د نیك اوښه اخلاقو تکمیل اوکړے شی د ټولو انبیاؤ اخلاق نیك اخلاق وو خو د دغه نیك او ښه اخلاقو مکمل کیدل دا الله نبی علیه السلام ته ورکړې وو د ښه او نیك اخلاقو پوره والے الله دې پیغمبر ته ورکړې وو.

## د یورپ غلطه دعوی:

دا د یورپ والو غلطه دعوی ده چې یورپ خلقو ته د نیك اخلاقو تعلیم ورکړے دے او د انقلاب فرانس نه بعد دنیا کښې ښه اخلاق او د هغې پر چار شوے دے دا غلطه او بے بنیاده خبره ده ځکه د انقلاب فرانس ټول دوه سوه کاله عمر دے او نبی علیه السلام د دې اخلاقو په باره کښې څوارلس سوه کاله مخکښې خپل امت ته د دې تعلیم ورکړے دے د پیغمبر صل الله علیه واله وسلم د بیان نه بعد په دې کښې هیڅ د زیادت او د نور بیان کیدو ضرورت نشته.

## د اخلاقو عملی تعلیم:

د اخلاقو عملی پابندی او تعلیم دومره ضروری دے چې یو انسان بحیثیت انسان په خپل ذاتی ژوند کښې کامیاب کیدے نشی ترڅو پورې چې دا انسان د دې نیك اعمالو او ښه اخلاقو پابند نه وی او نه په دینی ژوند کښې ترقی کوے شی تر څو پوری چې د ښه اخلاقو خاوند نه وی جوړ شوے ځکه نبی علیه السلام فرمائیلی وو ﴿**أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحسَنُهُم خُلُقًا**﴾ د پوره ایمان واله مومنان هغه دی چې د چا اخلاق نیك او ښه اخلاق دی مطلب د انسان په ایمان باندې د اخلاقو لوې اثر دے.

## ښه اخلاق او حیاء:

اخلاق څه ته وائی دا یوه لوې موضوع ده او بیا حسن اخلاق څه ته وائی نو دا په خپل ځائے یو لوې بحث دے لکه په دې حسن اخلاق کښې صبر،شکر،تواضع،زهد،قناعت،نرم مزاجی، ښه کلام، ښه رویه، رضا بالقضاء ،ایثار، انصاف، سخاوت او رحم وغیره.

او د دې نیك او ښه اخلاقو یو بنیادی صفت حیاء ده حیاء د دې ټولو اخلاقو سر چشمه ده د دې وجې نه یو خو دا حیاء د انسان فطری صفت دے چې فطرتًا د پیدائش سره الله په دې انسان کښې د حیاء صفت کیخودلے دے او دا حیاء واله صفت چې څومره په یو انسان کښې زیات وی نو دومره دې انسان ته په معاشره کښې د عزت او وقار په نظر باندې کتلے شی او څومره چې یو انسان د دې نه خالی وی دغه انسان ته دومره د ذلت او بے قدرۍ په نظر ورته کتلے شی.

## ایمان او حیاء:

حیاء څه ته وئیلے کیږی نو دا یو فطرتی صفت دے چې انسان ته د دې په بنیاد د هر بد کار بد ښکاری او د هغې نه نفرت کوی او د هر

عیب نه ځان ساتی دې وجې نه حدیث کښې راځی ﴿اَلْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الْإِيمَانِ﴾ (مسلم) حیاء د ایمان یوه حصه ده ځکه د حیاء او د ایمان یو لوې بنیادی تعلق دے خپلو کښې ایمان داری او حیاداری لازم و ملزوم دی او په یو بل حدیث د بخاری شریف کښې راځی ﴿اَلْحَيَاءُ لَا يَأْتِي إِلَّا بِخَيْرٍ﴾ (مسلم) حیاء یو داسې ښه صفت دے چې همیشه په دې سره انسان ته خیر او نیکی حاصلیږی او د شر او د بدۍ نه انسان لرې کوی او په یو بل روایت د بیهقی کښې راځی﴿إِنَّ لِكُلِّ دِينٍ خُلُقًا﴾ د هر دین یو خاص امتیازی خصوصیت وی ﴿وَخُلُقُ الإِسْلَامِ الْحَيَاءُ﴾ (التمهید) او د دین اسلام بنیادی ښه نیك صفت هغه حیاء ده چې انسان به حیاء ناك وی دا د مسلمان په بنیادی صفاتو او خصوصیاتو کښې شامل دی او په یو بل حدیث د بیهقی کښې راځی چې ﴿إِنَّ الْحَيَاءَ وَالإِيمَانَ قُرِنَا جَمِيعًا﴾ (الترغیب والتراهیب) دا حیاء او ایمان د یو بل سره قرینان دی ملګری دی دا د یو بل نه نه جدا کیږی نه لرې کیږی دا لازم او ملزوم دی که یو انسان کښې پوره ایمان وي نو حیاء دار به وی اوکه پوره ایمان نشته نو حیاء به نه وی ﴿فَإِذَا رُفِعَ أَحَدُهُمَا رُفِعَ الآخَرُ﴾که چې یو په دې کښې د انسان نه لرې شی نو دغه بل ورسره خودبخود لرې کیږی نن که یورپ او مغرب بے دینه دے وجه دا ده چې حیاء پکښې نشته.

## د حیاء فطری صفت:

دا حیاء په انسان کښې څنګه راځی نو یو خو دا فطری صفت دے لکه یو ماشوم چې څنګه د څه کارونو نه منع کیږی ځکه د هغه سره پیدائشی دغه صفات فطرتا پیدا شوی وی او دغه وجه ده چې کله یو انسان فطرتی بعض قسم کارونه کیدل نه،غواړی لکه خپل عورت نه بے پردې کوی ځکه وجه دا ده چې دا فطرتی صفت دے او د دې بنیاد حیاء

ده . او کوم انسان چې شرمګاه یا خپل عورت د هغې پرده نه کوی نو معلومه شوه چې دا انسان نه دے بلکې د انسانیت د فطری قانون نه دۀ اعراض او انحراف کړے دے لکه مغرب او یورپ واله ځکه د هغوی انسانیت مسخ شوے دے.

## د الله نه حیاء کول:

دا فطرتی حیاء ده او یو د اسلام حکم دے د حیاء په باره کښې د اسلام تقاضه ده چې انسان به حیاء ناك وی او دغه اسلامی حیاء دوه قسمه ده یو د الله نه حیاء کول دویم د عام انسانانو نه حیاء کول دی د عام انسانانو نه حیاء کول د اسلام حکم دے او دا هم د انسان نه مطلوب ده خو حقیقی او بنیادی حیاء هغه د الله رب العزت نه حیاء کول دی او کله چې د الله نه حیاء پیداشی نو د انسانانو نه حیاء به ورکښې خودبخود موجود شی نن مغرب او یورپ واله څه نه څه د انسانانو سره حیاء واله صفت باندې عمل کوی خو د الله رب العزت نه حیاء نه کوی هغوی د الله واله حیاء روستو پریخودې ده ځکه په هغوی کښې په کاملې طریقې سره حیاء نشی راتلے که یو طرف ته دا خبره کوی چې لاره دې صفاء وی انسان دې د خپل بدن د صفائۍ خیال کوی خو بل طرف د زنا برسرعام پرچار او دعوت ورکولے کیږی نو اصل او بنیادی حیاء د الله واله حیاء ده چې انسان که څوك وی او که څوك نه وی که ځان له وی اوکه د خلقو په مینځ کښې وی نو دا انسان به د الله نه حیاء کوی او بدکار به نه کوی.

## د الله نه د حیاء مطلب:

په حدیث د ترمذی او مسند احمد کښې دی چې نبی علیه السلام یو ځل په یو مجلس کښې ناست وو او دا خبره نبی علیه السلام صحابو ته کړې وه چې ﴿اسْتَحْيُوا مِنَ اللَّهِ حَقَّ الْحَيَاءِ﴾ د الله نه پوره پوره حیاء کوئ

صحابه کرامو عرض اوکړو ﴿إِنَّا لَنَسْتَحْيِي وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ مونږه د الله نه حياء کوو الحمد لله نبي عليه السلام ورته وائی ﴿لَيْسَ ذَاكَ﴾ چې دغه حياء په باره کښې نه وائمه چې څه ستاسو په ذهن کښې موجود ده ليکن د الله نه حقه حياء هغه دا خبرې دی يو دا﴿وَلَكِنَّ الاِسْتِحْيَاءَ مِنَ اللّٰهِ حَقَّ الْحَيَاءِ﴾ څوك چې د الله نه حق حياء کوی نو يو دې د دې خبرې خيال ساتی ﴿تَحْفَظَ الرَّأْسَ وَمَا وَعَى﴾د خپل سر حفاظت دې کوی او څه اندامونه چې په دې کښې الله کيخودلي دی د دې حفاظت دې کوی لکه سترګې غوږونه ژبه وغيره د دې اندامونو حفاظت دې کوی او دويمه خبره دا چې ﴿وَتَحْفَظَ الْبَطْنَ وَمَا حَوَى﴾ د خپلې خيټې حفاظت دې کوی او هغه څه چې د خيټې سره يو ځائے دی لکه حلال حرام خوراك يا د زړه صفائی وغيره او بله خبره دا ده چې ﴿وَتَتَذَكَّرَ الْمَوْتَ وَالْبِلَى﴾ مرګ دې يا دوی او د مرګ نه بعد ريزه ريزه کيدل دې دا انسان خپل ځان ته يا دوی او څلورمه خبره ﴿وَمَنْ أَرَادَ الآخِرَةَ تَرَكَ زِينَةَ الدُّنْيَا﴾ څوك چې د آخرت اراده لری نو هغه انسان به د دنيا خواهشات او زينت پريږدی ﴿فَمَنْ فَعَلَ ذٰلِكَ فَقَدِ اسْتَحْيَا مِنَ اللّٰهِ حَقَّ الْحَيَاءِ﴾ (ترمذی) څوك چې دا څلور کارونه کوی نو دې انسان د الله نه پوره برابره حياء کړی ده او دا انسان په حقيقت کښې د الله نه حياء کوؤنکے انسان دے. والحمد لله رب العالمين.

# روحانی بیماریانی

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿قال رسول الله ﷺ: أَلَا وَإِنَّ فِي الْجَسَدِ مُضْغَةً إِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الْجَسَدُ كُلُّهُ، وَإِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهُ، أَلَا وَهِيَ الْقَلْبُ او كما قال عليه السلام﴾ (اخرجه الشيخان)

## د زړه حیثیت :

د نبی علیه السلام یو حدیث مبارك ذكر شو په دې كښې نبی علیه السلام فرمائی چې د انسان په جسم كښې د غوښې یوه ټكړه ده یوه حصه ده كله چې دغه وړوكی ټكړه صحیح سلامت وی نو د انسان ټول جسم به په صحیح لاره باندې روان وی او كله چې په دغه ټكړه كښې فساد او خرابی پیدا شی نو د دې سره د انسان ټول مكمل وجود كښې خرابی او فساد راشی نبی علیه السلام بیا فرمائی چې دغه بنیادی ټكړه د انسان زړۀ دے د انسان زړۀ اصل څیز دے او د انسان د ټول بدن اندامونو د پاره د بادشاه او سردار حیثیت لری لكه څنګه چې بادشاه او سردار څنګه حكم كوی رعیت او قوم واله خلق په هغې باندې عمل كوی دغه شان د انسان زړۀ چې دې نورو اندامونو ته څه حكم یا مشوره یا پیغام وركوی نو دغه نور اندامونه د دې زړه د حكم پابند وی د زړه حكم او ارشاد پوره كوی او په هغې باندې عمل كوی كه زړه لاس ته د یو كار په

باره کښې حکم کوي نو لاس هغه کار کوي که خپې ته د يو کار په باره کښې حکم کوي نو خپه هغه طرف ته قدم اخلی که ژبې ته څه حکم کوي نو ژبه هغه خبره کوي که غوږ ته څه حکم کوي غوږ هغه خبره اوري اوکه بل اندام ته يو حکم کوي نو دغه اندام هغه کار کوي ځکه نبي عليه السلام فرمائی چې زړهٔ د يو بادشاه په شان مثال لری او که د انسان د جسم دا ټکړه صحيح شی نو ټول جسم به ورسره صحيح شی اوکه دا ټکړه خرابه شی نو د انسان ټول جسم به ورسره خراب شی فساد او نقصان به ورکښې پيدا شی.

## د زړهٔ او روح تعلق:

دا وجه ده چې زمونږه په شريعت کښې د باطن په اصلاح باندې ډيره زياته توجو ورکړے شوې ده او انسان د دوؤ څيزونو نه جوړ شوے دے يو جسم دے بل روح دے جسم څه نه څه اهميت لری هو د انسان روح هغه ډير اهم او بنيادی څيز دے او دا ځکه چې کله يو انسان مړ شی نو جسم لاش انسانی بدن خپه لاس غوږ سترګې هغه سره موجود وی په دې کښې هيڅ څه کمے نه وی راغلے تمام وجود سلامت وی خو سره د دی نه ورته مړے وئيلے کيږی او په څه فائده پکار نه راځی خلقه دغه لاش په خاورو کښې دفن کوی ځکه د روح د جدا کيدو سره د دې بدن فائده ختمه شی او دا جسم انسانی فضول بے کاره باقی وی د دې هيڅ څه فائده نه وی نو ځکه روح ډير اهم او بنيادی څيز دې او ځکه زمونږه شريعت د روح او باطن په اصلاح باندې زياته توجو ورکوی او د دې روح سره بنيادی تعلق لرونکے څيز هغه د انسان زړهٔ دے که د انسان زړهٔ په

صحیح لاره روان شی نو ټول انسانی بدن به په سیدها او صحیح لاره باندې روان وی.

## د روح او جسم مشترکه صفات:

او څنګه چې دې انسانی جسم ته مختلف قسم بیماریانې او مرضونه لری دغه شان د انسان روح سره مختلف قسم مرضونه او بیماریانی یو ځائے کیږی جسم سره چې څنګه ښه او بد صفات یو ځائے کیږی دغه شان د انسان روح ته هم ښه او بد صفات یو ځائے کیږی او څنګه چې د انسان د جسم حسن او خائسته والے دے دغه شان د دې حسن او جمال واله صفات د انسان روح ته هم ورکولے شی.

او لکه څنګه چې الله د عباداتو متعلق مونږه ته ظاهری جسمانی عباداتو په باره کښې حکم کړے دے دغه شان الله مونږه ته باطنی روحانی عباداتو په باره کښې هم حکم کړے دے په جسمانی عباداتو کښې مونځ دے مثال په طور په دې کښې ولاړه ده رکوع ده سجده ده وغیره نور څه صفات دی دغه شان روژه کښې به صرف د انسان ظاهری بدن استعمالیږی د دې جسمانی عباداتو د پاره الله احکامات رالیږلے دی په دې کښې څه عبادات د زړهٔ د صحیح والی سره تعلق لری د هغې د صفا کیدو د پاره دی بعض عبادات داسې دی چې هغه د ظاهر نه په باطن باندې یو خپل اثر کوی که په ظاهری طور طریقه کښې دا عبادات اختیار کړے شی نو د انسان باطن ورسره صحیح شی او بعض داسې عبادات دی چې د هغې ابتداء او شروع د باطن نه کیږی خو آخری نتیجه دا وی چې د انسان ظاهر ورسره برابر شی او د دې اصلاح ورسره کیږی.

## عاجزي او تواضع:

افسوس دا دے چې ظاهري عباداتو باندې زمونږه څه نه څه نظر شته دے خو باطني عبادات باره کښې زمونږه سره هیڅ سوچ فکر نشته په دې باطني عباداتو کښې یو عاجزي تواضع دی ، دا تواضع عاجزي څه څیز دے بعض خلق دا ګمان کوي چې تواضع دې ته وائی که میلمه د یو انسان کور ته راشي نو د هغه خیر خوائی کول دې ته خاطر تواضع وائی دا بد څیز نه دے دا هم ښه څیز دے خو دا تواضع نه ده څه نور خلق تواضع دې ته وائی چې یو انسان ته د تعظیم د وجې نه سر خکته کړي دا هم تواضع نه ده ځکه په حدیث کښې د دې نه منع راغلې ده یو صحابي د نبي علیه السلام نه تپوس کړے وو چې د الله پیغمبره په مونږه کښې بعض خلق نورو ته انحناء کوے شي سر خکته کوے شي نبي علیه السلام ورته جواب ورکړو ﴿لَايَنحنِيْ اَحَدٌ اِلٰى اَحَدٍ ﴾ (الصحیحة) هیڅ یو انسان به بل انسان ته سر نه خکته کوي .

تواضع یو جدا څیز دے چې د هغې تعلق د انسان د باطن سره دے هغه دا چې په زړهٔ کښې عاجزي خاکساري وي تکبر لوې والے په زړه کښې نه وي بلکې د الله عظمت او د الله خوف په دې انسان کښې وي نو دا تواضع ده که د دې انسان په زړهٔ کښې عاجزي او تواضع وي نو بیا به د دې اثرات د انسان په ظاهري جسم او اندامونو باندې ښکاري اوکه زړهٔ کښې عاجزي نه وي نو په ظاهره باندې ورسره د دی اثرات هم مشاهده کولے شي دې وجې نه نبي علیه السلام به دا دعا کوله: ﴿اَللّٰهُمَّ

**اجْعَلْنِي فِيْ عَيْنِيْ صَغِيْرًا، وَفِيْ أَعْيُنِ النَّاسِ كَبِيْرًا﴾** الله زما دا نفس ماته وړوکے ښکاره کړې او دا کمال دے چې انسان ته خپل ځان کمزورے بے وسه ناتوان ښکاری او د خلقو په نظر کښې الله دۀ لره عزتمند او لوې مقام ورکړی وی زمونږه معامله بالعکس ده مونږه ته خپل ځانونه غټ او د لوې مقام واله ښکاری دا کوشش کوو چې خپل نفس او خپل ځان غټ کړو دغه وجه ده چې الله بيا داسې انسان د خلقو په نظر کښې د خلقو په سترګو کښې کمزورے او ذليله کړی هيڅ وقار او عزت د دې انسان په باره کښې نه لری او نه ورته ښه نظر څوك کوی بلکې بد نظر ورته کوی او هر انسان د دۀ نه شکايت لری دا د شريعت مطالبه ده چې انسان ته به خپل ځان کمزورے ښکاری د خپل ځان د لوې والی او تکبر دعوی به نه کوی بلکې د يو غلام په نظر باندې به خپل ځان ته نظر کوی دا دعوی به نه کوی چې زۀ لوې طاقتور يمه زه غټ پوهه عالم يمه زما نه په دې دنيا کښې لوې عقلمند نشته دا ټول خلق زما مقام او مرتبې ته نشی رسيدے دا نور انسانان زما سره برابر کيدے نشی وغيره دا د لوئۍ او تکبر خبرې به نه وی او نه به د دې په باره کښې تصور او فکر کوی.

## اخلاص د زړه عبادت دے:

دويم د زړه او د باطن واله عبادت هغه اخلاص دے که يو انسان مونځ کوی اوکه حج ته روان وی که زکوة ادا کوی اوکه د جهاد په لاره کښې د کافرانو سره جنګ کوی اوکه د روژې په حالت کښې وی نو دا ټول عبادات به صرف او صرف د الله د رضا د پاره کوی په دې کښې به شهرت مقصد نه وی خپل ځان ته ښه نيك سړے وئيل يا دا ظاهر کول به

نه وي په الله باندې به د دې احسان نه کوي بلکې د الله احسان به په خپل ځان باندې لازم ګڼړي او همیشه به د دې په باره کښې د دې انسان ذهن حاضر وي .زړه به خراب نه وي نیت اراده به غلطه نه وي.

## شکر ګزار کیدل:

بل د زړهٔ ښه صفت دا دے چې انسان به په هر حالت کښې د الله شکر ګزار بنده وي که الله ورباندې یو نعمت کړے وي که هغه وړوکے نعمت وي اوکه هغه لوې نعمت وي په دې هر حالت کښې به دا انسان د الله شکر ګزار وي د خپل رب نا شکري به نه کوي نن مسئله دا ده چې د الله شکر د الله په راکړے شوي نعمتونو باندې نشتې د الله بے شماره نعمتونه که انسان ښي طرف ته ګوري که ګس طرف ته ګوري که لاندې ګوري که بره نظر کوي نو د الله قسم قسم نعمتونه ورته په نظر باندې راځي د الله د طرف نه نعمت شته دے خو د بنده د طرف نه شکر نشته بلکې ناشکري، ګله او شکوه ده.

## صبر ناک جوړیدل:

بل د زړهٔ صفت هغه صبر دے که انسان باندې هر قسم حالت وي صبر به کوي که مصیبت تکلیف راشي که غم وي اوکه نور څه حالات پیدا شي دا انسان به د الله د طرف نه په فیصلې باندې صبر کوي که یو تکلیف راشي نو صبر به کوي او عقیده او نظریه به لري چې دا هر څه د الله د طرف نه دي الله په خپل بنده باندې هیڅ ظلم زیاتے نه کوي که په بنده باندې څه غم یا تکلیف راځي نو د الله په دې کښې خپل حکمت او لوې راز پروت وي خو بنده ته د کم علمۍ او جهالت د

وجې نه د دې احساس نه کیږی حدیث کښې راځی چې الله په خپل بنده باندې د اویاؤو موریانو نه زیات رحم او شفقت کوی. د یوې مور شفقت مونږه او تاسو مشاهده کړے دے که یو انسان سوچ اوکړی د اویاؤو موریانو به څومره شفقت او رحم وی نو الله په خپل بنده باندې هیڅ ظلم او زیاتے نه کوی انسان به د الله په فیصله باندې بے صبری نه کوی په دې کښې به خیر وی مصلحت به وی او د الله حکمت به وی.

## د جسمانی او روحانی عباداتو موازنه:

داسې نور ډیر عبادات چې هغه د زړهٔ د اصلاح سره تعلق لری څنګه چې په انسان باندې مونځ فرض دے دغه شان د زړهٔ عبادت عاجزی او تواضع په انسان باندې فرض ده او څنګه چې په انسان باندې روژه فرض ده دغه شان وربانديې اخلاص فرض دے او څنګه چې وربانديې حج فرض دے دغه شان وربانديې صبر لازم دے او څنګه چې وربانديې زکوة فرض دے دغه شان وربانديې د الله شکر فرض دے دا د زړهٔ عبادات دی الله چې څنګه جسمانی عبادات لازم کړی دی او د هغوی په باره کښې مونږه او تاسو ته الله حکم راکړے دے دغه شان الله په مونږه باندې روحانی باطنی عبادات لازم کړی دی او د دې په باره کښې الله حکم کړے دے.

بد قسمتی دا ده چې څه نه څه مونږه ته ظاهری عبادات معلوم دی خو د باطنی عباداتو نه مونږه په غفلت کښې یو د صبر شکر اخلاص عاجزۍ د فرضیت نه مونږه ناخبره او جاهله یو او د دې نتیجه دا ده چې

زمونږه په زړهٔ کښې فساد او نقصان پيدا شوے دے او د هغې د اصلاح په باره کښې زمونږه خيال او فکر نشته.

ځکه حديث کښې راځی ﴿أَلَا وَإِنَّ فِي الْجَسَدِ مُضْغَةً إِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الْجَسَدُ كُلُّهُ، وَإِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهُ، أَلَا وَهِيَ الْقَلْبُ﴾ (متفق عليه) چې د دې انسان په دې بدن کښې الله يوه ټکړه پيدا کړې ده کله چې هغه برابره وی نو د دی انسان دا ټول جسم صحيح سلامت او په برابره لاره باندې روان وی او کله چې د دې انسان زړهٔ خراب شی نو دا انسان به په غلطه لاره باندې روان وی الاوهی القلب خبردار هغه ټکړه د انسان زړهٔ دے که زړهٔ ښه وی نو انسان به ښه وی اوکه زړهٔ خراب شی نو د نور اندامونو نه به خراب عملونه ښکاره کيږی .

والحمدلله رب العالمين

# عقلمند ځوک

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

سُبْحَانَكَ لَا عِلْمَ لَنَا إِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا إِنَّكَ أَنتَ الْعَلِيمُ الْحَكِيم

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: الكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهُ، وَعَمِلَ لِما بَعْدَ الْموْتِ، وَالْعَاجِزُ مَنْ أَتْبَعَ نَفْسَه هَواهَا، وتمَنّٰى عَلَى اللهِ اَوْ كَمَا قَالَ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ﴾

(رواه الترمذی)

## هوښيار او احمق ځوک دي:

د نبی علیه السلام يو ارشاد مبارك تلاوت شو دې حديث کښې د الله پيغمبر پاك ﷺ د عقلمند او بے وقوف سړی په مينځ کښې فرق واضحه کړې دے چې عقلمند څوك دے او بےوقوفه جاهله نا پوهه انسان څوك دے يو د خلقو نظر دے چې د دوی په نزدېك عقلمندی او حماقت څه دي او يو د الله د قانون مطابق احمق او عاقل څوك دی چې هغه الله او د الله رسول ﷺ او شريعت بيان کړې دې ، نن د دنيا او د عالم په نظر کښې عقلمند هوشيار چالاکه پوهه دانا سمجهدار انسان هغه دے چې دروغ وئيلے شی خلقو ته دهوکه ورکولے شی د حلالو حرامو امتياز او فرق نه کوی که په يو مجلس کښې ناست وی نو په ملکی سياسی حالاتو باندې ښۀ په چرب زبانۍ او چالاکۍ سره بحث مباحثه تجزيه کوی دا نسان د دنيا په عرف کښې او د خلقو د معيار مطابق عقلمند صاحب کمال انسان دے چې هغه خلق په مجلس کښې خپل ځان طرف ته

متوجې کولے شی کۀ دروغ وائی کۀ رشتیا کۀ په هره طریقه وی صرف په ژبه باندې خلقو ته دهوکه ورکوی د داسې خلقو په باره کښې الله په قرآن کښې ذکر کوی ﴿وَمِنَ النَّاسِ مَن يُعْجِبُكَ قَوْلُهُ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيُشْهِدُ اللَّهَ عَلَىٰ مَا فِي قَلْبِهِ وَهُوَ أَلَدُّ الْخِصَامِ﴾ (سورة البقرة:۲۰۴) بعض خلق څه داسې خبرې کوی که یو انسان دغه خبرې واوری نو په تعجب او حیرانتیا کښې به واقع شی چې دا پوهه سړې دے لوې سړے دے الله د داسې انسان په باره کښې وائی چې دا سخت جهګړ مار دے نقصانی دے چې په زړۀ کښې د خپلې وعدې او خبرې خلاف نظریه لری بیا د دې برعکس د دنیا په نظر کښې ساده بےوقوفه نه پوهیدونکے انسان هغه دے چې خبرې ورته نه ورځی د چا انسان دل ازاری نه کوی په خولۀ باندې د دروغو دعوی نه کوی په زړۀ کښې رشتیا پوخ مضبوط ایمان لری د وعدې پابند وی، د دې صفتونو واله انسان ته نن په کمزوری نظر سره کتلے کیږی.

## حقیقی عقلمند انسان:

حقیقت دا دے چې د عقلمندۍ او حماقت معیار به انسان د شریعت نه معلوموی چې د شریعت په نظر کښې ازلی عقلمند نیك بخته څوك دے او هیمشه ناکام بد بخته کوم انسان دے په دې حدیث کښې نبیﷺ د دې خبرې په باره کښې وضاحت او بیان کوی چې عقلمند څوك دے هوښیار پوهه انسان څوك دے نو عقلمند هوښیار هغه انسان دے چې خپل ځان ورته معلوم شی خپل ځان اوپیژنی چې زۀ څوك یمه دا خبره اګر که وړه جمله ښکاری خو په دې کښې لوې فلسفه او حکمت پروت دے دا انسان به په دې حیثیت خپل ځان پیژنی چې زما د الله سره څه معامله ده الله څوك دے د هغه په ما باندې څه حقوق لازم دی او د پیغمبر په حق له خپل ځان اوپیژنی چې زۀ امتی یمه زۀ به د پیغمبر تابع یمه

که د مشرسره معامله راشی نو د مور او پلار نیکهٔ حق به پیژنی د اُستاذ په حق کښې ورته خپل مقام معلوم شی چې زهٔ شاګرد یمه او ورسره د خپل ژوندون حقیقت او پیژنی چې زهٔ د څه د پاره په دنیا کښې پیدا شوے یمه او دویم صفت د هوښیار سړی دا دے ﴿وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ﴾ دا انسان په دنیا کښې د خپل ضرورت پورې د دنیاکار کسب کوی ځکه په دنیا کښې اباد شوے دے خپل د خوراك څکاك ضرورت ورسره د ښځې بچو د خوراك څکاك ضرورت به پوره کوی خو د دې سره سره ورته آخرت یاد وی هغه نه هیروی بلکه د دهٔ مقصد د آخرت د پاره تیارے وی هغه خپل بنیادی مقصد ورنه نهٔ خطا کیږی د شریعت په نظر کښې د دې دوؤ صفتونو خاوند هوښیار بنده دے.

## د خواهش تابعداری او د خیر امید:

او د شریعت اسلامی په نظر کښې بے وقوف احمق انسان څوك دے نو په دې حدیث کښې د هغه په باره کښې دا ذکر شوی دی چې ﴿وَالْعَاجِزُ مَنْ أَتْبَعَ نَفْسَه هَوَاهَا، وتَمَنَّى عَلَى اللهِ﴾ (ترمذی) -دا کم عقل انسان هغه دے چې د خپل ځان حقیقت ورته معلوم نه وی د خپل ژوند دَ مقصد نه غافله وی د الله حق نه پیژنی او نه د هغهٔ بندګی کوی بلکه د خپل خواهش په وینا باندې عمل کوی د خپل نفس بندګی او غلامی ورته قبوله وی خو د الله حکم منل ورته مشکل کار ښکاری که نفس ورته څه حکم کوی په هغې باندې عمل کوی که حلال وی که حرام وی که جائز کار وی او که ناجائز کار وی که ظلم زبردستی وی اوکه نه وی خو دا انسان د دې نفس هره خبره باندې عمل کوی که فائده ورکښې وی اوکه نه وی دغه انسان بے وقوفه ناپوهه انسان دے او دویم صفت د بےوقوفه انسان دا دے ﴿وتَمَنَّى عَلَى اللهِ﴾ چې سره د بد عملۍ نه کار د الله د

غضب او غصه واله کار کوی او بیا هم د الله نه د خیر طمع او اُمید لری چې الله غفور رحیم دے بندګی او غلامی د خپل نفس کوی او د خیر اُمیدونو طمع د الله نه لری نو دا د کم عقل انسان دویم صفت دے.

## د هارون الرشید واقعه:

مشهور عباسی خلیفه هارون الرشید یو نیك عمله دین داره بادشاه دے نن صبا کۀ د چا په خولۀ باندې د بادشاه نوم واغستلے شی نو بے دینه ظالم دهوکه باز فاجر انسان تصور ته راشی د هغه زمانې بادشاهان داسې نه وو دا د دې دور د حکمرانانو حالت دے په مخکښې زمانه کښې به بادشاه ګورنر قاضی هغه انسان وو چې ورسره به نیك عمله عالم په قرآن سنت باندی پوهه انسان په دې منصب مقرر کیدے شو که هغه به غلام وو خو د دې صلاحیت به ورکښې موجود وو نو بغیر د څه تاخیر نه هغه دې منصب باندې مقرر کیدے شو نو دا هارون الرشید یو نیك او ښه بادشاه دے او دومره لوې مملکت ورسره دے چې په درې براعظمو باندې حکومت کوی د دۀ په زمانه کښې یو نیك انسان وو ساده لباس ساده مزاج واله وو خو د هغۀ خبرې به د لوې حکمت واله خبرې وې هارون الرشید دۀ ته دربار ته د راتلو د پاره اجازت ورکړے وو په یو موقع دغه مجذوب بهلول د هارون دربار ته رادننه شو نو د هارون الرشید سره په لاس کښې یوه لخته همسا وه دغه همسا لخته هارون مزاحا دې بهلول مجذوب ته ورکړه او ورته وائې چې دنیا کښې که ستا نه لوې بےوقوفه موندلے کیږی نو دا همسا ورته ورکړه دې مجذوب دغه همسا واغستله او د ځان سره ئې محفوظ کیخودله څه وخت بعد هارون بادشاه بیمار شو بهلول د تپوس د پاره راغے تپوس ورنه کوی څه حالت دے هارون ورته وائې د خپل حالت په باره کښې تا ته څه وئیلے نشمه خو زما

مخې ته يو لوې سفر دے او زما سره د دې سفر د پاره زاد راه توشه نشته بهلول ورنه بيا تپوس کوی دغه کوم سفر دے چې ته ورته دومره زيات پريشانه شوے ئې هارون په جواب کښې وائی د آخرت سفر سره مخامخ شوے يمه بهلول بيا سوال کوی چې څومره وخت بعد به دوباره د دې سفر نه واپسی کوې هارون جواب ورکوی چې د بےوقوفتوب خبرې مهٔ کوه د آخرت د سفر نه څوك واپس کيدے نشی دا هميشه او دائمی سفر دے بهلول د دې موقع نه فائده اخلی ورته وائی اے هارون تا د دې لوې هميشه سفر د پاره سورلی فوج قوت سازوسامان تيار کړے دے څه محافظين درسره شته دے چې هغوی به ستا حفاظت په دې سفر کښې کوی نو هارون جواب ورکوی چې په دې سفر کښې د چا د پاره فوج پوليس واله ملګری سورلی سازوسامان پکار نه راځی په دې کښې د دنيا قوت هيڅ چاته هيڅ فائده نشی ورکوے نو بهلول ورته وائی د مرګ په حالت کښې چې بادشاه سلامت تا ما ته يو امانت راکړے وو او ورسره دا ارشاد تا ماته کړے وو چې په دې دنيا کښې که ستا نه علاوه بل غټ بے وقوفه انسان وی نو هغه ته دا ورکړه ما په دې خپل ټول ژوند کښې تر اوس ساعت پورې دغه انسان نه دے موندلے خو کله چې ماستا دا خبرې واوريدلې نو تهٔ ما ته لوې بےوقوفه انسان ښکارې دا امانت ته واپس واخله هارون الرشيد ورنه تپوس کوی چې زهٔ څنګه بے قوفه انسان يمه نو بهلول ورته وائی چې وجه دا ده کله چې به تهٔ د دنيا په سفر باندې روانيدې نو ستا سره به فوج لښکر خوراك څکاك خيمې سورلۍ هر څه څيزونه برابر تيار وو ستا په نظر کښې د دې وړوکی شان محدود دنيوی سفر د پاره تيارے ضروری وو او د آخرت واله هغه لوې نه ختميدونکے هميشه سفر د پاره تا څه تيارے نه دے کړے دا عجيبه او حيران کن خبره ده چې دغه

مقصدی سفر کښې ستا سره فوج، سپاهی، سورلی، سازوسامان، زاد راه نشته دا خبره ستا عقل منی هارون الرشید ته چې کله د دې احساس اوکړے شو نو ډير زيات خپيمانه شو او په دغه خپل ژوند باندې په ژړا شو بيا ورته وائی اے بهلول تۀ مونږه ته ساده ښکاريدې خو حقيقت دا دے چې ته يقينی هوښيار او صاحب حکمت انسان ئی دغه نيکان خلق وو د هغوی سره دا فکر هر وخت ملګرے وو که غلطی به ورته معلومه شوه نو د خپلې غلطې خبرې نه رجوع اغستل ورته څه عيب نه ښکاريدو او دې بهلول بعينه د نبی عليه السلام د دغه حديث ترجمانی کړې وه چې عقلمند هغه دے چې خپل ځان اوپيژنی او د مرګ نه بعد واله ژوند د پاره تيارے اوکړی او بےوقوفه انسان هغه دے چې د دغه ژوند د پاره د تيارۍ څه غم فکر ورسره نه وی.

## د آخرت د سفر تيارے:

دغه د آخرت واله ژوند او سفر هر انسان ته مخې ته دے مونږه ټول به د دې سره مخامخ کيږو انسان لره پکار دی چې خپل ځان اوپيژنی او د دی سفر د پاره تيارے اوکړی د حلالو حرامو تميز ورته معلوم شی جائز او ناجائز ظلم دهوکه بازی او نورو ګناهونو نه خپل ځان محفوظ کړی د نبی عليه السلام سنت او طريقې ته ترجيح ورکړی د نورو خلقو طريقې رسم ورواج سره نفرت پيدا شی او لرې والے ورنه اختيار کړی د دې خبرو علم هر مسلمان ته دے د دې نه هيڅ يو مسلمان ناخبره نه دے دا عذر نه دے چې مونږه ته د دې معلومات نشته کوم مسلمان داسی دے چې هغه ته دا علم نه وی چې نبی عليه السلام واجب الا تباع دے مسئله دا ده چې سره د اقرار او سره د علم نه کله چې مونږه په عملی ميدان کښې مخکښې

کیږو نو په دغه وخت کښې زمونږه قدم روستو شی او د ناکامۍ سره مخامخ شو.

## نیک او بد کار کښې د مسابقت موازنه:

که یو طرف ته قرآن دے بل طرف ته موسیقی ده هر انسان ته دا معلومات شته چې دا ښۀ کار دے او دا ناخوښه د ګناه کار دے سره د دې نه زمونږه میلان د موسیقۍ طرف ته وی یو طرف ته مسجد دے بل طرف ته پلے ګراونډ د لوبو میدان دے وخت نا وخت نشته خو زمونږه ترجیح په هر وخت کښې د لوبو میدان طرف ته وی که یو طرف ته ګپ شپ د مسخرو مجلسونه دی بل طرف ته که درس قرآن وی نو زمونږه د ټولو توجو د دغه ګپ شپ واله شیطانی مجلس طرف ته وی.علیٰ هذٰ القیاس نور ډیر څیزونه چې د هغې نه مونږه با خبر یو مونږه ته د هغې په باره کښې معلومات شته دے او دا زمونږه یقین دے چې په دې کښې زمونږه خیر او کامیابی ده خو سره د دې نه مونږه په عملی میدان کښې د هغې د پاره د قدم اوچتولو همت نه لرو د دې د عملی کولو د پاره نسخه دا ده چې زمونږه سره د آخرت سوچ وی او د هغه ژوند د پاره تیارے وی تیارے په تقوی سره کیږی او په تقوی کښې دوه خبرې دی یو فرائض ادا کول دویم د بغاوت نه خپل ځان بچ کول ګناه نه کول د نیکانو سره محبت او ملګرتیا کول .

والحمدلله رب العالمین.

# دکامیابۍ لارے

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿اُولٰٓئِكَ عَلٰى هُدًى مِّنْ رَّبِّهِمْ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ﴾(سورة البقرة: )

﴿وقال رسول الله ﷺ: مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ﴾(رواه الترمذی بمعناه)

## د محرم د فضیلت وجه:

د مخکنبے نه د محرم په فضیلت باندې خبره شروع وه چې دی میاشتو ته الله فضیلت ورکړے دے او دا فضلیت الله د چا د شهادت یا د چا د پیدا کیدو د وجے نه، نۀ دے ورکړے لکه څنګه چې د بعضو خلقو دا ګمان دے چې هغوی په دې موقع باندې د حسین رضی الله عنه په نوم خیر خیراتونه صدقے کوی، ماتم او جلوسونه او تذکرے کوی او دا تصور لری چې دې میاشت ته که الله فضیلت ورکړے دے نو د حسین رضی الله عنه د شهادت د وجے نه. نا دا غلطه خبره ده او په حقیقت کښې دغه خلق د اهل بیتو مذمت او بدی بیانوی د دروغو غلط من ګهړت واقعات د منبر او محراب نه په دې موقع بیانول دا د ګمراهه قوم سره مشابهت دے چې په دې ورځو کښې دغه ګمراه قوم دې خبرو ته هوا ورکوی او د دې پرچار کوی دا په هر لحاظ باندې عام کول غواړی نو د دغه قوم په ګرداب او دائره کښې زمونږه څۀ نیك او خالص مسلمانان هم د ناخبرے د وجے نه شکار شوی دی او د هغوی نقل او حرکت کوی مفتی اعظم هند مفتی کفایت الله رحمۃ اللہ علیہ په خپل کتاب کفایت المفتی کښې لیکلی دی چې:

((بیان شہادت کے لیے انعقاد مجلس بدعت ہے))

په دې مياشت کښې داسې مجالس مقررول بدعت دے او رشيد احمد لدهيانوي رضی اللہ عنہ په احسن الفتاوی کښې يو ځائے کښې ليکي :

((نيز رونے رلانے والے واقعات جو ان مہينوں ميں سنائے جاتے ہے اس ليے اس کا سننا تو ويسا بھی ناجائز ہے۔)) بيا ذکر کوي: ((واقعه شہادت کی صحيح حقيقت کا انکشاف ناممکن ہے)) چې دا واقعه څنګه وه د دې صحيح معلومات نشي کيدے دا صرف يو تاريخي دروغ دی چې وئيلے کيږی او نسل در نسل رانقل کيږی بيا ذکر کوي چې دا واقعه که په مستند کتابونو کښې ذکر شوے نو هغے کښې دا واقعه کربلا دروغ نقل شوے ده ځکه يو کتاب دے د هغے نوم دے "مقتل حسين" او د مصنف نوم ئے ابوالمخنف لوط بن يحی دے او دا په راوياتو کښې يو دروغ ګو، کذاب، وضاع راوی دے او دا کتاب د واقعه کربلا نه سل (۱۰۰) کاله بعد ليکلے شوے دے او بل مصيبت دا چې د چا حواله نه ورکوي د راوی نوم نه اخلي او په يو داسے انداز قصه نقل کوي ته به وائې چې دا په دې واقعه کربلا په ميدان کښې پخپله ولاړ دے او مشاهده کوي او روستنو کتابونو والو دا خبرے بغير د څۀ تحقيق نه د دې کتاب نه نقل کړی دی. بيا رشيد احمد صاحب رحمۃ اللہ علیہ لکھی:

((اصل روايات ميں تضاد اور اصل شرع کے عقلاً و نقلاً خلاف ہونے کی وجہ سے غلط ہے گوشہ رسول صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم کو قتل کرنے والوں نے حقيقت پر پردہ ڈالنے اور خود کو چھپانے کے ليے جھوٹی روايات کو وضع کرنے ميں اپنے مخصوص طريقے سے کام ليا ہے۔))

وائي حسين رضی اللہ عنہ هغوی په خپله شهيد کړو او بيا په دغه خپل عيب باندے هغوی د پردے راچولو د پاره د خپل خاص طريقه کار دروغ ګوئی نه ئے فائده واغستله نو د دې واقعے دا حقيقت دے.

## د جنګ کربلا معيار:

بله خبره دا ده چې د حسين رضی اللہ عنہ تلل کربلا ميدان ته دا د څۀ

جنګ وو آیا دا د کفر او اسلام په بنیاد باندې وو عام طور ګمراه خلق دا خبره کوی ((اسلام زندہ ہوتا ہے کربلا کے بعد)) دا غلطه خبره او فاسده نظریه ده ځکه د کربلا واله واقعه خو د اسلام او د کفر واقعه نه وه نو څنګه د دې نه بعد اسلام ژوندے کیږی اسلام ته که امتیاز او فتح حاصلیږی نو د بدر نه بعد د اُحد نه بعد ورته حاصلیږی د تبوك او د حنین نه بعد ورته فتح حاصلیږی د فتح مکے نه بعد اسلام ژوندے کیږی د کربلا واقعه او کوفې ته د حسین رضی الله عنه تلل دا د کفر او اسلام جنګ نه وو یو وجه دا چې هغه د جنګ په اراده تلے نۀ وو دویم دا چې که دا د کفر او اسلام خبره وے نو یواځے حسین رضی الله عنه په دغه وخت کښې نه وو نور لوے لوے صحابه صلی الله علیه وسلم هم موجود وو هغه یو صحابی دا جهاد نه کولو صرف حسین رضی الله عنه کولو بس که څوك وائی چې صحابه کرام صلی الله علیه وسلم نعوذ بالله یریدل نو دا غلطه خبره ده هغوی د روم او فارس نه یره نه ده کړے، هغه یو څو په شمار باندې کسان وو د ټول عالم عرب پرواه ئے نه ده کړې د اسلام د پاره نو یزید پکښې څوك دے اصل وجه دا وه چې دا خبره د کفر او د اسلام خبره نۀ وه بلکه د حسین رضی الله عنه خپل رشته دار عبد الله بن عباس رضی الله عنه ورته نصیحت، سوال زاری کوی چې کوفے ته مۀ ځه او که خامخا بالفرض تۀ ځے نو بچې د خپل ځان سره مه بوځه دا خبره په ذهن کښې راځی چې څوك جنګ ته ځی نو هغوی خپل کور واله ښځه بچې د خاندان وړوکی ماشومان د ځان سره نه بوځی خپل رور محمد الحنفیه ورته وائی چې روره کوفے ته مۀ ځه د کوفے خلق دهوکه باز، دغاباز خلق دې ستا د پلار او ورور سره دغه خلقو دهوکه کړے ده ستا سره هم دهوکه کوی نو معلومه شوه چې دا جنګ د کفر او اسلام نه دے ځکه نور صحابه رضی الله عنهم د دې کار نه حسین رضی الله عنه منع کوی.

## مشاوراتی خلافت:

بل دا چې خليفه عادل سيدنا امير معاويهرضي الله عنه د خپل وفات نه مخکښې د غټ غټ صحابو سره مشوره اوکړه چې څوك خليفه، ولی عهد مقرر کړو او که نه صحابو ورته مشوره ورکړه چې د اختلاف د اُمّت نه بچ کيدو د پاره يو ولی عهد خليفه مقرر کړه نو بيا د هغوی په مشوره يزيد ئے خليفه مقرر کړو لکه څنګه چې ابوبکررضي الله عنه کړی وو ځکه يزيد کښې قابليت هم وو او په سياست باندې ورته مهارت هم حاصل وو بل دا چې دغه د قريشو نه بغير په بل چا د هغوی اتفاق نه راتلو نو دوی يزيد خليفه مقرر کړو او د حسينرضي الله عنه موقف دا وو چې د يزيد نه بهتر خلق موجود دی هغوی دې خليفه مقرر کړے شی او د يو کس انتخاب دې ورنه اوکړے شی ځکه يزيد تا بعی وو او نور صحابهرضي الله عنهم په دغه وخت کښې ژوندی وو نو په صحابو کښې که خليفه مقرر کړے شی دا به ډيره غوره او بهتره وی دا موقف د حسينرضي الله عنه وو او دا خبره ټول اهل سنت والجماعت واله او اهل تشيع ټول دا موقف لری چې حسينرضي الله عنه کله هم په دې اعتراض نه دے کړے او نه دا کيدے شی چې يزيد کافر دے، زانی، شرابی دے ظالم دے دا اعتراض نه دے شوے په دغه وخت کښې دا دروغ روسته خلقو د ځان د طرف نه جوړ کړی دی کله چې خلق د حسينرضي الله عنه د رائے نه خبر شو نو د کوفے طرف نه ورته خطوط شروع شو، ته راشه خلق ستا په انتظار دی او ستا په لاس باندے بيعت کوی، ستا قدر او احترام به مونږه کوؤ دغه خبرو حسينرضي الله عنه د مدينے نه کوفے ته روان کړے وو نور د اسلام او د کفر د جنګ او د صلح او د امن په دې اراده باندے تلے وو. بيا هم په کوفه کښې نه حسينرضي الله عنه جنګ کړے دے نه بل چا جنګ کړے دے کله چې دا هلته رسيدلے دے سرکاری خلق

خبر شوی دی نو یو سرکاری وفد د ابن سعد چې دا ابن سعد د دهٔ رشته دار هم دے هغه راغلے دے دهٔ ته ئے منت زاری کړی وو چې دا خلق دهوکه باز دی په اُمّت کښې اختلاف او انتشار پیدا کوی دی خلقو دا دا دهوکے ستا د پلار رور سره کړی دی حسین رضی اللہ عنہ پوهه شو هغه ورته اووئیل درے خبرے دی یا مي واپس مکې ته اولیږے یا مې د شام سرحداتو ته اولیږے چې د کافرو سره جهاد اوکړمه او یا مې یزید ته بوځے چې زهٔ په خپله د هغه سره ملاقات اوکړمه او ﴿اَضَعُ یَدِیُ فِیُ یَدِ یَزِیُدَ﴾ زهٔ به د هغه په لاس کښې لاس کیدم نو د هغه خلافت ته تیار شو دکوفے خلقو ته چې پته اولیږده چې خبره خو ورانه شوه صبا سحر به دوی ځی د مازیګر په وخت کښې ئے چې کله شپه راتله نو دوی دا سوچ اوکړو که دا یزید ته لاړ شی زمونږه خطوط به ورته ښکاره کوی او زمونږه راز به فاش شی ښکاره به شی نو دغه مکار خلقو د مازیګر په وخت حسین رضی اللہ عنہ په خپله خیمه کښې شهید کړو او د هغه خیمے ته ئې اُور اولګولو دے د پاره چې دغه خطوط اوسوزی او د حسین رضی اللہ عنہ د خاندان په نورو ځوانانو باندې ګوزارونه د دے خلقو د لاسونو نه شوی دی. ابن سعد چې خبر شو او شور ئے واوریدلو نو په موقع راغے او د دغه کوفے واله څهٔ خلقو نه ئے سرونه وهلی دی دا د واقعه کربلا حقیقت دے.

او مشهوره دا ده څو ورځے جنګ شوے دے حسین رضی اللہ عنہ میدان ته راغلے دے اوبهٔ بندے کړے شوی دی ښځو تورے راغستے دی دا ټول دروغ او غلط تصورات دی ځکه شاعر وائی:

*زرا سی بات تھی اندیشہ عجم نے جسے بڑا کیا ہے فقط زیب داستاں کے لیے*

د یو څو منتونو خبره وه خو دې خلقو د هغے نه ډیره غټه او لویه خبره جوړه کړه او هغه خپل کړے شوے کار ئے د بل په سربانديې بار کړو

او تر د نن ورځ پورے په امت کښې يوه لويه خبره د دې څيز نه جوړه ده دا د هغه واقعه کربلا حقيقت وو معمولی خبره د اسلام او کفر خبره نه دی جوړول پکار.

## د محرم تاريخ:

بله خبره دا چې په محرم سره نوے اسلامی کال شروع کيږی د دې اسلامی کال ابتداء د کله نه شوې وه د دې مختصر تاريخ دا دے چې د سيدنا عمر رضی اللہ عنہ په دور خلافت کښې يو مقدمه يوه مسئله تحريری مخے ته راغله نو عمر رضی اللہ عنہ د هغے د تاريخ معلومات کول غوښتل تاريخ وربانده نه وو مخکښے به تاريخ د يو مشهورے واقعے سره تړلے کيدو چې مثلا دا خبره عام الفيل نه دوه کاله مخکښې وه يو کال روسته وه داسے پوره تاريخ به نه وو معلوم نو عمر رضی اللہ عنہ صحابو رضی اللہ عنہم سره مشوره اوکړه چې داسے به ډير واقعات راځی تاريخ کتل غواړی نو راجمع شو چې يو خپل تاريخ مقرر کړو خو د دې شروع به د کوم ځائے نه کوو چا وئيل د نبی صلی اللہ علیہ وسلم د وفات نه چا د واقعة الفيل ذکر اوکړو چا د عام الحزن بيان اوکړو د اکثرو رائے بيا په دې راغله چې يو داسے تاريخ به مقرر کړو چې په هغے کښې عبرت وی نو دغه تاريخ ئے د هجرت د واقعے واله مقرر کړو ځکه د دې نه انقلاب شروع شوے دے او دا د قربانو نوم دے په دې وجه يو اسلامی رياست وجود ته راغلے، اسلام ته قوت شان وشوکت ملاؤ شوے دے ځکه د دې نه شروع اوکړے شوه بيا د دې د شروع مياشت د عثمان رضی اللہ عنہ په مشوره باندے محرم اوګرځولے شوه نو د محرم په شروع کيدو سره به مسلمان د صبر او قربانے مظاهره کوی ماتم او جلوسونه  د دې حل نه دے جهاد د کافرو سره کول د مسلمانانو د موجوده حالاتو د پاره حل دے يو قوت يو آواز جهاد د کاميابے لاره ده د کشمير د مسلمانانو حل جهاد

دے د برما د حالاتو حل جهاد دے د فلسطین د حالاتو حل جهاد دے دا نوے کال د قربانے دا پیغام ورکوی چې مسلمان به په هر حالت کښې جهاد ته غاړهږدی او جهاد به کوی.

والحمد لله رب العالمين.

# اصلاحی بیان

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَا قَدَّمَتْ لِغَدٍ وَاتَّقُوا اللّٰهَ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌ بِمَا تَعْمَلُوْنَ﴾ (سورة الحشر:١٨)

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: اَلْكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهٗ وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ﴾(رواه احمد)

## د دنیا ژوند:

د قرآن پاك يو ايت او د نبی ﷺ د حديث څۀ حصه تلاوت شوه په دې کښې الله دا خبره بنيادی بيانوی چې انسان لره دا سوچ لازمی پکار دے چې زۀ د څۀ د پاره پيدا يمه او زما انجام څۀ دے او دنيا کښې دا کومه زندګی چې ده دا چې کله ختمه شی دې نه بعد د آخرت ژوند چې هغه نۀ ختميدونکے ژوند دے د هغے د پاره ما څۀ تيارے کړے دے د ځان سره هر يو انسان محاسبه اوکړی لکه يو حديث کښې راځی:

﴿حَاسِبُوْا قَبْلَ اَنْ تُحَاسَبُوْا﴾ (محاسبة النفس ابن ابي الدنيا)

د خپل ځان سره محاسبه اوکړۍ مخکښې د آخرت د حساب نه. انسان لره دا سوچ پکار دے چې زۀ په دې کومه طريقه، انداز باندے خپل ژوند تيرومه آيا زما دا ژوند د راتلونکی آخرت والا ژوند د پاره څۀ فائده ورکونکے دے او که نه دے. انسان په دنيا کښې د څۀ مقصد د پاره پيدا شوے دے انسان صرف نۀ بلکه هر جاندار حيوان الله په دنيا کښې د څۀ مقصد د پاره پيدا کړے دے د هر څيز چې په سترګو مشاهده کيږی د هغے څۀ مقصد او فائده شته دے بيا د انسان او نور

ځیزونو د مقصد فرق صرف دا دے چې نور ځیزونه د وخت سره ختم شی ځکه د هغے مقصد عارضی وی مستقل څۀ مقصد د دغه عارضی ځیزونو نه وی او د انسان د پیدائش مقصد عارضی نه دے دا همیشه دائمی مقصد د پاره الله په دې دنیا کښې پیدا کړے دے ځکه د انسان د ژوند د ختمیدو سره داسے نه وی چې خبره ختمه شوه یا د دۀ کتاب بند شو او بس. د دې ژوند نه بعد دوباره د دې انسان کتاب عمل نامه په یو بل ژوند کښې دوباره کولاویږی او دلته چې انسان څۀ کړی وی په آخرت کښې په دغه باندے فیصله کیږی چې دنیا کښې دې انسان څۀ کړی وی لکه یو روایت کښې راځی:

﴿اَلدُّنْيَا مَزْرَعَةُ الاٰخِرَةِ﴾ (المقاصد الحسنة)

دنیا د آخرت د پاره یو پټے اوځاې د کروندے دے لکه څنګه چې زمیندار په دنیا کښې څۀ اوکری او په آخر کښې د دغه ځیز نه بیا فائده اخلی دغه شان انسان به هم په دې دنیا کښې نیك عمل کوی بیا به په آخرت کښې د خپل دغه نیك عمل نه فائده اخلی.

## د عبودیت مطلب:

کله چې الله انسان د یو مقصد د پاره پیدا کړے دے نو دغه مقصد څۀ ځیز دے قرآن دغه مقصد په لنډو الفاظو کښې بیان کړے دے:

﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنَ﴾ (زاریات:٥٦)

ما دا انسانان او پیریان نۀ دی پیدا کړې مګر د خپل عبادت د پاره. دا هغه عظیم مقصد دے چې د دې د پاره الله مکلف مخلوق پیدا کړے دے چې هغه انسان او پیرے دے دا عبادت او بندګی بیا صرف مونځ ته نۀ وائی دا د پیدائش نه واخله تر مرګه پورے د جماعت، مسجد نه

واخله تر باهر معاشرے پورے، مطلب څنګه چې په مسجد کښې د الله د عبادت پابند دے او په هغه طريقه د الله عبادت کوی لکه څنګه چې الله او د الله رسول ﷺ ښودلی دی دغه شان به دا انسان په تجارت، لین دین، اغستل خرڅول، معاشره، اخلاقيات، معاملات هر څۀ کښې به د الله د حکم پابند وی داسے نۀ چې د مسجد نه باهر به دا انسان آزاد وی په دۀ باندې به څۀ پابندی نۀ وی که يو انسان په کور کښې ژوند تيروی نو دغه ژوند به د شريعت مطابق وی د مور پلار ښځے بچو حقونه ورکښے ادا کوی نو دا ژوند د دې انسان د پاره بيا عبادت ګرځی ځکه د الله د حکم تعميل پکښے اوکړے شو او په دغه حکم خدائی باندې عمل اوکړے شو داسے به نۀ وی چې په مسجد او جماعت کښې عبادت اختيار کړی او په کور بازار تجارت کښې به بندګی نۀ وی په دغه موقعو باندې بيا د الله بغاوت او سرکشی کوی د ملك سياسی او معاشی نظام کښې که چرته دا انسان د خپل سوچ مطابق وضعی قوانينو باندې پابند وی يا د کفری ممالکو نه اغستلے شوے قانون د هغے پابند وی د قرآن او سنت ښودلے شوے سياست او رياست نۀ منی نو دا انسان بيا په دې ميدان کښې عبد نۀ دے او که دا هر څۀ صرف د قرآن او سنت سره موافق وی نو دا د الله عبادت عبديت او عبوديت دے. دغه مطلب دے

﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُوْنَ﴾

د عبادت مطلب دا دے چې ټول عمر انسان د الله د حکم په هره موقع په هر قدم باندې به پابند وی.

## د آخرت د پاره تيارے:

په دغه آيت کښې الله دا خبره ذکر کوی:

﴿يَاأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللهَ﴾ اے مؤمنانو د الله نه اويريږے.

﴿وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَا قَدَّمَتْ لِغَدٍ﴾ (حشر:۱۸)

او هر يو نفس دې اوګوری چې د آخرت دَ پاره دهٔ تيارے کړے دے د غه د آخرت ژوند د انسان نهٔ ختميږی هغه هميشه نهٔ ختميدونکے ژوند دے د هغے د پاره تيارے پکار دے دا دنياوی ژوند الله انسان ته د آخرت د ژوند د تيارۍ د پاره ورکړے دے دا د فضول عبث ضائع کيدو د پاره انسان ته نه دے ملاؤ شوے. امام غزالی رحمة الله عليه د آخرت د ژوند يو مثال ښودلے دے چې که دا ټوله دنيا د غوښت(قعقاشو) د دانو نه مکمل ډکه کړے شی بيا پنځوس زره کاله بعد يو مارغه راځی او د دې نه يوه دانه اخلی نو دغه دانے به ختمے شی خو دغه د آخرت ژوند به ختم نشی ځکه الله ذکر کوی چې عارضی ژوند نه مستقل ژوند د پاره سوچ او فکر پکار دے په آخرت کښې به دا انسان کامياب وی او که ناکام به وی نبی صلی الله عليه وسلم هم دغه خبره کوی:

﴿اَلْكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهٗ وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ﴾ (ترمذی)

هوښيار هغه څوك دے چې خپل ځان دانا پوهه کړی بيدار کړی او د مرګ نه بعد ژوند د پاره دا انسان کوشش کوی.

## د جنت قيمت:

په دې حديث کښې دوه خبرے ذکر شوې يو دا چې دا انسان د خپل ژوند مقصد اوپيژنی چې زهٔ د څهٔ د پاره الله په دنيا کښې پيدا کړے يمه زما د ژوند او د پيدائش مقصد څهٔ دے دويمه دا خبره چې زمونږه سوچ فکر عام دا دے چې مونږه دانشمند او هوښيار هغه چا ته وايو چې هغه د دنيا سوچ او فکر کوی د دنيا د آباديدو د پاره ورځ او شپه خپل ځان ستړے کوی دا زمونږه په تصور کښې هغه دانشمند او هوښيار انسان دے حال دا دے چې نبی صلی الله عليه وسلم او شريعت هوښيار او دانشمند هغه

چا ته وائی چې هغه د خپل آخرت د آبادیدو د پاره کوشش کوی د مرګ نه بعد ژوند د پاره دنیاوی ژوند قربان کړی او په دې طریقه خپل رب ته ځان نزدے کړی په حدیث کښې راځی نبیﷺ یو مثال وئیلے دے چې دنیا کښې بازار ته څوك د معمولی څیز اغستو د پاره ځی نو د خپل ځان سره لږ شان قیمت اخلی د سبزے اغستو د پاره عام طور سل دوه سوه روپے اخلی او که په بازار کښې یو قیمتی څیز دا انسان اخلی نو د ځان سره قیمتی سرمایه د زرګونو، لاکهونو پیسے اخلی که د زرګر دکان ته ځی د زمکے اغستو د پاره ځی نو ډیر قیمت د خپل ځان سره اخلی دغه شان نبیﷺ فرمائي چې د الله جنت اغستو د پاره هم لوے قمیت پکار دے

﴿اَلَا اِنَّ سِلْعَةَ اللّٰهِ هِيَ الْعَالِيَةُ اَلَا اِنَّ سِلْعَةَ اللّٰهِ هِيَ الْجَنَّةُ﴾ (ترمذی)

خبردار د الله سودا دا قیمتی سودا ده د الله سودا جنت دے انسان په غفلت کښې پروت دے چې په دې ژوند کښې د الله د هغه قیمتی سودا د پاره قمیت نه برابر وی الله جنت خرڅوی او جنت یو قیمتی څیز دے د دغه جنت د پاره قیمتی سرمایه مضبوطه سرمایه پکار ده اوس دې انسان سوچ اوکړی چې آیا زمونږه دا عمل مونږه چې څهٔ کوؤ دا د جنت د اغستو د پاره کافی کیږی او که نا دا سوچ پکار دے ځکه الله فرمائی:

﴿وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ﴾ (حشر:۱۸)

هر انسان دې دا سوچ اوکړی چې د صبا د پاره دې انسان څهٔ مخکښے کړی دی څهٔ تیارے دې انسان کړے دے.

## پوره دین اسلام:

او دغه قمیتی سرمایه بیا د الله بندګی، عبادت دے. عبادت صرف په مسجد کښې نهٔ بلکه د ژوند په هره موقع د الله حکم منل دا بندګی ده که هغه معاملات، لین دین وی او که هغه معاشره تعلقات وی او که هغه ریاست و سیاست وی او که هغه اخلاقیات وی په دې هر څهٔ

کښې به انسان د الله د حکم پابندی کوی نو بیا به ورته جنت ملاویږی دا زمونږه نه د الله مطالبه ده او دغه زمونږه نه مقصود دی.

په دې هره موقع الله بندګی څکه غواړی چې د الله د طرف نه مونږه ته یو کامل مکمل دین راکړے شوے دے په ژوند کښې چې څومره څۀ کیدے شی د هغے د پاره حل الله په دین اسلام کښې کیخودے دے څکه الله فرمائی: ﴿اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ﴾ (مائده:۳)

ما ستاسو د پاره دین مکمل کړو دین د ژوند تیرولو طریقے ته وائی مطلب ستاسو د ژوند تیرولو طریقه درته ما مکمل کړه اوس په دې باندے عمل کوئ بل ځائے کښې الله ذکر کوی:

﴿اُدْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَآفَّةً﴾ (بقره:۲۰۸)

اے مؤمنانو په اسلام کښې پوره پوره دننه شئ، پوره پوره داخل شئ صرف یو حکم منل نۀ بلکه د اسلام هره پهلو او هر حکم باندے عمل اوکړئ او په دې هره پهلو کښې مونږه له پکار ده چې د آخرت د ژوند د پاره تیارے اوکړو.

کله چې یو انسان د یو ملك په سفر باندې ځی نو د ځان سره مخکښې نه تیارئ واله سامان واخلی بیا خپل سفر باندې روان شی د دنیا د ملکونو سفر یو څو ګهنټو په فاصله باندې وی او د آخرت همیشه ژوند د هغے په سفر چې انسان روانیږی او د هغے د پاره تیارے نه کوی نو یقیناً چې دغه بے وقوف او بے عقله انسان دے او که څوك د آخرت د پاره تیارے کوی نو دا عقلمند او هوښیار انسان دے.

## د اسلام باره کښې ناقص سوچ:

او زمونږه ناقصه معامله به د دین سره په دې صورت کښې وی چې مونږه د اسلام دا تصور د عیسائیت په شان جوړ کړو څنګه چې

عیسایانو خپل دین صرف یو څو څیزونو پورے راغونډ کړے دے هغه دا چې په غار کښې چله تیرول یا د خپل مذهبی شخصیت په ذریعه خپل ګناهونه معاف کول دی نور هر څۀ کښې انسان آزاد دے چې څۀ غواړی هغه کوې شی دا د دین ناقص او کمزورے تصور دے دین صرف ګرجے پورې محدود وی کله کله د اتوار په ورځ ګرجے ته لاړشی او هلته څۀ عبادات اوکړی او بس دا د هغوی دین دے نور بهر آزاد وی دا د اسلام تصور نه دے د اسلام تصور دا دے چې انسان به په هره موقع پابند وی لکه څنګه چې غلام د خپل آقا په هر قدم باندے تابعدار وی دغه شان انسان به هم د الله د حکم په هر قدم تابعدار وی په هیڅ یو موقع به د الله نافرمانی نۀ کوی په خوراك، څکاك، جامه، لباس هر څۀ کښې به غلام د خپل آقا د حکم تابعدار او فرمانبردار وی. دا کار به کو ی او دا کار به نه کوی دې ته د الله عبادت وئیلے کیږی. والحمد لله رب العالمین.

# د نعمتونو مراقبه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿اِنَّ فِیْ خَلْقِ السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَاٰيَاتٍ لِّاُوْلِی الْاَلْبَابِ﴾ (سورة ال عمران:١٩٠)

## د الله سره محبت:

مخکښے نه دا خبره شروع وه چې دنیا ته د انسان راتلل د دې د پاره دي چې دا انسان د الله د حکم مطابق خپل ژوند تیر کړی خو په دی باندے عمل کول ګران کار دے چې انسان محنت مشقت مجاهده نه وی کړے دې هدف ته رسیدے نه شی او د دې د برداشت د پاره دا علاج دے چې دا انسان د الله د رسول ﷺ او دین سره مینه او محبت پیدا کړی کله چې د الله سره مینه پیدا شی نو مشقت برداشت کول انسان ته اسان شی او د الله په دین باندې بیا عمل کولے شی او بیا د انسان د الله سره تعلق پیدا کیږی او دا محبت بے اختیاره څیز دے دا دَ نسان په اختیار کښې نه وی چې د څۀ سره محبت اوکړی او د څۀ سره محبت بیا نه کوی الله د انسان د پیدائش سره د هغه په فطرت کښې غصه، نفرت، بغض، محبت دا څیزونه پیدا کړی دی هاں دا خبره ده چې محبت بے اختیاره څیز دے خو د دې د پاره څۀ اسباب او طریقې دی چې هغه اختیاری څیزونه دی د هغے سره محبت وجود ته راځی.

مولانا اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه د محبت د پیدا کیدو د پاره شپږ اسباب ذکر کړی دی چې انسان دا څیزونه اختیار کړی نو د الله محبت

ورته حاصلیږی .

## کثرت ذکر او کثرت یاد:

یو په هغے کښې کثرت ذکر دے ډیر د الله ذکر کول د ډیر ذکر سره د انسان په زړهٔ کښې د الله محبت پیدا کیږی او دا د هر څیز د پاره اصول دی چې د کوم څیز ذکر انسان ډیر کوی د هغے سره د انسان محبت پیدا کیږی چې څومره تذکره د هغه څیز کیږی نو دغه څیز زړهٔ ته کوز شی که د دنیا مال ښځه، بچو تذکره وی نو د هغے سره د انسان محبت پیدا کیږی او که د الله، اخرت، رسول ﷺ تذکره کیږی نو دوی سره د انسان محبت پیدا کیږی او دا د الله حکم هم دے:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا﴾ (سورة الاحزاب:۴۱)

اے د ایمان خاوندانو د الله ډیر ډیر ذکر کوے او د الله د کثرت ذکر ډیر یادولو دوه طریقے دی یو په خُله د الله ذکر کول دی دویم څومره مسنون دعاګانے چې په احادیثو کښې راغلی دی مختلفو موقعو سره د هغے تعلق دے هغه مسنون دعاګانے وئیل هم د الله ذکر دے د سحر نه تر ماښام پورے چې څومره دعاګانے په کومه موقع راغلی دی هغه چې انسان وائی دا کثرت ذکر دے.

## د الله نعمتونه او احسانات:

دویم سبب د الله د محبت د پاره دا دې چې انسان د الله په نعمتونو کښې سوچ کول دی دا خبره ذهن ته باربار راوستل چې زما د الله دې نعمتونو سره څهٔ سلوك او څهٔ رویه ده آیا ما د الله د نعمتونو شکر کله اداء کړے دے او که ما د الله د دې نعمتونو شکر نه دے ادا کړے په دې کښې سوچ فکر کول یو دا چې د الله نعمت په ما باندې شته دے موجود دے دویم دا چې د دین سره زما څهٔ قسم معامله او سلوك دے په دې سره

د الله محبت او مینه د انسان په زړۀ کښې پیدا کیږی:

﴿وَمَا بِكُمْ مِنْ نِعْمَةٍ فَمِنَ اللهِ﴾(سورة النحل:٥٣)

په انسان باندې د سر نه واخله تر خپو پورې هر طرف ته د الله نعمت نعمت دے هره هره لحظه انسان د الله په نعمت کښې ډوب وی او دې ته د الله د نعمتونو شکر، مراقبه او استحضار هم ویئلے کیږی په دې سره به د انسان په ذهن کښې خبره یقینی شی چې الله یو لوے عظیم محسن دے هغه زما سره ډیر احسانات کړی دی او د انسان فطرت دا دے چې ځوك د انسان سره احسان کوی نو دَ دغه انسان د خپل محسن سره مینه پیدا کیږی او کله چې انسان ته د الله د احساناتو احساس اوشی نو د دې انسان بیا د الله سره مینه محبت پیدا کیږی.

د الله د نعمتونو احساس انسان ته په دې صورت کښې ذهن ته راځی چې چرته د یو صالح نیك بزرګ سره په مجلس کښې ناسته ولاړه کوی او یا دینی مجالسو کښې شاملیږی لکه درس قرآن، درس حدیث واله مجلس دے که دوی سره تعلق نه وی نو هیڅ چرے انسان ته د الله د بےشماره نعمتونو احساس نه کیږی کوم نعمتونه چې د سحر نه واخله تر ماښام پورے الله په دې انسان د باران په شان راوروِلی دی او پرله پسے وربandې همیشه دا نعمتونه کوی او الله دا دعوت مونږه ته راکړے دے په سورت ال عمران(١٩٠) کښې :

﴿إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ لِّأُولِي الْأَلْبَابِ﴾

ځوك چې سوچ فکر او فهم لری هغوی د پاره د دې زمکے او اسمان په پیدائش کښې ډیر لوے عبرت او درس دے خو دا د چا د پاره وی

﴿اَلَّذِيْنَ يَذْكُرُوْنَ اللهَ﴾ هغه مخکښې سبب دے ﴿وَيَتَفَكَّرُوْنَ فِيْ

خَلۡقِ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ رَبَّنَا مَا خَلَقۡتَ هٰذَا بَاطِلًا﴾ (النساء:۱۹۲)

دغه عقلمند خلق هغه څوك دی چې د الله په دې نعمتونو کښې سوچ فکر کوی دا سوچ فکر په دې نعمتونو کښې انسان دې ته تيار وی چې د الله سره د دې انسان مينه پيدا شی .

# صبر

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ وَاللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ عَلٰى مَاتَصِفُوْنَ﴾ (يوسف:۱۸)

مخکښې نه د ښه اخلاقو په باره کښې خبره شروع وه،چې يو مسلمان بنده کښې به څه ښه اخلاق او صفات وی، په دې کښې يو صفت هغه صبر دے،چې مسلمان به صبر ناك وی په ده کښې به د صبر واله صفت او خوئی موجود وی، او الله مونږه لره په دؤو حکمونو باندې مکلف کړي يو، يو دا دے که تکليف، مصيبت،افت راشی نو انسان به په دغه موقع صبر کوی،او که خوشحالی، راحت راشی نو په دې موقع به انسان د الله شکر ادا کوی،د خوشحالی په موقع حکم د شکر دے او د تکليف،مصيبت په موقع د صبر حکم دے.

په دين اسلام کښې د صبر مختلف قسمونه دې،او د دې ډير لوې مفهوم دے،او د دې صبر بيا خپل درجات دی،په اوّل تقسيم سره صبر په دوه قسمه دے،يو اختياری صبر دے او دويم اضطراری صبر دے چې انسان فطرتاً دغه صبر ته مجبوره دے،اختياری صبر دا دے،چې د انسان په اختيار کښې يو کار وی او هغه ورباندې صبر اوکړی، د اختياری صبر مثال لکه ابراهيم عليه السلام چې کله د حق بيان کړے وو، نو د دغه د حق د بيان د وجې نه اُور ته غوځيدلے وو که دهٔ بيان نه وے کړے نو د

اُور نه به بچ شوے وے، لیکن بیا هم ابراهیم علیه السلام دغه اُور په خپل اختیار باندې د خپل ځان د پاره غوره کړو او په دې باندې ئې د صبر اظهار اوکړو او د الله د دین د بیان نه روسته نه شو دا بیا اوچته او اعلی درجه ده، چې په خپل اختیار سره د الله د دین د پاره په تکلیفونو صبر اوکړے شی، اوکه یو انسان د دې وجې نه د الله د دین بیان پریږدی نو دا د کمزورې ایمان علامه اوښنبه ده. او دویم اضطراری صبر دے،چې د انسان خوښه نه وی لیکن بیا هم ورباندې دغه تکلیف راشی او د انسان وربادی صبر اوکړی، د دې مثال لکه د یوسف علیه السلام قبر دے، ځکه هغه په خپل اختیار باندی جیل ته نه ؤو تلے، بلکه مجبوره کړے شوے وو، او بیا هم ورباندې یو سف علیه السلام صبر کړے وو.

او دویم تقسیم سره بیا صبر په دری قسمه دے یو ته ﴿صبرعلى الطّاعات﴾ وئیلے کیږی، چې یو انسان د دین په کار باندې مضبوط او کلك ولاړ وی او دې ته استقامت هم وئیلے کیږی، دویم ﴿صبرعن المعصية﴾ دے،چې یو انسان د ګناهونو نه خپل ځان منع کړی او په دې طریقه صبر اختیار کړی، دریم دے ﴿صبرعلى المصيبة﴾ که څه مصیبت، تکلیف راشی نو انسان ورباندې صبر اوکړې.

﴿صبرعلى الطاعات﴾ دا دے، چې یو انسان د الله د حکم پابند جوړ شی، او دا خپل نفس د الله حکم منلو ته مجبوره کړی، خپل د نیوی یا نفسانی خواهشات دباؤ کړی او د الله حکم پوره کړی، لکه مثال روژه نیول ګران کار دے، چې یو په اوګدو ورځو کښې سره د سختې ګرمۍ نه

نه څه خوراك كوی او نه څه څكاك كوی او خپل ځان د نفس د محبوباتو نه صبر د الله د رضا دپاره منع كړی، او د سحر نه واخله تر ماښام پورې خوراك، څكاك نه كوی، د دې وجې نه چې دا د الله حكم دے، دغه يو انسان په سخت مشقت سره مال ګټلے وی او بيا په دغه محبوب مال كښې زكوة وركړی نو دا د هيڅ چا د زړهٔ نه نه وی ځكه انسان وربانديې محنت،مشقت كړے وی او بيا هم زړهٔ غټ كړی او زكوة وركړی او د دې په شان نور د الله ډير حكمونه دی، كله د يو انسان دا صبر فطرت ثانيه جوړ شی نو دغه د الله حكم ورته اسان شی څه مشكل ورته ښكاره نه وی،لكه د علی رضی الله عنه په باره كښې راځي چې ماله په سخته ګرمۍ كښې روژه نيول خوند راكوی او دا راته ډير محبوب وی، زمونږه د ديوبند لوی عالم مولنا رشيد احمد ګنګوهی رحمت الله عليه خپل مرشد ته خط ليكلے وو او دا خبره ئې ورته كړی وه چې الله ماله درې صفات راكړی دی او زه د الله نه په دې باندې ډير زيات شكر ګزاريمه، يوه خبره دا چې كه يو انسان ځما مدح او تعريف شروع كړی نو په دې سره په ما كښې تكبر،لوئی نه پيدا كيږی او نه وربانديې زه دهوكه كيږمه، اوكه څوك زما مزمت او بدی بيان كړی نو زه وربانديې نه خفه كيږمه او بل صفت دا دے چې ګناهونه او د الله نا فرمانيانی ماله فطرتًا بد لږی، فطرتًا راله ناخوښ دی، د فطرتًا بد لګيدو مطلب دا دے لكه څنګه چې زمونږه په دې معاشره كښې يو انسان ډيران، بدبو،ګندګی فطرتًا ناخوښه وی او بل صفت دا دے چې الله ما لره نيكی كول او بدی پريخودل فطرتًا اسان كړی دی، په دې كښې رته هيڅ تكليف او مشقت نه وی او بل راباندې د الله

نعمت او احسان دا دے چې الله ماله قابل او ذهین شاګردان راکړی دی او هغوی ټول د الله د دې دین په خدمت کښې مشغوله دی او دا حقیقت دے د ده هر شاګرد د دین په شعبو کښې خدمات کړی دی لکه اشرف علی تهانوی، حسین علی پنجابی،،حسین احمدمدنی، شبیر احمد عثمانی، مفتی کفایت الله دهلوی او نور ډیر، نو یو قسم د صبر دا دے چې انسان د الله د حکم تابعدار جوړ شی.

او د صبر دویم قسم هغه ﴿صبر عن المعصية﴾ دے چې یو انسان دا کوشش کوی چې انسان په یو طریقه ګمراه کړی او د الله د لارې نه دا انسان لری کړی، نو که یو انسان دغه خپل خواهش، نفس، چاهت دباؤ کړی او صبر اوکړی، نو په دې هم ورته اجر او ثواب ملاویږی.

او دریم قسم صبر هغه ﴿صبر على الصيبة﴾دے، چې په یو انسان باندې غم،تکلیف،مصیبت راشی او دغه برداشت کړی،او د دې انسان دا یقین وی چې دا هر څه په دۀ باندې د الله د طرف نه راځی، او دا د الله فیصله ده، او د دې لوې اجروثواب دے.

په یو حدیث کښې راځې چې په یو مسلمان باندې تکلیف، مصیبت بیماری راشی نو الله وربانديې دوه فرشتې مقرر کړی، که دا انسان په دې حالاتو کښې بے صبری،ګلې،شکوې شروع کړی نو الله فرشتو ته حکم اوکړی چې تاسو ګواه شئ دې انسان ته ما ټول ګناهونه معاف کړل او دې انسان ته به زۀ نور وینه او غوښه ورکړمه چې دغه وینه او غوښه به د هغه مخکښې وینی او غوښې نه طاقتور او صحتمنده او

تازه وی، اوکه په دې حالت کښې دا انسان مړ شو نو دا به زه ضرور جنّت ته داخل کړمه اوکوم انسان چې په تکلیف،مصیبت،بیمارۍ باندې بے صبری کړی وی نو دغه فرشتې د الله دربار ته لاړې شی او د دې انسان دغه حالات الله ته اووائی، نو الله خپلو فرشتو ته فرمائی تاسو ګواه شئ که دې انسان ته د دغه مصیبت،بیمارۍ نه صحت ملاؤ شی نو د دې په بدل کښې به ورته خرابه وینه او خرابه غوښه ورکړمه اوکه په دې حالت کښې دا انسان مړ شی نو جهنم به د دې انسان ځائے وی، ځکه دهٔ ناشکری او بے صبری کړې ده، او په یو بل روایت کښې راځی چې یو انسان له به الله د قیامت په ورځ لوې انعام، اجروثواب ورکړی، خلقه به حیران شی او تپوس به اوکړی چې یا الله دې انسان ته دا دومره اجروثواب د څه په بدله کښې ملاؤ ! الله به جواب ورکړی چې په دې انسان باندې ما په دنیا کښې تکلیف او بیماری مسلطه کړی وه، نو دهٔ ورباندې صبر کړے وو ځکه ورته ما نن دومره لوې مقام ورکړو، نو دغه خلق به په دغه وخت کښې تمنا او آرزو اوکړی چې کاش الله که مونږه ټول عمر په دنیا کښې بیماریان او په مصیبتونو کښې اخته وے، نو نن ورځ به دا اجروثواب مونږه ته هم ملاؤ شوے وے.

او په یو بل حدیث کښې راځی الله فرمائی چې د کوم انسان نه زه محبوب څيز سترګې واخلمه نو د دې په بدله کښې به ورته جنت ورکړمه دا دومره عظیم اجروثواب او فضیلت د صبر په باره کښې دے.

د صبر مطلب څه دے؟ ایا د صبر دا مطلب دے،چې د یو انسان د سترګو نه به اوښکې نه ځی،اوکه نه د صبر دا مطلب دے،چې انسان به

خپل غم،درد،مصیبت بل انسان ته نه بیانوی،دا مطلب د صبر نه دے،د صبر دا مطلب چې انسان په دې موقع بے صبری اونه کړی،او د بےصبرۍ دا مطلب دے چې غلطې خبرې ،ګډې وډې خبرې د مصیبت په موقع باندې شروع نه کړی،یا د شر یعت د حدودو او دائرې نه باهر دا کارونه شروع کړی دا بے صبری ده،لکه حدیث کښې راځی نبی علیه السلام د بے صبرۍ په باره کښې وائي﴿**لَيْسَ مِنَّا مَنْ ضَرَبَ الْخُدُوْدَ وَشَقَّ الْجُيُوْبَ وَدَعَا بِدَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ**﴾ (بخاری) هغه انسان زمونږه نه نه دے چې د مصیبت په وخت کښې خپله سینه وهی، لکه دا د ښځو عادت دے،یا جامې ،ګریبان کښې چیر پاړ پیدا کړی، او یا د جاهليّت پشان سندرې،او ستائنې مړی ته شروع کړی، دا بے صبری ده.

اوکه بے اختیاره د انسان د سترګو نه اوښکې لاړې شی یا غمژن شی نو دا بے صبری نه ده لکه د نبی علیه السلام خپل بچے ابراهیم علیه السلام د دؤو کالو په عمر کښې وفات شوے وو،نو د نبی علیه السلام د سترګو نه اوښکی روانې وې، او دا خبره ئې اوکړه ﴿**اِنَّا بِفِرَاقِكَ يَاإِبْرَاهِيْمُ لَمَحْزُوْنُوْنَ**﴾ (بخاری) مونږه ابراهیم علیه السلام ستا په جدائۍ باندې ډیر خفه شو،نو نبی علیه السلام غمژن شو او ورسره ئې په خپلې مبارکې خولې باندې دا اظهار هم اوکړو،او دغه شان د نبی علیه السلام نوسے د هغه په غیږه کښې وفات شو نو د نبی علیه السلام د سترګو نه اوښکې لاړې،صحابه ورته وائی یا رسول الله ته هم ژاړې، نو نبی علیه السلام اوفرمائیل چې دا د الله رحمت دے،چې د خپلو بندګانو په زړونو کښې الله ګرځولے دے،په دې وخت

کښې بے صبری منع ده چې د شریعت د حدودو نه پکښې تجاوز اوکړے شي او دا بے اختیاره غمژن کیدل منع نه دی.

نبی علیه السلام یو ځل د مکې په قبرستان باندې تیریدو یوه زنانه وه چې هغې ژړل نبی علیه السلام ورته اووئیل د الله بندې صبر اوکړه ځکه زنانه دپاره قبرستان لره تلل منع دی،دې ښځې ته دا پته نه وه چې دا د الله پیغمبر دے،نو دا زنانه نبی علیه السلام ته وائي چې ته زما په شان غم کښې نه ئې مبتلا شوے، نو د دې نه بعد ورته چا اووئیل چې دا خو د الله پیغمبر دے، نو دغه زنانه په منډه منډه هلته لاړه او نبی علیه السلام ته ئې خپل غذر اوکړو او ورته ئے اوئیل چې زما صبر دے نو نبی علیه السلام ورته اوئیل ﴿إِنَّمَا الصَّبْرُ عِنْدَ الصَّدْمَةِ الأُولىٰ﴾ (بخاری) انسان باندې د مصیبت په اوّل وخت کښې صبر ضروری دے، نو د تکلیف او مصیبت په عین موقع باندې د صبر په باره کښې مونږه ته حکم شوے دے چې دغه موقع ناشکری،بے صبری،خپل ځان وهل اونه کړې شي، اوپه دغه ایت کښې هم الله دا مضمون بیان کړے دے چې که یو انسان په دنیا کښې ژوند کوی نو په دې انسان باندی به تکلیف امتحانات،مصیبتونه راځی﴿وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِنَ الْخَوْفِ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِنَ الْأَمْوَالِ وَالثَّمَرَاتِ﴾ (بقره:۱۵۵) مونږه به په تاسو باندې امتحان اوکړو په کم والی د مالونو او میوؤ سره، او دغه شان کله به یره وی کله به لوګه وی دا ټول حالات به په دې دنیا کښې په انسان باندې راځي خو الله به په دې کښې انعام هغه چاته ورکوی ځوك چې په دې حالاتو کښې صبر اوکړی

﴿وَبَشِّرِ الصَّابِرِيْنَ﴾ زیرے ورکړه صبر کونکو ته او دا هغه خلق دي چې د تکلیف په وخت کښې ﴿اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَیْهِ رَاجِعُوْن﴾ الله مونږه ټول ستا یو ځکه زمونږه خپل څه اختیار نشته،او مونږه ستا یو او ستا طرف ته به درتلل وی، مطلب مصیبت معمولی خبره ده که انسان مړ کیږی هم نودا د ده خپل اختیار نه دے په دې به صبر کوی.

والحمدلله رب العالمین

# خپل نفس متهاؤ کول

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْدُ !

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ﴾

(سورۃ آل عمران:۳۱)

## تعلق مع اللّٰہ:

په دې ایت کښې د نبیﷺ د اطاعت او اتباع بیان شوے دے کله هم چې انسان عبادت کوی نو دا عبادت په مشقت سره ادا کیږی او دا انسان ته اسانیږی په ربط او تعلق مع الله سره د انسان مینه او محبت چې کله د الله سره وی نو گران نه گران عبادت هم دې انسان ته ادا کول اسان شی مینه او محبت د چا سره پیدا کیدل دا اختیاری خیزنه دے چې انسان د چا سره مینه کوی یا نفرت کوی خو دومره خبره ده چې علمائے کرامو د دې محبت د پاره څۀ اسباب ذکر کړی دی که انسان د الله سره محبت کوی نو بیا دې دا انسان دغه اسباب خپل کړی د الله سره به د ده مینه او محبت پیدا شی او د الله د محبت سره به دۀ ته اطاعت او عبادت اسان شی نن چې مونږه د الله اطاعت نه کوؤ په شریعت باندې عمل کول راته گران دی او د څۀ کولو چې الله حکم کړے وی هغه مونږه نه شو کولے او د څۀ نه چې الله مونږه منع کړی یو د هغے نه منع کیدل مونږه ته مشکل ښکاری د دې اصل وجه دا ده چې د الله سره زمونږه محبت نشته د انبیاءعلیہم السلام د الله پوره تابعدار وو او که صحابه کرامورضی اللہ عنہم د الله هر حکم ته غاړه کیخودلے وه نو د هغے اصل وجه دا وه چې د هغوی د الله

سره مينه او محبت وو او دا د دنيا فطری اصول دی چې څوك د چا سره مينه لری نو د هغه هرڅهٔ مشكل نه مشكل خبره او بوج اوچتولو ته تيار وی حضرت علی رضی الله عنه فرمائی چې ماته په سخته ګرمے كښې دا اوګدو ورځو روژې ډير خوند راكوی مونږه د ګرمے د روژه نه يره لرو د دې اصل وجه محبت دے د هغوی محبت د الله سره وو چې هغوی ئے هر څنګه مشقت اوچتولو ته تيار كړی وو.

## د مولانا رشيد احمد ګنګوهی رحمة الله عليه حالت:

د علمائے ديوبند يو مشر عالم مولانا رشيد احمد ګنګوهی رحمة الله عليه خپل مرشد مولانا حاجی امداد الله رحمة الله عليه ته خط ليږلے وو او په دغه خط كښې ئے ورته خپل احوال بيان كړی وو نو بيا ئے ورته يوه خبره دا كړے وه چې زهٔ د الله نه په درے خبرو ډير راضی يمه يو دا چې الله ماته ډير قابله ، ذهين او وفادار شاګردان راكړی دی دا د الله احسان دے دويم دا چې الله زما مزاج دا جوړ كړے دے كه څوك زما ښه وائی په دې باندې ما ته غصه نه راځی او كه څوك زما بد وائي نو هم غصه نه راځی په دې خبرو نه خوشحاله كيږمه او نه ورباندې خفه كيږمه ځكه زما يقين دا جوړ شوے دے چې عزت او ذلت د الله په لاس كښې دے نو كه څوك زما ډير مذمت او بدی بيان كړی نو زهٔ په دې باندې نه خفه كيږمه او دريم څيز چې د هغے مناسبت د دې مضمون سره دے هغه دا چې ما ته طاعات او نيكے كول ډير اسان شوی دی او خپل ځان د ګناه نه بچ كول دا هم ما ته ډير اسان شوی دی نيكی كول او ځان د ګناه نه بچ كول دا ما ته الله انتهائی اسان كړی دی او په دې كولو كښې ما ته هيڅ مشكل نشته او دا حالت د انسان هله جوړيږی كله چې د انسان د الله سره محبت وی نو د الله اطاعت ورته اسان شی او د ګناه نه خپل ځان بچ كول ورته څهٔ

مشکل نه وی خو په دې شرط چې د الله سره د دې انسان مینه وی بلکه هغه ګران عمل او اطاعت به دې انسان ته مزه ورکوی د دې اسان مثال دا دے چې کوم انسان د مرچکې سره عادت شی نو دا تریخ هم وی، شونډے او خُله سوزوی او د انسان د سترګو نه او ښکے راتوے کوی خو بیا هم دا انسان مرچکے خوری او نه منع کیږی ځکه د مرچکې سره محبت دومره دے چې دا انسان ئے دې هر څۀ ته مجبوره کړے دے دغه شان د الله محبت هم دے چې که د الله سره د دۀ محبت وی نو که څۀ تکلیف او مصیبت راشی نو دې انسان ته به خوند ورکوی.

## د الله د محبت اسباب:

د دغه محبت د پاره څۀ اسباب وو چې د کومو اسبابو د وجے نه د انسان محبت د الله سره پیدا کیږی یو په دغه اسبابو کښې کثرت ذکر دے ځومره چې انسان د الله ذکر ډیر کوی نو د دې انسان به د الله سره مینه پیدا کیږی او دا دنیا کښې هم انسان تجربه کولے شی ځومره چې د یو څیز زیات ذکر کوی دومره به د دغه څیز سره د دې انسان مینه ډیره وی.

دویم څیز د الله د محبت پیدا کیدو د پاره د الله د نعمتونو استحضار او مراقبه ده چې په ما باندې الله دا دا نعمتونه کړی دی او د دې مثال په دنیا کښې دا دے چې د یو انسان سره چا څۀ ښیګړه کړی وی نو د دغه انسان دا ښیګړه د دۀ ټول عمر یاده وی نو ځنګه به انسان د الله بے شماره، همیشه نعمتونه هیر کړی چې ټول عمر په انسان باندې قسم قسم نعمتونه کوی نو د نعمتونو مراقبے او استحضار سره انسان ته د الله محبت حاصلیږی. د دې طریقه دا ده چې انسان په ټوله ورځ کښې پنځه، لس مینټه ځان سره کینی او د ټولے ورځے د نعمتونو شمار اوکړی او بیا د الله شکر ،حمد او ثناء په دې باندې اوکړی خو د دې نعمتونو استحضار

سره سره په خپل عمل باندې هم نظر کول پکار دی چې زمونږه د الله د نعمتونو سره څۀ قسم رويّه او څۀ قسم معامله کوؤ د الله دا نعمت مونږه د الله د رضا د پاره استعمالوؤ او که د الله د ناراضګے کښې ئے استعمالوؤ. د سر نه واخله تر خپو پورے مونږه د الله نعمتونه څنګه استعمالوؤ. زمونږه حالت فی الحقيقة دا دے چې د الله احکامات منلو کښې او په عمل کښې راوستلو کښې مونږه کوتاهی کوؤ او د څۀ څيز نه چې مونږ الله منع کړی يو مونږه د هغے نه منع کيدو ته تيار نه يو او د څۀ حکم چې الله کړے دے د هغے پوره کولو ته تيار نه يو بلکه هغه عبادتو نه مونږه ته يو بوج ښکاری. علامه رومی رحمه الله دا خبره په اشعارو کښې ذکر کړے ده.

*کارسازما برساز کار ما*
*فکر ما در کارماازاد ما*

زمونږه کار ساز الله رب العزت زمونږه په کارونو کښې اخته دے. وړوکے نه وړوکے او غټ نه غټ ټول کارونه هغه پوره کوی او زما چې کومه ذمه داری ده په هغې کښې زۀ آزاد يمه. مونځ راته ګران دے، زکوة ورکول زړۀ نۀ غواړی، روژه نيول زما په وس کښې نۀ ده نو الله چې کوم کار په خپله ذمه اغستلے دے هغه پوره کوی خو مونږه په خپله ذمه چې کوم کار اغستے دے او الله راکړے دے هغے پوره کيدو ته تيار نه يو نو مونږه چې کله هم په دې خپل عمل باندې نظر کوؤ نو مونږه ته به د الله د نعمتونو احساس کيږی چې زۀ څومره شکر ګزار يمه او څومره نا شکره يمه.

## د خالق او د مخلوق حيثيت:

او بيا د دې سره سره خپل حيثيت پيژندل غواړی چې زما حيثيت څۀ دے او د الله حيثيت څۀ دے د الله حيثيت لوے مقام، عظيم ذات او

زمونږه حیثیت عاجزي، کمزوري، ناتواني د نور چا خو لا څۀ کوے د خپل ځان اختیار زمونږه په لاس کښې نشته دے. دومره بے اختیاره چې یو قدم بغیر د الله د اختیار نه نه شو اوچتولے نو پکار ده چې مونږه بیا د الله سره محبت اوکړو په دې سره د انسان نه د تکبر صفت لرے کیږي او خود بخود د الله د حکم فرمانبردار جوړیږي. کوم انسان چې دا وائي چې زۀ خو زه یمه دا مال هم زما دے دولت سرمایه دا هر څۀ زما دی او زما په لاس باندې ځی راځی نو دا مونږه په خپل حیثیت کښې سوچ او غوروفکر نه دے کړے که مونږه د الله ذات ځان ته مخے ته کړو او د الله په قدرتونو باندې سوچ، فکر اوکړو نو یقینا مونږه به د الله شکر ګزار بندګان جوړ شو دا په دې سره کیږي چې انسان د خپل ځان او د الله حیثیت اوپیژنی.

## د نبی ﷺ دعا:

دې وجے نه پیغمبر ﷺ به دا دعا د الله نه غوښتله:

﴿اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِیْ فِیْ عَیْنِیْ صَغِیْرًا وَفِیْ اَعْیُنِ النَّاسِ کَبِیْرًا﴾ (بزار)

الله ته ماته زما ځان زما په نظر کښې وړوکے او کمزورے جوړ کړے او د خلقو په نظر کښې ما لره لوے جوړ کړے چې زما خپل ځان، نفس، زړۀ ما لره دا جواب راکوی چې ته هیڅ څیز نه ئے خو ﴿فِیْ اَعْیُنِ النَّاسِ کَبِیْرًا﴾ د خلقو په نظر کښې د الله د دین د وجے نه ما عزت مند کړه. انسان به د خپل ځان لوے والے په خپله نه بیانوی بلکه عزت مند انسان هغه دے چې د الله د وجے د الله مخلوق دۀ ته د عزت په نظر باندې ګوری او کله چې انسان ته خپل ځان کمزورے او عاجزه ښکاری نو دا کوشش کوی چې نیک عمل ډیر اوکړی الله ډیر راضی کړی په هره طریقه الله رضا کړی او دې سره دا خبره ذهن کښې حاضرول چې اول او آخر

زما پناه ده ځکه په دنیا کښې د هر څیز څۀ معلوم وقت وی، ګارنټی وی د بلب ګارنټی شته دے اګر که د پنځوسو، سلو روپو ولے نه وی خو د دې قیمتی انسان یو منټ ګارنټی هم نشته دے ځکه د انسان حقیقت فناء ده چې زۀ که الله په دې دنیا کښې پیدا کړے یمه د دې د پاره ئے پیدا کړے یمه چې زۀ به فناء کیږمه نو د کوم څیز چې دا حقیقت او دا حالت وی د هغۀ په ذهن کښې تکبر او بړائی نه وی د هغه په ذهن کښې عاجزی او خپله کمزوری همیشه حاضر وی نن که د الله اطاعت تابعداری نشته نو وجه دا ده چې مونږه د الله لوے والے هیر کړے دے او د خپل ځان د لوے والی خبرے کوؤ دۀ ته خپل ځان کمزورے لاندے مرتبے واله نه ښکاری نو ځکه په دې سرکشے کښې اخته شوے دے.

## انقلابی خبره:

سید سلمان ندوی رحمۃ اللہ علیہ یو ډیر لوے عالم، محدث، مفسر مؤرخ، سیرت نګار عالم دے دۀ یو ځل د اشرف علی تهانوی رحمۃ اللہ علیہ په شاګردے کښې ئے ځان دننه کړو نو چې کله د تربیت او زده کړے ورځے پوره شوے او دا ورنه روانیږی نو ورته وائی چې ما ته څۀ نصیحت اوکړه هغه ورته وائی چې ((سلمان اپنے نفس کو مٹاؤ اللہ سے تعلق بن جائیگا)) اے سلمان ندوی خپل ځان مټاؤ کړه نو ستا به د الله سره تعلق او ربط جوړ شی. سلمان ندوی رحمۃ اللہ علیہ وائی چې دې یوے خبرے زما ټول ژوند بدل کړو او زما په ژوند کښې ئے انقلاب برپا کړو نو دا خبره چې انسان به د الله نعمتونه ځان ته مخے ته کوی او بیا به خپل حیثیت خپل ځان ته مخے ته کوی نو بیا به د انسان د الله سره مینه محبت او تعلق پیدا کیږی.

والحمد لله رب العالمین

# اسلام کښې د اخلاقو اهمّیت او فضیلت

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَکَفٰی وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِیَآءِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِیَآءِ اَمَّا بَعْد !فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۔

﴿یَا بُنَيَّ أَقِمِ الصَّلَاةَ وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَاصْبِرْ عَلَىٰ مَا أَصَابَكَ إِنَّ ذَٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ (۱۷) وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ (۱۸)﴾ [لقمان] وقال تعالٰی ﴿وَ لَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا اِنَّكَ لَنْ تَخْرِقَ الْأَرْضَ وَلَنْ تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُولًا (۳۷)﴾ [بنی اسرائیل]

وقال تعالٰی: ﴿وَاِنَّكَ لَعَلٰی خُلُقٍ عَظِیْمٍ﴾ [سورة القلم 4]

## کامل دینداره انسان:

مخکښې نه د دین په باره کښې خبره شروع وه چې دین د څه اعمال اوڅه عقائدو او نظریاتو نوم دے، دغه عقائد او اعمال که یو بنده اختیار کړی نو ده ته کامل دینداره وئیل کیږی د دین د عقائدو او عباداتو په شعبو، باندې بیان شوے وو د دې دین اسلام دریمه شعبه ښه اخلاق دی، ځکه اخلاق د دین اسلام اهمه شعبه او اهم رکن دے، که یو انسان ته په دنیا کښې د عقیدې او عمل سره ښه اخلاق نصیب شی نو دې انسان ته الله د دنیا او اخرت خیر او کامیابی ورکوی، په ښه اخلاقو کښې د دنیا او اخرت دواړو خوشحالی او کامیابی ده.

قرآن کښې الله ذکر کوی ﴿وَمَنْ يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا﴾ (سورة البقرة:۲۷۰) چاته چې حکمت ورکړے شی نو دې انسان ته لوې خیر ورکړے شو او په دې ځائے کښې د حکمت نه مراد ښه اخلاق

او ښه خصلت دے، او الله دا ښه اخلاق په کاملې او مکمل طريقې سره خپل پيغمبر پاك صل الله عليه واله وسلم ته ورکړی ووځکه ورته الله وائی ﴿وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ ﴾(سورة القلم: ۴) اے پيغمبره ته د لوې اخلاقو خاوند ئې، د اُمّ المؤمنين عائشة رضى الله عنها نه تپوس شوےووچې د نبی عليه السلام اخلاق څه وو؟ هغې ورته جواب ورکړے وو﴿ كَانَ خُلُقُهُ الْقُرْآن ﴾(احمد) د نبی عليه السلام اخلاق که څوك معلومول غواړی نو په قرآن باندې دې عمل اوکړی، قرآن چې څه تعليم ورکړے دے نو دا د نبی عليه السلام اخلاق دی، او دا ځکه که نن يو انسان د نبی عليه السلام په شان اخلاق غواړی نو په قرآن باندې دې دغه انسان عمل شروع کړی او عبد الله بن عمرو بن العاص رضى الله عنه وائی د نبی عليه السلام د اخلاقو تذکره کوی ﴿لَمْ يَكُنْ رَسُوْلُ الله فَا حِشًا وَلَا مُتَفَحِّشًا﴾(بخاری) د نبی عليه السلام ژبې د بے حيائۍ خبرې نه دی کړې او نه نبی عليه السلام د بے حيائۍ کار خوښ کړے دے او د دې ښه صفاتو تعليم نبی عليه السلام خپل اُمّت ته هم ورکړے دے لکه حديث کښې راځی ﴿ إِنَّ مِنْ أَخْيَارِكُمْ أَحْسَنَكُمْ أَخْلَاقًا ﴾(بخاری) په تاسو کښې غوره او بهترين انسان د ښه او نيك اخلاقو واله انسان دے، ډير دولت ډير علم ډير شهرت ډير طاقتور انسان نبی عليه السلام نه دے ښو دلے بلکه نبی عليه السلام د ښه او نيك اخلاقو واله انسان ښودلے دے چې دا بهترين او لوې مقام واله انسان دے.

## د بعثت نبوی يو مقصد:

او د نبی عليه السلام دنيا ته د بعثت ډير ګنړ مقصدونه دی يو پکښې دا مقصد هم دے او په يو حديث کښې نبی عليه السلام دا د خپل مقصد د پاره يو مستقل مقصد ښودلے دے ﴿إِنَّمَا بُعِثْتُ لِأُتَمِّمَ مَكَارِمَ

**الْاَخْلَاقِ﴾**(احمد) زما د بعثت يو مقصد دا هم دے چې د بهترين اخلاقو او خصلتونو تعليم عام او مکمل شی، په انبيائے عليهم السلام کښې چې څومره کمالات وو هغه ټول کمالات الله په نبی عليه السلام کښې په اعلی درجې سره موجود کړی وو او هغه ټول ښه صفات الله رب العزت نبی عليه السلام ته ورکړی وو، الله رب العزت قرآن کريم کښې ځائے په ځائے د نبی عليه السلام د بعثت مقاصد ذکر کړی دی لکه الله فرمائی **﴿لَقَدْ مَنَّ اللهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ بَعَثَ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِنْهُمْ﴾** (سورة المؤمنون:١٦٤) الله لوې احسان کړے دے په مومنانو باندې ځکه چې الله ورته پيغمبر راليږلے دے او دا ځکه که نبی عليه السلام نه وے راغلے او اُمّت ته د دې بهترين عقيدې او اخلاقو تعليم نه وے ورکړے شوے نو د دې اُمّت به په اوس وخت کښې څه حالت وے صرف په نوم باندې انسانيت به وے او نور به د ځناورونه بدترين خلق وے، څه قسمه د عقيدې او د عمل په ګندګۍ او خيانت کښې به نن دا اُمّت ډوب وے خو الله دا لوې احسان کړے دے چې د نبی عليه السلام په بعثت سره الله رب العزت دا اُمّت او ملت واله د اخلاقی ، انفرادی ، اجتماعی، نظرياتی، بيماريانو مرضونو نه خلاص کړل او نيک ښه اخلاق کردار او سلوك واله لاره ورته ښکاره او واضحه شوه،

## اخلاق او پيغمبر:

نو په دې آيت کښې الله تعالیٰ د نبی عليه السلام د بعثت څه مقصدونه ذکر کړی دی يودا مقصد دے **﴿يُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ﴾** چې دې خپل اُمّت والوو ته به د الله د کتاب تعليم او بيان کوی او دويم مقصد دا دے **﴿وَالْحِكْمَةَ﴾** د نبی عليه السلام د احاديثو تعليم دې اُمّت ته ورکړے شی او دريم مقصد دا دے **﴿وَيُزَكِّيْهِمْ﴾** چې د بدو خصلتونو او د بد صفتونو

نه خپل اُمّت واله پاك كړی، او د ښه او نيك اخلاقو تعليم ورته وركړی، چې د عباداتو اصلاح او د نظرياتو، عقائدو اصلاح سره د ا خلاقو اصلاح هم اوكړے شی او بيا صرف د دې تعليم نه بلكه عملًا په خپل ژوند كښې دغه ټول اخلاق راوستل دا هم د پيغمبر ذمه داری ده نو اُمّت ته عملی تعليم ورسره د اخلاقو د فضيلت بيان دا د پيغمبر ذمه داری ده .

د نبی عليه السلام نه تپوس شوے وو چې د كامل ايمان خاوند څوك دے نبی عليه السلام جواب وركړے وو، كامل ايمان واله هغه انسان دے چې د هغه اخلاق ښه وی، نو په ايمان كښې ترقی او كمال پيدا كيږي په ښه اخلاقو سره، او يو روايت كښې راځی، چې د قيامت په ورځ به دا انسان د نيك اعمالو په ميزان كښې وزنی څيز ښه او نيك اخلاق وی ، د نورو اعمالو وزن او اجر و ثواب به هم وی خو د نيك اعمالو به يو جدا مقام وی او عائشة رضی الله عنها د نبی عليه السلام نه روايت كوی چې نبی عليه السلام فرمائی ﴿ **إِنَّ الْمُؤْمِنَ لَيُدْرِكُ بِحُسْنِ خُلُقِهِ دَرَجَةَ الْقَائِمِ بِاللَّيْلِ وَالصَّائِمِ بِالنَّهَارِ** ﴾(احمد) مسلمان مومن بنده په نيك اخلاقو سره د شپې عبادت كوؤنكی انسان او د ورځې الله ته ولاړ انسان واله اجروثواب ملاويږی، كه يو طرف ته الله په ښه اخلاقو سره انسان ته د نفلی روژو او د شپې مونځ گزار اجروثواب وركړے دے نو بل طرف ته د بداخلاقه سړی دا انجام دے چې د بد اخلاقۍ د وجې نه د هغه ټول نيك اعمال تباه كيږی، لكه حديث كښې راځی نبی عليه السلام تپوس كړے وو، مفلس او غريب انسان څوك دے صحابوو ورته جواب وركړو چې هغه انسان غريب دے چې مال دولت دينار درهم سرمايه ورسره نه وی، نبی عليه السلام جواب وركړو چې نا دا انسان غريب نه دے غريب هغه انسان دے چې د قيامت په ورځ د الله په دربار كښې پيش شی ډير نيك

عملونه اجرونه ثوابونه ورسره وی، او په دې انسان باندې د نورو خلقو حقوق وی یو انسان ته ده کنځلے کړې وی، بل انسان نه غصب ئې کړے وی د بل بنده سره نوره بد اخلاقی ده کړي وی نو دغه یو یو حقدار به راځی او د دهٔ نه به دا نیك عملونه اجرونه اخلی تر دې پورې چې خالی لاس پاتې شی بیا هم دغه حقداران به راروان وې او د دې انسان سره به نور ثوابونه نه وی نو د الله د طرف نه به ورته حکم اوکړے شی چې د دغه خلقو دا ګناهونه په دې انسان باندې بار کړۀ او فیصله به اوکړے شی چې دا انسان جهنم ته داخل کړۀ، نو دا ټول نیك عملونه د څه د وجې نه برباد شو دا درې څیزونه دی یو غلط اخلاق دویم غلطه معاشره دریم غلط معاملات په دې درې څیزونو سره د انسان نیك عمل تباه کیږی.

## د ژبې نقصانات:

او په یو موقع د نبی علیه السلام نه یو صحابی تپوس کړے وو چې ماته نصیحت اوکړه نبی علیه السلام ورته وئیلی وو﴿كُفَّ عَلَيْكَ هٰذَا﴾ (ترمذی) دا ژبه خپله کنټرول کړه او یو صحابی رضی الله عنه د نبی علیه السلام نه تپوس کړے وو چې د انسان سره به د ژبې په باره کښې د قیامت په ورځ حساب کتاب وی نبی علیه السلام جواب ورکړو چې په جهنم کښې چې انسان پړمخ پریوزی نو د دې سبب دا د انسان ژبه ده او اکثر انسان ته نقصان په دنیا کښې هم د ژبې د وجې نه وی، او په قیامت کښې دا نقصان دے چې د انسان محنت او نیك عمل ورسره ضائع او برباد شی، مطلب دا دے چې د بد اخلاقه انسان نیك عمل د خپل ځان د فائدې د پاره نه وی بلکه د بل انسان د فائدې دپاره وی.

## د اخلاقو د پاره دعا:

او نبی علیه السلام د یو دعا په باره کښې صحابوؤ ته تعلیم ورکړے وو دا دعا په عامو حالاتو کښې هم انسان وئیلے شی اوکله چې په ائینه کښې نظر اوکړی نو بیاهم دا دعا وئیلی شی، هغه دعا دا ده﴿**أَللّٰهُمَّ أَنْتَ حَسَّنْتَ خَلْقِيْ فَأَحْسِنْ خُلُقِيْ**﴾ (احمد) الله تا ماله شکل او صورت خائسته راکړے دے دغه شان زما اخلاق هم ورسره خائسته او بهترین جوړ کړې،نو دا اخلاق یو قیمتی څیز دے ځکه نبی علیه السلام د دې د پاره دعا کړې ده او تر دې پورې نبی علیه السلام د ښه اخلاقو تاکید کړے دے چې د کافر سره به بد اخلاقی یو انسان نه کوی، ځکه معاذ رضی الله عنه چې کله نبی علیه السلام بحیثیت قاضی یمن ته لیږلے وو نو نبی علیه السلام ورته وئیلو وو﴿**يَامُعَاذُ أَحْسِنْ خُلُقَكَ لِلنَّاسِ**﴾ (الإستذکار) اے معاذ د خلقو سره ښه او بهترین اخلاق کوه ځکه دا نبی قاضی مقرر کړے وو نو د حاکم قاضی مقرر کیدو دا مطلب نه دے چې انسان به بد اخلاقه وی.

او دا ښه اخلاق د دین اسلام په ارکانو کښې داخل دی ځکه دین اسلام یو څو خبرې دی یو عقیده ده دویم عبادات دریم اخلاق څلورم معاشره پنځم معامله او سیاست او ریاست دا د دین اسلام مجموعه ده.

دا اخلاق څه څیز دے؟ عبد الله بن مبارك وائی ﴿**هُوَ طَلَاقَةُ الْوَجْهِ وَبَذْلُ الْمَعْرُوْفِ لِأَهْلِ الْخَيْرِ**﴾ (آداب شرعية) که د یو مسلمان سره مخامخ کیږی نو په پراخه او خوشحاله تندی سره او د خلقو سره د خپل وسعت او طاقت مطابق خیر ښیګړه احسان کول دا هم نیك او بهترین اخلاق دی ﴿**وَكَفُّ الْأَذٰى**﴾ او خلقه د خپل تکلیف نه لرې ساتل دا هم په دې ښه اخلاقو کښې شامل دی. والحمدلله رب العالمين

# د اخلاقو بنیادونه

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَکَفٰی وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِیَآءِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِیَآءِ اَمَّا بَعْد !فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۔

﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَىٰ وَيَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴾ (نحل: ۹۰)

## درې اوامر او نواهی:

د قرآن پاك يو ايت مباركه تلاوت شو په دې ايت كښې الله رب العزت شپږ خبرې ذكر كړې دی، درې اوامر او درې نواهی دی او دا د اسلامی اخلاقو بنيادونه دی، دا آيت په اصل كښې د انسان د ټول ژوند منشور او دستور العمل دے، درې خبرې په عمل كښې د راوستولو دی، يو عدل، دويم احسان، دريم صله رحمی، خپل ولی پالل ، مخكښې د عدل وضاحت شوے وو، چې د دې درې مرحلې دی، يو د الله حق ادا كول دې ته توحيد وئيلے كيږی، او د الله حق دا دے چې د هغه سره په حكمونو او كارونو كښې څوك شريك نه كړے شی، دويم عدل د انسان د خپل ځان سره عدل دے چې د خپل وس،طاقت نه زيات بوج به نه برداشت كوی، خپل ځان ته به نقصان نه وركوی، تر دې چې په عباداتو كښې به هم دا انسان انصاف كوی او دريمه درجه د عدل دا ده چې انسان د تمامو مخلوقاتو سره عدل اوكړی، د دې ټولو مخلوقاتو خير خواهی او همدردۍ ته وئيلے كيږی د مخلوقاتو سره عدل او انصاف چې انسان په خپل قول،فعل سره بل انسان ته تكليف نقصان ور نه كړی.

## عملي ژوند کښې عدل:

او دا عمل په کاملې طريقې سره درې واړه قسمونه په خلفائے راشدينو کښې موجود وو او عمر بن عبدالعزيز رضی الله عنه يو ځل د محمد بن کعب القرظی نه تپوس کړے وو، چې الله په قرآن کښې بار بار د عدل تذکره کړې ده دا عدل څه ته وئيلے کيږی؟ نو محمد بن کعب ورته جواب ورکړو چې تا زما نه ډير مشکل سوال اوکړو، او د دې جواب دا دے، ﴿كُنْ لِلصَّغِيْرِ أَبًا﴾ د هر وړوکی د پاره بحيثيت پلار جوړشه، او څوک چې ستا هم عمر دی په عمر کښې ستا سره برابر دی نو هغوی ته د رونړو په نظر باندې ګوره نو د خپل هم عمرو سره د رورولے پشان معامله اُوکړه، او يو دا خبره ده چې مجرم ته د مقرر حد نه زياته سزا ورکړے شی نو دا هم د عدل نه خلاف خبره ده ځکه دا ظلم دے،عدل نه دے.او د عدل مطالبه که يو طرف ته د رياست،عدالت او حکومت نه شوې ده نو بل طرف ته د هر هر فرد نه د عدل انفرادی مطالبه هم موجود ده بلکه په دوکان،تجارت معاملات، مسجد،کورونو،محلو کښې غرض په هر ځائے کښې عدل مطلوب دے، تر دې پورې چې د ښځه،بچی، مور، پلار ، ياردوست، ګاونډی د دې ټولو سره د عدل معامله هر انسان ته د شريعت حکم دے، استاذ، شاګرد، ملازمين، غلامان، مزدوران، الغرض د ژوند په هر شعبه کښې دې د عدل نظام قائم کړے شی.

## د هر انسان ظلم او جبر:

نن صبا هر طرف ته ظلم او جبر شروع دے، مزدور د خپل مالك نه شکايت کوی، غلام د خپل آقا نه، رعيت د بادشاه نه خاوند د خپلې ښځې نه او ښځه د خپل خاوند نه شکايت کوی استاد د شاګرد نه او

شاګرد د استاد نه، پلار د خپل ځوی نه او ځوې د خپل پلار نه شکایت کوی، هر انسان ، هره طبقه د بل نه شکایت لری خو که بل طرف ته اوکتلے شی نو که یو انسان ته څه نه څه اختیارات حاصل شی بیا دغه انسان پخپله د ظلم او زبردستۍ نه کار اخلی او دا د خپل ځان د پاره مشغله جوړه کړی دا خبره یاد ساتل ضروری دی چې په دنیا کښې په هیڅ یو صورت عدل نشی راتلے تر څو پورې چې هر یو انسان ظلم،زیاتے نه وی پریخودے، که د معاشرې یو یو فرد صحیح شی نو عدل به قائم شی، ځکه په دې دور کښې هر انسان د خپل دائره کار او اختیاراتو حد پورې ظالم دے. نو که هر یو انسان په خپل دائره عمل، دائره کار کښې انصاف واله عدل واله جوړ شوے نه وی مجموعی عدل او انصاف نشی راتلے، د صحابه کرامو هر هر فرد د عدل او انصاف مجسّمه وه ځکه وربانديې حاکمان الله انصاف دار مقرر کړې وو، او نن په معاشره کښې هر انسان ظالم دے نو الله وربانديې حاکمان ظالمان مقرر کړې دی.

## د احسان دوه قسمونه:

په دغه ایت کښې د الله دویم حکم د احسان په باره کښې دے،احسان څه ته وئیلے کیږی چې الله د دې په باره کښې حکم کړے دے او باربار قرآن د احسان تذکره کړې ده، دا احسان په دوه قسمه دے یو ته احسان فی العبادات او دویم ته احسان فی المعاملات وئیلے کیږی، احسان فی العبادات دا دے، لکه حدیث جبرئیل کښې راځی ﴿أَنْ تَعْبُدَ اللهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ. فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ﴾(مشکوٰة) احسان دا دے چې ته د الله عبادت په داسې طریقې سره اوکړې چې ګویا الله تا ته ښکاری اوکه

الله تا ته نه ښکاری نو دا یقین اوکړه چې زه الله ته ښکارم او زه الله ته مخامخ یمه اوکه یو انسان مونځ ادا کوی خو دې انسان ته د تکبیر نه واخله سلام پورې دا احساس نه وی شوے چې زه الله ته ولاړ یمه نو د دې انسان فرض مونځ ادا شو خو دې انسان ته محسن،احسان کونکے نه وئیلے کیږی. دا د محسینینو مرتبې واله خاوند نه دے د کوم خلقو په باره کښې چې الله فرمائی:﴿إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ﴾(آل عمران:١٣٤) الله د احسان کوؤنکو سره مینه او محبت کوی او دویم حکمت دا دے چې د انسان دا یقین جوړ شوے وی چې مالره الله وینی او زه د هغه ذات نه پټ کیدے نشمه نو دا انسان به په دې عبادت کښې هیڅ ناروا حرکت ،فضول،عبث، کار اونکړی او دې درجې ته احسان فی العبادة وئیلے کیږی.

## احسان فی المعاملات:

دویم احسان فی المعاملات دے، چې د یو انسان د بل انسان سره کاروبار، لین دین،تجارت،معامله راشی نو په دې کښې احسان دې ته وئیلې کیږی چې د خلقو سره حسن سلوك همدردی،فیاضی، دیانت داری، او د بل انسان د حق خیال او لحاظ ساتل دې ته احسان وئیلے کیږی، مفتی شفیع رحمت الله فرمائی چې قرآن کښې الله د عدل، او احسان په باره کښې حکم کړ ے دے نو عدل دا دے چې د یو انسان په بل انسان باندې حق دے هغه ورنه پوره واخلی بغیر د څه کمی زیاتی نه دې ته عدل وائی اوکه د دې انسان باندې د بل انسان حق وی نو هغه ته خپل حق پوره ورکړی دا د عدل دویمه درجه ده او احسان دا دے چې بل انسان ته د

هغه د حق نه زيات څه ورکړے شي لکه مثال د لس روپو په ځائے ورته يؤولس روپۍ ورکړے شي بغير د شرط کيدونه اوکه خپل حق د بل انسان نه اخلي نو کم واخلي، څه نه څه ورته معاف کړي دا د احسان دويمه مرتبه ده او تفسير قرطبي واله وائي چې د احسان معامله به د انسانانو سره سره د حيواناتو سره هم وي.

## د قرابت داري لحاظ:

او د الله دريم حکم په دې ايت کښې دا دے ﴿وَإِيْتَآءِ ذِى الْقُرْبٰى﴾ د ذى القربى نه مراد په دې مقام کښې عام مفهوم مراد دے که هغه حقيقي رشته دار وي اوکه تعلق لرونکے رشته دار مطلب يار دوست وي اوکه هغه د تجارت شريك داروي اوکه هغه هم وطن وي نو دوي ټولو ته حق ورکول مراد دي او يا دا مطلب دے چې هغه غريب دے يا معذوره دے يا بيمار دے نو د هغه سره مالي امداد،يا خدمت، يا د بيمار تپوس لره تلل دا ټول په دې مقام کښې مراد خبرې دي، دې ته ايتاء ذى القربى وئيلے کيږي او خاص د رشته دارانو د حقوقو خيال ساتل نو دا د ايتاء ذى القربى اعلى مرتبه ده او دې ته په قرآن او حديث کښې صله رحمي وائي د دې په باره کښې بے شماره قرآني آيات او د نبي عليه السلام احاديث راغلي دي، لکه يو روايت کښې راځي که يو انسان دا غواړي چې الله زما په عمر او مال کښې برکت پيدا کړي نو خپل ولي،قرابت داري دې پالي، د خپل ولے لحاظ ساتل ، او اسماء رضى الله عنها ته نبي عليه السلام وئيلي وو چې سره د شرك نه د مور د قرابت دارۍ حق شته دے.

والحمدلله رب العالمين

# د محمد صلی الله علیه واله وسلم اخلاق

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ ۖ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ ۖ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ﴾ (سورة آل عمران:۱۵۹)

## د اخلاقو تعریف:

مخکښې جمعې نه د اخلاقو متعلق بیان او خبره شروع وه، د اخلاقو فضیلت مقام او د مسلمان د پاره د دې اهمیت څه دے او په اسلام کښې د دې څه اهمیت دے دا خبرې بیان شوې وې. د دې نه بعد دا خبره ضروری ده ، چې اخلاق څه څیز دے؟ د دې تعریف څه دے؟ حسن اخلاق څه ته وئیلے کیږی؟او د نبی علیه السلام اخلاق څه وو؟

اخلاق د خُلْق جمع ده، او خُلْق عادت،طبیعت،خصلت او خوئی ته وئیلے کیږی، د قرآن او سنت په رڼړا کښې د اخلاقو اصلاح په درې څیزونو سره کیدے شی، او کوم مسلمان چې په دې څیزونو باندې عمل شروع کړی، نو دا د ښه او نیك اخلاقو خاوند جوړ شی، عام مشهور خبره دا ده چې اخلاق په خندا او خوشحالئ سره ملاقات ته وئیلے کیږی،یا په ژبه باندې یو څو خبرې ورته زده وی او هغه الفاظ صرف په ژبې سره ادا کړی، حالانکه د اخلاقو دائره او مفهوم وسیع مفهوم دے، نرمې خبرې،

خندا پیشانی، اظهار محبت دا د اخلاقو یو څو اجزاء دی، دا مکمل اخلاق نه دی، مکمل اخلاق دا دی چې یو انسان د دې درې اصولوعملی پابند جوړ شی.

## دانسانانوتعلق:

یو دا اصل دے چې انسان الله په دنیا کښې فطرتًا د نورو انسانانو سره تعلق لرونکے پیدا کړے دے، نو په دې انسانی تعلقاتو کښې چې په دې انسان باندې څه حقوق، ذمه داریانې، لازم شی نو دغه حقوق پوره کول او ذمه داری ادا کول، دا د اخلاقو یو بنیادی او اهم اصل دے، بیا که دغه تعلق د هر چا،هر انسان سره وی، که هغه مور پلار وی که استاد ،دوست، ملګرے، ګاونډی وی اوکه هغه ښځه خاوند وی نو د دې ټولو حقوق پوره کول په دې یو اصل کښې راجمع شوې دی، او تر دې پورې چې د انسانانو د دائرې نه باهر، که حیوانات ولے نه وی نو د هغوی د حقوقو لحاظ لرل دا ټول په دې کښې شامل دی.

## داجتماعی ژوند اداب:

د اخلاقو دویم اصل دا دے، چې د انسان اجتماعی او عمومی ژوند سره کوم اداب،اصول،اقدار تعلق لری په دغه ادابو،اصولو، اقداروباندې عمل کول دا د اخلاقو دویمه حصه ده، لکه رشتیا وئیل، امانت داری او دیانت داری سره معامله پوره کول، عادل، انصاف دار، او عفودرګزر واله جوړیدل، دا هغه اصول او اقدار دی چې د اجتماعی ژوند سره تعلق لری او د دې په مقابله کښې د دې د خلاف صفاتونه ځان ساتل، چې عمومی او اجتماعی ژوند ته نقصانی وی، لکه دروغ،خودغرضی،دهوکه، ملاوټ،

ظلم، فساد، غلاګری، غیبت دا ټول هغه صفات دې چې عمومي ژوند ته په دې سره نقصان کیږی.

او د اخلاقو دریم اصل دا دے، چې د انسان انفرادی ژوند سره تعلق لرونکې، طریقې، اطوار،عادات، اداب د شریعت د تعلیماتو په پابندۍ سره ادا کړے شی، لکه مثال: ناسته ولاړه،خوراك،څکاك، رهن سهن، وغیره دا درې څیزونه دی دے ته په دین اسلام کښې اخلاق وئیلے شي.

## درې قسمه اخلاق:

او د شریعت په نظرکښې خلق درې قسمه دی ځکه په دنیا کښې هیڅ یو عقلمند انسان بے فائدې فضول کار نه کوی په هر کار کښې د انسان یو غرض او مقصد وی، هغه غرض یا دنیاوی غرض وی او یا د اخرت مطلب پکښې وی،نو په دې لحاظ سره اخلاقی خلق درې قسمه دی یو ته کاروباری اخلاق وئیلے کیږی دویم نمائشی اخلاق دی او دریم اسلامی اخلاق دی، دوکاندار،تاجر،سیاسی،رهنما د دوي خنده پیشانی ، نرمه لهجه او اظهار محبت صرف د خپل دوکان، تجارت یا د سیاست د رواج د پاره وی، دا په دې نیت باندې نه وی چې دا د شریعت حکم دے او یا اخرت کښې په دې سره مسلمان ته اجر وثواب ورکړے کیږی دا مقصد پکښې نه وی، که دا دنیاوی اغراض او مقاصد نه وی نو بیا انداز،لهجه محامخ کیدل په بل انداز سره وی.

نمائشی اخلاق دا دې، چې نرمه لهجه، اظهار محبت د دې مقصد د پاره اوکړے شی چې د خلقو په نظر کښې دا انسان نیك او ښه انسان

ښکاره شي او د دۀ تعریف او مدح اوکړے شي، د دې اخلاقو مقصد دا نه دے چې دا د الله حکم او د شریعت مطالبه ده.

او اسلامی اخلاق دا دی، چې نرمه لهجه نرم مزاح، احسان،عدل،دیانت داری،امانتداری،رشتیا دا ټول صفات په دې غرض سره اختیار کړے شی، چې دا د شریعت حکم دے او په دې باندې انسان ته اجروثواب ورکولے شی او په دې سره د بنده نه الله خوشحاله وی، او دا زما د دین حصه ده، او دا د مسلمان نه مطلوب دی.

## د بد اخلاقئ نتیجه:

د عقیدې او عباداتو پوره کیدونه بعد دریم څیز د اسلام د طرف نه دا څیز دے. او دا دومره اهم څیز دے، چې د قومونو او ملکونه عزت او مقام او مرتبه په ښه اخلاقو باندې موقوف وی کوم قومونه اوکوم افراد چې بهترین اخلاقو واله وی نو دغه قومونو او افرادو ته الله په دنیا کښې غلبه او عزت ورکړې دې او کوم کوم قوم او افراد چې د بد اخلاقو خاوندان وی نو دا د دې قوم د پاره د تباهئ زوال، او ناکامئ سبب ګرځی.او دا بهترین او نیك اخلاق د انسان او حیوان په مینځ کښې د فرق او امتیاز سبب دے،ځکه انسان او حیوان دواړه خوراك ،څکاك ، ښځه ، بچو کښې شریك وی، فرق راوستونکے څیز دغه اخلاقی صفات دی، علمی، عقلی،اخلاقی،صفات په دې سره د انسان او حیوان په مینځ کښې فرق راځی،که یو انسان په مخکښې قومونو باندې نظر اوکړی،نو دغه قومونه د دنیا په لحاظ سره تعلیم یافته او عزتمند قومونه شمار کیدل ځکه د دنیا طاقت، دولت،سرمایه هر څه ورسره وو لیکن سره د دې هر څه نه هغه قومونه هلاك،تباه او ذلیل شو، وجه دا وه چې په هغوې کښې د

انبیاؤ تکذیب،ظلم زیاتے،قتل وغارت د حق مخالفت دا بد صفتونو پیدا کیدو سره هغوی هلاك،تباه وبرباد شو، او د دې زمکے د مخ نه ختم شو، د دې هلاکت سبب بدکردار،او بداخلاقی وه.

نبی علیه السلام قوم د دنیا یو غټ قوم دے، دوی ته الله په دنیا کښې مال دولت، محلات،باغات،فراخه رزق ورکړے وو بیا کله چې په دې قوم کښې بداخلاقی،بخل،دحق تکذیب، سودخوری،بزدلی دا عام شونو الله دغه قوم هلاك کړل.

او بل طرف ته عرب قوم چې یو کمزورے،بداخلاقه،بدکرداره قوم دے ، کله چې په قرآن او نبی علیه السلام باندې د دوی عقیده اویقین جوړ شو نو دغه کمزورے، بے وسه، قوم عرب الله په دنیا باندې علم،عمل،عقیدې،اخلاق،تهذیب،او تمدن واله امامان،مشران،پشوایان جوړ کړل، دغه قوم الله دنیا ته بطور نمونه پیش کړل،بهترین سیرت، اخلاقو واله خلق چې نن دنیا ته بطور مثال پیش کیږی داسې بل قوم په دنیا کښې نه دے پیدا شوے.

## باطنی صفات او اخلاق:

اخلاق د انسان د باطن سره تعلق لری ، نیکه جذبه، برابرلین دین او د زړه نور کیفیات د دې سره د اخلاقو لوې تعلق دے، په بد اخلاقو کښی مثال په طور غصه ده دا یو فطری خیز دے، دا دوه قسمه ده، یو د شریعت په لحاظ سره څه حد پورې جائز غصّه ده، لکه غلط کار نامناسب عمل انسان اوګوری نووربادې غصه شی، نو دا غصّه هر انسان ته راتلے شی قرآن کښې الله فرمائی﴿وَالْكَاظِمِيْنَ الْغَيْظَ ﴾(سورة ال عمران:۱۳۴) غصّه خوړونکی، الله دا نه دې فرمائیلی چې غصّه نه کونکی نا، الله

فرمائی غصه خوړونکی،مطلب دا دے چې انسان ته غصّه راځی خو دا انسان به دغه دباؤ کړی نو د دې فطری صفت نه ښه او بد اخلاق دواړه جوړیدے شی، شریعت د دې په باره کښې حکم کړےدے، او دا څه حد پورې جائز ده ،لکه حدیث کښې راځی، چې یو ماشوم بچے د اُوۀ، اتوو کالو عمر برابر شی په مونځ نه ادا کیدو باندې به ورته مور،پلار غصّه اوکړی،دغه شان کور کښې یو غلط کار کیږی نو په دغه غلط کار باندې غصّه کیدل د شریعت مطلوب امر دے، دا منع نه دی، خو دا وهل به څه حد پورې وی اسلامی او شرعی حدود نه به باهر نه وی لکه په مخ باندې به وهل نه وی، اونه به داسې وهل وی، چې وینه ورنه روانه شی، یا اندام وهلو سره مات یا معذوره شی، نو په دې حدودو کښې دننه غصّه په ښه، نیك اخلاقو کښې شمار کیږی، نو دا فطری صفت غصّه دوه قسمه ده جائز او ناجائز او د دې دپاره څه حدود مقرر شوې دی.

دویم صفت عزت نفس دے، دا عزت نفس د باطنی کیفیاتو یوه حصه ده،دا ښه اخلاقو کښې شمار کیږی چې د شریعت د حدودو په دائره کښې د دې د پاره مطالبه اوکړے شی، اوکه د دغه حدودو لحاظ اونه کړے شی نو دا بیا بد اخلاقی ده، لکه بل انسان ته په سپك نظرسره کتل، یا غرور،تکبر اختیارکړے شی نو دا بیا بد اخلاقی ده، د دې خبرې مقصد دا دے چې اخلاق صرف یو څو خبرې نه دی بلکه په دې کښې د انسان باطنی،فطری،صفات شامل دی.

# حسد

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللَّهُ بِهِ بَعْضَكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبُوا وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبْنَ وَاسْأَلُوا اللَّهَ مِن فَضْلِهِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا﴾ (النساء:۳۲)

## بد اخلاق:

زمونږه په شریعت اسلامی کښې د صحیح عقیدې او د صحیح عباداتو نه بعد اهمه حصّه او شعبه هغه د اخلاقو شعبه ده ، اول به انسان خپله عقیده او عمل برابر کړی، لکه څنګه چې قرآن او سنت د دې تعلیم ورکړے دے، بیا کله چې عقیده صحیح شی عمل د شریعت مطابق جوړ شی نو دریم نمبر مطالبه د مسلمان نه هغه د ښه اخلاقو مطالبه ده، اخلاق په دو قسمه دی، یو ته اخلاق حسنه وائی او په دې کښې صبر احسان، شکر، خدمت خلق دا ټولې خبرې شامل دی، په دې باندې عمل په انسان لازم او ضروری شوے دے د دې په مقابله کښې اخلاق سیّئه دی، یعنې بد اخلاق، بد صفتونه، او بد خویونه دی، د دغه نا خوښ او بد اخلاقو نه یو انسان له اجتناب او ځان ساتل ضروری دی، او دا انسان ته د شریعت حکم هم دے، دغه بد اخلاق ګڼړ دی خو یو پکښې حسد، کینه او بعض هم شامل دے.

## د حسد نقصان:

په دې د قرآن ايت کښې هم الله رب العزت تقريبًا تقريبًا د دې حسد مضمون بيان کړے دے، نو د دې د تفسير نه مخکښې دا پيژندل ضروري دی، چې حسد څه څيز دے؟ او د دې نتيجه نقصانات څه دی؟ او د دې نه د بچ کيدلو او د ځان ساتلو لاره څه ده؟اوّل خبره دا چې انسان د کومو غټو ګناهونو د وجې نه جهنم ته داخليږی، نو په دغه ګناهونو کښې د شرك او کفر نه بعد غټو ګناهونو کښې حسد،کينه بغض هم شامل دے، حديث کښې راځی نبی عليه السلام فرمائی حسد د انسان نيك عملونه داسې سيزی لکه څنګه چې اُور ته وُچ خشاك ګوزار کړے شی او دغه اُور دغه خشاك اوسيزی نو دغه شان حسد د انسان نيك عملونه تباه وبرباد کوی، نبی عليه السلام په دې حديث کښې د حسد تشبيه په تباهۍ کښې د اُور سره ورکړې ده.

## د حسد تعريف:

د حسد تعريف څه دے؟ حسد دومره غټه ګناه ده نو دا څه څيز دے؟ چې يو انسان دا اوپيژنی او خپل ځان ورنه بچ کړی، نو حسد دې ته وئيلے کيږی، چې د يو انسان په زړه او دماغو کښې دا خبره وی دا تمنا، ارزو کوی، چې دې بل انسان ته کوم نعمت ورکړے شوے دے دغه نعمت دې د دې بل انسان نه واغستلے شی او دغه نعمت دې بيا ماله راکړے شی دې ته حسد وئيلے کيږی او دا د حسد تعريف دے،بل انسان باندې الله احسان يا نعمت کړے وی که هغه د هر څه حوالې سره وی که دينی وی اوکه دنيوی وی او دا انسان ورباندې خفه وی چې دۀ لره الله دا مقام ولے

ورکړے دے، دا دولت ،مال، اولاد ورته الله ولے ورکړې دے، دا حسد ناجائز او حرام دے د دې سره په مقابله کښې يو بل څيز دے چې هغې ته غبطه وائی اُردو کښې (رشك) اوپشتو کښې ورته (فسخيدل)وائی ، نو دغه څيز جائز دے او حرام نه دے، دې دواړو کښې فرق دا دے، چې په حسد کښې دا سوچ وی چې د دغه بل انسان نه دا نعمت واغستلے شی چې د هغه سره دے دغه نعمت دې نه وی که عزّت ورسره وی نو عزّت ورنه لرې شی اوبے عزته شی که صحتمند دے نو دغه د دهٔ صحّت په بيمارۍ سره بدل کړے شی او غبطه دا ده چې د يو انسان سره علم وی نو بل انسان اووائي چې كه الله دا شان علم ماله هم راکړے وے، نو په دې کښې د بل انسان نه د اغستو او د هغه د ذلّت نيت او اراده پکښې نه وی.

## دوؤ څيزونو كښې غبطه:

او نبی علیه السلام د دې غبطی په باره کښې وائی چې ﴿لَاحَسَدَ اِلَّا فِیْ اثْنَتَیْنِ﴾(متفق علیه) حسد نشته مگر په دې دوؤ څيزونو کښې دے، نو هلته د حسد نه مراد غبطه ده، مطلب دوه څيزونه داسې دی چې هغه د فسخيدلو لائق دی، يو دا چې يو انسان ته الله علم ورکړے وی او هغه دغه د الله دين بيانوی نو ته ورته اوفسخيږي چې كه الله ماله دا علم راکړے وے نو ما به هم د الله دين بيان کړے وے، دغه شان يو بل انسان له الله مال ورکړے وی او دا انسان ورته فسخيږی چې که دا مال الله ماله راکړے وے نو دغه شان به ما هم دا مال د الله په دين باندې شپه او ورځ خرچ کړے وے، او دا دواړو د فسخيدلو ډير قابل ځکه دی چې دا دواړه د خير او د دين کارونه دی، هاں هغه مال دې ځائےکښې نه دے

مراد چې انسان د پاره د خسران او تباهۍ سبب وی،دغه شان هغه علم هم نه دے مراد چې د انسان د پاره هغه د هلاکت او تباهۍ زریعه جوړه شی، او هغه داسې چې علم وی عقیده او عمل ورباندې نه وی.

## درې نیک عملونو بد انجام:

او په یو بل حدیث کښې ورسره یو بل بنده یو ځائے کړے شوے دے چې دا درې کسان دی، درې بندګان دی چې په هغوی باندې به د جهنم اُور ګرمیږی یو هغه عالم دے چې د الله د رضا د پاره هغه علم نه وی کړے او دویم هغه بنده دے چې ډیر مال هغه خرچ کړے وی خو د الله رضا د پاره هغه مال نه وی خرچ کړے او دریم هغه شهید دے چې په میدان جنګ کښې شهید شوے وی خو د دهٔ شهادت مقصد د الله رضا نه وی. نو دغه عالم به د الله په دربار کښې پیش کړے شی او تپوس به ورنه اوکړے شي چې تا د الله د رضا دپاره په دنیا کښې څه کار نامه کړې وه؟ نو عالم به جواب ورکړی چې ما د الله د پاره ټول عمر په علم کښې خرچ کړے وو، د الله د طرف نه به ورته جواب ورکړے شی چې تا دروغ اووئیل، ځکه تا دا علم د دې د پاره کړے وو چې تا ته لوے عالم اووئیلے شی، نو فیصله به اوکړے شی چې دا جهنم ته داخل کړی، دغه شان بیا به مالداره انسان د الله دربار ته حاضر کړے شی او دا تپوس به ورنه اوکړے شی، چې تا د الله دربار ته الله د رضا دپاره څه حاضر کړی دی؟ هغه به ورته وائي چې ما د الله په دین باندې شپه او ورځ مال خرچ کړے وو، نو د الله د طرف نه به ورته جواب ورکړے شی چې تا دروغ اووئیل تا دا مال د دې د پاره خرچ کړےووچې سخی درته په دنیا کښې اووئیلے

شی نو فیصله به اوکړے شی چې دا هم جهنم ته داخل کړی او په دریم نمبر کښې به شهید حاضر کړے شی چې تا د الله د رضا د پاره څه حاضر کړی دی نو هغه به جواب ورکړی چې الله ما خپل ځان ستا په لاره کښې شهید کړے وو د الله د طرف نه به ورته جواب ورکړے شي چې تا د دې د پاره جهاد کړے ووچې لوې مجاهد او بهادر درته اووئیلے شی، نو فیصله به اوکړے شی دغه مجاهد به هم جهنم ته داخل کړے شی، نو دا غټ غټ عملونه که د الله رضا پکښې نه وی او د شریعت د اصولو او شرائطو مطابق نه وی نو په دې باندې انسان جهنم ته دا خیلږی اوکه د شریعت مطابق وی نو ډیر حقدار دی دا درې خبرې چې یو انسان دې دې ته اوفسخیږی، او غبطه د دې د پاره اوکړے شی.

## زړهٔ کښې حسد نه راوستل:

او دا حسد په زړهٔ کښې راوستل هم منع دی که بالفرض د یو انسان په زړهٔ کښې حسد راشی نو دغه انسان ورباندې توبه او استغفار اوکړی نو معافی به ورته شی خو چې ترڅو پورې ئې دغه حسد ته عملی شکل نه وی ورکړے،عملی شکل دا دے چې د حسد د وجې نه بل انسان ته تکلیف ورکړی، مالی یا بدنی یا د عزّت په باره کښې ئې ورته نقصان نه وی ورکړے،اوکه عملی نقصان ئې هغه انسان ته ورکړے وی نو بیا د دغه انسان نه معافی طلب کول ضروری ده او په دې ایت کښې هم الله فرمائی﴿وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللّٰهُ بِهٖ بَعْضَكُمْ عَلٰى بَعْضٍ﴾(النساء:۱۰۲) تاسو د یو بل سره په دې باندې حسد مه کوئ چې الله یو انسان ته په بل انسان باندې څه مقام مرتبه یا فضیلت ورکړے وی، ځکه دا د الله تقسیم

دے،چې په دنيا کښې الله چاله لږ مال دولت ورکړے وی او چاله الله ډير مال دولت ورکړے وی، څکه ﴿لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبُوا ۖ وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبْنَ﴾هر انسان نارينه زنانه ته د هغه د تقدير مقرر شوې حصه ملاؤ شوې ده، او بيا الله تمام انسانانو ته خطاب کړے دے چې د دې حسد په ځائے د الله نه د هغه نعمت غوختل د هغې د پاره سوال کول ضروری دے﴿وَاسْأَلُوا اللَّهَ مِن فَضْلِهِ﴾د الله نه د هغه د فضل او دَ نعمت سوال اوکړئ، قرآن دا اصول ښودلی دی، چې هر انسان لره خپله خپله د الله نعمت د الله نه طلب کول پکار دی.

## د حسد علاج:

او بيا کله چې د انسان په زړهٔ کښې حسد پيدا شی نو د دې زوال او لرې کول ضروری دی چې دغه حسد ختم کړے شی اشرف علی تهانوی رحمت الله عليه وائی د حسد د علاج او زوال د پاره درې خبرې درې عملونه دی،که يو انسان دغه عملونه اختيار کړی نو د هغه د زړه نه به دغه حسد او بغض ختم شی يو دا چې انسان ته غلط خيال يا د حسد په باره کښې سوچ راشی نو دغه خپل غلط خيال او سوچ بد ګنړل پکار دی چې ايا دا خيال د څه په بنياد ماته راغلے دا څه وجه ده چې دا غلط او ګنده خيال د دې انسان په باره کښې زما ذهن ته راځی او دويم علاج دا دے چې د دغه انسان ښه خپل ځان ته مخکښې کړی د ښه کيدو دا مطلب دے چې د دغه انسان څه خپل ښه ذاتی صفات وی او يا که د دې انسان سره ئې څه ښيګړه احسان کړے وی او دريم علاج دا

دے چې په ځائے د بد کيدو دې دا انسان هغه ته دعا او د خير خبرې شروع کړی او ځه خير،نيکی دې ورسره پکښې کوی نو په دې درې طريقو سره انسان د حسد د ګناه نه بچ کيدے شی. د ده نيك عمل محفوظ پاتې کيدے شی.

## د الله په تقسيم اعتراض:

بله ګناه دا ده چې حسد ګر انسان درحقيقت د الله په تقسيم او ورکړه باندې يو قسم اعتراض کوی، ځکه د انسانانو حالات د غريبۍ مالدارۍ ورکړه، اونچ نيچ وغيره چاله يو مقام چاله بل مقام چاله لږ مال چاله ډير مال دا تقسيم الله کړے دے او دا د تقدير فيصلې دی که يو انسان په دې باندې اعتراض کوی نو دا په تقدير باندې د اعتراض کيدو مترادف دی، که دا انسان دا وائي چې دې بل انسان ته دا ولے ورکړے شوی دی نو مطلب د دې خبرې دا دے چې دا انسان د الله په تقدير راضی نه دے او په دغه باندې اعتراض کوی.

او دا د الله يو عجيبه نظام دے چې يو انسان ته الله مال ورکړے وی نو صحّت ئي ورته نه وی ورکړے بل انسان ته الله صحت ورکړے او نو هغه ته الله مال نه وی ورکړے، دغه بل بنده ته الله دا دواړه ورکړی وی خو هغه ته الله خوشحالی نه وی ورکړی، ټول عمر خفه وی غمونه پريشانۍ ورته مخې ته وی، نو انسان دې په دې باندې نه خفه کيږی او نه دې يو انسان په دې باندې اعتراض کوی چې الله دې بل انسان ته مال ولے ورکړے دے ځکه که الله په هغه باندې يو احسان کړے وی نو په دې بل باندې الله بل قسم احسان کړے وی، دغه وجه ده يو شاعر وائي.

رَضِيْنَا قِسْمَةَ الجَبَّارِ فِيْنَا،

لَنَا عِلْمٌ وَلِلْجُهَّالِ مَالُ.

هغه وائی مونږه د الله په تقدير فيصله باندې خوشحاله يو هغه چې څه فيصله کړې ده صحيح فيصله ده ځکه الله مونږه لره علم راکړے دے او جاهلو خلقو ته الله مال ورکړے دے،خو افسوس دا دے چې دا ځومره غټه ګناه ده او الله د دې نه منع کړې ده نو دا په مسلمانانو کښې نن صبا زيات دے بلکه هر رشته دار بل رشته دار باندې د حسد نظر کوی تر دې پورې چې يو رور بل رور ته د حسد په نظر باندې ګوری.ځکه زمونږه د دنيا د تباهۍ سره اخرت هم تباه کيږی نو انسان لره دا ضروری ده چې د نورو ګناهونو سره د دې ګناه نه هم بچ شی، الله دې زمونږه د دې ګناهونو نه حفاظت اوکړی.**والحمدلله رب لعالمين**

# امانت

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ﴾ (سورة المؤمنون:٨)، وقال تعالى:﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَخُونُوا اللّٰهَ وَالرَّسُولَ وَتَخُونُوا أَمَانَاتِكُمْ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ﴾ (سورة الانفال:٢٧)

## په قرآن کښې د امانت تذکره:

مخکښې جمعې نه د مسلمان د ښه اخلاقو او صفاتو په باره کښې خبره شروع وه،چې یو مومن،مسلمان لره بحیثیت مسلمان کوم صفتونه ضروری اوپکار دې، دغه ګڼړ صفتونه دی مسلمان لره د دې نه د خپل ځان خبر دارے ضروری دے او په قرآن کریم کښې ځائے په ځائے الله رب العزت د دغه صفتونو تذکره کړې ده لکه سورة المومنون په شروع کښې الله فرمائی ﴿قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ﴾ (سورة المؤمنون:١) مطلب هغه مومنان کامیاب دی چې کومو مومنانو کښې دا صفات وی او بیا الله دغه صفات ذکر کړې دی، په دې صفتونو کښې یو صفت الله د مومنانو دا ذکر کړے دے ﴿الَّذِيْنَ هُمْ لِاَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِ هِمْ رَاعُوْنَ﴾(سورة المؤمنون:٨)دا هغه خلق دی چې د خپلو وعدو او امانتونو لحاظ او خیال ساتی، که دغه امانت په هر صورت کښې وی نو دا مسلمان انسان د دې لحاظ او خیال اوساتی او خپل حقدارو ته دغه امانت حواله کړی او الله دا مضمون په یو بل ځائے کښې

هم بیان کړے دے﴿إِنَّ اللهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا﴾ (النساء:۵۸) الله تاسو مومنانو ته خطاب اوحکم کوی چې دا امانتو نه خپلو حقدارو ته واپس کړی۔

## عملی منافق:

اوپه یو حدیث کښې راځی(ثُلَاثٌ مَنْ كُنَّ فِيْهِ كَانَ مُنَافِقًا خَالِصًا) درې صفتونه دی که یو انسان کښې دا موجود وی نو دغه انسان به خالص عملی منافق وی او که یو انسان کښې د دې نه یو صفت وی نو د منافقت یو صفت پکښې موجود دے یو دا صفت دے چې که دا انسان خبرې کوی نو دروغ وائی اوکه وعده اوکړی نو د دغه وعدې خلاف ورزی کوی اوکه امانت ورسره کیخودلے شی نو په امانت کښې خیانت کوی،نن که یو انسان زمونږه دې معاشرې باندې نظر اوکړی نو هر طرف ته خیانت خیانت دے او دا دور د دې حدیث مصداق دے یعنې نبی علیه السلام چې په حدیث کښې څه فرمائیلی وو هغه بعینه دا دور دے چې د دې زمکے نه به امانت ختم شی اوچت به شی او خیانت به عام شی،یو انسان به نه موندلے کیږی چې د هغه سره بل انسان خپله خبره یا خپل مال،دولت امانت کیږدی،او دا خبره به کیږی چې په فلانکی ښار یا کلی کښې یو امانت دار انسان شته دے مطلب دومره به امانتداری ختمه شی چې چرته کوم کور به په یو ښار کښې یو انسان به امانت دار وی او نور ټول خلق به خیانت ګر وی، که یو انسان سوچ،فکر اوکړی نو نن زمونږه په دې معاشره کښې یو بنده داسې نشته چې هغه په هر لحاظ سره امانت دار وی او خیانت پکښې نه وي.

## د امانت مفهوم:

د امانت دارۍ وسیع مفهوم دے هر حقدار ته حق ورکول دا امانت داری ده، او الله دا صفت په پیغمبر صلی الله علیه واله وسلم کښې په کمال درجې سره کیخودے وو تر دې پورې چې هغه مشرکان کومو چې د نبی علیه السلام د قتل د پاره منصوبې جوړې کړې وی او هغوی نبی علیه السلام د وطن او ښار نه ویستلو ته مجبوره کړے وو،خو لیکن بل طرف ته هم دغه مخالفین، هم دغه دشمنان رسول،د نبی علیه السلام سره خپل امانتونه ګدی او صادق او امین هم ورته وائی، او بیا نبی علیه السلام د هجرت په شپه باندې دغه ټول امانتونه علی رضی الله عنه ته ورکوی او ورته وائی چې دا خپل حقداروته ورکړه.

## د یو صحابی واقعه امانت:

په عزوه خیبر کښې چې صحابوو کله د خیبر دَ قلعه محاصره کړې وه نو په دغه دوران کښې د یهودو یو شپنکے،ګډې چېلے سروونکے صحابوو خواته راغلے ورته وائی ستاسو بادشاه څوك دے چې د هغه په قیادت کښې تاسو دا قلعه محاصره کړې ده نو صحابوو جواب ورکړو چې زمونږه هیڅ بادشاه نشته بلکه مونږه لره چې پیغمبر پاك صل الله علیه واله وسلم د څه خبرې په باره کښې حکم راکړی نو په هغې باندې عمل کوو او د څه نه چې مونږه لره منع کړی نو د هغه څیز نه منع کیږو، دغه ګډبه ورته اووئیل چې آیا زه ستاسو د دې پیغمبر سره ملاویدے شمه،صحابوو ورته وائی چې آؤ ته د هغه سره ملاقات کوے شی،ګډبه ورته وائی ستاسو د پیغمبر محل کوم ځائے کښې دے؟ صحابوو جواب ورکړو چې د هغه هیڅ

محل نشته او په دغه ځائے کښې د هغه د پاره يو چپر،جهونګړه جوړه کړې شوې ده او په هغه ځائے کښې ناست دے،نو دا ګډېه د نبي عليه السلام خواته حاضر شو او ورته وائی ته څوك ئی؟ نبي عليه السلام جواب ورکړو،زه د الله پيغمبر يمه،بيا ورته وائی، ته څه طرف ته رابلل کوې؟نبي عليه السلام جواب ورکړو چې زه دا مخلوق د الله عبادت ته رابلمه، چې دا څومره کائنات دی نو د دې جوړؤنکےيو ذات دے او صرف هغه د عبادت حقدار او لائق دے د هغه سره څوك شريك دار، حصه دار نشته ، دا زما دعوت دے،دغه شپنکے ورته وائی چې ماله څه کول پکار دی؟ نبي عليه السلام جواب ورکړو ته به د الله عبادت کوې د هغه حق به ادا کوې او د هغه سره به شريك دار نه جوړ وې، نو د نبي عليه السلام نه تپوس کوی چې ماله به د دې څه بدله ملاويږی؟نبي عليه السلام جواب ورکړو چې د دې دنيا نه بعد د قبر او اخرت ژوند به درلره الله تندرست او برابر جوړ کړی، دغه انسان صحابوو ته وائي چې تاسو به زما سره څه معامله کوئ، صحابوو ورته اوئيل چې ته به زمونږه رورئي او مونږه به تالره خپلې سينو پورې پيوسته او يو ځائے کړو، نو دغه بنده مسلمان شو، اسلام ئي قبول کړو نبي عليه السلام ورته وائی چې ستا اوّله ذمه داری دا ده چې دا پردی امانتونه واپس کړه، نو سره د حالت جنګ نه نبي عليه السلام ورته حکم کوی چې دا امانتونه واپس کړه،پکار دا وه چې وئيلے وے چې دا خو غنيمت دے، خو هر کله چې د دغه مسلمان سره امانت دې نو نبي عليه السلام وربانديې واپس کړل، دوباره واپس راغلے او نبي عليه السلام ته وائي چې په دې وخت کښې زما نوره ذمه داری څه ده؟

نبي ورته اووئيل چې دا د جهاد موقع ده، جهاد اوکړه نو دهٔ توره راواغسته جهاد ئي شروع کړو او شهيد شو او بيا نبي عليه السلام او فرمائيل چې زه ګورمه چې دا انسان الله جنت ته داخل کړو چې د اسلام نه بعد دهٔ هيڅ عمل نه دے کړے بغير د څه عمل نه الله جنت ته داخل کړو، نو دا د امانت مقام او اهميّت دے.

## د امانتونو ضياع:

د انسان ژوند د انسان سره امانت دے،خپې،لاس،سترګې،غوږونه د انسان سره امانت دے، وخت د انسان سره امانت دے د بل چا د راز خبره د انسان سره امانت دے،د بل انسان په باره کښې څه غلط کار د عيب کار او ګورى نو هغه به ورباندې نه شرمنده کوى، خو زمونږه سوچ دا جوړ شوے دے، چې دا څيزونه مونږه ته په نظر باندې نه راځى او نه ورته مونږه د امانت په نظر باندې نظر کړے دے، هيڅ يو انسان ته دا احساس نه کيږى چې دا امانتونه څنګه ضائع کيږى او څنګه په ځائے کښې استعماليږى، افسوس دا دے چې اول امانت دارى نشته اوکه چرته شته دے نو د امانت دا مفهوم دے چې د بل انسان مال،دولت هغه ته واپس کړے شى بس دا امانت دے او د دې نه ما وراء هيڅ څيز مونږه ته امانت نه ښکارى.

## د هر څيز سره امانت:

او په قرآن پاك سورة احزاب کښې الله د امانتونو تذکره کړې ده، چې هر څيز ته امانت حواله کړے شوے وو، وُنو،بوټو،غرونو کانړو ته پيريانو ته تر دې پورى چې انسان ته هم د هغه امانت ورکړے

شو﴿إِنَّا عَرَضْنَا الأَمَانَةَ عَلَى السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَنْ يَحْمِلْنَهَا﴾ (سورة الاحزاب:۷۲) الله وائی مونږه دا امانتونه زمکو،اسمانونو، او غرونو ته ورکړل خو دغه هیڅ یو څیز پکښې خیانت اونه کړو هغه خپله ذمه داری ئی پوره کړه، لیکن ﴿وَحَمَلَهَا الْإِنْسَانُ﴾ انسان په دې کښې خیانت اوکړو او دا انسان ظالم او جاهله دے،نو که یو طرف ته انسان د الله په دین او امانت کښې خیانت کړے دے،څومره خیانت د جسم په امانت کښې انسان کړے دے؟مال،ځوانی په دې ټولو امانتونو کښې هرطرف ته انسان په خیانت کښې مبتلا دے، د خپل ځان نه واخله ترټول انسانیت پورې دا انسان په دې خیانتونو کښې اخته شوے دے، د هر انسان په عزّت،مال،دولت، حق کښې خیانت شروع شوے دے،بلکه ذهنیت دا جوړ شوے دے چې غټ دهوکه باز،غټ دروغژن، غټ حرام خور انسان ته هوښیار،دانشمند وئیلے کیږی،نو دا صفات د منافقت صفات دی،او د حدیث د مصداق مطابق که یو انسان کښې دا وی نو دا خالص منافق دے،او نن په دې دور کښې د مزدور دَ کارنه واخله تر بادشاه پورې هر انسان خیانت ګر جوړشوے دے، تر دې پورې چې سرکاری ملازمان،اوعام پیشه ور خلق خو د ټول قوم سره خیانت کوی نو دا حق به څنګه١ د قیامت په ورځ دے پوره قوم ته ورکړی، الله دې مونږه لره د امانت خیال ساتونکی جوړ کړی.

والحمدلله رب العالمین

# د وعدې پوره والے (ایفائے عهد)

اَلْحَمْدُلِلّٰہِ وَکَفٰی وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِیَآءِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَاَصْحَابِہِ الْاَتْقِیَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۔

﴿یٰاَیُّھَاالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا اَوْفُوْا بِالْعُقُوْدِ﴾ (سورۃ المائدہ:۱)

## د وعدې پابندی:

د قرآن کریم د یو ایت څه حصه تلاوت شوه په دې کښې الله د وعدې د پوره والی په باره کښې مومنانو،مسلمانانو ته حکم کړے دے، هسې نه چې یو انسان وعده کړې وی او د دغه وعدې پابند نه وی ځکه مخکښې هم دا حدیث ذکر شوے وو،نبی علیه السلام فرمائي چې یو انسان کښې درې صفتونه یا درې خصلتونه موجود شی نو دغه انسان خالص منافق وی اوکه په دې کښې یو صفت ورکښې موجود وی، نو د منافق یو صفت به ورکښې وی، یو صفت دروغ وئیل دی، دویم صفت وعده خلافی ده، او دریم صفت دا دے چې کله وعده اوکړی نو د دغه وعدې خلاف ورزی کوی. او په یو بل حدیث کښې نبی علیه السلام فرمائي﴿لَادِیْنَ لِمَنْ لَاعَھْدُ لَهُ﴾ د هغه چا دین دین نه دے څوك چې د وعدې پابند نه وی، که دا انسان د دین دارۍ د مسلمانۍ دعوی کوی نو په حقیقت کښې دا دین نه دے، دا صرف د خولې دعوی ده او په حقیقت کښې هیڅ څه نشته، او په قرآن کښې هم الله دا حکم کړے دے په سورة مائده کښې الله فرمائی ﴿یٰاَیُّھَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا اَوْفُوْا بِالْعُقُوْدِ﴾ (المائدہ: ۱) اے د ایمان خاوندانو د

وعدو پوره پابند جوړ شيږ که هغه د الله وعده وی،اوکه د نبی علیه السلام وعده وی اوکه د عام مسلمانانو سره وعده وی نو انسان به د دې ټولو وعدو پابند وی، او په سورة نبی اسرائیل کښې الله فرمائی ﴿وَأَوْفُوا بِالْعَهْدِ إِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْئُولًا﴾ (سورۃ بنی اسرائیل:۳۴) د وعدو پوره والے اوکړی ځکه د وعدو په باره کښې به ستاسو نه تپوس،پوښتنه کیږی. نو ایفائے عهد، وعده پوره کول د الله حکم او د مومن صفت دے.

## د وعدې څه آداب:

دغه وجه ده چې د شریعت تعلیم دا دے که یو انسان د بل انسان سره وعده اوکړی نو دا انسان دې ښځپله سوچ اوفکر اوکړې چې ایا دا وعده زه پوره کوے شمه اوکه نشمه؟ د دې د پوره والی زما طاقت شته دے اوکه نشته؟ او بل دا چې دا وعده د جائز کار په باره کښې ده، که دغه وعده د ناجائز کار په باره کښې وی، نو دا وعده دې نه کوی، اوکه بالفرض د ناجائز کار په باره کښې ئیږ چا سره وعده کړې وی نو دغه وعده پوره کیدل په دې انسان باندې لازم نه ده، لکه مثال یو انسان د بل انسان سره وعده کړې وی چې غلا د پاره به ځو یا ئې ورسره وعده کړي وی چې فلانے انسان به مړ کړو قتل به ئي کړو نو د دې وعدې پوره والے لازم نه دے، نو وعده به د شریعت نه خلاف نه وی،هاں که جائز وعده وه نو دغه وعده به انسان په هر صورت پوره کوی، ها که یو انسان وعده کړې وی او څه عذر ورته پیش شی او د دغه عذر د وجې نه دا وعده پوره نه کړے شی لکه بیمار شی یا څه حادثه ورته پیش شی، نو که دا وعده پوره نه کړے شی ګناه نشته خو پکار دا ده چې هغه بل انسان ته اطلاع ورکړے

شی چې دا وعده زه پوره کوے نشمه، نو د ایفائے عهد د وعدې د پوره والی ذکر په قرآن او حدیث کښې هم بار بار شوے دے او الله نبی علیه السلام او صحابه کرامو ته په دې کښې عجیبه کمال ورکړے وو، د هغوی سیرت په دې باندی ګواه دے، داسې د وعدې پابند خلق ووچې نن ورځ پورې دنیا د دې مثال پیش کوے نشی.

## د نبی علیه السلام ایفائے عهد:

د نبوّت نه مخکښې هم په قریشو او مکه کښې نبی علیه السلام د وعدې پوره کیدو باندې مشهور وو، د نبوّت نه مخکښې نبی علیه السلام د یو کافر سره وعده کړې وه چې فلانکی مقام ته به فلانکی وخت کښې حاضر یږی، نو نبی علیه السلام په مقرر وقت هغه مقام ته حاضر شو ولاړ وو او انتظار ئي اوکړو تر دې پورې چې په دغه انتظار کښې نبی علیه السلام درې ورځې تیرې کړې، د ضرورت د پاره به کور ته که د خوراك څکاك وغیره ضرورت به پیش شو، نو د دې د پوره کیدو د پاره به خپل کور ته راغلے او بیا به دوباره واپس هغه مقام ته لاړو، او دا د دې وجې نه چې د وعدې خلاف ورزی رانشی،کله چې دغه بل انسان درې ورځې بعد دوباره حاضر شو نو نبی علیه السلام ورته سوا د دې خبرې نه هیڅ څه او نه وئیل چې تا ماله ډیر تکلیف راکړو سره د دې نه چې غلطی په دې مقام کښې د دغه بل انسان وه خو بیا هم نبی علیه السلام د خپلې وعدې دومره پابندی کوؤنکے انسان دے.

او په قرآن کریم کښې الله د اسماعیل علیه السلام تذکره کړې ده او د هغه یو صفت الله بیان کړے دے، چې هغه د وعدې ډیر پابند انسان

او رشتنی انسان وو ﴿إِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْئُولًا﴾ (سورة مريم ٥٤) دا اسماعيل عليه السلام د خپلې وعدې ډير رشتنى انسان وو، اوهم د دۀ په باره کښې د قرآن کريم مفسرين وائى چې هغه د چا سره وعده کړې وه او د دغه وعدې د پاره درې ورځې په دغه مقام کښې د دغه بل انسان په انتظار وو، نو انبيائے عليه السلام ته الله دا صفت په دې کمال طريقې سره ورکړے وو، په يو موقع نبى عليه السلام په يو مجلس کښې ناست وو په دغه دوران کښې يو صحابى يو ماشوم ته آواز ورکړو نو دغه ماشوم ورته د راتلو نه انکار اوکړو نو صحابى ورته اووئيل چې راشه دا څيز د خوراك واخله دغه ماشوم راغے نبى عليه السلام د صحابى نه تپوس اوکړو چې تا ورته د خوراك څه څيز ورکړو صحابى ورته اووئيل د الله پيغمبره زما سره يوه کهجوره وه هغه ورته ما ورکړه، نبى عليه السلام ورته اووئيل که ستا سره دا نه وے نو دا به د وعده خلافۍ يو صورت وے، نو که د ماشوم سره دا اوکړے شى دا به وعده خلافى وے، دويم دا وجه ده چې په دې سره په ماشوم باندې بد اثر کيږى اثر ورنه اخلى نو د هغه ذهن غلط جوړ شى د دې وجې نه دا منع دى دا صفات غير اختيارى عملى لحاظ سره هغه ته منتقل کيږى. دغه وجه ده چې په قرآن او سنت کښې د ماشوم په تربيت باندې زياته توجّو ورکړے شوے ده.

## د صحابوؤ سيرت:

او د صحابوو سيرت د دې قسمه واقعاتو نه ډك دے يو صحابى دے د هغه نوم حذيفة بن يمان دے دا د نبى عليه السلام رازدار صحابى دے او نبى عليه السلام ورته د منافقانو نومونه ښودلى وو، او صحابوو به

دا صحابي په هره جنازه کښې کتلو که حذيفه به د چا په جنازه کښې موجود نۀ وو نو د دې دا مطلب ووچې هسي نه چې دا مړ شوے انسان منافق نه وی ځکه ورباندې خذيفة بن يمان د جنازې مونځ نه دے کړے، او عمر رضی الله عنه به بار بار دې صحابی ته وئيل چې تا ته نبی عليه السلام د منافقانو نومونه ښودلې دی په دې کښې به زما نوم خو نه وی هسې نه چې زه والعياذ بالله منافق نه يمه، سبحان الله د اسلام دويم خليفه او نبی عليه السلام د دۀ په باره کښې فرمائي که زما نه بعد پيغمبر وے نو عمر رضی الله عنه به وې او په قرآن کښی څلورويشت ځله الله د دۀ د وينا مطابق د اسمان نه وحی نازله کړې ده، دا د هغه مقام او شان دے بيا هم ورسره يره وه،!!

## د مشرکانو سره وعده پوره کول:

دا حذيفة او د ده پلار يمان رضی الله عنه د مکې نه د نبی عليه السلام د زيارت د پاره رارون شوې وو، نو په دغه وختونو کښې مشرکين مکه د جهنګ،دپاره راووتی وو، په لاره کښې د مشرکانو لاسونو ته ورغلل، نو مشرکانو د دوی لاره بنده کړه چې تاسو به مدينې ته نه ځئ ځکه هلته تاسو د نبی عليه السلام په ملګرتيا کښې زمونږه سره جنګ کوئ، دوی ورته وعده ورکړه چې زمونږه ستاسو سره وعده ده چې صرف د نبی عليه السلام د زيارت د پاره هغه خواته حاضريدو لره روان يو، کله چې مدينې ته حاضر شو نو نبی عليه السلام ته ئې دا واقعه بيان کړه چې په لاره کښې ابوجهل زمونږه نه دا وعده اغستې يه، چې تاسو به په جنګ کښې زمونږه سره شرکت نه کوئ، نو نبی عليه السلام چې دا واوريدل نو دې دواړوته

اوئیل د جنګ د پاره اجازت ورنه کړو او د جنګ بدر نه ئې منع کړل دا د نبی علیه السلام او د صحاب وو د وعدې پابندی وه چې هغوی د وعدې دومره خیال کړے وو او دومره اهتمام به ورسره د وعدے دپابندۍ په باره کښې وو اګر که هغه به مشرك،کافر ولے نه وو بیا به هم د خپلې وعدې پابند وو.

## مفتوحه علاقې واپس کول:

او شپږم خلیفه اسلام سیدنا معاویة بن أبی سفیان یو لوے صحابی دے، او د نبی علیه السلام اُوخې هم دے، او نبی علیه السلام د دهٔ د پاره ډیرې دعاګانې کړې وې، ﴿اللَّهُمَّ اجْعَلْهُ هَادِيًا مَهْدِيًّا وَاهْدِ بِهِ﴾ الله معاویه ته هدایت اوکړې او د نورو خلقو د هدایت د پاره ئې زریعه جوړه کړې، د ټولو نه غټه خبره دا ده چې معاویة رضی الله عنه کاتب وحی دے دا قرآن هغه لیکلے دے د ده سیاست په صحابوو کښې مشهور وو، او د عثمان او عمر رضی الله عنهما په دور کښې د شام ولی عهد،ګورنر وو، دغه شام د عیسایانو سره یو ځائے ملك وو، نو عام طور به د عیسایانو سره جنګ وو، نو د څه وخت پورې په معاهدې سره جنګ بند شو، کله چې معاهدې د ختمیدو ورځې نزدې شوې نو معاویة رضی الله عنه د جنګ شروع نه وه کړې،لیکن خپل فوج ئې دوباره په اطرافو کښې خوارهٔ کړل چې د معاهدې وخت ختم شو، نو اسلامی لښکر د رومیانو نه ډیرې زیاتې علاقې قبضه کړې،په دې دوران کښې یو انسان ډیر په تیزۍ سره په خپل اس باندې راروان دے او د آواز لګوی ﴿اللهُ اَكْبَرُ. اللهَ اَكْبَرُ قِفُوْا عِبَادَ الله،

قِفُوْا عِبَادَ اللّٰه) اے د الله بندګانو صبر اوکړی صبر اوکړی (وَفَاءٌ لَاغَدْرٌ) د وعدې پوره والے اوکړی او په دې کښې وعده خلافی مه کوی، بیامعاویه رضی الله عنه ته وائي چې روم واله خبر نه دی او تا ورسره جنګ شروع کړے دے، معاویه رضی الله عنه ورته وائی چې د معاهدې ورځې تیرې شوی دی، نو دغه صحابی رضی الله عنه ورته وائی ما د نبی علیه السلام نه اوریدلې دی، چې د یو قوم سره وعده وی، نو په دغه دوران کښې به انسان د وعدې خلاف ورزی نه کوی او دا ستا نقل وحرکت ماله د وعدې خلاف ورزی ښکاری ځکه دا کار ته مه کوه، معاویه رضی الله عنه چې دا خبره واؤریده ټول خپل فوج ئې دوباره راواپس کړو او دغه مفتوحه علاقې ئې بیا د روم واله فوج، لښکر ته ورکړې.

## د عمر رضی الله عنه ایفائے عهد:

د عمر رضی الله عنه په دور کښې د فلسطین د یهودو سره معاهده شوې وه او د هغوی د مال او د جان د حفاظت ذمه داری په اسلامی خلافت باندې وه نو عمر رضی الله عنه په فلسطین کښې د یهودو د اقلیّت په حیثت حفاظت د پاره فوج مقرر کړے وو، دغه دوران کښې په یو بل ځائے کښې اسلامی فوج ته ضرورت پیش شو نو عمر رضی الله عنه دغه فوج واپس کړو او یهودو ته ئې پیغام ورکړو چې تاسو ته به ستاسو هغه ټیکس دوباره حواله کړے شی کوم چې ستاسو نه اغستلے شوے وو ځکه دا کال تاسو د خپل مال او ځان د حفاظت د پاره خپل انتظام اوکړی، مونږه ستاسو حفاظت نشو کوے نو ستاسو دغه جزیه او

ټيكس دوباره واپس واخلي،نو د دې وعدې د پوره والی دنيا مثال نه شی پيش کوے.

د دې عهد يو وسيع مفهوم دے،وعده اوّله دا ده چې کله يو انسان په اسلام کښې داخل شی يا مسلمان وی نو د دغه انسان د الله سره وعده شوې ده، شرك،کفر بے دينی به هيڅ يو صورت کښې نه کوی،او د لا اِله الا الله تقاضه دا ده چې څه څيز د الله حکم دے نو دغه به انسان کوی او د څه نه چې نبی عليه السلام منع کړې دې نو د دغه منع شوی څيز نه به انسان منع کيږی،که د يو ملك شهريّت يو انسان ته ملاؤ شوے وی نو د دغه ملك د قانون خلاف ورزی به په هيڅ يو صورت کښې نه کوی،که د دې نه بعد دا انسان خلاف ورزی شروع کړی نو دا وعده خلافی ده، داسې نورې وړې وړې خبرې چې انسان ته معمولی ښکاری او هغه په وعده کښې شمار شوی دی.

والحمدلله رب العالمين

# د ګناه نقصانات

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَمَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءًا يُّجْزَ بِهٖ﴾ (سورة النساء: ۱۲۳)

دا مسلمه حقیقت دے چې ګناه انسان ته نقصان رسونکے څیز دے په دنیا کښې هم د دے ضررناك اثرات شته دے او په آخرت کښې هم، دراصل زمونږه دین د دوؤ څیزونو نه مرکب دے یو ته **فعل الخیرات** وائی مطلب نیك کارونه کول او بل ته **ترك المنکرات** وائی مطلب بدے، ګناهونه پریښودل. دا زمونږه د دین بنیاد دے د دین تمامے پهلوګانې په دې دوؤ خبرو کښې راجمع شوی دی یو دا چې ښه کوه کوم ته چې شریعت نیکی او ښه وائی دویم د ګناه او بد کار مه کوه کوم ته چې شریعت ګناه او بدی وائی خو د دې دارو قسمه عملونو په دنیا او آخرت دوارو کښې څۀ اثرات وی عمل بے اثره څیز نه دے چې د دې څۀ اثر په انسان باندې نه وی عمل به خپل اثر ښائی، عمل ورکیږی نه د الله په قانون کښې د دنیا په نظام کښې کله څوك تپوس او نه کړی ځکه ناخبری وی خو د الله په دربار کښې د هیڅ چا هیڅ وړوکے یا غټ عمل نه شی پټیدلے بلکه هغه به هلته ښکاره کیږی او د دې وجے نه علمائے کرام وائی چې نیکی کله په اووم پشت کښې ځان ښکاره کوی او دغه شان ګناه هم کله په اووم یا لسم پشت کښې خپل ځان خامخا ښکاره کوی نیکی به چرته سل، دوه سوه کاله مخکښې مړ شوی پلار، نیکه کړې وی او د هغے اثر به نمسو ،کړوسو ته رسیږی دغه شان ګناه به هم خپل ګنده اثر په لاندې نسل باندې ښکاره کوی.

## ګناه او عذاب لازم ملزوم دی:

د ګناه نقصانات په دنیا کښې څهٔ دی څوك چې ګناه کوی دغه انسان ته په دنیا کښې څهٔ نقصانات او تکلیفونه رسیږی د دې لړ. وضاحت مخکښے کوؤ د مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله یو کتاب دے او د هغے نوم دے "جزاء الاعمال" یعنې د اعمالو بدله، د نیك عمل به څهٔ بدله وی د بد عمل به څهٔ بدله وی دا ټولے خبرے په تفصیل سره هغه ذکر کړی دی تر دی پورے که یو انسان ګناه د خلقو نه پټه کوی یا په ډیره چالاکے سره یوه ګناه کوی او دا غواړی چې څوك د دې ګناه نه خبر نه شی یا کوی ګناه خو ظاهری شکل ورته د نیکے ورکوی نو دا یاد ساتل پکار دی چې ګناه او سزا لازم او ملزوم دی که دغه ګناه ښکاره وی که پټه وی که د خلقو په مخکښې وی که ظاهری شکل ورته د نیکۍ ورکړے شی او که نور خلط ملط په دې کښې اوکړے شی خو د الله په قانون او دربار کښې پټ نه شی پاتے کیدے هلته به دې انسان ته د خپل عمل هغه بده بدله ملاویږی.

## د علم نافع نه محرومه کیدل:

بیا هغه وائی چې د ګناه دا اثر دے چې انسان ورسره د علم نافع نه محروم کیږی یو معلومات دی دویم علم نافع دے علم صرف د معلوماتو نوم نه دے که علم صرف معلومات وې نو یهودو ته ډیر دغه شان معلومات شته دے بلکه د نن صبا زمانے مستشرقینو ته هیڅ څوك په علم کښې نه رسیږی د هغوی سره چې کوم معلومات او علم دے خو دغه علم علم نافع نه دے چې انسان ته د ایمان لاره د الله معرفت ور نه کړی نو دغه علم بیا علم نافع نه شی کیدے او دغه صرف معلومات بغیر د عمل نه چې وی د دې مثال په قرآن کښې کله الله ذکر کوی:

﴿فَمَثَلُهٗ كَمَثَلِ الْكَلْبِ﴾ (سورة الاعراف:۱۷٦)
د دې انسان مثال د سپي په شان دے او كله وائي:
﴿كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ اَسْفَارًا﴾ (سورة الجمعة:٥)

د دهٔ مثال د خر په شان دے چې هغه په خپل ځان باندے ډير لوے لوے بوجونه بار كړى وى خو د دغه بوجونو نه، نه خوراك كوى نه د خپل آرام د پاره څهٔ راغستے شى او نه ورنه نوره څهٔ فائده اغستے شى دغه صرف معلومات بار كول او د هغے نه فائده نه اغستل دا هم دغه شان مثال لرى ځكه علم معلوماتو ته نه وائى علم يو نور دے چې هغه الله د انسان په زړهٔ كښې پيدا كوى او د دې د وجے نه انسان په عمل باندے مجبوره كيږى او دې انسان ته تر هغے پورې راحت اطمينان او سكون نه ملاويږى تر څو پورے چې ده دغه علم په عمل كښې نه وى راوستے خو كه د دغه نور او فائدې نه انسان محرومه كيږى نو د دې وجه ګناه او د الله نافرمانى وى .

## حافظه كمزورے كيدل:

كله چې امام شافعى رحمة الله عليه خپل استاذ امام وكيع بن الجراح رحمة الله عليه ته دا شكايت كړے وو چې ماته څهٔ ياد نه پاتې كيږى او هر څهٔ زما د ذهن نه ډير زر په تيزے سره اوځى شيطان راباندې غالبه كيږى د دې څهٔ علاج دے هغه ورته وائى: ﴿إِنِّي أَرَى اللّٰهَ قَدْ أَلْقَىٰ عَلَىٰ قَلْبِكَ نُورًا﴾ اے شافعى زهٔ الله ګورمه چې هغه ستا په زړهٔ كښې ئے يو نور كيخودلے دے ﴿فَلَا تُطْفِئْهُ بِظُلْمَةِ الْمَعْصِيَةِ﴾ دغه د الله دركړے شوے نور او رڼا د باطن په ګناه يا ظلم زياتى كولو سره مړه نه كړے نو د ګناه نه خپل ځان ساته بيا امام شافعى رحمة الله عليه په خپله ډير لوے شاعر هم دے دغه نقشه هغه په دې خپلو اشعارو كښې رانقل كړے ده.

شَكَوْتُ إِلَى وَكِيعٍ سُوءَ حِفْظِي
فَأَرْشَدَنِي إِلَى تَرْكِ الْمَعَاصِي

ماخپل استاذ امام وکیع رحمۃ اللہ علیہ ته د حافظے د کمزورے شکایت اوکړو نو هغه ماته د ګناه د پرېښودلو په باره کښې وصیت اوکړو چې ګناه ته مهٔ نزدے کیږه.

فإن العلم نور من الهی
و نور الله لا یعطی لعاصی

دا علم د الله نور دے رنړا ده او الله خپل نور او رنړا ګناه ګار سړی ته نه ورکوی نو د ګناه غټ اثر یو دا دے چې حافظه ورسره کمزوری کیږی دویم دا چې د علم نافع نه انسان محرومه کیږی د ګناه د وجے نه لکه دا دواړه شکایتونه نن صبا زمانه کښې عام شوی دې ځکه ګناهونه عام شوی دی.

## د رزق تنګی او ګناه:

دویم بد اثر هغه د رزق تنګی ده په ګناه، معصیت او د الله په نافرمانے سره د انسان په رزق کښې تنګی راځې یو د رزق کثرت دے دا د رزق فراخی او وسعت نه دے چې د انسان سره خپل کور، ګاډے، نوکران وی نا دا د رزق کثرت دے خو وسعت او فراخی نه ده. وسیعه او فراخه رزق د هغه چا رزق دے چې الله ورته په دغه رزق کښې سکون او اطمینان کیخودلے وی خوب او ارام چې د چا نه وی د دنیا د غم د وجے نه د زړهٔ اطمینان او سکون نه وی د الله یره نه وی د غریب حق پکښې معلوم نه وی په دینی او نیك كارونو کښې د دهٔ دا مال نه لګی نو دا د رزق تنګی ده او دا تنګی د رزق په ګناه سره راځی په هره طریقے سره به مال دولت حاصلوی خو دې انسان ته به خیر برکت او فائده نه ورکوی او دغه

وجه ده چې په يو حديث کښې راځی:

﴿إِنَّ الْعَبْدَ لَيُحْرَمُ عَنِ الرِّزْقِ بِذَنْبٍ يُّصِيْبُهٗ﴾ (احمد)

انسان د رزق نه د ګناه د وجے نه محرومه کيږی چې دا انسان ګناه کوی نو الله ئے د رزق نه محرومه کوی او په قرآن کښې هم الله دا خبره بيان کړے ده:

﴿وَمَنْ اَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِیْ فَاِنَّ لَهٗ مَعِيْشَةً ضَنْكًا﴾ (سورة طه:١٢٤)

څوك چې زما د کتاب نه مخ اړوی دې انسان ته به زۀ تنګ او لنډ ژوند ورکړمه او په سورة الطلاق کښې الله د ترك معصيت د ګناه د پريښودلو يو څو غټے فائدے ذکر کړی دی يو پکښے دا هم وه:

﴿وَمَنْ يَّتَّقِ اللهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ﴾

(سورةالطلاق:٢،٣)

څوك چې د الله نه يريږی الله به دې انسان ته د هغه ځائے نه رزق ورکوی چې د دې انسان به ورباندې ګمان او يقين هم نه کيږی او که يو انسان ګناه نه کوی نو الله به د دۀ لږ رزق باندې د دۀ کارونه او ضرورتونه پوره کوی دۀ ته به په دې کښې الله خير او برکت واچوی او د دې وجے نه به دۀ ته اطمينان او سکون ملاويږی خوب به ورځی سکون به وی، خوشحاله به وی، بد اخلاقی، جنګ جګړے به نه کوی دا د رزق فراخی ده. نو په رزق کښې وسعت او د حلال رزق ورکړه بيا دغه رزق د ضرورت کارونو ته پوره کيدل دا په انسان کښې د تقوی سره راځی او که يو سړی کښې تقوی نه وی نو ښه ډير مال او دولت سرمايه به وی خو د دۀ ضرورتونه به نۀ پوره کيږی او په دغه ډير مال دولت کښې به دا انسان خوشحاله نۀ وی .

## د مولانا یعقوب رحمۃ اللہ علیہ واقعه:

د مولانا یعقوب نانوتوی رحمۃ اللہ علیہ په دور کښې یو غریب سړے دیوبند سره نزدے اوسیدو د هغه کار کسب دا وو چې هغه به واښه ګیاه راجمع کوله او د دغه پیسو نه به ئے څۀ پیسے بچ کولے بیا به ئے په کال کښې یو ځل د دارالعلوم دیوبند استاذان دعوت د پاره راغوښتل نو دغه استاذان به د دۀ د دعوت په انتظار کښې وو یو ځل د مولانا یعقوب نانوتوی رحمۃ اللہ علیہ نه چا تپوس اوکړو چې تاسو د دې غریب سړی دعوت ته ولے خوشحالیږے نو هغه جواب ورکړو چې مونږه کله هم د دۀ دعوت قبول کړے دے نو مونږه په خپل خوراك څكاك، عبادت، درس تدریس کښې یو قسم نورانیت ګورو چې د دې سړی په طعام کښې الله کیخودلے دے ځکه ورته مونږه خوشحالیږو نو د حلال رزق دا اثر وی .

## د امام احمد رحمۃ اللہ علیہ او شافعی رحمۃ اللہ علیہ واقعه:

د امام احمد رحمۃ اللہ علیہ استاذ امام شافعی رحمۃ اللہ علیہ په مصر کښې اوسیدو او شاګرد امام احمد رحمۃ اللہ علیہ به په بغداد کښې اوسیدو نو یو ځل امام شافعی رحمۃ اللہ علیہ د خپل شاګرد امام احمد رحمۃ اللہ علیہ کور ته راغلو او هغوی سره ئے شپه وه د امام احمد رحمۃ اللہ علیہ لور د شپے د اودس د پاره څۀ اوبه تیارے کړے وے چې کله شپه تیره شوه سحر شونو لور ورته وائی چې هغه ستا استاذ خو نۀ د شپے نوافلو د پاره دغه اوبۀ استعمال کړی دی او نۀ د سحر مونځ ته تلو نه مخکښې هغه اودس کړے دے ځکه هغه اوبۀ په لوټه کښې هغه شان محفوظے دی استعمال شوی نه دی نو امام احمد رحمۃ اللہ علیہ د لور دغه خبره خپل استاذ ته اوکړه هغه ورته جواب ورکړو چې ما نن شپه په دې کور کښې یو داسے حلال رزق خوړلے دے چې کله د شپے په مونځ کښې قاری صاحب کوم ایات

تلاوت کړے وو هغه تر سحر پورے زما په دې ذهن کښې وو او ما ټوله شپه د دغه ايتونو نه استنباط کړے دے زما د شپے د مونځ په اودس باندې ما د سحر مونځ هم ادا کړے دے نو د نيك خوراك يو خپل اثر وی.

## بدامنی پيدا کيدل:

او قرآن کښې الله د يو کلی واله مثال بيان کړے دے په سورة نحل کښ: ﴿ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا قَرْيَةً اٰمِنَةً مُّطْمَئِنَّةً يَّاْتِيْهَا رِزْقُهَا مِنْ كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتْ بِاَنْعُمِ اللّٰهِ فَاَذَاقَهَا اللّٰهُ لِبَاسَ الْجُوْعِ وَالْخَوْفِ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ﴾ (سورة النحل :۱۱۲)

الله د يو کلی واله مثال بيانوی چې هغه مکے واله وو يا يو عام کلے وو الله ورباندې قسم قسم نعمتونه کړی وو فراخه رزق او امن ورته الله نصيب کړے وو نو دغه کلی والو د الله د نعمتونو ناشکری اوکړه نو الله ورنه دغه دواړه نعمتونه واغستل يو دا چې د ګناه او نافرمانے ناشکرے د وجے نه ورباندې الله لوږه، تنده مسلط کړه. دويم دا چې هغه د امن واله حالت ورته الله د ناشکرے د وجے نه په بے امنے سره بدل کړو.

دې ايت نه دا هم معلومه شوه چې بد امنی هميشه د ګناهونو اثر وی که په يو ملك کښې امن و امان نه وی نو په دغه ملك کښې ګناهونه زيات شوی وی.

## ګناه او د الله نه لرې کيدل:

بل د ګناه نقصان دا دے چې په دې سره انسان د الله نه لرے کيږي ځکه ګناه په ځائے د مينې او محبت د انسان په زړهٔ يو بد اثر پيدا کوی او وحشت او نفرت ورکښې وجود ته راځی دا د ګناه اثر وی دغه انسان د الله د عظمت نه يره نه کوی بلکه والعياذ بالله د الله د احکاماتو سره د دهٔ نفرت وی ځکه د هغے اوريدو ته هم تيار نهٔ وی عمل کول خو

ډيره لرے خبره ده او د دې علامه به دا وه چې دَ الله ذکر به ورته لذت او خوند نه ورکوی عبادت، درس، مسجد کښې ناسته به ورته ښه نه ښکاری په دې ماحول کښې به خپل ځان ورته خوشحاله او مطمئن نه ښکاری بس دا د ګناه هغه بد اثر دے.

## صحيح كارونه خرابيدل:

بل اثر د ګناه دا دے چې صحيح او برابر كارونه به د دغه انسان ورانيږی هغه جوړ او برابر كار به ورنه خطا كيږی او دا به د ګناه اثر وی خلق وائی يره سم كار وو بس وران شو د دې بر خلاف د نيکے او تقوی اثر دا وی چې د دغه انسان غلط او بے ترتيبه كارونه الله برابروی او دغه غلط كار الله صحيح كوی الله په سورة طلاق كښې ذكر كوی:

﴿وَمَنْ يَّتَّقِ اللهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مِنْ اَمْرِهٖ يُسْرًا﴾(سورة الطلاق:٤)

څوك چې د الله نه يريږی الله به ورته په خپل كار كښې اسان والے پيدا كړی چې كوم كار ته لاس اچوی په دغه كار كښې به ورته الله خير او بركت پيدا كوی يو هغه چې كله كله د الله د طرف نه امتحان وی نو دا څۀ وخت پورے وی بيا ختم شی او يو دا چې ټول عمر د دې انسان سر تندے نه لږی نو دا هم قسوت قلبی وی او دا انسان دې نظر اوكړی چرته به د دۀ نه ناشكری يا د ګناه كار كيږی ځكه د دې انسان جوړ كارونه خرابيږی د دۀ په زړۀ كښې تيارۀ او ظلمت پيدا كيږی د عبادت خوند او لذت ورسره ختميږی ځكه خوف خدا نه وی.

## د بد بختی څلور علامې:

يو حديث كښې راځې نبی ﷺ فرمائی: ﴿ أَرْبَعَةٌ مِنَ الشَّقَاءِ﴾ څلور څيزونه د بدبختے علامے دی د زړۀ د تور والی او سخت والی علامات دی يو په هغې كښې ﴿ جُمُوْدُ الْعَيْنِ﴾ د ستركو اوچېدل دی دا د

خفګان خبره ده حديث کښې راځي تاسو الله ته ژړا کوے او که ژړا نه درځی نو د ژړا واله شکل اختياروے په يو بل حديث کښې راځی چې دوه قطرے الله ته ډيرے محبوبے دی يو هغه چې هغه د الله په لاره کښې د انسان د جسم نه توے شی دويمه هغه قطره ده چې د الله د يرے د وجے نه د انسان د سترګو نه توے شی په دې انسان باندې الله د جهنم اور حرام کړے دے. دويم د بدبختے علامه ﴿ قَسْوَةُ الْقَلْبِ ﴾ دے د زړهٔ کلك والے دے. دريم سبب د بدبختی ﴿ طُولُ الأَمَلِ ﴾ اوږدو اوږدو منصوبو کښې مشغوله وی منصوبه بندی کول منع نه دی خو آخرت ورسره متاثره کول او ټول د دنيا طرف ته متوجے کيدل دا منع دی. څلورم سبب ﴿ الحِرْصُ على الدُّنْيَا ﴾(الجامع الصغير) د دنيا لالچ او حرص کول منع دی صرف د دنيا لالچ کول، نهٔ د مخلوق خدا څهٔ غم شته او نهٔ د آخرت څهٔ سوچ فکر لری نو دا منع دی نو د زړهٔ شقاوت او قساوت د ګناهونو نتيجه وی نن صبا معاشره داسے جوړه ده چې انسان د ګناه نه خپل ځان نشی بچ کولے ځکه د بازار ماحول د ګناه دے د کور علاقے محلے ماحول ټول د ګناه نه ډك دے داسے يو ځائے داسے يو وطن نشته چې په هغے کښې ګناه نه کيږی هر طرف ته فحاشی، عريانی، ګناهونه، بدعملۍ، د الله نافرمانی، فسادات، د قرآن او سنت د احکاماتو خلاف ورزی ، هر طرف ته د ګناهونو يو سيلاب دے خو کمال دا نه دے چې انسان د دې ته تيخته اختيار کړی او يو ګټ او يو طرف ته کينی او د دې ماحول نه کناره کشی اختيار کړی دا کمال نه دے کمال دا دے چې انسان د دې ماحول په مينځ کښې وی هر څهٔ ګوری هر څهٔ وينی او هر څهٔ اوری خو بيا هم د دې حالاتو نه نه متاثره کيږی او په خپل ايمان باندې مضبوط او کلك ولاړ وی او په دې باندې قائم وی د هر قسم ګناه موقع ورته ملاؤ شی خو بيا هم ګناه نه کوی هر قسم د ګناه اسباب ورته مهيا وی او بيا هم د ګناه پرواه نهٔ لری.

## کار نبوت او کار ولایت:

عبد القدوس ګنګوهی رحمة الله علیه وائی چې یو کار ولایت دے یو کار نبوت دے کار ولایت کښې چې انسان یو مرتبے ته اورسیږی بس د هغه مقام نه دوباره د دنیا عالم ته نۀ راځی او کار نبوت کښې انسان د ولایت د مرتبے نه ډیر بره ځی خو دوباره په هم دې دنیا کښې دې معاشره کښې نورو خلقو ته د دین پیغام ورکوی او دوباره دغه تعلق د الله سره هم قائم ساتی لوېه او غټه تقوی او نیکی دا ده چې انسان د ګناه د کارونو نه ځان اوساتی دا غټه تقوی ده، غټه نیکی او تقوی دا نۀ ده چې انسان ډیر نوافل ذکرونه تلاوتونه کوی دا پوره تقوی نه ده اګرچه دا هم د آخرت ضرورت دے دا نه شی کیدے چې یو انسان فرض مونځ نه کوی که هغه ډیر د پیر صاحب وظائف اوراد کوی نو دا تقوی نه ده الله دې مونږه ته حقیقی تقوی نصیب کړی. امین

# د الله يره

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَاَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوٰى فَاِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَاْوٰى﴾ (سورة النازعات: ۴۱، ۴۲)

﴿وَقَالَ تَعَالٰى: وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتَانِ﴾ (سورة الرحمٰن: ۴۶)

## د دوؤ جنتو نو حقدار:

د قرآن پاك د دوؤ آيتونه تلاوت اوكړے شو په اول ايت كښې الله فرمائى څوك چې د خپل رب د پيش كيدو نه اويريدو مطلب چې د الله مخې ته به اودريدل وى سوال جواب وركول به وى او بيا ئې خپل ځان د خواهش او ګناه نه بچ كړو نو د دې انسان ځائے جنت دے او همدغه مضمون په دې بل ايت كښې هم بيان شوے دے د دې ايتونو نه دا پته اولګيده چې د الله خوف او يره په دې سره انسان ته جنت ملاويږى او دا د كاميابے بنياد دے چې د يو انسان په زړۀ او دماغو كښې د الله خوف او يره وى امام مجاهد رحمۃ اللہ علیہ وائى د دې ايت: ﴿وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتَانِ﴾ مطلب دا دے چې د يو انسان په زړۀ كښې د ګناه خيال راشى چې راشه دا ګناه اوكړه وروسے د الله يره د انسان زړۀ ته راشى چې يو ذات شته هغه ما ګورى او زۀ به د هغه په دربار كښې د دې جواب وركومه او په همدے بنياد دا د ګناه كار پريږدى دې انسان ته الله دوه جنتونه وركوى او دا وعده ده د الله چې دې انسان ته به الله جنت وركوى او همدے د الله يرې ته د الله خوف وئيلے كيږى او كه يو انسان سوچ اوكړى نو زمونږه د تمام شريعت خلاصه دا ده چې د انسان په زړۀ كښې د الله يره، خوف خدا

پیدا شی غټه او بنیادی خبره د الله عظمت او جلال په خپل زړهٔ کښې پیدا کول دی بیا دا انسان د الله پوره بنده جوړیږی.

## د فساداتو وجه:

دا نن که هر طرف ته فسادات دی ګناهونه نافرمانیانے دی د الله د احکاماتو خلاف کول دی نو د دې هر څهٔ وجه دا ده چې نن زمونږه په زړهٔ کښې خوف خدا نشته، دې وجے الله په یو ځائے کښې دا شکوه کوی:

﴿وَمَا قَدَرُوا اللهَ حَقَّ قَدْرِهٖ﴾

دې خلقو د الله پوره قدر عزت او احترام او نهٔ کړو لکه څنګه چې پکار وو دې وجے نه په دې ایت کښې الله ذکر کوی:

﴿خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ﴾ دا نهٔ وائی چې د جهنم نه یریږی نا جهنم د یرے څیز نه دے د الله د مقام او د پیشے نه یره پکار ده همدغه جهنم که الله اوغواړی نو سوزول به نهٔ کوی نو اشاره دې ته وه چې د الله عظمت او جلال لوئی د انسان په زړهٔ کښې پیدا شی.

## دوه قسمه یره:

یره په دوه قسمه ده یوه هغه قسم یره ده چې انسان د چا د ظلم زیاتی بدلے اغستولو نه یریږی نو د هغه نه یره کوی خو د هغه عظمت تعظیم او عزت په زړهٔ کښې نهٔ ساتی او یوه یره او خوف دا دے چې د هغه ذات د قوت نه یره کوی خو د یرے سره د هغه سره محبت هم کوی د هغه عزت او عظمت هم په زړهٔ کښې ساتی دې دویم قسم یرے ته تقوی وئیلے کیږی. دا دویم قسم یره د الله نه کول کمال دے او دا د انبیاؤ د اولیاؤ یره وه د الله نه چې هغوی به دا یره د الله نه کوله او څوك چې دا یره نه کوی نو بیا ورپسے الله دغه په بله طریقه چې هغه دَ عذاب جهنم سزا ده په دې طریقے سره یروی.

## د اسلام امتیازی شان:

دا دویم قسم یره د الله نه کول دا د دین اسلام یو امتیازی شان او لوئے خصوصیت دے چې په دې سره انسان د هر قسم جرم نه بچ کیږی جرم به کولے شی، طاقت به لری، اسباب به ورته تیار اومهیا وی، خو بیا هم به دا انسان د جرم نه ځان بچ کوی. دا د اسلام کمال دے او دا د مذهب منلو فائده ده او دا دلیل دے د دې خبرے چې بغیر د دین او مذهب نه په دنیا کښې امن وامان نشی راتلے که دنیا پر امن او پرسکون معاشره غواړی نو اسلام ته به غاړه ږدی بیا په دغه معاشره کښې زور زبردستی ته څۀ ضرورت نشته نه پولیس ،فوج قوت ته څۀ ضرورت شته بس صرف د الله عظمت انسان د هر څۀ جرم نه منع کوی، نن که څومره ډیر قانونی دفعات دی د جرمونو خلاف، او که څومره ډیر پولیس، فوج او طاقت دے عدالتونه او تهانے دی خو سره د دې هر څۀ نه هر طرف ته د جرمونو روك تهام نه کیږی ځکه د جرمونو سدباب او یو علاج خوف خدا وو دا هر څۀ شته خوف خدا نشته نو ځکه دا فسادات نه ختمیږی او ورځ تر ورځ نور رواج اخلی او زیاتیږی.

## خوف خدا او عدل:

کله چې خوف خدا او د الله عظمت په زړۀ کښې وی نو بادشاه به هم ظلم زیاتے نه کوی بلکه د عدل او انصاف نه به کار اخلی، دَ رعیت، قوم او عوامو خیال به ساتلے شی، دهوکه بازے، ناجائز حق اغستل، ظلم کول هیڅ څوك به هم دا نشی کولے هر حقدار ته به خپل حق پوره پوره ملاویږی د عمر رضی الله عنه په دور خلافت کښې به هغه پخپله د شپے په وقت کښې د مدینے په لارو کوڅو کښې ګشت کولو دې د پاره کۀ څوك مصیبت زده وی د هغه سره ښیګړه، خیرخواهی اوکړے شی که بدامنی وی

يا د چا سره ظلم شوے وی نو هغه ته د ظلم نه نجات او خلاصے ورکړے شی نو په دې نيت راروان دے د يو كور نه د دوؤ زنانوؤ خبرے كيږی هغه خبرے ئے واؤريدے چې څۀ مسئله ده ورته رانزدے شو نو يوه بوډے ښځه هغه بلے زنانه ته وائى تا چې كوم پئے تيار كړى دى په هغے كښې لږے اوبۀ زياتے كړه چې دا پئے زيات شی نو زمونږه آمدن به زيات شی لور ورته وائى چې تا ته پته نشته چې امير المؤمنين دا حكم كړے دے چې ملاوټ به په پيو كښې نه كيږی مور ورته وائى امير المؤمنين خو مونږ نۀ وينى هغه نشته نو لور دا جواب وركوى كه امير المؤمنين نۀ وينى او نۀ ګورى نو الله خو مونږه ګورى. الله ته به څۀ جواب وركوؤ دا جواب چې عمر رضي الله عنه واؤريدو نو سحر وخت د معلومات كولو نه بعد ئے دغه جينۍ پسے د خپل ځوى د پاره د رشتے دعوت اوليږولو او دغه جينے ئے د خپل ځوى د پاره خوښه كړه صرف په دې بنياد چې د دې زنانه په زړۀ كښې خوف خدا وو ځكه په چا كښې چې خوف خدا وى په هغه كښې هر ښه صفت وى او په چا كښې چې خوف خدا نۀ وى نو په دغه انسان كښې هيڅ خير نه وى بيا د عمربن عبدالعزيز رحمه الله مور د دې زنانه په اولاد نمسو كښې وه.

## د يو شپونكى خوف خدا:

يو بله واقعه د عبدالله بن عمر رضي الله عنه چې يو ځل په سفر باندے روان وو د امتحان د پاره ئے د يو شپونكى نه تپوس اوكړو چې مونږ لره لږ پئے راكړه هغه ورته وائى د مالك اجازت نشته دا ورته وائى مالك خو تا نه ګورى يا يوه ګډه په پيسو باندے مونږه ته راكړه او يا څۀ پئے مونږه لره راكړه مونږ به تا ته پيسے دركړو ته به ورباندے خپل ضرورت پوره كړے او مالك ته دا بهانه اوكړه چې ګډه وركه شوه يا يو ځناور اوخوړه او داسے

په ځنګل او صحرا کښې ډېر کیږی. عبد الله بن عمر رضی الله عنه وائی دې غلام چې دا خبره واؤریده ورته وائی ﴿فأين الله﴾ که زما مالك نه وی نو د ټول جهان مالك الله نه ځوك پټیدے شی. عبدالله بن عمر رضی الله عنه په دې خبره خوشحاله شو د مالك په باره کښې ئے ورنه تپوس اوکړو د هغه مالك سره عبدالله بن عمر رضی الله عنه په مدینه کښې ملاؤ شو دغه مالك نه ئے په قیمت باندې ګډے بیزے او غلام دواړه واغسته او دغه غلام ئے آزاد کړو ګډے بیزے ئے ورته حواله کړے او د هغے مالك ئے جوړ کړو.

## صحابه کرام رضی الله عنهم او د الله یره:

که چرته د صحابو رضی الله عنهم نه به څۀ جرم سرزد شو نو تر هغے پورے به په ارام سره نه کیناستل ترڅو پورے چې به ئے خپل ځان پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته پیش کړے نه وو یا به ئے د خپل جرم سزا نه وه خوړلے نو په ارام او اطمینان سره به نه کیناستل د نبی صلی الله علیه وسلم په مجلس کښې د خلقو په مخامخ به ئے دا اقرار کولو ﴿ أَصَبْتُ حَدًّا﴾ زۀ حد واله جرم ته رسیدلے یمه ﴿ أُصِبْتُ ذَنْبًا﴾ ما ګناه کړے ده. یو زنانه د نبی صلی الله علیه وسلم مجلس ته راغله اے د الله پیغمبره ما نه زنا شوے ده نبی صلی الله علیه وسلم ترینه مخ بل طرف واړولو څلور ځله ترې نبی صلی الله علیه وسلم مخ واړولو، خو د دغه زنانه په خیټه ماشوم وو نبی صلی الله علیه وسلم ورته وائی چې کله دا بچے پیدا شی دوه کاله بعد ته راشه دومره زمانه بعد بیا راغله داسے د ایمان خاوندان وو چې ګناه کله شوے ده او غم ورسره د څومره وخت پورے دے بیا نبی صلی الله علیه وسلم ورباندے حد قائم کړے وو دا د صحابو رضی الله عنهم د ایمان حالت دے، جرم نه کوی که اوشی نو پټ نه پاتے کیږی د آخرت د سزا نه مخکښې مخکښې د دنیا په عذاب سره خپل ځان د آخرت د سزا نه خلاصوی ځکه د هغوی خلقو په زړونو کښې د الله یره وه څوك به د شپے په تیارۀ کښې یا د ځنګل په ځانله والی کښې

هم ګناه نه کوی او دا ټول مسائل او جرائم به ختم شی کله چې په زړۀ کښې د الله یره وی.

او صرف آخرت نه بلکه د دنیا دا نظام هم په خوف، یره باندے بناء دے که د یو بچی سره د پلار یره نه وی نو دۀ به څۀ څۀ نه کول که د یو ملازم سره د افسر نه یرۀ نۀ وی نو دۀ به څۀ څۀ قسم دهوکے نه کولے لکه څنګه چې د دنیا په کار کښې خوف او یره پکار راځی دغه شان د آخرت په کار کښې هم خوف خدا پکار راځی.

او دا د الله یره څۀ سره پیدا کیږی دا حدیث کښې راځی د مرګ یادول او د آخرت په باره کښې مراقبه کولو سره د الله یره د انسان په زړۀ کښې پیدا کیږی حدیث کښې راځی ﴿اَکْثِرُوْا ذِکْرَ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ﴾ هغه څیز چې د دنیا لذتونه ختموی د هغے ذکر ډیر کوے.

# مجاهده او د الله انعامات

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَالَّذِيْنَ جَاهَدُوْا فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا وَاِنَّ اللّٰهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِيْنَ﴾

(سورۃ العنکبوت:۶۹)

د سورت عنکبوت په دې ایت کښې الله رب العزت د انسان د مجاهدے او نفسانی خواهشاتو خلاف د الله حکم منل د هغے تذکره کوی بیا د دغه مجاهدے په عوض کښې د الله د انعام او د الله د ورکړے تذکره ده. بنده ته د الله انعام په دې سره ملاویږی چې مجاهده نفس کوی او په نوافلو سره خپل ځان الله ته نزدے کوی. مجاهده دَ نفس ډیر مشکل او ګران کار دے مجاهده څهٔ ته وئیلے کیږی؟ مجاهده دې ته وئیلے کیږی چې یو طرف ته د الله حکم وی بل طرف ته د نفس او د شیطان حکم وی دا انسان د نفس او د شیطان حکم پریږدی او د الله حکم غوره کړی په هغے باندې عمل اوکړی دې ته مجاهده نفس وائی او دا ځکه ګران کار دے چې د نفس مثال د یو ماشوم په شان دے څنګه چې مور خپل بچے ماشوم د خپلو پیو نه په څهٔ طریقه بندوی او د هغه سره قسم قسم چلونه او طریقے کوی دې د پاره چې دا د سینے پئے نور پریږدی ځکه دا عادت د ماشوم بچې د پاره بدلول ډیر ګران کار وی دغه نفس قابو کول د ګناه نه منع کول خپلے مرضے او خواهش ته نفس نه پریښودل دا هم ډیر ګران کار دے ځکه مشقت او مجاهده غواړی ځکه زړهٔ او نفس یو څیز غواړی او هغه پریښودل د هغے خلاف څیز باندې عمل کول دا مشکل کار

دے خو دا مشکلات په اول وخت کښې وی روسته نۀ وی او نفس پخپله د هغه څۀ انتخاب کوی څۀ چې الله غواړی.

## مشکل کارونه او محبت خدا:

کله یو مشکل کار الله انسان ته اسان کړی خو د محبت د وجے نه دغه مشکل کار الله اسان کړی لکه مور د خپل بچی تربیت کوی دغه مور د دې بچی د پاره قسم قسم مشکلات برداشت کوی خو دا صرف په دې بنیاد چې بچے نیك عمله، دین داره، تعلیم یافته، ادب ناك جوړ شی خو مور دا تمام تکالیف د بچی د محبت د وجے نه برداشت کوی. دویم مثال په دنیا کښې یو نوکر یو مزدورکار یو ملازم ملازمت یا مزدوری یا نوکری کوی د سحر نه ماښام پورے ګرمی برداشت کوی لوږه تنده برداشت کوی د سحر نه ماښام پورے مسلسل خپلې ذمه دارے ډیوټے کښې مشغوله وی دا هر څۀ د یو سوچ فکر په بنیاد باندې کوی هغه دا چې د دې مشقت نه بعد به ما ته د دې اُجرت تنخواه یا مزدوری ملاؤ شی نو دا هر څۀ د دغه اُجرت سره د محبت به بنیاد باندې دا انسان کوی دغه شان د نفس مثال هم دے نفس چې څومره مشقت برداشت کوی نو د دې د پاره د الله او د الله د رسول ﷺ محبت لازمی خیز دے دا بنیاد دے د دې نه بعد به نفس هر قسم مشکل برداشت کولو ته تیار وی او د آخرت همیشه خوشحالۍ لوے لوے نعمتونه آباد جنتونه چې کله د انسان مخے ته وی نو د دغے ثمرے په بنیاد دا انسان هر قسم تکلیف برداشت کولو ته تیار وی .

## د هر عمل د پاره مجاهده:

بل دا چې صرف د دین کار بغیر د مجاهدے نه چې څنګه وجود ته نۀ راځی دغه شان د دنیا کارونه هم بغیر د څۀ مشقت مجاهدے نه وجود ته نۀ راځی د دنیا دَ کار د پاره انسان د سحر نه واخله تر ماښام پورے یوه

منده کښې وی دغه شان عبادت اطاعت د الله او د الله د رسول ﷺ د تابعدارۍ د پاره هم دغه تکلیف منده وهل پکار دی که د دنیا په کار کښې یو مزدورکار په سخته ګرمۍ کښې مزدوری اونۀ کړی نو دۀ ته اُجرت نۀ ملاویږی هغه ثمره ورته نۀ ملاویږی دغه شان په دنیا کښې که یو انسان د اُجرت د پاره مزدوری او نۀ کړی نو جنت ورته نه ملاویږی که د ورځې په وخت کښې یو مزدور کار د خپل جسم نه خولۀ اونۀ باسی نو دۀ ته به څۀ وختی آرام او راحت حاصل شی خو د ماښام په وقت کښې دا انسان د دۀ بچی، ښځه کور واله خاندان ټول به په لوږه او تنده کښې اخته وی او بیا په دغه وخت کښې به ورته د مزدورے موقع هم نه وی دغه شان مثال د آخرت د پاره د مجاهدے هم دے.

## ټول عمر مجاهده:

بیا دا خبره ده چې صرف مجاهده کول نۀ بلکه همیشه مجاهده کول د شیطان او نفس سره جهاد کول، نفس په مجاهده باندې اماده کول نن که مونږه ته مونځ کول مشکل کار دے ،روژه نیول ګران عمل دے، حج د پاره تیارے دا راته لرے ښکاری، زکوة ادا کولو ته زړۀ تیار نۀ دے ځکه مونږه خپل ځان د الله د دین د پاره په مجاهده مشقت او تکلیف برداشت کولو باندې اماده کړے نۀ دے لکه څنګه چې ماشوم د وړوکوالی نه په خبرو کولو باندې اماده شی، عادتی شی نو ټول عمر هغه ته په خبرو کولو کښې څۀ تکلیف نه وی دغه شان که نفس د الله په عبادت اماده شی اموخته او عادتی شی نو ټول عمر بیا د شپے په یخنے کښې راپاسیدل یخو اُوبو باندے اودس کول مال د حج د پاره خرچ کول د مال زکوة نه د غریب حق ادا کول دا ټول څیزونه الله انسان ته اسان کړی.

## دوه قسمه عالمونه:

دوه عالمونه دی یو جهنم دے یو جنت دے په جنت کښې انسان د نفس د خلاف کولو پابند نه دے د دهٔ د خواهش خلاف کار هلته نشته هلته چې څهٔ د انسان نفس ئے خواهش غواړی هغه به کیږی قرآن کښې الله ذکر کوی: ﴿وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِيٓ أَنفُسُكُمْ﴾ (سورة حم السجدة:۳۱)

ستاسو د پاره په جنت کښې هغه څهٔ دی چې ستاسو نفسونه هغه غواړی چې تاسو څهٔ قسم مطالبه په جنت کښې کوے هغه به په جنت کښې وی تمام خواهشات هلته پوره کیږی د خواهش یا نفس خلاف مجاهدے ته هیڅ ضرورت نشته تر دې پورے که انسان یو څیز صرف لیدل یا مشاهده کول غواړی نو دا انسان به دغه څیز مشاهده کوی الله به ورته دغه څیز د دهٔ مخے ته حاضر کړی او دا به ورته ګوری تر دې پورې که زمیندار سړے د هغه په زړهٔ کښې صرف دا خیال او تصور راشی چې په دنیا کښې ما سره زمینداری وه، پټے راسره وو نو الله به دې انسان ته پټے حاضر کړی دا به ورته ګوری او خپلے مخے ته به ئے مشاهده کوی. دې انسان ته په دې کښې به هیڅ فائده نه وی خو دهٔ صرف دا تصور کړے وو الله ورته دغه هر څهٔ حاضر کړل ځکه په جنت کښې د انسان تمام خواهشات تمناګانے پوره کیږی. بل عالم جهنم کښې به انسان چې څهٔ نه غواړی هغه به ورسره کیږی هلته به همیشه تکلیفونه مصیبتونه وی هلته که یو انسان راحت اطمینان یا سکون غواړی نو دا به ورته نه ملاویږی هغه بالکل د خواهش او د زړهٔ نه خلاف یو عالم دے یو بل عالم چې مونږه او تاسو اوس وقت په هغے کښې آباد یو هغه دنیا ده دلته دواړه کارونه کیدے شی خواهشات پوره کیدے هم شی او دباؤ کیدے هم شی که یو انسان خپل خواهشات پوره کوی الله ورته اختیار ورکړے دے او که خپل خواهش دباؤ کوی نو هم دهٔ ته اختیار دے دا د

دنیا حال دے بیا دې دنیا کښې څۀ کارونه هغه دی چې د طبیعت او خواهش خلاف دی خو انسان ته وربانديې څۀ نۀ ملاویږی لکه کافر دے یا دهری دے الله او رسولﷺ نۀ منی په هغه باندے الله قسم قسم تکلیفونه بیماریانے مصیبتونه راولی دا مشقتونه د دۀ د خواهش او زړۀ خلاف کار دے خو الله ورته په دې باندې هیڅ نه ورکوی بل طرف ته څۀ کارونه داسے هم شته چې هغه به د انسان د خواهش خلاف وی خو په آخرت کښې دې انسان ته وربانديې اجروثواب ملاویږی نو د خواهش خلاف خو دواړو طرف ته شته دے خو الله مسلمان ته د اسلام د وجے نه انعام ورکوی او د کافر د آخرت سره سره دنیا هم برباده شوه . دې ته بے اختیاره مجاهده وئیلے کیږی.

## اصلی مجاهده:

بل دا اصلی او حقیقی مجاهده به په هغه وخت کښې وی چې د انسان سره د ګناه کولو اسباب مهیا وی هر طرف ته ورته د ګناه دروازے کهولاؤ وی هیڅ مشکل یا رکاوټ ورته د خپل عزت یا د کور یا د نور مخلوق یا د حکومت وقت د طرف نه نۀ وی او بیا هم دا انسان ګناه نۀ کوی نو دا اصلی مجاهده ده که یو انسان ته د زنا موقع نه ملاویږی او دا انسان ډیر په خپله خُله باندې دا وائی چې زۀ زنا نه کومه نو دا هیڅ مجاهده نه ده مجاهده په دې صورت کښې وی چې دې انسان سره د ځوانے طاقت، مال دولت او داسے ماحول وی که دا انسان اوغواړی نو زنا کولے شی او بیا هم زنا نۀ کوی نو دې ته مجاهده وئیلے کیږی یا یو انسان په یو کفری ملك کښې دے هر طرف ته په منظر عام **علی الاعلان** په هوټلو عام مجلسونو، بازارونو کښې شراب څکلے کیږی که دا انسان اوغواړی بغیر د څۀ یرے نه دا هم شراب څکلے شی او د دې د پاسه دا انسان د الله

د وجې نه پرهیز کوی یا بل څۀ رکاوټ ورته نه وی د الله د وجې نه دې شرابو څکلو ته زړۀ نۀ ښه کوی نو دا د مجاهدے اصلی او حقیقی صورت دے او په دې باندې الله د انسان سره په دنیا کښې احسان کوی او په آخرت کښې ورته انعام ورکوی.

## عادتی ګناه پریخودل:

یو د مجاهدے صورت دا هم دے چې یو انسان د ګناه کولو عادتی جوړ شوے دے یا د کم علمۍ د ناپوهۍ د وجې نه یا د ماحول د وجے نه یا د نۀ تربیت د وجے یا د نفسانی خواهشاتو غلام کیدو د وجے نه دا انسان د غلا د شرابو د زنا یا د سود خورے عادتی جوړ شوے دے بیا دا انسان پوهه شی احساس ورته اوشی او دغه د عادت واله ګناه پریږدی دا هم غټه مجاهده ده. شرابی شراب پریږدی، سګریټ پوډرو واله دغه ګناه پریږدی د خوب سره عادت شوے سړے د سحر مانځه د پاره خپل خوب قربان کړی دا هم د مجاهدے یو ښه پهلو ده.

## ترک المنکرات او فعل الطاعات:

بل دا چې مجاهده دوه قسمه ده یو ترک المنکرات دے یعنې ګناهونه د الله نافرمانی، بغاوت پریخودل، د الله حکم نه پامال کول یو دا مجاهده ده سود ،حرام خوری، ناجائز قبضه، کینه، بغض، حسد، بدنظری، زنا، غلا، شیطانت دا ټول پریښودل دا هم مجا هده ده او یو قسم مجاهده **فعل الطاعات** کول دی یعنې مونځ کول، حج ،زکوة، عبادت کول ښه اخلاق ښه سلوك او کردار په معاشره کښې ادا کول دا هم مجاهده ده کله کله څۀ جائز کارونه پریخودل هم پکار دی لك خوراك څکاك کول جائز دی خو انسان دې ډیر زیات خوراك نه کوی چې پوره ترمرے پورې

خوراك كوى دې وجے نه صوفياء د مجاهدے د پاره څلور څيزونه ذكر كوى يو **تقليل الطعام** لږ خوراك كول **تقليل الكلام** لږے د ضرورت مطابق خبرے كول **تقليل المنام** لږ شان خوب كول **تقليل الاختلاط مع الانام** د خلقو سره ډير دنيوى اختلاط نه كول.

په حديث كښې راځى نبىﷺ فرمائى: ﴿اَلْمُجَاهِدُ مَنْ جَاهَدَ مَعَ نَفْسِهٖ﴾ كامل مجاهد هغه دے چې د خپل نفس سره د الله د رضا د پاره جهاد كوى او قرآن كښې الله ذكر كوى:

﴿وَالَّذِيْنَ جَاهَدُوْا فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا﴾ (سورة العنكبوت:٦٩)

څوك چې زمونږه طرف ته د راتلو د پاره مجاهده او كوشش كوى مونږه به ورته خپلے د هدايت د كاميابۍ او د جنت لارے اسانې كړو د الله معرفت انسان ته په مجاهدے سره ملاويږى.

# په نیك كارونو كښې مسابقت

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿ وَسَارِعُوْا اِلٰى مَغْفِرَةٍ مِنْ رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمٰوَاتُ وَالْاَ رْضُ اُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِيْنَ﴾ (سورۃ المائدۃ:۴۸)

﴿وقال تعالى: فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ...........﴾

## د مومن شان:

د قرآن پاك دوه ايتونه ستاسو مخكښې تلاوت شو په دې كښې الله د نيكۍ ترغيب او په نيكۍ كښې د يو بل نه مسابقت مخكښے كيدل ذكر كړى دى دا به د مومن شان او صفت وى چې د نيك عمل كولو موقع راشى نو دا انسان به بروقت نيك عمل كوى ځكه الله ذكر كوى:

﴿وَسَارِعُوْا اِلٰى مَغْفِرَةٍ مِنْ رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمٰوَاتُ وَالْاَرْضُ اُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِيْنَ﴾

تاسو مخكښې شئ مغفرة او ښښنې ته د رب د طرف نه او هغه جنتونو ته چې د هغې غټ والے د آسمانونو او د زمكو په شان دے او داسے متقيانو مؤمنانو د پاره جنت الله تيار كړے دے. كله چې الله رب العزت د انسان په زړهٔ كښې د نيك عمل كولو داعيه پيدا كړى نو كامل او پوره مؤمن مسلمان په هغے باندې عمل كولو كښې ټال مټول چون چرا نهٔ كوى او كهٔ يو انسان د الله حكم كښې سستى، روسته والے كوى نو الله بيا انسان ته همت او توفيق نهٔ وركوى د دې ډير مثالونه دى د هغے يو مثال د بنى اسرائيلو وو چې هغوى ته الله دا حكم كړے وو:

﴿أَنْ تَذْبَحُوا بَقَرَةً﴾ (البقرة:٦٨)

تاسو يوه غوا حلاله كړۍ هغوی ځلوېښت كاله الله د دغه غوا د حلالېدو نه محرومه كړی وو ځكه چې د الله په حكم كښې ئے ټال مټول حيلے بهانے كړې وې، د قرآن مفسرين وائي:

﴿شَدَّدُوا فَشَدَّدَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ﴾

هغوی دا خبره خپل ځان ته ګرانه كړه نو الله ورته د غوا حلالول هم ګران كړل. ابن عباس رضي الله عنه وائي كه چرته دوی د الله په حكم كښې سختي نۀ وے كړے او د ځان د طرف نه قيدونه نه وے لګولے نو الله به دا قرباني يو عام غوا حلالولو سره قبوله كړے وے د بار بار تپوس كولو د وجے نه ورته دومره ګرانه شوه چې د دغه صفاتو واله غوا پيدا كول روسته ګران شو نو مسلمان به بروقت د الله په حكم باندې عمل كوی .

## د شيطان د ګمراهۍ لارے:

دا د شيطان يو چال او طريقه ده چې د دې په ذريعه انسان ګمراه او بےلارې كوی شيطان هر انسان د ګمراه كولو د پاره يوه مستقله خپله طريقه اختياروی د دې د پاره چې دا انسان نيك عمل كولو نه محرومه شي كافر ته په يوه طريقه باندې راځی مسلمان او مؤمن ته په بله طريقه باندې راځی كافر هيڅ نيك عمل نه كوی خو مسلمان ته شيطان دا يكدم نشي وئيلے چې مونځ مۀ كوه عبادت مۀ كوه دا نيك كار مۀ كوه دا بد كار دے دا ښه كار نۀ دے مسلمان مؤمن ته دا خبره نشي كولے، دې مسلمان ته په يو بله طريقه دا خبره خائسته كوی كه ځوان وی نو ورته وائي چې ته خو لاځوان ئے كله چې بوډا شې بيا به دا نيك كارونه كوې په دی طريقے سره د نيك عمل نه هغه مسلمان محرومه پاتې كړی كله ورته وائی چې صبا به دا كار اوكړے كله ورته وائي چې دا عبادت څۀ فرض واجب

عبادت خو نه دے که ادا نهٔ کړے شي څهٔ پرواه نه کوی او نه دا څهٔ جرم دے دا مختلف قسم طریقے وی چې د مؤمن مسلمان د ګمراه کولو د پاره شیطان دا لارے اختیار کړی دی.

## د نیک عمل موقع:

کله چې هم یو مسلمان ته د نیك عمل کولو موقع او فرصت ملاؤ شی نو دا نیك عمل دې دا انسان د خپل وقت نه نهٔ روسته کوی ځکه د عمر او وقت پته چاته نهٔ لګی دا فراغت او فرصت د نیك عمل بیا انسان ته نهٔ ملاویږی عمر ډیر عزیز او محبوب څیز دے انسان به د دې نه هر قسم فائده اخلی چې د دهٔ په آخرت کښې پکار راځی اول خو د دې معلومات نشته چې صبا پورې به زهٔ ژوندے یمه او که نه بیا د دې پته نشته چې زما نور عمر ژوند څومره باقی پاتے دے نو دا یوه ضروری خبره ده چې انسان د خپل عمر نه بروقت فائده واخلی دې وجے نه علماء بزرګان وائی چې د انسان په زړهٔ کښې چې د نیك عمل کوم میلان پیدا کیږی دا د الله د طرف نه وی دا د الله یو میلمه دے چې په دې انسان باندې نازل شو اوس که دا انسان په دې باندې عمل او نهٔ کړی نو دا نه عمل کول د شیطان د طرف نه وی نو دا انسان د الله میلمستیا قبوله نه کړی او د شیطان په خبره باندې عمل کوی او په یو حدیث کښې راځی چې د انسان په زړهٔ کښې دوه قسمه الهامونه کیږی یو د الله د طرف نه وی که ښه او نیك الهام وی او یو د شیطان د طرف نه وی که د بدعملئ په باره کښې د یو څیز دعوت ورکړی که د دې نیکے میلان واله میلمه قدر اوکړے شی نو دا به د الله د طرف نه باربار راځی او که د دې ناقدری، بے قدری اوکړےشی نو بیا دغه عزتمند میلمه د بےعزته انسان کور ته نهٔ راځی.

## پنځه د غنیمت موقعې:

په دنیا کښې که انسان یو طرف ته اشرف المخلوقات او د ټولو نه غوره دے الله ورته عقل او تمیز ورکړے دے نو بل طرف ته د انسان د ژوند او عمر یو منټ بلکه یو سکنډ ګارنټی نشته د یو معمولی قیمت واله څیز مثال بلب دے د هغے به څۀ مقرر وقت معلوم وی خو د انسان دا معلوم، مقرر وقت نشته په یو حدیث کښې راځی:

﴿اِغْتَنِمْ خَمْسًا قَبْلَ خَمْسٍ﴾

پنځه څیزونه غنیمت اوګڼړه مخکښے د پنځو نورو نه یو دا چې

﴿شَبَابَكَ قَبْلَ هَرَمِكَ﴾

ستا ځوانی غنیمت اوګڼړه مخکښے د ستا د بوډا والی نه ځکه دا ځوانی دوباره نه واپس کیږی او په ځوانئ کښې انسان کښې هغه صلاحیتونه او قوتونه وی چې د بوډا والی په حالت کښې انسان سره دا صلاحیتونه او قوتونه نۀ وی، په ځوانے کښې انسان هغه څۀ کوی چې د بوډا والی په حالت کښې انسان دغه کارونه نۀ شی کولے که په ځوانئ کښې قرآن او حدیث باندې ځان پوهه نه کړی عبادت باندې خپل ځان عادت نۀ کړی نو په بوډا والی کښې دا هر څۀ نشی کولے او د ځوانئ په عبادت باندې الله یو شان اجر ورکوی چې هغه اجر او ثواب انسان ته د بوډا والی په عبادت نه ملاویږی د ځوانئ د عبادت مثال د (سونے) سرو زرو په شان دے او د بوډا والی د عبادت مثال د (چاندے) سپینو زرو په شان دے او حدیث کښې راځی نبی ﷺ فرمائی چې د قیامت په ورځ چې بل هیڅ سورے نشته سوا د الله د عرش د سوری نه د هغے د لاندې به اوۀ قسمه خلق الله راجمع کوی یو په دې کښې هغه ځوان دے ﴿وَشَابٌّ نَشَأَ فِيْ عِبَادَةِ اللّٰهِ﴾ هغه ځوان چې د الله په عبادت کښې غټ شوے وی او په

ځوانے کښې عبادت کول څۀ مشکل او ګران کار نه دے دا مونږه ته ځکه ګران ښکاری چې مونږه د دې خواږ شا ماحول نه متاثره شوی یو مونږه په ګناهونو کښې اخته شوی یو ځکه مونږه ته ګران کار ښکاری او کله چې انسان په دې باندې خپل ځان عادت کړی نو بیا دا هیڅ ګران او مشکل کار نه دے . د دغه ښځے، بچو، کاروبار، لین دین سره سره چې څوك د الله عبادت کوی نو دا کولے شی او ښه په خائسته طریقے د فرائضو سره نوافل هم ادا کولے شی نن د ځوانانو حالت دا دے چې د هغوی ځوانی نۀ د خپل ځان د پاره پکار راغله نۀ د قوم د پاره او نۀ د دې ملك د پاره پکار او په څۀ فائده راغله هیڅ قسم فائده ورنه وانۀ غستلے شوه فضول او عبث ضائع شوه.

## صحت د الله نعمت:

دویم د غنیمت واله څیز ﴿صِحَّتَكَ قَبْلَ سَقْمِكَ﴾ خپل صحت غنیمت اوګنړه مخکښے د بیمارے نه، که نن صحت شته نو انسان عبادت کولے شی الله راضی کولے شی که صبا بیمار شوے نو بیا دا عبادتونه د بیمارۍ په حالت کښې انسان نشی کولے.

دریم څیز ﴿غِنَاكَ قَبْلَ فَقْرِكَ﴾ مالداری غنیمت اوګنړه مخکښے د غریبۍ نه که نن مال شته دے صبا نشته نو بیا به ارمان کوے چې افسوس مال راسره وے او ما دغه مال د الله په لاره کښې د الله د رضا د پاره خرچه کړے وے او دا غنا او مالداری نسبتی څیز دے که د یو انسان سره په جیب کښې زر روپے وی نو دا مالداره دے په نسبت د هغه انسان چې هغه سره پنځه سوه روپے په جیب کښې وی نو هر انسان به د خپل حیثیت مطابق په غریب مسکین باندې خرچه کوی.

څلورم ﴿فَرَاغَكَ قَبْلَ شُغْلِكَ﴾ د انسان فرصت او فراغت مخکښے د مشغولتیا نه دا غنیمت دے د انسان د پاره چې په دې حالاتو کښې الله

رضا کړی د نیك عمل او د لله د حکم د پاره روسته والے لیټ کول نۀ دی پکار بل فرصت ته پریخودل نه دی پکار.

پنځم ﴿حَيَاتَكَ قَبْلَ مَوْتِكَ﴾ دا نن چې الله قیمتی ژوند درکړے دے دا غنیمت اوګنړه که نور هیڅ څۀ نه وی نو ژوند خو شته دے کم از کم یو انسان د الله ذکر په دې حالت کښې کولے شی د مرګ نه بعد انسان هیڅ عمل نشی کولے ﴿إِذَا مَاتَ الْإِنْسَانُ إِنْقَطَعَ عَمَلُهُ﴾ کله چې انسان مړ شی نو د هغه ټول نیك عمل ختم شی کټ شی د دې حدیث خلاصه دا ده چې انسان ته د نیکئ موقع ملاؤ شی نو په هغے باندې د عمل کولو کوشش دې کوی.

## دَ دین او د نیا کارونو کښې مقابله او ضد:

د حدیثو یو کتاب دے ریاض الصالحین په دے کتاب کښې امام نووی رحمہ اللہ یو باب تړلے دے **باب المبادرة الی الخیرات** باب دے په بیان د دے کښې چې انسان به نیك کارونو ته مخکښے کیږی جلدی به کوی د یو بل سره به د نیکے په کار کښې مقابله کوی مخکښے کیږی به نیك کارونو ته د دنیا په کار کښې مقابله او د یو بل ضد کول ځکه منع دی چې په دنیا کښې حرص لالچ خود غرضی ده.

خو دا هر څۀ د نیکے په کار کښې کول پکار دی ځکه په دې کښې انسان ته د آخرت فائده ده او په دې سره انسان الله ته مخکښے کیږی نن که مونږه ته زمونږه دین دا حکم کوی چې د یو بل نه مخکښے شئ نو مونږه په دې باندې عمل نه کوؤ او که د دنیا په کار کښې الله مونږ منع کوی نو مونږ هغه کار خامخا کوؤ معامله بالکل د دین خلاف روانه ده ځکه د حلالو حرامو تمیز نشته دے. دے خبرے ته مونږه نه تیاریږو چې دا انسان دینداره دے نو چې زۀ د دۀ نه ښۀ دینداره وے دا دومره نیك عمله دے پکار دا وه چې زۀ د دۀ نه ښۀ دینداره وے دا دومره

نيك عمله دے پكار دا وه چې زۀ د دۀ نۀ زيات وے دا دومره مال د الله په دين لګوی نو زۀ به د دے په ډبل باندے لګومه او په دے كښې د يو بل نه مخكښے كيدونكی خلق هغه صحابه كرامرضی الله عنهم وو.

## د صحابه كرامورضی الله عنهم جذبه:

د غزوه تبوك په موقع باندے چې دا د روم سره غزا وه سخته ګرمی وه ټوله دشته صحرا وه اوښان كم وو مال دولت نه وو روم يو لوے طاقتور ملك شمارلے كيدو. نبیﷺ اعلان كړے وو چې اسباب او انتظامات نشته د سورلے، دَ خوراك څكاك كمے دے چا چې دے كښې څومره حصه واغسته زۀ ورته دا ضمانت وركوم چې جنت ته به داخليږی عمررضی الله عنه وائی چې زما په كور كښې څومره ساز و سامان وو هغه ټول ما دوه حصے كړو نيم ما جومات ته د نبیﷺ خوا ته راوړلو او نيم سامان ما په خپل كور كښې پريخودو. نبیﷺ راته اووئيل عمررضی الله عنه تا څۀ څيز راؤړو ما ورته اووئيل اے د الله پيغمبره! څۀ چې كور كښې موجود وو هغه ما نيم كړل نيم مے كور كښې پريخودل او نيم ما دلته بيت المال ته حاضر كړل نبیﷺ راته اووئيل الله دې ستا په مال حال كښې بركت واچوی. بيا ابوبكر صديقرضی الله عنه راغے. نبیﷺ ورته وائی تا څومره مال راؤړو، ورته وائی د الله پيغمبره كور كښې چې څۀ موجود وو هغه ټول ساز و سامان ما دلته حاضر كړو.

عمررضی الله عنه وائی زه په دغه موقع باندے خوشحاله وومه چې نن به زۀ د ابوبكررضی الله عنه نه مخكښے كيږمه خو كله چه ما ابوبكررضی الله عنه اوليدو چې هغه زما نه د نورو موقعو په شان په دے موقع هم نيك عمل ته مخكښے شو. په يو موقع ورته عمررضی الله عنه وائی اے ابوبكررضی الله عنه ماسره يوه معاهده اوكړه هغه ورته وائی څۀ معاهده ده. ورته وائی ستا هغه نيكی چې تا په

درے شپو کښې د نبیﷺ سره په غارثور کښې کېنلے ده هغه ما ته راکړه او زما د ټول عمر او ژوند نیکۍ تهٔ واخله ځکه هغه عمل د ابوبکرؓ قرآن ذکر کړے دے نو ابوبکرؓ ورته تیار نه شو دا حالت وو د صحابه کرامو ﷺ چې په نیك عملونو کښې به د یو بل نه مخکښے کیدل نبیﷺ د دے د پاره یو عجیبه نُسخه ښودلے وه هغه دا چې د دین په معامله کښې به انسان د خپل ځان نه بره اوچت خلقو ته نظر کوی او د دنیا په معامله کښې به د خپل ځان نهٔ لاندې خلقو ته نظر کوی نو بیا به انسان د الله شکر ګزار بنده جوړیږی ځکه عبدالله بن مبارك رحمة الله عليه وائی چې ما د خپل ژوند اوله حصه د مالدارانو سره تیره کړه نو زما ټول عمر غم پریشانی وه راحت او سکون نه وو خو کله چې ما د خپل ځان نه لاندے خلقو ته کتل شروع کړل نو هغه غم او پریشانی ختمه شوه ما ته سکون او اطمینان ملاؤ شو یو اسباب راحت وی او راحت دے کله انسان سره اسباب راحت کور، مال، تجارت، دکان وی خو راحت ورسره نه وی کله انسان سره دا هیڅ څهٔ نه وی خو الله ورته راحت او اطمینان نصیب کړے وی دا راحت او سکون د اسبابو نوم نه دے دا د الله ورکړه ده الله چې چا ته اوغواړی نو دا ورته ورکړی. **والحمدلله رب العالمین**

# مجاهده نفس

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿اِنَّ النَّفْسَ لَاَمَّارَةٌۢ بِالسُّوْٓءِ اِلَّا مَنْ رَحِمَ اللّٰهُ﴾ (سورة يوسف: ۵۳)

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: اَلْمُجَاهِدُ مَنْ جَاهَدَ نَفْسَهٗ او كما قال عليه السلام﴾ (رواه الترمذی)

د قرآن په دې ايت کښې الله رب العزت د انسان د نفس تذکره کوی که چرته د انسان سره نفس شته دے خو بل طرف ته همدا انسان د دې خپل نفس د وجے نه تباه او هلاك کيدے شی د الله او د الله د رسول ﷺ په خلاف ورزے کښې همدغه نفس انسان اخته کوی د انسان سره پيدائشی طور الله دوه ځيزونه پيدا کړی دی يو نفس دے يو شيطان دے دا دواړه هميشه انسان د الله په نافرمانۍ کښې اخته کوی او هميشه د انسان د ګمراه کولو کوشش کوی او غلطے لارے طرف ته ورته دعوت ورکوی هوښيار، عقلمند ، نيك بخته انسان هيڅ کله د نفس او د شيطان د فساد او نقصان نه نۀ غافله کيږی هغه بيدار، ويخ ژوند تيروی. د دې دوؤ دشمنانو نه هميشه خبر وی او دوی ته د کاروائۍ کولو موقع نه ورکوی.

## نفس امّاره بالسوء:

دا نفس د قرآن د تعليماتو مطابق په درے قسمه دے يو ته **نفس اَمَّاره بالسوء** وائی يعنې هغه نفس چې انسان ته د ګناه او بغاوت حکم کوی او د الله په نافرمانے کښې انسان مبتلاء کوی دويم ته **نفس لوّامه**

وائی دا هغه نفس دے چې د ګناه یا نقصان او فساد د احساس په وخت کښې انسان ملامته کوی چې دا تا زیاتے اوکړو ظلم بغاوت دې اوکړو دا ستا د پاره نه وو کول پکار او دریم قسم نفس ته نفس مطمئنه وائی هغه نفس چې انسان ورته شکست ورکړے وی انسان وربانديې غالبه شوے وی او خپل نفس ئے مغلوبه او کمزورے کړے وی بیا دا نفس انسانی په ښه او نیك کار باندے خوشحاله وی او بد کار ته زړهٔ نه ښه کوی د بد کار نه نفرت کوی د دې درے قسمه نفس تذکره قرآن کړې ده.

## دوه قسمه جهاد:

بیا د خپل نفس سره مجاهده جهاد کول دا د کامیابۍ قدم دے دا جهاد دوه قسمه دے یو د دشمن خلاف په میدان جنګ کښې د الله د رضا د پاره قتل و قتال کول د زمکے نه د الله نافرمانی او ظلم ختمولو د پاره د دشمن سره جنګیدل، د شرك، کفر، بربریت خلاف عملی طور په زبردستۍ او طاقت سره میدان ته وتل یو دا جهاد دے. بل جهاد د خپل نفس خلاف جهاد کول دی د نفس خواهشات ماتول د نفس ارزوګانے د خاورو سره یو ځائے کول او دفن کول نفس لره په ځائے د راحت ناخوښ ښیز ورکول د نفس قوت دباؤ کول دې ته جهاد بالنفس وائی چې انسان د خپل نفس د غلامۍ په ځائے د الله غلامی اختیار کړی د نفس بندګی نه کوی د دې په ځائے د الله غلامی او بندګی کوی د نفس خواهشاتو ته عملی شکل نه ورکول او دغه تمناګانے او ارزوګانے په نفس پورے بند ساتل دی دې ته مجاهده وئیلے کیږی که یو انسان د خپل ځان اصلاح او په سمه لار روانیدل غواړی نو اوله پورے د دې د پاره مجاهده کول دی. دغه شان د اخلاقو اصلاح د معاشرے اصلاح د کردار او سلوك برابرول دا ټول هر څهٔ په نفس سره کیږی ځکه الله قرآن کښې ذکر کوی

﴿لَنَهۡدِيَنَّهُمۡ سُبُلَنَا﴾ مونږه به ورته خپله لاره برابره کړو د الله معرفت او جنت ته د رسیدلو لار به ورته معلومه شي . نو د نفس غلامی به انسان نه کوی قرآن کښې الله فرمائی:

﴿أَفَرَءَيۡتَ مَنِ ٱتَّخَذَ إِلَٰهَهُۥ هَوَىٰهُ﴾(سورة الجاثية:۲۳)

آیا تا هغه انسان نه دے لیدلے چې هغه د خپل نفس دَ خواهش نه خدائے او خپل رب جوړ کړے دے انسان به بغیر د سوچ فکر نه په پټو سترګو هره خبره د خپل نفس نه منی دا د الله حق دے چې د هغه هر حکم به انسان په هر حالت کښې منی او هغه به تسلیموی. که الله وائی روژه اونیسے، خوراك څكاك مهٔ کوے انسان به روژه نیسی خوراك څكاك به نه کوی دا د الله حق لازم دے په بنده باندې، په هر حالت کښې به روژه نیسی که ګرمی وی او که یخنی وی که زړهٔ ورته تیار وی او که نهٔ وی یا کله اذان اوشی الله اکبر الله اکبر کا میابۍ طرف ته راشۍ د الله کور ته راشۍ نو انسان به مسجد ته راځی مونځ به ادا کوی که په دغه وخت کښې انسان خوب کوی نو راپاسی به او خوب به پریږدی که په دغه وخت کښې انسان د دنیا په یو کار کښې مشغوله وی نو دغه د دنیا کار به پریږدی او د الله کور ته به راځی نو هره خبره په هر حالت کښې منل تسلیمول دا صرف د یو الله حق دے دا حق الله بل چا له لره نهٔ دے ورکړے که څوك دا حق په ځائے د الله بل چا یا دَ خپل نفس خواهش او زړهٔ ته ورکوی چې د هغه هره خبره منی او په هغے باندې عمل کوی نو دا د الله حق بل چا ته ورکول دی او دا منع دی.

## د نفس مشری او حاکمیت ماتول:

او کوم انسان چې خپل نفس او خواهش نهٔ قابو کوی او په دې باندې د الله د بادشاهۍ تسلط نه قائموی نو بیا د دې انسان او ځناور

ترمینځه هیڅ فرق نۀ پاتے کیږی ځکه ځناور هم د دې څیزونو پابندی نۀ کوی هغه د حلال حرام، جائز ناجائز تمیز نه لری دغه شان دا انسان هم دے چې نفس څۀ غواړی هغه کوی. نو نفس انسانی بے لګامه ، بے مهاره پرېخودل، آزاد پرېخودل، نه پابند کول دا د انسان د تباهۍ یو لوے دلیل دے.

بل دا چې د نفس انسانی د خواهشاتو څۀ حد نشته دا بے حده او بےاندازے دی نو انسان چې څومره د دې غلام کیږی دومره دغه انسان د الله د رحمت نه لرے کیږی او په ګناهونو او ګمراهو کښې اخته کیږی بیا نفس دَ دې انسان نه نورے مطالبې کوی، نور خواهشات ورنه غواړی که یو انسان په دروغو باندې عادت شی نو نفس ورنه همیشه د دروغو مطالبه کوی که یو انسان په زناکارے باندې عادت شی نو نفس ورنه همیشه د زنا مطالبه کوی که یو انسان په شرابو نشو باندے اموخته شی نو نفس ورنه همیشه د دې مطالبه کوی .

## د دنیا او آخرت تباهی:

د نفس په منلو کښې چې څنګه د آخرت تباهی ده دغه شان د دنیا بے اطمینانی ده د دنیوی ژوند تباهی پریشانی هم ده د نفس په منلو کښې دنیوی سکون آرام راحت نشته مغرب چې کله انسان ته د تباهۍ نه ډکه نام نهاده اَزادی ورکړه هغه دا چې هر انسان چې څۀ کوی آزاد دے د څۀ قانون ضابطے پابند نه دے نه ورباندے ملکی پابندی شته او نه ورباندې مذهبی څۀ پابندی شته نو هغوی سره د هر قسم سهولیاتو نه او سره د هر قسم ترقۍ نه د هغوی په ژوند کښې سکون او اطمینان نشته.

د دې نفس انسانی مثال د جوع البقر یا د استسقاء د مرض په شان دے دا داسے مرضونه وی چې کوم ځناور، حیوان ته اولږی نو هغه د ډیر

خوراك نه آخرکار مړ شي دغه شان انسان خوراك کوي د نفس خبره مني هره مطالبه ورلره پوره کوي د دې نفس په خواهش باندې روان وی تر دې پورې چې دغه خپل نفس په دې ګناهونو سره آخرکار تباه او هلاك کړي نو د دې علاج بیا په نفس باندې پابندی لګول دی د دې سره مجاهده او جهاد کول دی د الله حکم ورباندې منل او تسلیمول دی ځکه نبیﷺ فرمائی: ﴿اَلْمُجَاهِدُ مَنْ جَاهَدَ نَفْسَهُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ﴾ کامل مجاهد هغه څوك دے چې د خپل نفس سره د الله په لاره کښې جهاد کوی په دې خپل نفس باندے خپل تسلط قائم کړی دا نفس به څۀ وخت د پاره تنګ شي خو بیا به په آخر کښې د دې خبرو منلو ته اماده او تیار شی.

## د نفس مثال:

دا نفس په کمزوری انسان باندې د شیر په شان غالبه کیږی او کوم انسان چې د دې خلاف روان وی نو بیا ورباندې غلبه نشی کولے بیا دې انسان ته فتح او برے حاصلیږی علامه بوصیری رحمة الله علیه د نفس مثال د یو پیو څکونکی ماشوم په شان ښودلے دے چې څومره د پیو واله ماشوم ته پئے ورکولے شي نو هغه نور غواړی نه منع کیږی مور به پخپله باندې دغه ماشوم د پیو نه په بل څۀ باندې عادت کوی بل څۀ خوراك غذا به ورته ورکوی نو دغه ماشوم به ورباندې عادت کیږی هغه وائی په خپله قصیده کښې.

والنفسُ كالطفلِ إن تهملهُ شَبَّ على
حُبِّ الرَّضَاعِ وإنْ تَفْطِمْهُ يَنْفَطِمِ

د دې نفس مثال د هغه ماشوم په شان دے چې هغه د خپلے مور پئے خوری نو که مور ئے منع نه کړی بیا به هم دغه ماشوم د خپلے مور

پئے څکی دا به خپل عادت نه پریږدی او که مور ئے د پیو نه په خپل وقت کښې منع کړی نو څو ورځے به ژړا فریاد اوکړی خو بیا به په دې خبره باندې اماده شی. دغه مثال د نفس هم دے که نن یوه مطالبه کوی او ته ئے پوره کړے صبا بله مطالبه، بل صبا بله مطالبه دغه شان نفس په دې کښې تباه شی او که نن بند کړے شی صبا بند کړے آخر به د ګناهونو نه قرار شی بیا به ورته غاړه نه ږدی.

والحمد لله رب العالمین

# د آخرت فکر

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد! فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ.

﴿بَلْ تُؤْثِرُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى﴾ (سورة الاعلىٰ:١٦،١٧)

﴿وقال رسول الله ﷺ: اَكْثِرُوْا ذِكْرَ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ يَعْنِي الْمَوْتَ﴾

(رواه الترمذی)

## د يو مرض او دَ هغې دَ علاج بيان:

د سورت اعلی يو دوه ايتونه تلاوت شو په دې کښې الله رب العزت د يو بنيادی مرض تشخيص او علاج ذکر کوی قرآن د الله کتاب دے او د دې کمال دا دے چې په يو دوؤ ټکو کښې ډير لوے جامع مضمون بيانوی دغه شان دلته هم دی: ﴿بَلْ تُؤْثِرُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى﴾

په دې ايتونو کښې دوه خبرے دی يو دا چې انسان د دنيا سره محبت کوی دا د بيمارے بيان دے بل دا چې آخرت اهم څيز دے دا علاج دے خرابے فساد، نقصان دا دے چې انسان د دنيا ژوند ته په نسبت د آخرت ترجيح ورکوی او د دې انسان ټول سوچ د دې دنيوی ژوند سره وی هر وخت دا فکر کوی چې د دنيا خوشحالی د دنيا ترقی د دنيا کمال ما ته حاصل شی او د دې د پاره شپه او ورځ منډه ترړه وهی د چا سوچ بنهٔ نه بنهٔ کور وی د چا سوچ د ډيرو پيسو سره وی د چا سوچ په ډير زيات عزت کښې وی څکه قرآن دا شکايت کوی چې دا کمزورے ضعيفه ژوند او نظر به پريږدې: ﴿بَلْ تُؤْثِرُوْنَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا﴾ بلکه تاسو د دنيا ژوند غوره کوے حال دا دے چې: ﴿وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى﴾ د دنيا نه زيات

کوشش او فکر د آخرت د پاره پکار دے ځکه هغه غوره ژوند دے او باقی پاتے کیدونکے هم دے که نن مال، دولت، عزت ،کور، سرمایه ده دا به نن وی خو صبا به نه وی د دې په مقابله کښې د آخرت نعمتونه باقی پاتې کیدونکی دی هوښیار انسان هغه دے چې د عارضی وقتی ضرورت د سوچ کولو سره سره زیات سوچ د خپل آخرت د ژوند د پاره کوی د دې مثال د مسافر او د مقیم سړی دے یو سړے چې مسافر وی په حالت د سفر کښې هغه کور نۀ جوړوی ،دکان نه اخلی، فضول خرچی نه کوی خو که دا انسان همیشه مقیم وی نو بیا دې هر قسم څیزونو ته غاړه ږدی د سفر په حالت کښې دومره څۀ کوی چې ستا اصل همیشه کور او وطن آخرت دے په دنیا کښې څو ورځے مسافری ده دنیا مکمل مۀ پریږده صرف خپل ضرورت ورنه پوره کوه ځکه کمال دا نۀ دے چې انسان دنیا مکمل پریږدی او الله راضی کړی کمال دا دے چې د دې دنیا په مینځ کښې انسان آباد وی او بیا هم ورنه الله راضی او خوشحاله وی.

## د دنیا د خوشحالۍ حقیقت:

د دنیا لذتونه خوشحالۍ کامل او پوره نه دی او الله بار بار مونږه ته دا د عبرت د پاره په عین الیقین سره ښکاره کوی چې تاسو دنیا ته ګورے په دې کښې نن یو انسان بادشاه وی صبا همدغه انسان ګدا وی غلام وی نن به د یو انسان سره ډیر غلامان ، نوکران وی صبا هم دغه په خپله باندې نوکری، غلامی کوی نن به د یو انسان سره د خپل آباد کور سرمایه وی ځکه دا دنیا د خواهشاتو د پوره کولو ځائے نه دے الله مونږه د پاره درے عالمونه پیدا کړی دی یو ته جنت وائی چې هلته همیشه خوندونه، لذتونه خوشحالۍ دی چې څۀ غواړې او څومره غواړې هغه تمام عمر تا ته ملاویدے شی دویم جهان چې هغه سراسر، غم او تکلیف

دے په هغې کښې چرته خوشحالی نشته هغے ته جهنم وائی، يو دريم جهان او عالم چې هغه دنيا ده چې په دې کښې دا دواړه کيدے شی کله به غم وی کله به خوشحالی وی کله به راحت وی کله به تکليف، کله به عزت وی کله به ذلت وی دا د دې دنيا مزاج دے دا الله جوړه کړے داسے ده چې غم سره خوشحالی او خوشحالئ سره غم که نن عزت عهده شته دے صبا به نه وی او دا د الله عام قانون دے په دې کښې د ښه سړی او بد سړی څۀ فرق نشته دا چې څنګه په ښه انسان باندې راځی دغه شان په بد انسان باندې هم راتلے شی بلکه کله کله الله نيك بندګان په قسم قسم امتحاناتو تکاليفو باندې اخته کوی صرف د امتحان کولو د پاره بلکه په خپل غوره کړے شوی بندګانو انبياؤ باندې الله دنياوی ازمائش او تکليفونه کړی دی لکه حديث کښې راځی:

﴿اَشَدُّ النَّاسِ بَلَاءًا اَلْاَنْبِيَآءُ ثُمَّ الْاَمْثَلُ فَالْاَمْثَلُ﴾

د ټولو نه زيات تکليفونه په انبياؤ راغلی دی بيا د هغوی سره چې څوك ډير يو شان او نزدے وی نو د دنيا خوشحالی کامله نه ده که دنيا کښې خوشحالی شته نو ورسره غم هم شته دے او د آخرت خوشحالی کامله او پوره ده نو پکار دا ده چې د آخرت د پاره فکر اوکړے شی.

## د مرګ ياد:

د دې ايتونو مقصد دا دے چې دا دنيا د انسان د پاره راه ګذر دے د دې نه خپل ضرورتونه پوره کوے لکه يو مسافر چې د سفر په دوران کښې خوراك څکاك کوی خو د خپل منزل مقصود طرف ته هم روان وی په مقصد کښې خپل ځان ته څۀ نقصان نه پيدا کوی دغه شان د دنيا مسافر هم دنيا بقدر ضرورت اخلی خو اصلی ټهکانه آخرت دے. دنيا به مقصد نه ګرځوی چې آخرت ورنه د دې د وجے نه هير شی نا آخرت به

ورته هم یاد وی د هغے نه به غافله او ناخبره نه وی ځکه په حدیث کښې نبیﷺ فرمائی: ﴿اَكْثِرُوْا ذِكْرَ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ﴾ هغه څیز ډیر یادوے چې هغه د انسان لذتونه ختموی چې هغه مرګ دے کله چې یو انسان ته مرګ یاد وی نو د دې

انسان د مرګ د یاد سره ورته آخرت هم یاد وی او بیا دا انسان د هر قسم ګناه نه ځان ساتی که ظلم کوی نو مرګ ورته یاد وی نو د دغه ظلم نه منع شی که ګناه کوی زیاتے کوی مرګ ورته یاد وی نو د دغه ګناه او زیاتی نه منع شی دروغ ګوئی، سود، رشوت کولے شی خو مرګ آخرت ورته یاد وی نو بیا دا څیزونو نه کوی او کله چې دا څیز هیر شی نو که دا انسان په ظاهره د الله نوم اخلی بیا به هم بغاوت، ګناه او سرکشی کوی او دا مرګ او آخرت یادول بنیادی څیز دے چې نبیﷺ د صحابه کراموؓ اصلاح په دې فکر سره کړے وه چې هغوی ته به همیشه هر وخت په هره موقع باندې آخرت او مرګ یاد وو هغوی ته نبیﷺ د آخرت د مرګ درس ورکړے وو هغه ئے ورته مخے ته کړے وو نو نقصان به نه کیدو نه پولیس وو نه څۀ طاقت وو نه څۀ قانون نظام او ضابطه وه بس صرف د آخرت فکر او د آخرت غم به وو که غلا شوے ده نو غل پخپله راغلے دے او اقرار کوی، که زنا شوے ده نو زناکار پخپله خپل ځان د نبیﷺ په عدالت کښې پیش کوی که د چا سره ظلم زیاتے شوے نو ظالم پخپله اقرار کوی او د هغه نه معافی غواړی: ﴿یارسول اللهﷺ اَصَبْتُ حَدًّا﴾ په ما باندې حد لازم شوے دے. نن پولیس شته، فوج شته، عدالت او ملکی قوانین شته دے خو بیا هم جرائم او فسادات نه اودریږی کله یوه اداره وجود ته راشی د جرائمو د ختمولو د پاره کله بله اداره، کله بله اداره خو هر یو اداره ناکام کیږی بلکه دغه اداره پخپله دهوکه بازی او

دغه جرائم کوی کله د احتساب په نوم او کله په بل نوم خو بیا هم دغه جرائم ختم نه شو ځکه بنیاد کمزورے دے چه هغه فکر آخرت دے او هغه نشته نو دا جرمونو نه ختمیږی او نه د دغه ادارو واله خلق د آخرت سوچ د سره نه لری صرف د دنیا سوچ چې څنګه به ډیره شی په کومه طریقه به حاصله شی نو ځکه دغه هر څۀ فائده نه ورکوی.

## دَیوبزرګ نصحیت:

د هارون الرشید په دور کښې یو بزرګ وو چې هغه سره به همیشه د آخرت فکر وو خو شکل صورت نه ډیر ساده وو هارون رشید ورته یو ځل اووئیل چې دا لخته چوکه واخله او په دنیا کښې که تا ته ستا نه زیات کم عقل ملاؤ شو هغه ورباندې اووهه دغه بزرګ ځان سره لخته سنبهال کیخوده کله چې هارون الرشید ته د مرګ مرض اولګیدو هغه ئے تپوس د پاره راغے ورته وائي څنګه ئے جواب ئے ورکړو چې ډیر لوے سفر راته مخے ته دے ورته وائی چې څۀ لښکر، فوج ، اوښان، سرمایه تا د دې سفر د پاره لیږلے ده ځکه ته چې کله به د دنیا په سفر باندې روانیدے نو ستا سره به څومره فوجونه، لښکرے وے دا یو عارضی سفر وو ته چې مستقل د آخرت په سفر باندے روان ئے نو تا ورته تیارے نه دے کړے زما زړۀ غواړی چې په هغې لخته تا اووهمه. هارون الرشید پوهه شو ورته ئے اووئیل چې ته پوره هوښیار ئے اګرچه مونږه ته کم عقل ښکارے دے.

# د نیکانو خلقو ملګرتیا

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَكُوْنُوْا مَعَ الصّٰدِقِيْنَ﴾ (سورۃ التوبۃ:۱۱۹)

## د دینداری اسباب:

د مخکښې نه خبره شروع وه چې د انسان دنیا ته راتلل د الله اطاعت او بندګۍ د پاره دی. د الله اطاعت او بندګی او عبادت جهد مسلسل او لوے مشقت سره انسان ته حاصلیږی خو دا تعلق چې کله هم د الله سره مضبوط وی نو د الله احکام منل انسان ته اسان وی بیا دا تعلق د الله سره څنګه جوړیږی د دې د پاره بهترینه نسخه د الله سره محبت دے چې د انسان د الله سره مینه او محبت وی د الله په محبت سره انسان ته عبادت اسان شی په محبت سره انسان ته مشکل نه مشکل کار اسان شی او کله چې د یو څیز سره محبت نه وی نو بیا اسان کار انسان ته مشکل شی نن چې مونږه د الله په نافرمانۍ کښې اخته شوی یو وجه دا ده چې د الله محبت نشته محبت غیر اختیاری څیز دے خو د دې د پیدا کیدو د پاره څۀ اسباب دی که هغه اختیار کړے شی نو د انسان د خپل رب سره مینه پیدا کیږی . دغه پنځه اسباب دی یو په دې کښې کثرت ذکر دے دویم څیز د الله بے شماره نعمتونه دی چې د هغے احساس او سوچ فکر پیدا شی او دریم سبب د نیك خلقو سره ناسته ده که یو انسان د دین دارو خلقو سره کینی نو د دین او آخرت محبت به د دې انسان په زړۀ کښې پیدا کیږی دا بنیادی کردار لری د انسان په دینداره کیدو کښې او دا د الله د محبت یوه ذریعه ده. او دا د صحابه کرامو رضی اللہ عنہم عادت هم وو چې هغوی به کله د یو

بل سره ملاؤ شو نو دا خبره به ئے کوله ﴿اجلسوا بنا نزدد إيمانا﴾ لږساعت کینئ چې زمونږه ایمان لږ زیات شی .

څلورم سبب د الله اطاعت عبادت په پابندۍ سره کول په دې سره هم د انسان محبت د الله سره پیدا کیږی که د الله اطاعت انسان په مینے سره کوی او په ښۀ زړۀ سره د الله حکم منی په ښۀ شان الله ته اودریږی د هغۀ نه غواړی عاجزی فریاد دعا ورنه غواړی عبادت لږ کول خو همیشه او ښۀ حالت سره کول دا کمال دے دا انسان الله ته ښۀ نزدے کوی لږ عبادت هیمشه او په دوام سره کول دې سره د الله محبت انسان ته حاصلیږی حدیث کښې راځی:

﴿اَحَبُّ الْاَعْمَالِ اِلَی اللّٰهِ اَدْوَمُهَا وَاِنْ قَلَّ﴾

الله ته خوښ عمل همیشه عمل دے اګر که هغه لږ شان ولے نۀ وی. همیشه دوه رکعة عبادت کول الله ته ډیر خوښ دی د هغه عبادت نه چه شل رکعته اوکړی خو یوه ورځ ئے انسان اوکړی ځکه لږ عبادت خو چې همیشه وی په دې کښې الله ته هره ورځ انسان د خپلې عاجزے اظهار کوی او په عبادت دا دوام کول هم یو مشکل کار دے په اول اول کښې د انسان نفس دې ته نه تیاریږی خو چې کله اموخته شی عادت واخلی نو بیا دا اداء کول ډیر اسان شی ځوك چې د مونځ عادتی نۀ وی هغه انسان ته پنځه منټه مونځ کول ګران کار ښکاری خو ځوك چې د مونځ سره عادت وی هغوی ته هم دغه مونځ پریخودل ګران کار او مشکل کار شی.

## د الله د محبت سوال کول:

آخری څیز د الله د محبت د پاره هغه دا دے چې د الله نه د الله محبت غوښتل چې الله ستا مینه او محبت زما په زړۀ او دماغو کښې کیږدے کله چې انسان دا دعا د الله نه کوی نو دغه د الله مینه او محبت د انسان په زړۀ کښې کینی او داسے دعاګانے د الله پیغمبر ﷺ هم

غوښتلے دی کله دا دعا غواړی:

﴿اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ حُبَّكَ وَحُبَّ مَنْ يُحِبُّكَ وَحُبَّ عَمَلٍ يُّقَرِّبُنِیْ اِلٰی حُبِّكَ﴾

الله زۀ ستا نه ستا محبت غواړم او د هغه چا محبت غواړم چې ستا سره محبت کوی په دې کښې د نیکانو خلقو محبت طرف ته اشاره ده او زۀ ستا نه د هغه عمل محبت غواړم چې ما ستا محبت ته نزدے کړی کله دا دعا غواړی:

﴿اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ حُبَّكَ اَحَبَّ الْاَشْيَآءِ اِلَیَّ﴾

اے الله د تمام اشیاؤ نه زیات زما محبت ستا د ذات سره اوګرځوے د مال نه د ښځے او بچو نه زیاته زما مینه او محبت ستا سره اوګرځوے د ښځے بچو سره محبت یو فطری څیز دے په نسبت د الله د محبت چې هغه به انسان په خپل ځان غالبه کوی او دا به څنګه غالبه کیږی دا به په هغه صورت کښې غالبه کیږی چې یو طرف ته ښځه بچے یوه مطالبه کوی بل طرف ته الله رب العزت بله مطالبه کوی نو دا انسان د الله مطالبه پوره کړی او د ښځے او بچو مطالبے ته نظر نۀ کوی په دې طریقه به د الله محبت دا انسان په خپل ځان غالبه کوی خبره دا وه چې پنځم سبب د الله نه د الله محبت غوښتل په یو بل حدیث کښې بله دعا راغلے ده:

﴿اللّٰهُمَّ اجْعَلْ حُبَّكَ أَحَبَّ إِلَيَّ مِنْ نَفْسِیْ وَأَهْلِیْ وَمِنَ الْمَاءِ الْبَارِدِ﴾

الله ستا دا محبت راته د مال اهل وعیال او یخو اوبو نه زیات خوښ او محبوب اوګرځوے نو دا هغه یو څو سببونه دی چې په دې سره د انسان محبت او مینه د الله سره زیاتیږی څومره چې محبت د الله سره ډیر وی نو د الله حکم باندے عمل کول به انسان ته اسان وی.

والحمد لله رب العالمین.

# دنیا کښې د اعمالو سزا او جزا

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ اجْتَرَحُوا السَّيِّئَاتِ اَنْ نَّجْعَلَهُمْ كَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَوَآءً مَحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ﴾(الجاثيه:۲۱)

﴿وَقَالَ تَعَالٰى ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ اَيْدِی النَّاسِ﴾

(سورۃالروم:۴۱)

﴿وَقَالَ تَعَالٰى :وَمَا اَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيْبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ اَيْدِيْكُمْ وَيَعْفُوْعَنْ كَثِيْرٍ﴾

(سورۃالشوریٰ:۳۰)

﴿وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ : كُلُّ اُمَّتِیْ مُعَافًا اِلَّا الْمُجَاهِرِيْنَ﴾(رواہ البخاری)

## نیکه او بده بدله:

په دې دنیا کښې الله انسان دځۀ مقصد د پاره پیدا کړے دے که د انسان دا خیال وی چې زما وجود او پیدائش فضول او عبث دے نو دا باطل او بےبنیاده سوچ دے او د دغه مقصد د پوره کولو د پاره د انسان په ذمه الله څۀ اعمال او ذمه داریانے مقرر کړی دی که انسان نیك او ښه عمل کوی نو نیکه بدله ورته ورکوی او که بدعمل کوی نو سزا ورته ورکوی که نیك عمله، دینداره ته د هغه د نیك عمل بدله ورنکړی او بد عمله، ګناهګار ته د هغه د بدعمل بده بدله ورنکړی نو دا بے انصافی ده په سورت جاثیه:۲۱ کښې الله دا مضمون بیان کړے دے:

﴿اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ اجْتَرَحُوا السَّيِّئَاتِ اَنْ نَّجْعَلَهُمْ كَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ﴾ [سورۃالجاثیہ:۲۱]

کوم خلق چې د الله نافرمانی کوی د دوی څۀ خیال دے چې دوی او هغه خلق چې خپل ایمان ئے برابر کړے دے دا به ټول برابر وی.

﴿سَوَآءً مَّحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ﴾

دا نۀ شی کیدے چې د دوی مرګ او ژوند به یو برابر وی.

دا غلطه نظریه او فاسد سوچ دے

﴿سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ﴾ دا خو ډیر ه د بے انصافۍ فیصله ده.

## په دنیا کښې د نیک او بد عمل اثرات:

په دنیا کښې او آخرت دواړو کښې د الله دا قانون دے چې انسان ته د نیکو او بدو عملونو سزا او جزا ورکوی لکه څنګه چې آخرت کښې د نیکۍ او بدۍ بدله نیکه او بده شته دے دغه شان د دې اثر الله په دنیا کښې هم ظاهر وی کله چې یو جاهله انسان څۀ ظلم کوی نو دا خبره کوی چې د آخرت خبرے به آخرت کښې ګورو هلته به ورسره راځکو دا ډیره غلطه خبره ده یو په دې سره د انسان په زړۀ کښې قساوت او په ګناه باندے ډاډه کیدل پیدا کیږی او دویم دا چې کله الله انسان ته د ګناه نقصان او تکلیف په دنیا کښې هم ورکوی د آخرت سزا او بدله کامله او پوره ده ،دغه د نیکۍ ښه بدله چې څنګه انسان ته په آخرت کښې ملاویږی نو دغه شان د نیکۍ بدله په څۀ نه څۀ شان کښې الله انسان ته په دنیا کښې هم ورکوی د دې اثر په ذاتی او اجتماعی ژوند کښې انسان ته ملاویږی لکه قرآن کښې الله د بنی اسرائیلو متعلق فرمائی:

﴿ وَلَوْ اَنَّهُمْ اَقَامُوا التَّوْرَاةَ وَالْاِنْجِيْلَ لَاَكَلُوْا مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ اَرْجُلِهِمْ﴾

[سورة المائدة:٦٦]

که چرته دې خلقو په تورات باندې صحیح عمل کړے وے نو د پاسه نه به دوی خوراك کړے وے مطلب د اسمانونو نه به وربا‌ندې الله

باران کړے وے او د لاندې طرف نه به ورته الله د زمکے نه رزق راؤباسلے وے. دغه شان د بدعمل په باره کښې علماء وائی چې د دې اثر په انسان باندې تر اوؤ پښتو پورې وی.

## مخکښې قومونه او عذابونه:

په قرآن کښې الله د مخکښې امتونو ډیر زیات واقعات بیان کړی دی چې کومو قومونو د الله نافرمانی او بغاوت کړے دے نو الله ورته په دنیا کښې سزا ګانے او عذابونه ورکړی دی د شروع نه واخله لکه انسان سوچ اوکړی ابلیس الله په کومه ګناه د اسمان نه زمکے ته راکوز کړے وو او په کومه خبره الله وربانډې لعنت کړے وو نو سبب ئے ګناه، د الله نافرمانی وه که د نوح علیه السلام قوم واله الله د سیلاب په چپو باندے هلاك کړل نو سبب ئے د الله نافرمانی وه. که قوم عاد الله په هوا او طوفان باندے یو یو تباه کړے وو نو وجه ئے د الله د حکم مخالفت کول وو، که د صالح علیه السلام قوم باندے الله د هیبت واله آواز او چغه وهلے وه نو سبب ئے د الله حکم ماتول وو .قوم د لوط علیه السلام که الله په مخ د زمکے باندې اُلټه کړے وو نو سبب ئے دا وو چې د الله د فطری قانون نه هغوی انحراف کړے وو او د شعیب علیه السلام قوم په دې وجه الله د وریځے نه د اُور په باران باندې هلاك کړے وو او که بنی اسرائیلو د الله قسم قسم نافرمانۍ کړے وے نو الله وربانډې قسم قسم عذابونه مسلط کړی وو کله د دشمن غلبه، کله ظالم بادشاهان، کله ذلت، کله په صحرا کښې ژوند تیرول ،کله په خوراك کښې خباثتونه او ګنده ګنده حشرات پیدا کیدل او دغه ذلتونه، عذابونه وربانډې نن زمانے پورے په څۀ نه څۀ صورت کښې شته دے نو دا د الله زوړ قانون او طریقه ده چې ظالم او نافرمانه انسان ته په دنیا کښې هم الله عذاب ورکوی په آخرت کښې به یقینی او پوره سزا وی خو په دنیا کښې هم اثر لری.

## د خپل ځان سره ظلم:

سره د دې نه چې الله په خپل بنده باندې ډير زيات مهربانه دے دا هم د الله مهرباني ده چې انسان ته په دنيا کښې سزا ورکړی حديث کښې راځی نبیﷺ فرمائی: چې الله په خپل بنده د اويا مياندو نه زيات مهربانه دے او قرآن کښې الله د دغه سزا يافته خلقو باره کښې فرمائی:

﴿وَمَا ظَلَمُوْنَا وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ﴾ (سورة البقرة:۵۸)

دغه هلاك شوی خلقو مونږه ته څۀ نقصان رانه کړو ليکن هغوی په خپل ځانونو باندې په خپله ظلم کولو.

## د انسان بد عمل او عذاب الهی:

قبرص علاقه چې کله د صحابه کرامو رضی الله عنهم په لاس باندې الله فتح کړه نو ابودردا رضی الله عنه ژړل چا ورته اووئيل چې ته خو عجيبه سړے ئے نن د خوشحالئ ورځ ده اوتۀ ژاړې، ابو درداء رضی الله عنه ورته وائی چې دا د الله قانون دے چې څوك د الله نافرمانی کوی نو الله ورباندې عذاب راولی او دغه قوم تباه وبرباد کړی نن که دغه قوم تباه کيږی د دوی نه اقتدار حکومت او سلطنت روان دے نو وجه دا ده چې دغه قوم د الله نافرمانه وو خو زه په دې خفه يمه چې هسې نه الله دغه عذاب مونږه ته رانۀ کړی په مونږه باندې دشمن مسلط نه کړی د دې خبرې مطلب دا دے چې د ګناه د وجے نه الله قومونه تباه کوی يو حديث کښې راځی: ﴿اِنَّ الرَّجُلَ يُحْرَمُ الرِّزْقَ لِذَنْبٍ يُّصِيْبُهٗ﴾ انسان د رزق نه محرومه کيږی د ګناه او د الله د نافرمانئ د وجے نه کله چې د الله نافرمانی او ګناه شروع کړی نو الله ورباندې بيا نعمت نۀ کوی د رزق تنګی ورباندې راولی ځکه الله قرآن کښې فرمائی:

﴿ظَهَرَ الْفَسَادُ فِى الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ اَيْدِى النَّاسِ﴾

په زمکه په اُوچه او دریاب کښې فساد د دې خلقو د عملونو د وجے نه ښکاره شوے دے او قرآن کښې الله فرمائی:

﴿وَمَا اَصَابَکُمْ مِنْ مُصِیْبَةٍ فَبِمَا کَسَبَتْ اَیْدِیْکُمْ﴾

دا تاسو ته چې کوم مصیبت در رسی نو دا ستاسو د لاسونو د عمل انجام او نتیجه ده دا نن چې د مسلمانانو کوم حالت دے مختلف قسم عذابونه سزاګانې د خپلو او د دشمن د طرف نه ورباندې مسلط شوی دی نو وجه دا ده چې مونږه د الله نافرمانه یو. کله سیلاب وی کله زلزله وی کله ظالم حکمران د لاسهٔ، وجه دا ده چې د الله حکم منل نشته د الله خلاف او بغاوت دے یو هغه ګناه ده چې انسان هغه انفرادی کوی او که تمام قوم وطن په ګناه کښې مبتلا وی نو دا ګناه بیا الله نه معاف کوی او په ښکاره په فخر سره برسر عام دا ګناهونه کیږی حدیث کښې راځی نبی ﷺ فرمائی : ﴿کُلُّ اُمَّتِیْ مُعَافًا اِلَّا الْمُجَاهِرِیْنَ﴾

زما ټول امت الله معاف کوی مګر په ښکاره ګناه کونکی الله نه معاف کوی. ځکه دا ګناه الله نه برداشت کوی دهٔ باندې د الله رحم نه راځی دهٔ ته سزا ورکوی .

## په ښکاره علی الاعلان ګناه کول:

او دا مجاهر ښکاره ګناه کونکے یو هغه انسان دے چې د شپے ګناه کوی الله ورباندې پرده اچولی وی نو چې کله سحر شی دا بد بخته انسان د الله پرده د خپل ځان نه لرے کړی او بیا دا خبره کوی چې د شپے ما داسے کړی دی نو دا انسان الله نه معاف کوی چې هغه د ګناه بیان علی الاعلان کوی او یو ګناه کول دی چې انسان ګناه په ښکاره باندې د خلقو په مخکښے برسرعام کوی نو دا د دې مخکښې نه هم ډیر لوے جرم دے او نن ټوله دنیا په دې کښې اخته ده فحاشی او عریانی کوم حد ته رسیدلے

ده، زنا علی الاعلان په دې ملکونو کښې شروع ده د سود حالت دا دے چې هر انسان تقریبا په سود کښې مبتلا دے بلکه اجتماعی په دې ملك کښې بینکی نظام د سود دے حدیث کښې راځی چې پنځه څیزونه دی دا چې کله په یو قوم کښې پیدا شی نو الله وربانديې عذاب او خپل قهر نازلوی یو دا چې بے حیائی عامه شی نو د هغے نتیجه دا وی چې وباگانے، لاعلاجه مرضونه وربانديې الله مسلط کوی، داسے مرضونه الله پیدا کړی چې د هغے په باره کښې د دوی مشرانو سوچ قدرے هم نه وی کړے. دویم دا چې کله په یو قوم کښې په ناپ تول کښې کمے شروع شی، په معاملاتو کښې دهوکه شروع شی نو انجام دا وی چې الله وربانديې ظالم حکمران مسلط کړی لکه نن چې څنګه دی په هر څیز کښې دهوکه او فریب دے تر دې پورې چې په خوراك څکاك کښې اول نمبر څیز نه ملاویږی. په علاج کښې اصلی څیز نشته په ځائے د صحت انسان کښې نور مرضونه پیدا کوی څکه دې قوم ته الله سزا ورکوی. دریم د زکوة د نهٔ ورکولو سزا دا وی چې الله په دغه قومونو بانديې باران نهٔ کوی د ضرورت په وخت کښې باران نهٔ کیږی په دوی بانديې به قحطونه، د رزق کم والے راځی خو که دا څناور نهٔ وے نو الله به داسے کړے وے.

څلورم کله چې یو قوم د الله د حکم خلاف ورزی شروع کړی نو الله وربانديې دشمن مسلط کړی او د دوی په خپل مینځ کښې اختلاف پیدا شی او نن هم دشمن یهود نصارا په مونږه بانديې مسلط دی. پنځم دا چې د انسان بغاوت او نافرمانی د حد نه تجاوز اوکړی نو الله د دغه قوم نه انتقام او بدله بیا اخلی دغه قوم او انسان الله نه معاف کوی دا انتقام کله په دې شکل وی چې د دې قوم بچی زیات مړهٔ کیږی ښځے به شنډے شی او کله چې تمامه فضا کښې ګناهونه پیدا شی نو بیا الله نیك او بد په دې کښې نه ګوری ټول الله په عذاب بانديې اخته کوی.

## د زلزلې اسباب:

ام المومنين عائشه رضي الله عنها په يوه موقع د نبي كريم ﷺ نه تپوس كوى اے د الله پيغمبره! دا زلزلے ولے راځى، د دې سبب څۀ دے نبي ﷺ ورته جواب وركوى كله چې يو قوم كښې زنا عام شي او دې ته جرم نه وئيلے كيږى او شراب څكلے كيږى او ګانے بجانے اوريدل شروع شي نو الله په دې خلقو باندې دا زمكه اوخوزوى نو دا زمكه په حركت كښې راشي د دې وجے نه زلزلے راځى. او د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دے چې يو څو خبرے دى كله چې په دې بندګانو كښې راشي نو الله وربانديې عذابونه راولى كله چې مال غنيمت د بيت المال واله سرمايه خپل مال او ګڼړلے شي او امانت اداء كول يو بوج وى او زكوة تاوان تصور كړے شي: ﴿ وَأَطَاعَ الرَّجُلُ زَوْجَتَهُ وَعَقَّ أُمَّهُ ﴾ كله چې انسان د ښځے تابعدار شي او د مور نافرمانه شي او د دوست تابعدار شي د پلار نافرمانه شي او په مسجدونو كښې په تيز آوازونو سره د دنيا خبرے كيږى او دين د دنيا د پاره زده كولے شي او د قوم مشران فاسقان وى ﴿وَأُكْرِمَ الرَّجُلُ مَخَافَةَ شَرِّهِ ﴾ د يو سړى عزت د دې د پاره كيږى چې د هغه د شر نه محفوظ شمه. او ګانے بجانے زياتيے شي ﴿ وَشُرِبَتِ الْخُمُورُ ﴾ شراب څكل شروع شي ﴿ وَلَعَنَ آخِرُ هَذِهِ الأُمَّةِ أَوَّلَهَا ﴾ د دې امت آخرى خلق په اول خلقو باندې لعنت وئيل شروع كړى په دغه وخت كښې د زلزلے انتظار كوئ او د دې چې خلقه به په زمكه ژوندى دننه كيږى او د دې چې د كاڼړو باران به په دې خلقو باندې كيږى او د الله عذابونه به داسے مسلسل شروع شي لكه يو تار چې او شليږى او د هغے نه غمى پرله پسے راغورزيږى نو دا عذابونه په دنيا كښې ځكه راځى چې دا ګناهونه كيږى او د دې حل دا دے چې امت اجتماعى طور الله ته متوجه شي د الله نه بخښنه او استغفارطلب كړى دا بغاوت او نافرمانى پريږدى.

## د حضرت یونس علیہ السلام قوم:

قرآن پاك كښې الله د يو قوم تذكره كړے ده چې هغه قوم د حضرت يونس علیہ السلام دے كله چې وربانديې الله عذاب راوستو نو يونس علیہ السلام ورنه بلے علاقے طرف ته هجرت اوكړو قوم واله حيران شو او په خپله بدعملۍ بانديې پښيمانه شو، يكدم الله ته متوجه شو او ټولو الله ته زارى، عاجزى فرياد شروع كړو نو الله عذاب لرے كړو په سورت يونس كښې الله د دغه قوم تذكره كوى:

﴿فَلَوْلَا كَانَتْ قَرْيَةٌ اٰمَنَتْ فَنَفَعَهَآ اِيْمَانُهَآ اِلَّا قَوْمَ يُوْنُسَ﴾ (يونس:۹۸)

الله فرمائى ماچرته داسې نه دى كړى چې نازل شوےعذاب روسته كړم مګر قوم د يونس علیہ السلام دے كله چې هغوى ايمان راوړو نو هغوى ته خپل ايمان فائده وركړه كله چې هغوى حقيقي ايمان قبول كړو او د اخلاص نه ډكه توبے ته متوجے شو نو ما ورته بخښنه اوكړه نو د دې نه دا معلومه شوه چې الله د قوم په اجتماعى توبے استغفار سره عذاب لرې كوى په دې موقع حديث كښې راځى دا دعا وئيل پكار ده :

﴿اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ الْعَافِيَةَ فِیْ دِيْنِیْ وَاَهْلِیْ وَمَالِیْ﴾.

والحمد لله رب العالمين

# د نبی ﷺ نصیحتونه

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿اُدْعُ اِلٰى سَبِيْلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ﴾(النحل:۱۲۵)

## د نبی ﷺ نصیحتونه:

نبی ﷺ مختلفو موقعو باندې خپل امت او صحابو رضی اللہ عنہم ته ډېر نصیحتونه کړی دی لکه په یو موقع نبی ﷺ معاذ رضی اللہ عنہ ته نصیحتونه کړی وو. معاذ رضی اللہ عنہ یو لوے صحابی دے نبی ﷺ ته ډېر محبوب وو او په ځوانۍ کښې ورته الله ښه علم او پوهه ورکړے وه په یو موقع ورته نبی ﷺ پخپله دا خبره کړې وه ﴿يَا مُعَاذُ اِنِّيْ اُحِبُّكَ﴾ اے معاذ رضی اللہ عنہ زۀ ستا سره مینه او محبت کومه. دا ډېر لوے فضیلت دے نبی ﷺ په خپل ژوند کښې یمن ته بطور قاضی معلم لیږلے وو کله چې نبی ﷺ یمن ته لیږلو نو دا صحابی وائی چې زما یوه خپه په سورلۍ وه او یوه لاندې وه نبی ﷺ زما د سورلۍ واګې نیولے وے او ماته ئے فرمائیل چې کیدے شی زما او ستا ملاقات بیا اونشی، معاذ رضی اللہ عنہ په دې خبره اوژړل بیا بیا ورته نبی ﷺ نصیحتونه کړی وو یوه خبره ئے ورته دا کړې وه چې ﴿بِمَا تَقْضِيْ يَا مُعَاذ﴾ اے معاذ رضی اللہ عنہ په څۀ باندې به تۀ فیصله کوے هغه ورته وائی د الله په کتاب باندې اے د الله پیغمبره. نبی ﷺ ورته فرمائی ﴿فَاِنْ لَّمْ تَجِدْهُ فِيْهِ﴾ که د الله په کتاب کښې دغه حکم پیدا نه کړے نو بیا به په څۀ باندې فیصله کوے نو هغه ورته وائی ﴿بِسُنَّةِ رَسُوْلِهٖ﴾ د الله د رسول ﷺ

په سنت باندې به فیصله کومه، نبیﷺ ورته اوفرمائیل که په هغے کښې تا او نهٔ مونده نو بیا به په څهٔ فیصله کوے هغه ورته وائی ﴿أَجْتَهِدُ بِرَأْيِي﴾ زهٔ به پخپله باندې اجتهاد کومه او دغه مسئلے د حکم معلومولو کوشش به کومه نو نبیﷺ خوشحاله شو او دا خبره ئے اوکړه، ﴿ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ وَفَّقَ رَسُوْلَ رَسُوْلِهٖ﴾ ټول ښه صفتونه الله لره دی چې د خپل رسول استاذی ته ئے حق ته د رسیدلو توفیق ورکړو.

## د لسو خبرو وصیت:

او په یو موقع دې صحابی ته نبیﷺ د لسو خبرو وصیت کړے وو دا وائی : ﴿أَوْصَانِیْ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ بِعَشْرِ كَلِمَاتٍ﴾

ما ته نبیﷺ د لسو خبرو په باره کښې وصیت کړے وو چې ته به د دې خبرو پابندی کوے او دا صرف هغه ته نهٔ بلکه هر امتی ته د هغه په واسطه باندې دا خطاب دے یو دا خبره وه چې:

﴿لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ شَيْئًا وَإِنْ قُتِلْتَ أَوْ حُرِّقْتَ﴾

اے معاذ! د الله سره شرك مه کوه اګر که تهٔ قتل کړے شې یا په اور باندې اوسیزلے شې نو بیا هم د الله سره شرك مه کوه ځکه دا یو داسې جرم دے چې ناقابل معافی جرم دے ځکه د تمامو انبیائے کرامو علیهم السلام اول دعوت دا وو چې خلقه د الله توحید ته راوبلی او دا دومره لوے جرم ځکه دے چې انسان الله پیدا کړے دے خوراك څکاك رزق ورته الله ورکوی د الله په زمکه باندې ګرځی نو دا څومره ناشکری ده چې د دغه الله په ځائے بل مخلوق ته سجده او عبادت اوکړے شی اګرچه د مرګ په وخت کښې صرف په خُلے باندې د دې کلمے د وئیلو رخصت شته دے خو غوره ، افضل او بهتر دا دی چې انسان دا کلمه او نهٔ وائی که مړ شی نو شهید به مړ کیږی او الله به ورته ډیر اجر او ثواب ورکوی.

## د مور پلار باره کښې وصیت:

دویم نصیحت دا وو چې: ﴿وَلَا تَعُقَّنَّ وَالِدَيْكَ﴾
د مور پلار نافرمانی مه کوه
﴿وَإِنْ أَمَرَكَ أَنْ تَخْرُجَ مِنْ أَهْلِكَ وَمَالِكَ﴾

اګر که هغوی تا ستا د اهل او مال نه اوباسی بیا هم د مور پلار نافرمانی مهٔ کوه، وجه دا ده چې دا ژوند او زندګی انسان ته الله ورکړے ده که ظاهری انسان نظر اوکړی نو د دې د پاره سبب ظاهری هغه د دهٔ مور او پلار دی چې د دې په ذریعه انسان دنیا کښې الله آباد کړے وی نو ځکه د دوی حق ډیر زیات دے او ښځه، بچې پریخودل د مور پلار په خبره باندې شته دے خو په دې صورت کښې چې انسان د دین یا د آخرت د خرابیدو خطره وی د ګناه کارونو ته ښځه خپل خاوند مجبوره کوی نو بیا د هغوی په خبره باندې پریخودلے شی، په یو حدیث کښې راځی یو صحابی د نبیﷺ نه تپوس کړے وو یا رسول اللهﷺ زه ښهٔ کول غواړم خو د چا سره ښهٔ اوکړمه نبیﷺ ورته فرمائی: اُمك د خپلے مور سره ښهٔ اوکړه او په دویم ځل ورته بیا نبیﷺ دا خبره کړے وه چې د مور سره ښه اوکړه دغه شان په دریم ځل او په څلورم ځل ورته هغهٔ پلار یاد کړے وو ځکه د پلار حق په نسبت د مور باندې کم وی مور د بچی سره ډیره قربانی ورکوی ځکه د الله د حکم نه بعد د مور او پلار اطاعت په انسان لازم دے.

## د فرض مونځ نه پریخودل:

دریم وصیت ورته دا کوی:
﴿وَلَا تَتْرُكَنَّ صَلَاةً مَكْتُوبَةً مُتَعَمِّدًا فَإِنَّ مَنْ تَرَكَ صَلَاةً مَكْتُوبَةً فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ ذِمَّةُ اللهِ﴾

فرض مونځ په هيڅ يو حالت کښې مهٔ پريږده ځکه څوك چې فرض مونځ پريږدی نو د دې انسان نه د الله ذمه بری کيږی. قصدًا عمدًا مونځ پريښودل دا دی چې انسان صحيح سلامت وی څهٔ عذر ورته نه وی او بيا هم د الله حق نهٔ ادا کوی مونځ نهٔ کوی يو خو انسان ته عذر وی لکه بے هوشه دے يا اودهٔ دے مونځ ورنه قضا شی او يو دا چې انسان په هر څهٔ باندې خبر وی او بيا هم مونځ نهٔ کوی نو دا خطرناکه خبره ده ، تر دې پورے چې که د جنګ په حالت کښې يو انسان وی نو بيا به هم فرض مونځ نه پريږدی خامخا به دغه مونځ ادا کوی.

که په ولاړه حالت کښې يو انسان مونځ نشی کوے نو د ناستے په حالت کښې دې ادا کړی که د ناستے په حالت کښې نشی کوے نو په اړخ باندې به مونځ ادا کوی او د مونځ د پريښودلو نقصان دا دے چې دغه انسان بيا د الله په حفاظت او پناه کښې نهٔ وی څوك چې مونځ پريږدی د الله د حفاظت مثال دا دے چې په دنيا کښې د انسان سره څلور واړو طرفونو نه فرشتے مقرر وی او د دهٔ حفاظت کوی او که دا د حفاظت فرشتے ورسره نهٔ وی نو که دا انسان په يوه ګناه باندې ورشی يا په څهٔ ګناه مصيبت کښې اخته شې نو دا د دې انسان خپل تاوان او نقصان دے . الله به د داسے کس څهٔ پرواه اوساتی چې دا انسان د هر طرف نه د هغه په نعمتونو کښې بند دے او دا پنځه مونځونه چې راجمع شی نو يوه ګنهته ورنه نه جوړيږی دا يوه ګنهته د الله عبادت دا انسان نشی کوے.

## شراب نه څکل:

خلورم وصيت ورته نبیﷺ دا کړے وو:

﴿وَلَا تَشْرِبَنَّ خَمْرًا فَإِنَّهُ رَأْسُ كُلِّ خَطِيئَةٍ﴾

شراب مه څکه ځکه شراب څکل د هرے ګناه او معصيت بنياد

دے. ځکه کله چې يو انسان شراب او څکې نو عقل کارنهٔ کوی چې د هغے په رنړا کښې ځان د ګناه نه بچ کړی بیا انسان هره ګناه کوی خپل ځان سره که څهٔ خیانت اوکړی او که د بل چاسره څهٔ خیانت او ګناه دا انسان اوکړی د دې احساس ورته نه کیږی زنا کوی، قتل کوی، غلا کوی، ظلم زیاتے کوی هر قسم ګناه ته به دا انسان لاس اچوی ځکه ورته په یو بل حدیث کښې ام الخبائث وئیلے شوی دی او دا مسئله ده چې څوك د دنیا شراب څکی دغه انسان به د آخرت د جنت د شرابو نه محرومه وی نو د آخرت هغه پاك صفا حلال شراب انسان د دنیا په دې ګنده مردار شرابو باندې ولے ضائع کوی یو عقلمند انسان دا کار نه کوی.

## ګناه نه کول:

پنځم وصیت ورته دا کړے وو:

﴿اِيَّاكَ وَالْمَعْصِيَّةَ فَاِنَّ الْمَعْصِيَةَ تَحُلُّ سَخَطَ اللهِ﴾

ځان د ګناه او معصیت نه لرې کوه ځکه په دې سره د الله غصه او قهر په انسان باندې نازلیږی په دې سره په انسان باندې د الله غضب او لعنت نازلیږی یو دا چې یو انسان حادثاتی ګناه اوکړی نو دا ګناه الله په توبے استغفار سره انسان ته معاف کوی او یو دا چې مسلسل ګناه کوی او دغه ګناه د دې انسان عادت جوړ شوے وی نو په دې سره په انسان باندې د الله غضب نازلیږی.

## میدان جنګ نه پریښودل:

شپږم نصیحت دا وو: ﴿وَاِيَّاكَ وَالْفِرَارَ مِنَ الزَّحْفِ﴾

په میدان جنګ کښې به انسان تیخته نه کوې میدان به نهٔ پریږدی اګرکه ټول ملګری مجاهدین شهیدان شی بیا په دې کښې څهٔ تفصیلات شته دے خو خلاصه دا چې کافران دوه وی او مسلمان یو وی نو په هیڅ قانون به دا مسلمان د میدان جنګ نه تیخته نه کوی که یو چل کوی یا عسکری

ضرورت دے یا جنګی حکمت عملی کوی بیا جائز دے

## وباګانې او نبوی تعلیم:

اووم نصیحت دا وو: ﴿وَإِذَا أَصَابَ النَّاسَ الْمَوْتُ وَأَنْتَ فِيهِمْ فَاثْبُتْ﴾

کله چې دې خلقو ته مرګ عام اورسیږی، وباګانې عامے شی نو د دغه ځائے نه مهٔ تختئه، یو بل حدیث کښې راځی چې د باهر نه به خلق دغه مقام ته نهٔ داخلیږی او د دغه ځائے مقیم خلق به د دغه ځائے نه باهر نهٔ اوځی په دې کښې یو حکمت دا هم دے چې د دغه ځائے د بیمار خلقو خدمت به دا نور خلق کوی دا یو قسم انسانی همدردی ده او په تقدیر باندې د ایمان راوړلو تعلیم دے په دې کښې چې انسان به په تقدیر باندې یقین او اعتماد کوی.

## په اهل وعیال خرچه کول:

اتم نصیحت ورته نبیﷺ دا کړے وو:

﴿وَأَنْفِقْ عَلَى عِيَالِكَ مِنْ طَوْلِكَ﴾

په دې خپلو بچو باندې د خپل وس مطابق خرچه کوه د خپل وس مطابق په هغوی مال لګول دا د سړی فریضه ده یو حدیث کښې راځی نبیﷺ فرمائی بهتره روپئ هغه ده چې یو انسان هغه په خپل بچی باندې خرچه کوی د هغوی په ضرورت باندې لګی یو عیاشی ده او فضول خرچی ده دا ګناه ده یو ضرورت دے لکه لباس مکان خوراك څکاك تعلیم وغیره نو په دې باندې مال لګول جائز دی نه به په دې کښې اسراف فضول خرچی وی او نه به ورکښے بخل وی حدیث کښې راځی:﴿اَلْاِقْتِصَادُ نِصْفُ الْمَعِيْشَةِ﴾ میانه روی عدل و انصاف په مال لګولو کښې دا نیم ژوند دے، رسم ورواج باندې فضول مال لګول ګناه ده مونږه خواهش ته د ضرورت درجه ورکړے ده ځکه زمونږه په مال دولت کښې خیر اوبرکت

نشته او د انسان خواهشات پوره کیدو واله نهٔ دی.

## د بچو تربیت:

نهمه خبره د اهل وعیال د تربیت متعلق ده هغه دا چې:

﴿وَلَا تَرْفَعْ عَنْهُمْ عَصَاكَ أَدَبًا﴾

د دې خپلو بچو نه همسا ،چوکه د ادب د پاره مهٔ پورته کوه مطلب دوی ته وهل ورکوه د تربیت د پاره د کور نظام برابر کول پکار دی د مشر په لاس کښې به د کور وړوکے او غټ ټول اختیارات وی دا نهٔ چې د بچې د پاره ورځ او شپه ګټل د مال کوی خو دا پرواه نه ساتی چې څنګه دا مال په کوم ځائے کښې خرچ کیږی په حلاله طریقه باندې او که په حرامه طریقه باندې د دے سره به د خپل بچو د تربیت او اخلاقو خیال ساتی هغه به دباؤ ساتی که څوك غلط كار كوې نو یره به ورسره وی چې مشر به د دې تپوس کوی .

## د الله نه یره:

لسمه خبره دا چې: ﴿وَأَخِفْهِمْ فِي اللَّهِ﴾

دوی د الله نه یروه خوف خدا ایمانداری د آخرت سوچ دا د تربیت د پاره جوهر دے او دا د اسلام امتیاز دے په یورپ کښې هر نظام موجود دے خو خوف خدا هلته نشته دا ذهن سازی نشته الله دې د عمل کولو توفیق رانصیب کړی.امین

# د وسوسې بيان (اول)

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْدُ !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهٖ نَفْسُهٗ وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيْدِ﴾ (سورة ق:١٦)

﴿وَقَالَ تَعَالٰى: مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ○ الَّذِيْ يُوَسْوِسُ فِيْ صُدُوْرِ النَّاسِ○ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ○﴾ (سورة الناس:٦)

﴿وقال رسول الله ﷺ: اِنَّ الشَّيْطَانَ يَجْرِيْ مِنَ الْاِنْسَانِ مَجْرَى الدَّمِ﴾ (رواه احمد)

## پوره مکمل دين:

د سورة (ق) او سورة الناس څۀ ايتونونه او د نبي ﷺ يو ارشاد مبارك تلاوت شو په دې کښې الله رب العزت د وسوسے متعلق بيان کوی په اصل کښے زمونږه دين اسلام يو مکمل قانون حيات دے يعنی د زندګئ د هر قسمه مسائلو بيان الله او د الله رسول ﷺ مونږه ته په پوره وضاحت سره کړے دے يو داسے مسئله نشته چې په دين اسلام کښې د هغے د پاره حل موجود نه وی د ژوند يوه شعبه داسے نشته چې قرآن او حديث کښې د هغے بيان او تعليمات نه وی د عمر په لحاظ سره يو نيم زر کاله مخکښے دين ښودلی دی. دينی تعليماتو باندې که نن ورځ هم يو انسان عمل کوی نو دا د عمل د پاره تروتازه دی په دې باندې عمل کولو کښې انسان ته څۀ مشکل مخے ته نه راځی بلکه په دې زمانه کښې په دين اسلام باندې عمل کونکے انسان به د خوشحالۍ او اطمينان واله ژوند تيروی څکه نبی ﷺ فرمائيلی وو:

﴿تَرَكْتُكُمْ عَلَى الْمِلَّةِ الْبَيْضَآءِ لَيْلُهَا كَنَهَارِهَا﴾

ما تاسو په يو داسې دين باندې پرېخودى ئے چې د هغے توره تياره شپه د رنړا چمك وهونكى او پړك وهونكى روښانه ورځ په شان ده. مطلب په دين كښې هميشه د زړهٔ اطمينان او د جسم راحت الله كيخودلے دے او دا عالمګير زنده هميشه ژوندے دين دے هر كله چې دين اسلام تر د قيامت ورځے پورے هميشه او دائمى دين وو نو الله د هرے مسئلے حل چې د قيامت پورے راتلے شى نو الله د دې حل په دين اسلام كښې كيخودلے دے.

په دغه مسائلو كښې يوه مسئله د وسوسے متعلق ده وسوسه څهٔ ته وائى د دې څهٔ احكامات دى آيا الله په دې باندې خپل بنده نيسى او كه نه نيسى، په دې باندې عمل كول لازمى ضرورى دے اوكه نه دے، د دې شرعى حيثيت څهٔ دے دا ټول مسائل قرآن او حديث په وضاحت سره او پوره بيان سره پيش كړى دى او دا چې كومه وسوسه او خيال كښې خير دے او كومه وسوسه او خيال د الله د پاره وى نو دا يوه مستقله موضوع ده زمونږه دين او شريعت كښې چې د خيالاتو وسوسو او وهمونو څهٔ حكم دے.

## مادى ترقى روحانى كمزورى:

د زمانے د ترقئ سره خومره چې ټكنالوجى، ميډيا، انټرنيټ ترقى كوى نو د دې سره كه يو طرف ته په فرد، معاشره، ملك كښې بې دينى پيدا كيږى خلقه د الله كتاب د ذكر د مسجد نه لرے شو نو بل طرف ته قسم قسم مسائل بدامنۍ بے اطمينانى او پريشانۍ پيدا شوے، په ژوند كښې اطمينان او قرار نشته جسمانى او روحانى بيماريانو كښې زيادت پيدا شو، په دغه روحانى بيماريانو كښې وسوسے، وهمونه، خيالات د وخت وخت

سره زيات شو تاسو ګورے د لوے عهدو واله خلق سرمايه دار دولتمند خلق د لوے جاګير او زمکو مالکان په قسم قسم وسوسو کښې اخته شوى دى د هغے وجه دا ده چې د مسجد ،قرآن او حديث نه دا خلق لرے شوى دى ځکه په دې پريشانے کښې مبتلاء شوى دى.

## اهم عنوان او ضرورى موضوع:

دا يوه اهمه موضوع او اهم عنوان دے چې وسوسه څۀ څيز دے د دې اسباب څۀ دى او د دې علاج څۀ دے، دا د دې وخت سره بيا نول ډير اهميت لرى ځکه نن صبا دور کښې اکثر خلق د دې ښکار شوى دى او څوك چې په دې مرض کښې مبتلا شوى وى هغه خلق د خپل ژوند نه ډير زيات تنګ راغلى دى تر دې پورے چې کله کله دغه خلقه خودکشۍ ته غاړه کيږدى د خپل ځان څۀ پرواه نه کوى او خپل ځان په خپلو لاسونو باندې تباه او هلاك کړى.

## د وسوسې تعريف:

وسوسه څۀ ته وائى د وسوسے تعريف څۀ دے نو وسوسه دې ته وائى چې انسان ته غلط خيالات او توهمات په ذهن کښې راځى کله د نيك عمل متعلق دغه خيالات وى کله د دين او عقيدے متعلق دغه وهمونه وى د عبادت، مونځ، اودس ،غسل متعلق انسان ته قسم قسم شکوك او شبهات راځى او د دې وسوسے په مقابله کښې نيك خيال، ښه تصور ، دې ته الهام وائى او دا د الله يو رحمت دے دا وسوسه او الهام هر انسان ته په ذهن او دماغو کښې راځى حديث کښې په هر انسان باندې يو شيطان او يوه فرشته مقرر شوى دى. فرشته ورته ښه، نيك سوچ او فکر په ذهن کښې اچوى او شيطان ورته وسوسے، غلط خيالات او شکونه شبهے په ذهن کښې اچوى، اول ته الهام وئيلے کيږى دويم ته وسوسه

وئیلے کیږی.

کله یو انسان وائی چې زما په زړهٔ کښې دا دواړه خبرے راځی د نیکئ او بدئ دواړو متعلق سوچونه راځی نو انسان به نیکئ ته غلبه ورکوی او بدئ او غلط سوچ به مغلوبه کوی هغے ته به ترجیح نه ورکوی او هغه به په عمل کښې نه راولی.

## د فرشتې او شیطان ملګرتیا:

حدیث کښې راځی نبیﷺ فرمائی: ﴿مَامِنْكُمْ مِنْ اَحَدٍ اِلَّاوَقَدْ وُكِّلَ عَلَيْهِ قَرِيْنُهٗ مِنَ الْجِنِّ وَمِنَ الْمَلِكِ﴾ هیڅ یو انسان نشته په دنیا کښې مګر الله په دغه انسان باندې د پیریانو نه یو شیطان او د فرشتو نه یوه فرشته مقرر کړے وی، صحابه کراموؓ تپوس اوکړو اے د الله پیغمبره ﴿وَاِيَّاكَ﴾ دا شیطان ستا سره هم شته دے نبیﷺ ورته جواب ورکړو ﴿وَاِيَّایَ﴾ زماسره هم دا شته دے زهٔ د دې نه محفوظ نه یمه لیکن دا خبر ده چې د الله خاص مدد زما سره شامل دے ﴿وَلٰكِنَّ اللهَ اَعَانَنِیْ عَلَيْهِ﴾ د ده په خلاف الله زما مدد ګار جوړ شوے دے نو ﴿فَاَسْلَمَ فَلَا يَاْمُرُنِیْ اِلَّابِخَيْرٍ﴾ زما دغه شیطان مسلمان شوے دے زما تابعدار شوے دے نو ما ته هغه د نیکو په باره کښې حکم کوی او د بدو په باره کښې ماته حکم نه کوی.

## بې اختیاره وسوسه:

په دې وسوسو او خیالاتو باندې الله انسان ته سزا ورکوی اوکه نه ورکوی نو د دې شرعی حیثیت دا دے چې بے اختیاره وسوسے او خیال باندې الله انسان نه نیسی دې امت ته الله دا معاف کړی دی انسان په دې باندې الله مکلف کړے نه دے بلکه دا مخکښې امتونو ته هم معاف وو، بخاری شریف کښې د ابوهریرهؓ نه روایت دے چې نبیﷺ فرمائی:

﴿إِنَّ اللهَ تَجَاوَزَ عَنْ أُمَّتِيْ مَا تُوَسْوِسُ بِهِ صُدُوْرُهَا﴾ الله زما امت ته وسوسے معاف کړی دی خو د دې د پاره دوه شرطونه دی هغه دا چې ﴿مَا لَمْ تَعْمَلْ بِهِ اَوْتَكَلَّمَ﴾ ترڅو پورے چې په دغه وسوسه عمل ئے نه وی کړے او یا په دغه غلطه خبره باندې دې انسان تلفظ او خبرے نه وی کړی او په یو حدیث کښې راځی چې د نبی ﷺ خوا ته څۀ صحابه رضی الله عنهم راغلل او دا شکایت ئے ورته اوکړو چې ﴿ إِنَّا نَجِدُ فِيْ أَنْفُسِنَا مَا يَتَعَاظَمُ أَحَدُنَا أَنْ يَتَكَلَّمَ بِهِ ﴾زمونږه په دې زړۀ کښې څۀ داسے قسمه خبرے راځي چې هغه مونږه په خُله باندې کولے نه شو نو نبی ﷺ ورته اووئیل ﴿اَوَ قَدْ وَجَدْتُّمُوْهُ ذَاكَ صَرِيْحُ الْإِيْمَانِ﴾ آیا تاسو دا خبرے موندلے دی نو دا یقینی صریح ایمان دے ځکه دا قسم وسوسے د کامل ایمان واله خاوند ته راځی ځوك چې د کمزورے ایمان خاوند وی هغه ته دا وسوسے نه راځی.

## د زړۀ مثال:

امام عزالی رحمة الله علیه په خپل کتاب احیاءالعلوم الدین کښې د دې وسوسو د پاره یو مثال وئیلے دے هغه وائی چې د انسان دا زړۀ د یو آباد کور په شان مثال لری چې هغه کور ته د هر طرف نه لاره راغلے وی نو دې کور ته د هر طرف نه انسان دننه راتلے شی. دغه مثال د انسان د زړۀ هم دے چې دې ته د هر طرف نه لاره راغلے ده مختلف قسم خبرے، وسوسے هر قسم خیالات ورته د هر طرف نه راتلے شی کله به ښه نیك خیالات راځی او کله به بد خیالات راځی او یا د زړۀ مثال د هدف نشانے په شان دے چې هر قسمه ګوزار او تیر په هغے باندې لګیدے شی او یا د زړۀ مثال د ائینه، شیشے په شان دے چې هر انسان پکښے خپل مخ او خپل ځان ګوری نو زړه ته هم هر قسمه خبرے به خامخا راځی هیڅ یو انسان د دې نه بچ کیدے نشی .

## الهام او وسوسه کښې فرق:

دې زړهٔ ته دوه قسمه خيالات راځی يو د نيك كار متعلق چې هغې ته الهام وائی او يو د بد كار په باره کښې چې هغې ته وسوسه وائی او دې شيطان ته الله اختيار ورکړے دے د وسوسے د پاره که دا اختيار الله نه وے ورکړے نو بيا د انسان امتحان او ابتلاء ممکنه نه وه ځکه دا ټول خلق به نيك عمله او ديندراه وے څوك به بد عمله ورکښے نه وے دا شيطان الله په انسان باندې د امتحان کولو د پاره مسلط کړے دے حديث کښې راځی ﴿اِنَّ الشَّيْطَانَ يَجْرِىْ مِنَ الْاِنْسَانِ مَجْرَى الدَّمِ﴾ دا شيطان د انسان په رګونو کښې د وينے په ځائے کښې ګرځی راګرځی دا تصرف الله شيطان ته ورکړے دے خو دا وسوسه شيطان په هغه وخت کښې وراچوی کله چې يو انسان د الله د دين او اسلام نه لرے وی که د يو انسان د الله د دين سره تعلق وی نو دغه انسان په آسانه طريقه شيطان نشی ګمراه کولے دغه انسان بے لارے کول ورته ګران شی.

## خطرناکې وسوسې:

حديث کښې راځی يو صحابی دَ نبیﷺ خوا ته راغے ورته وائی ﴿يَا رَسُوْلَ اللهﷺ اِنِّیْ اُحَدِّثُ نَفْسِیْ بِالشَّیْئِ﴾ زه د خپل ځان سره څهٔ قسمه خبرے کومه او دا دومره بدې خبرے دی ﴿لَئِنْ اَكُوْنَ حُمَمَةً اَحَبُّ اِلَیَّ مِنْ اَنْ اَتَكَلَّمَ بِهٖ﴾ که زهٔ خاورے ايرے شمه نو دغه ماته ډير خوښ او محبوب دی د دې نه چې زه په دې باندې خبرے اوکړمه او دا خبرے په خپله خُله راولمه ځکه دا خطرناکے خبرے دی د ګناه او د الله د نافرمانے خبرے دی زما زړهٔ نه غواړی چې زه په دې باندې خبرے اوکړمه نبیﷺ چې دا خبره واوريده نو دا خبره نبیﷺ اوکړه ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ رَدَّ اَمْرَهٗ اِلَی الْوَسْوَسَةِ﴾ حمدونه، شکرونه الله لره دی چې دا خبره يقين درجے ته اوچته نه شوه بلکه دا بحيثيت وسوسه پاتے شوه.

## اختیاری او اضطراری وسوسه:

وسوسه دوه قسمه ده یوه دا چې انسان ته بے اختیاره د دین د عقیدے یا د عمل متعلق راشی او ختمه شی نو دا وسوسه الله انسان ته معاف کوی او دې ته اضطراری وسوسه وائی لکه مخکښے د دې باره کښې حدیث ذکر شو چې نبی ﷺ فرمائی الله زما امت ته وسوسه معاف کړے ده تر څو پورے چې ورباندے خبرے یا عمل نه وی شوے نو تر دې پورے ورباندے الله یو بنده نه نیسی، دویمه وسوسه اختیاری وه د هغے یو صورت دا دے چې دغه مخکښے قسم وسوسے ته دا انسان توجه اوکړی تر دې پورے چې دا د یقین درجے ته اورسوی، بل دا چې دا انسان په خپله په خپل اختیار خپل ځان ته غلط سوچونه او فکرونه را مخکښے کړی نو دا وسوسه په دې باندې الله انسان نیسی او ګناهګار کیږی .

## د نفس او د شیطان وسوسه:

دا وسوسے انسان ته د دوؤ طرفونو نه راځی یو د انسان د خپل نفس د طرف نه او بل د شیطان د طرف نه انسان ته وسوسه راځی قرآن کښې الله د ادم علیہ السلام او هوا بی بی په باره کښې فرمائی:

﴿فَوَسْوَسَ لَهُمَا الشَّيْطَانُ﴾ (سورة الاعراف:۱۹)

دې دواړو ته شیطان وسوسه واچوله، نو دا شیطانی وسوسه ده او د نفس په باره کښې سورت (ق) کښې الله ذکر کوی:

﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهِ نَفْسُهُ﴾

الله فرمائی مونږه انسان پیدا کړے دے او مونږه ته دا معلومات شته دے چې دې انسان ته د دهٔ نفس کومه وسوسه او غلط سوچ په ذهن کښې راولی نو الله وائی د دې نه د بچ کیدو لار څهٔ ده هغه دا چې انسان به په ما سره پناه غواړی ځکه ﴿وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيدِ﴾ دې

انسان ته زۀ ډیر زیات نزدې یمه نو د شیطان او د خپل نفس نه د بچ کیدو د پاره به دا انسان په ما سره پناه غواړی زه به ورته پناه ورکومه او د دې دواړو تذکره الله په آخری سورت **سورة الناس** کښې کړے ده:

﴿اَلَّذِیۡ یُوَسۡوِسُ فِیۡ صُدُوۡرِ النَّاسِ مِنَ الۡجِنَّةِ وَالنَّاسِ﴾ (الناس:٥، ٦)

کله دا وسوسه د پیری، شیطان د طرف نه وی او کله د انسان د طرف نه وی.

## د عبدالقادر جیلانی رحمۃ اللہ علیہ واقعه:

حضرت شیخ عبد القادر جیلانی رحمۃ اللہ علیہ وائی یوځل زۀ د شپے په جائے نماز باندې ناست وومه ما عبادت کولو نو یو دم یو سپین تخت د اسمان په طرف کښې ښکاره شو د هغے نه ماته آواز اوشو چې عبد القادر ته نور عبادت مه کوه دا یو لوے عالم هم دے وائی ماته د قرآن دا ایت مخے ته شو چې الله خپل پیغمبر ته وائی ﴿وَاعۡبُدۡ رَبَّكَ حَتّٰی یَاۡتِیَكَ الۡیَقِیۡنُ﴾ د خپل رب عبادت کوه تر دې پورې چې تا ته مرګ راشی نو پیغمبر چې د الله عبادت تر مرګ پورے کوی نو زۀ به ولے نۀ کومه ما ورته اووئیل چې تۀ شیطان ئے زۀ دې پیژنمه، بیا ئے راته اووئیل چې علم رانه بچ کړے ما ورته اووئیل چې د الله په فضل درنه بچ شوم په علم نه یمه بچ شوے دا د شیطان د ګمراه کولو طریقے دی. والحمد لله رب العالمین.

# د وسوسو بیان(دوم)

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَکَفٰی وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِیَآءِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِیَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۔

﴿اَلَّذِیْ یُوَسْوِسُ فِیْ صُدُوْرِ النَّاسِ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ﴾ (الناس)

﴿وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ: اِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰی تَجَاوَزَ عَنْ اُمَّتِیْ مَا یُوَسْوِسُ بِهٖ صَدْرُهَا مَالَمْ تَعْمَلْ بِهٖ اَوْ تَتَکَلَّمْ بِهٖ﴾ (رواه ابن ماجة)

## غیر شعوری وسوسې:

انسان ته غیر شعوری طور په دنیا کښې مختلف قسم وسوسے د شیطان د طرف نه راځی دا د انسان د ژوند سره تړلے شوی خبری دی مخکښې دا خبره بیان شوے وه چې وسوسه څۀ ته وائی او د وسوسے د راتلو لارے څۀ دی په کومه طریقه انسان په وسوسه کښې مبتلا کیږی او نن په دې مجلس کښې د وسوسو احکام ،اقسام او علاج لږ شان په وضاحت سره بیانوؤ.

## پنځه قسمه وسوسې:

امام ابن القیم رحمه الله وائی چې انسان ته په پنځو غټو موقعو باندې وسوسے راځی یو د اودس په موقع باندې کله چې انسان اودس یا غسل کوی نو وسوسے ورته د شیطان د طرف نه ډیرے راځی، دویمه د مونځ موقع ده ، په دې موقع باندې انسان ته ډیرے وسوسے راځی، دریمه موقع طلاق دے، څلورمه موقع ایمان او د خپل دین په باره کښې وسوسه راتلل دی، پینځمه موقع د قتل متعلق چې انسان خپل ځان یا بل څوک قتل کړی دا پنځه هغه غټے موقعے دی چې دې کښې شیطان انسان په اسانے سره ګمراه کولے شی حدیث کښې راځی چې اودس او د مونځ د پاره جدا جدا

شیطانان مقرر شوی دی کوم شیطان چې دَ اودس په موقع انسان ته وسوسه وراچوی چې یره اودس به مے شوے وی او که نا، دا یا دا اندام خو به وچ نه وی پاتې شوے ، یو یو اندام د درے په ځائے کله لس او شل ځله وینځی، د دې اودس واله شیطان نوم ولهان دے .

د دویم شیطان نوم چې هغه انسان په مانځه کښې غلطوی چا ته په نیت کښې وسوسه اچوی چا ته په رکعتونو کښ، څو رکعته ما اداء کړی دی ،چا ته د ذکر اذکارو په باره کښې د دې شیطان نوم خنذب دے.

دریم شیطان چې د طلاق په باره کښے انسان ته وسوسه وراچوی چې یره په دې خبره خو به طلاق نه کیږی زما په زړه کښې دا خبره تیره شوه په دې سره به خو په ما باندې ښځه طلاقه شوی نه وی.

څلورم دَ ایمان،دین،آخرت،رسول جنت متعلق انسان ته وسوسه راځی شیطان دا کوشش کوی چې مسلمان په شك کښې واچوی دا دنیا چا پیدا کړې ده بیا تر دې پورې لاړشی چې آخر دغه د الله ذات به هم چا پیدا کړے وی نو په دې موقع هم انسان ته ډیرے وسوسے راځی.

پنځم قتل دے شیطان یا نفس انسان ته دا وسوسه وراچوی یره زۀ تنګ یمه خودکشی کومه ځان مړ کومه د دې ژوند نه راته نه ژوند ښه وو دا پنځمه موقع ده چې شیطان په دې موقعو کښې انسان په وهم او وسوسه کښې مبتلاء کوی او بیا قسم قسم واقعات د دې نه بعد مخے ته راځی.

## دَ یو عالم د وسوسې حالت:

اشرف علی تهانوی رحمۃ اللہ علیہ وائي یو عالم دین وو هغه ته دا وهم او وسوسه لګیدلے وه چې زما دا سر نشته نو د دغه وخت یو بل عالم مولانا یعقوب چا خبر کړو هغه ئے راوبلو چې څۀ چل دے، دے ورته وائی ما پورے سر نشته نو خپله څپلے ئے راویسته او د هغه سر ئے ورباندې وهل

شروع کړل کله چې خوړ شو نو ورته وائی چې سر دې راله خوړ کړو مولانا یعقوب صاحب ورته اوئیل ستا سر خو نشته نو څنګه خوړ شو داسے وهمونه انسان ته لږی کله دا وهم انسان ته د کپړو حوالے سره وی بار بار خپلے کپړے وینځی کله دا وهم انسان ته د لاس حوالے سره وی که لاس ګنده شی نو دغه انسان بار بار خپل لاس وینځی یو بل عالم لیکی چې یو بنده ته دا وسوسه لګیدلے وه چې په خوب سره د انسان لاس نجس کیږی، پلیت کیږی نو دغه عالم ورته وئیل د دې علاج دا دے چې ته بار بار دا خبره کوه چې ((سونے سے ہاتھ پلیت نہیں ہوتا)) کله چې به ورته دې سړی دا خبره اوکړه نو هغه ورته وئیل چې دا علاج دے دا خبره کوه چې ((سونے سے ہاتھ نجس نہیں ہوتا)) نو د هرے وسوسے یو خپل علاج وی چې د دې په طریقه سره به انسان د دغے وسوسے علاج کوی.

## د اودس متعلق وسوسې:

کله انسان ته دا وهم او وسوسه په بیت الخلاء یا د اودس په دوران کښې یا د غسل په وخت کښې دا وسوسې ډیرې راځی کله وائی زما اودس نۀ دے شوے یا پوره اودس اوکړی نو دۀ ته وسوسه پیدا شی چې مسح رانه پاتے شوه یا مخ ما نه دے وینځلے کله غسل کښې انسان ته دا مشکل پیش کیږی او کله غسل خانے بیت الخلاء کښې انسان ته دا توهمات راځی نو د دې د پاره حدیث کښې راځی نبیﷺ فرمائي چې کله تاسو بیت الخلاء ته دننه کیږۍ نو دا دعا وائے: ﴿اَللّٰهُم اِنِّیۡ اَعُوۡذُ بِكَ مِنَ الۡخُبُثِ وَالۡخَبَائِثِ﴾ نو انسان لره دا دعا وئیل پکار دی ځکه که انسان دغه د شیطان ،مکان ، کور ته د تللو په وخت کښې په الله سره پناه اونه غواړی نو دا شیطان په دغه ځائے کښې په دې انسان باندې ډیر په اسانۍ سره مسلط کیږی او دغه قسم وسوسے او توهمات ورته په ذهن کښې اچوی.

## دوه اهمې خبرې:

د دې وسوسے متعلق دوه خبرے یاد ساتل پکار دی یو دا چې د دې وسوسے شرعی حیثیت څۀ دے آیا انسان په دې قسم وسوسه باندې نیولے کیږی آیا دا حقیقت دے چې د انسان ذهن ته څۀ وهم راځی نو دا به حقیقت وی او یقینی به دا خبره داسے وی لکه څنګه چې د دې انسان په ذهن کښې ده، دویمه خبره دا ده چې د دې وسوسے علاج څۀ دے انسان به د دې مصیبت نه په څنګه طریقے سره خلاصیږی چې دا وسوسه ختمه شی او بیا دې انسان ته نه راځی.

## د وسوسې شرعی حیثیت:

اوله خبره چې د وسوسے شرعی حیثیت څۀ دے هغه دا که دې انسان ته وسوسه د ایمان متعلق راځي د الله په باره کښې ورته ذهن کښې غلط خیالات او باطل تصورات راځی د رسول اللهﷺ متعلق یا د آخرت په باره کښې د دې ذهن ته غلطے خبرے راځی نو دا انسان دې د خپل ځان حالت ته اوګوری که چرته دا انسان په دې باندې خفه وی چې دا څۀ ګنده او غلطے خبرے زما ذهن ته راځی او کله چې د دې انسان ذهن ته دا خبرے راشی نو استغفار وائی د دې طرف ته توجه نه کوی نو دا د کامل ایمان نخښه ده دا دلیل دے د دې خبرے چې دا انسان د مضبوطے عقیدے او د صحیح ایمان خاوند دے ځکه حدیث کښې راځی نبیﷺ ته یو ځل یو صحابی راغے ورته وائی یا رسول اللهﷺ زما دې ذهن ته غلط خیالات راځي د الله په باره د دین د کارونو په باره نو نبیﷺ فرمائی چې آیا ته دا بد ګنړے هغه ورته وائي او د الله پیغمبره! زه په دې باندې راضی نه یمه نبی ﷺ ورته وائی: ﴿ذَاكَ مَحْضُ الْإِيمَانِ﴾ دا هغه خالص ایمان دے چې شیطان دا ستا نه خرابوی خو ته شیطان ته په دې کښې د نقصان کولو موقع نه ورکوې نو دا صریح ایمان دے.

## د امداد الله مهاجر مکی رحمة الله علیه قول:

زمونږه د علمائے دیوبند یو لوے بزرګ حاجی امداد الله مهاجر مکی رحمة الله علیه هغه د دې د پاره یو عقلی مثال وئیلے دے هغه وائی چې دا وسوسه د کامل ایمان خاوند ته د دین د الله او د عقیدے په باره کښې ځکه راځی چې غل، ډاکو کله هم په وران ویجاړ کهنډر باندے حمله نه کوی او نه د غلا د پاره په دغه ځائے کښې کوشش کوی ځکه د غل، ډاکو مقصد په دغه ځائے کښې نه حاصلیږی نو دغه شان مثال د شیطان هم دے، شیطان کافر ته د الله او د آخرت په باره کښې وسوسه نه ورچوی ځکه د کافر سره دا سرمایه او دولت نشته او مسلمان ته بیا چې هغه د کامل ایمان خاوند وی نو د شیطان کله په دې مسلمان باندې دا قیمتی جوهر پیرزو کیږی شیطان چې د مسلمان دشمن دے مسلمان کمزورے کول غواړی د الله د دربار نه مسلمان لرے کول غواړی نو همیشه دا کوشش کوی چې مسلمان ته نقصان ورکوی او لوے نقصان د مسلمان دا دے چه د دې دائمی او همیشه نعمت نه مسلمان محرومه کړی او د ایمان د دولت او سرمایے نه مسلمان خلاص کړی.

## په صرف وسوسه کښې ګناه نشته:

دویمه خبره د شریعت دا ده چې په وسوسه باندې انسان الله نه نیسی او نه په دې سره الله د انسان ګرفت کوی په دې باندې مسلمان مکلف نه دے چې په دې به خامخا عمل کوی ځکه دا بے اختیاره څیز دے دا وسوسه د انسان په اختیار کښې نه وی، هاں دا خبره ده چې انسان به وسوسے ته توجه نه کوی او نه به ورباندې یقین کوی لکه حدیث کښې راځی نبی صلی الله علیه وسلم ته یو صحابی راغلے ورته وائي اے د الله پیغمبره!

زما په ذهن کښې داسے قسمه سوالات راځي چې زه هغه په خُله باندې نه شمه راوستلے نبی ﷺ او فرمائیل: ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ رَدَّ کَیْدَ الشَّیْطٰنِ اِلَی الْوَسْوَسَةِ﴾ ټول ښه صفتونه الله لره دی چې د شیطان چل او تدبیر ئے وسوسے ته نقل کړو هغه د یقین درجے ته او نۀ رسیدو شیطان په دې انسان باندے کامیاب نه شو او په یو حدیث کښې ورسره دا الفاظ راځی: ﴿اِنَّ اللّٰهَ تَجَاوَزَ عَنْ اُمَّتِیْ مَا تُوَسْوِسُ بِهٖ اَنْفُسُهَا﴾ الله رب العزت زما د امت نه د وسوسے واله ګناهونه معاف کړی دې مطلب الله زما امت په وسوسه باندې نه نیسی بلکه معافی ورته کوی.

د اشرف علی تهانوی رحمۃ اللہ علیہ نه چا تپوس کړے وو د وسوسو او خیالاتو په باره کښې چې یره جی زما په ذهن کښې غلط خیالات او ګنده وسوسے راځی. اشرف علی تهانوی رحمۃ اللہ علیہ ورته جواب ورکړے وو ((خیالات آنا گناہ نہیں ہیں خیالات لانا گناہ ہیں)) انسان ته بے اختیاره دغه ګنده خیالات راوستل او د دې طرف ته توجه کول او یقین او اعتماد ورباندې کول دا ګناه ده.

## د وسوسو راتلو حکمت:

د دې غلطو وسوسو راتللو حکمت څۀ دے دا انسان ته ولے راځی نو د دې وجه دا ده چې دا دنیا دارالامتحان دے الله د خپل بنده امتحان اخلی چې آیا زما دا بنده خپله مضبوطه حقیقی او یقینی عقیده صرف د یو تصور او خیال په بنیاد خو نه پریږدی د دۀ د عقیدے څۀ حیثیت او مقام دے آیا دا انسان دومره د کمزوری ایمان خاوند دے چې صرف په یو وسوسه باندے ورنه ایمان مجروحه کیږی او خرابیږی نو دا وسوسه راتلل یو امتحان دے دویمه وجه دا ده چې که چرته دا خیالات او وسوسے انسان ته نۀ راتلے نو دا انسان به په خپل عبادت باندې دهوکه کیدلے او په فتنه کښې د اخته کیدو خطره به ورته پیدا کیږی که دا وسوسے او

تصورات په مونځ عقیده ایمان کښې نه راتلے نو په دې انسان کښې به تکبر او غرور پیدا کیدے د دې حکمت په بنیاد انسان ته وسوسے راځی خو انسان به وربانديږ یقین نه کوی.

## په مونځ کښې د جهاد ترتیب کول:

حضرت عمر رضی اللہ عنہ په خپل دور خلافت کښې مونځ باندې ولاړ وو نو خطاء شو په مونځ کښې، چا ورته اوئیل دا ولے نو جواب ئے ورته ورکړو چې زما ذهن کښې فلانی مقام کښې جهاد کولو د پاره خیال راغے چې لښکر به څنګه تیاریږی، حمله به څنګه کوی، امیر جهاد به څوك وی. امام بخاری رحمۃ اللہ علیہ په خپل کتاب کښې د عمر رضی اللہ عنہ دا واقعه رانقل کړې ده او بیا وائی چې انسان ته غلط خیالات بے اختیاره راځی خو که انسان ته د نیك عمل یا د دین متعلق خیالات په عبادت کښې راځی نو دا ثواب دے او کمال دے لکه چې عمر رضی اللہ عنہ ته دا خیالات د جهاد د مونځ په حالت کښې راغلے وو.

د دې غلط خیالاتو او وسوسو علاج څۀ دے انسان به د دې نه په څۀ طریقه باندې خلاصیږی نو قرآن او حدیث که انسان مطالعه کړی نو د دې د پاره مختلف قسم علاجونه دی نو یو علاج د دې د پاره دا دے چې انسان به خپل ځان په یو بل عمل کښې مصروفه کوی ځان له دې نۀ کینی، مجلس دې بدلوی، موضوع خبرې دې بدلوی نو دا یو علاج دے. ابن قیم رحمۃ اللہ علیہ په خپل کتاب کښې د دې د پاره لس دولس علاجونه ښودلی دی یو **اعوذبالله** وئیل دی. دویم آخری دوه د قرآن سورتونه **معوذتین** وئیل، دریم **اية الكرسى** وئیل، څلورم **سورت البقره** وئیل، پنځم **امن الرسول** د **سورت بقرة** آخری رکوع وئیل، شپږم کثرت ذکر سره وسوسه لرے کیږی. اووم **لا اله الا الله** وئیل، اتم هیمشه د اودس په حالت کښې پاك اوسیدل، نهم چې وسوسه راشی نو **اٰمَنْتُ بِاللهِ ورسوله** د وسوسے په وخت کښې وئیل،

لسم سورت اخلاص وئیل په دې سره د انسان ایمان ته قوت ملاویږی، یوولسم بد نظری نهٔ کول، نامحرم زنانه ته نهٔ کتل،حدیث کښې راځی: ﴿اَلنِّسَآءُ حَبَائِلُ الشَّيَاطِيْنِ﴾ زنانه د شیطانانو رَسے دی په دې سره شیطان انسان خپل طرف ته رابلی.

## د الله د ذات متعلق وسوسه او علاج:

او په حدیث کښې راځی ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چې نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی:﴿لَايَزَالُ النَّاسُ يَقُوْلُوْنَ هٰذَا خَلْقُ اللهِ﴾ همیشه به خلق دا خبره کوی چې مونږه ،زمونږه مور پلار دا ټول انسانان الله پیدا کړی دی نو ﴿فَمَنْ خَلَقَ اللهَ﴾ بیا الله چا پیدا کړے دے نو نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی چې کله دا وسوسه انسان ته راشی نو ﴿فَقُوْلُوْا قُلْ هُوَاللهُ اَحَدٌ، اَللهُ الصَّمَدُ، لَمْ يَلِدْ، وَلَمْ يُوْلَدْ، وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ﴾ بیا دې دا انسان اعوذ بالله اووائی او درے ځله دې خپلے لاړے کس طرف ته اوتوکی، دا دې توك کړی نو یو دا علاج هم دے د وسوسے دپاره.

## دوه ضروری خبرې:

رشید احمد گنگوهی رحمة الله علیه یو لوے عالم دین دے هغه وائی چې کوم انسان ته په مونځ کښے وسوسے راځي او بیا هم دا انسان د مونځ پابند وی مونځ نه پریږدی نو دې انسان ته زهٔ د دوؤ خبرو خو شخبری او زیرے ورکومه نو دا دوه خبرې دې دا انسان یاد ساتی یو دا چې مونځ کښې لذت پیدا کیدل دا مقصود او مطلوب نه دی که توجه برابره وه یا انسان ته مونځ اداء کول خوند ورکولو نو ډیره ښه خبره ده خو که توجه برابره نه وه یا لذت مونځ کښے نه وی نو د دې دا مطلب نه دے چې دا به مونځ نه ادا کوی د دې نه بغیر هم د دې انسان مونځ صحیح کیږی او دا مونځ ادا کیږی او دغه مقدار فرض دے بس نور لذت حاصلیدل یا نه خاصلیدل دا فرض نه

دی، دویم دا که دا انسان مونځ د دې د پاره ادا کوی چې په دې کښې خوند او لذت دے نو دا د الله د رضا د پاره نه دے دا د خپل نفس خواهش او لذت پوره کول دی د نفس خبره منل دی د الله حکم نه دے ځکه د الله حکم دا دے که نفس راضی وی او که نۀ وی راضی نو دا انسان به په هر حالت کښې د الله عبادت کوی او الله به رضا کوی نو دا وسوسے د ګناه د وجے نه وی یا د شریعت پابندی نۀ کولو د وجے نۀ وی کله نیك عملو خلقو ته د نفس یا شیطان د وجے نه راځی الله دې زمونږه حفاظت اوکړی.والحمد لله رب العالمین

# د ګمراهۍ درې اسباب

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَنَفْسٍ وَمَا سَوَّاهَا فَأَلْهَمَهَا فُجُوْرَهَا وَ تَقْوَاهَا قَدْ اَفْلَحَ مَنْ زَكّٰهَا وَ قَدْ خَابَ مَنْ دَسّٰهَا﴾ (سورة الشمس:٨)

## د ګمراهۍ اسباب:

مخکښې نه دا خبره شروع وه چې کله انسان په مختلفو ګمراهو کښې اخته کيږی او د دې د پاره ډير اسباب کيدے شی خو په دې کښې درے ډير غټ اسباب هغه دی چې انسان ورسره د ګمراهے ښکار کيږی او د دغه اسبابو د وجے نه په غلطه لار دا انسان روانيږی يو په دې کښې شيطان دے. دويم د انسان خپل نفس او دريم غلط محبت او ملګرتيا ده چې د دې د وجے نه انسان ګمراهه کيږی او په غلطه لاره روانيږی دا غټ اسباب دی ځومره چې د اول سبب سره تعلق لری نو مخکښې د دې تفصيل ذکر شوے وو چې دا الله زمونږه د امتحان د پاره پيدا کړی دی که يو طرف ته الله دا شيطان د امتحان د پاره پيدا کړے دے بل طرف ته قرآن او حديث کښې الله د انبياؤ په ذريعه د دې شيطان د خطرے نه ټول انسانان يرولی دې کله فرمائی:

﴿اِنَّ الشَّيْطٰنَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوْهُ عَدُوًّا﴾ (سورة فاطر:٦)

دا شيطان ستاسو دشمن دے او په دشمنۍ باندے دغه شيطان اونيسے. دا د بے وقوفه سړی کار وی چې هغه ته دشمن معلوم شی او بيا هم ورسره دشمنی نه کوی او د هغه نه خپل ځان محفوظ نه ساتی او که د

شيطان په شان دشمن وى خطرناك ،خواهش پرست، خفيه دشمن لكه حديث كښې راځى چې الله ورته دومره اختيارات وركړى دى:

﴿إِنَّ الشَّيْطٰنَ لَيَجْرِىْ مِنَ الْإِنْسَانِ مَجْرَى الدَّمِ﴾

دا شيطان د انسان په رګونو كښې ګرځى د دې ا نسان خوښ او ناخوښ ورته معلوم وى د بد نه بد كار ورته خائسته كړى او دا انسان پكښې مبتلاء كړى دا د شيطان كار دے او دا انسان انسان پورے خبره ده څوك چې الله ته نزدے وى نو هغه ته شيطان وسوسه نشى وراچولے بلكه شيطان د دغه انسان نه لرے تختى لكه د عمر رضي الله عنه په باره كښې راځى چې شيطان د عمر رضي الله عنه سره په يوه لاره كښې يو ځائے كيدے نه شى عمر رضي الله عنه چې په كومه لاره باندے روان وى شيطان د هغے لارے نه يو طرف ته كيږى او يو روايت كښې راځى چې شيطان د عمر رضي الله عنه د سورى نه يريږى لكه قرآن كښې الله شيطان ته دا خبره كړې ده

﴿إِنَّ عِبَادِىْ لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَانٌ﴾ (سورة بنى اسرائيل:٦٥)

زما بندګانو باندې ستا څۀ دليل او غلبه نشته. او څوك چې د الله نه لرے وى د الله رحمت او مدد ورسره شامل حال شوے نه وى نو دغه انسان ته شيطان نۀ دنيا كښې څۀ فائده وركوى او نه ورته په آخرت كښې به پكار راځى لكه قرآن كښې راځى چې د قيامت په ورځ به دا كشران د دې خپلو مشرانو سره ملاؤ شى چې د كومو مشرانو د وجے نه دغه كشران ګمراه شوى وو هغوى ته به وائى چې ستاسو د وجے نه مونږه په دنيا كښې ګمراه شوى يو.

﴿إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ أَنْتُمْ مُغْنُوْنَ عَنَّا مِنْ عَذَابِ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ﴾

(سورة ابراهيم:٢١)

مونږه ستاسو تابعدار وو په دنيا كښې آيا تاسو زمونږه نه د الله عذاب لرے كولے شئ د دغه مشرانو جواب به دا وى چې مونږه خپله څۀ

اختیار نه لرو ځکه د جهنم په عذاب کښې مونږه اخته یو که د خپل ځان نه مونږه د الله عذاب لرې کولے شوے نو بیا به مونږه ستاسو نه هم لرې کړې وے. آخر به دا ټول مشران کشران راجمع شی او خپل غټ مشر ابلیس ته به لاړ شی چې تا مونږ لره څۀ اوکړل ځکه زمونږه د ټولو د ګمراهۍ سبب ته وے ستا د لاسه ګمراه شوی وو نو د شیطان جواب به دا وی:

﴿وَقَالَ الشَّيْطٰنُ لَمَّا قُضِيَ الْاَمْرُ اِنَّ اللّٰهَ وَعَدَكُمْ وَعْدَ الْحَقِّ وَ وَعَدْتُّكُمْ فَاَخْلَفْتُكُمْ﴾ (سورۃ ابراھیم: )

شیطان به ورته وائی ما ستاسو سره وعده کړے وه او الله هم ستاسو سره وعده کړے وه زۀ د خپلے وعدے خلاف کومه او د الله وعده رشتینے وه. تاسو ته د قرآن او د سنت په ذریعه د الله وعده بیان شوے وه چې د شیطان مۀ منے که څوك د شیطان منی جهنم به د هغه ځائے وی

﴿فَلَا تَلُوْمُوْنِيْ وَلُوْمُوْا اَنْفُسَكُمْ﴾

ما مۀ ملامته کوئ خپل ځان په دې کار کښې ملامته کړئ. ځکه ما خو په تاسو باندې څۀ زور نۀ وو کړے ما صرف یو وسوسه درکړے وه بیا تاسو په دې باندې عمل کړے وو.

## د نفس سره خواهشات:

بل دویم لوے سبب د انسان د ګمراه کولو د پاره د هغه نفس دے. نفس سره د انسان ډیر دنیوی خواهشات تړلے شوی دی دا نفس څۀ دے لنډه دا چې دا د شیطان یوه سورلی ده چې په دې باندے شیطان سور شوے دے د هر انسان په نفس کښې فطری څۀ بیمارۍ موجود وی لکه حرص، لالچ، خود غرضی، خواهشات، حُبّ مال، حُبّ جاه وغیره مرضونه بلکه د ابلیس عزازیل د ګمراه کیدو د پاره بل څۀ سبب نۀ وو دا د هغه نفس وو چې هغه ئے دې مقام ته راورسولو او ګمراه ئے کړو. قابیل که په

قتل باندے مجبوره کړے وو نو هغه هم د دۀ نفس وو ځکه نفس د انسان د ګمراه کیدو یو لوے سبب دے په قرآن کښې د دې د پاره یو خاص اصطلاح شته دے چې هغے ته تزکیه نفس وائی او الله په سورة شمس کښې په دی نفس باندې قسم کوی او دغه نفس ګواه کوی چې:

﴿وَنَفْسٍ وَمَا سَوَّاهَا﴾

قسم دے په نفس باندې او په هغه ذات چې دا نفس ئے برابر کړے دے.

﴿فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَاهَا﴾(سورة الشمس:۸)

دې نفس ته الله د نیکۍ او بدۍ دواړو په باره کښې الهام کړے دے د دې ښودنه ورته الله کړے ده او کامیاب هغه انسان دے.

﴿قَدْ أَفْلَحَ مَنْ زَكَّاهَا﴾

کامیاب هغه انسان دے چې دا نفس پاك کړی.

﴿وَقَدْ خَابَ مَنْ دَسَّاهَا﴾

او نامراده او نا کامیابه هغه انسان دے چې دا نفس خړ پړ کړی او ګنده کړی خپل نفس لره او دا تزکیه نفس د نبیﷺ په ذمه داریانو کښې یوه ذمه داری هم وه لکه دا دعا ابراهیمعليه السلام د نبیﷺ د پاره غوښتلے وه:

﴿رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا مِنْهُمْ يَتْلُوا عَلَيْهِمْ آيَاتِكَ وَيُزَكِّيهِمْ وَ يُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ﴾(سورة البقرة:۱۲۸)

دوی ته داسے پیغمبر رامبعوث کړے چې دوی ته د الله د کتاب او سنت تعلیم ورکړی او د تزکیه نفس اهتمام هم کوی که د دې نفس تزکیه او نۀ شی نو بیا دا انسان تباه کوی په دې کښې درے ډیر خطرناك مرضونه دی د نفس د مرضونو نه.

## د تکبر مذمت:

اول کبر، تکبر خطرناك مرض دے د روح او د نفس، ځکه حدیث کښې راځی نبیﷺ فرمائی:

﴿لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِيْ قَلْبِهٖ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِنْ كِبْرٍ﴾

هغه څوك به جنت ته نۀ دا خليږی چې د هغه په زړۀ کښې د يوے دانے په مقدار باندې تکبر وی لکه څنګه چې د انسان جسم ته مرضونه لګی سردرد دے، تبه، زکام دغه شان د انسان روح ته هم مرضونه لګی او څنګه چې د جسم خطرناکے بیمارۍ وی لکه کینسر د زړۀ اټیك دغه شان د روح هم خپلے خطرناکے بیمارۍ شته دے چې انسان تباه کوی په دې کښې یو تکبر هم دے قرآن کښې الله د یو قوم تذکره کوی بیا په آخر کښې وائی چې د دوی د هلاکت سبب دا وو چې:

﴿لَقَدِ اسْتَكْبَرُوْا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ﴾

هغوی تکبر کړے وو ځکه الله هلاك تباه او برباد کړل او حدیث کښې راځی چې تکبر دوه خبرے دی یو ﴿بطر الحق﴾ د حق خبره پټول چې حق ورته معلوم شی او بیا هم هغه نه منی او دغه قومونو هم د پیغمبر حقانیت پیژندلے وو بیا هم هغوی پیغمبر نه وو منلے دویم ﴿غمط الناس﴾ خلق سپك ګنړل چې زۀ خو زۀ یمه دا لا څوك دے او دا تکبر په بداخلاقو کښې یوه غټه بداخلاقی هم ده.

## د بخل قباحت:

دویم په دې کښې بخل دے لکه قرآن کښې الله ذکر کوی او د بخل بدی بیانوی: ﴿وَاُحْضِرَتِ الْاَنْفُسُ الشُّحَّ﴾

د خلقو دې نفسونو ته بخل حاضر شوے دے. بیا په بخل کښې ډیرے بیمارۍ دی یو دا هم ده چې الله انسان ته بدن ،وجود، طاقت

ورکړے وی او دا د الله د دین په کارونو کښې نۀ استعمالوی دا هم بخل دے. مال دولت درته الله درکړے دے، زکوة دربانديې فرض دے او بیا هم دا نه ادا کوے دا هم یو قسم ته بخل دے او حدیث کښې راځی نبیﷺ فرمائی چې روزانه یوه فرشته په دې دعا مقرر شوے وی چې دا دعا غواړی:

﴿اَللّٰهُمَّ اَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا وَاَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا﴾

الله مال خرچ کونکی ته نور هم اضافی مال ورکړے او مال بندونکی ته هلاکت ورکړے. څوك چې مال نه خرچ کوی علماء وائی چا کښې چې عاجزی او سخاوت وی نو په دې انسان کښې به ټول ښه اخلاق وی او که په چا کښې تکبر او کنجوسی وی نو په هغه انسان کښې به ټول بد اخلاق موجود وی.

## د نفس او شهوت خطرے:

دریم د نفس خطرناك مرض هغه شهوت انسانی دے دا شهوت انسان کښې الله کیخودلے دے خو د دې دَ تسکین د پاره الله جائزے او ناجائزے طریقے بیا ښودلی دی دغه شان غصه هم الله په انسان کښې کیخودے ده خو د دې جائز موقع او ناجائز موقع ورته الله بیان کړے ده نو دغه شهوت به انسان بے ځایه نه ضائع کوی د قرآن او د سنت که څوك پابندی نه کوی نو دغه شهوت کله د زنا په شکل کښې په بےحیائے او بدفعلے کښې ضائع شی دا هغه وخت کله چې د نفس د اصلاح کوشش نه وی دا درے واړه مرضونه که هغه بخل دے او که تکبر دے او که شهوت دے نو دا د نفس مرضونه دی ځکه الله د دې نسبت نفس ته کړے دے

﴿لَقَدِ اسْتَكْبَرُوْا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ﴾ (سورة الفرقان:۲۱)

د بخل باره کښې فرمائي:
﴿وَاُحۡضِرَتِ الۡاَنۡفُسُ الشُّحَّ﴾ (سورة النساء:۱۲۸)
نفس ته نسبت کوی او د شهوت باره کښې فرمائی:
﴿وَلَكُمۡ فِيۡهَا مَا تَشۡتَهِىۡۤ اَنۡفُسُكُمۡ﴾( حم السجدة:۳۱)
نفس ته د شهوت نسبت شوے دے نو نفس انسانی د انسان د گمراه کیدو دویم سبب دے.

## د نفس مثال:

امام بوصیری رحمہ اللہ وائي د نفس مثال د ماشوم په شان دے ماشوم هر څیز غواړی که په هغے کښې د دې ماشوم خیر وی او که نۀ وی خو هوښیار مور او پلار خپل ماشوم بچی ته هر څیز نۀ ورکوی که ماشوم تیره چاړۀ، چاقو یا بل خطرناك څیز غواړی نو مور او پلار ئے ورنه منع کوی هسې نۀ چې خپل ځان ورباندې زخمی او خوږ نه کړی نو انسان لره هم دا پکار دی چې نفس ته هر څیز نه ورکوی بلکه گوری دې چې دا زما د تباهی څیز دے او که د فائدے څیز دے. اشرف علی تهانوی رحمہ اللہ فرمائی چې د نفس د گناه کولو په وخت کښې دې دا انسان د الله حضور او استحضار کوی چې الله ما گوری ما وینی که زۀ دا گناه کومه لکه کله چې د یوسف علیہ السلام نه یوه غلطه مطالبه شوے وه نو د هغه جواب دا وو ﴿مَعَاذَ اللّٰهِ اِنَّهٗ رَبِّىۡۤ اَحۡسَنَ مَثۡوَاىَ﴾ (سورة یوسف:۲۳) په الله سره پناه غواړم بیشکه هغه زما رب دے چې ما لره ئے ښه مقام راکړے دے. دویم قرآن او سنت باندې پابندی، مرشد او رهنما پکار دے بل دا چې د حاسدینو او د دشمنانو نه عبرت اغستل چې د هغوی اعتراض ته انسان برابر نه شی چې اوگوره دا کار ئے بیا کړے دے دا اعتراض درباندې اونۀ کړی ځکه کله کله د انسان د اصلاح د پاره حاسد او دشمن هم سبب جوړیدے شی

دریم د اصلاح نفس د پاره به انسان د بل نه عبرت اخلی لکه یو انسان اخلاقی غلطی اوکړی نو په هغے سره اوشرمیږی نو عبرت ورنه زده کړه کۀ بل څل زۀ دا غلطی اوکړمه نو زما به هم دا حالت وی.

دریم د انسان د ګمراهے غټ سبب هغه دوست ملګرے او ماحول دے حدیث کښې راځی ﴿اَلْمَرْءُ عَلٰی دِیْنِ خَلِیْلِهٖ﴾ انسان د خپل دوست په دین باندې وی نو ﴿فَلْیَنْظُرْ اَحَدُکُمْ مَنْ یُّخَالِلُ﴾ په تاسو کښې دې هر یو انسان اوګوری چې زۀ د چاسره دوستی او ملګرتیا کوم ، د چا سره چې د دۀ ناسته ولاړه وی نو دا انسان د هغه په عمل او نظریه باندې روان وی که یو سړے د چرسیانو سره، شرابیانو یا د پوډریانو سره ناسته ولاړه کوی نو په دغه ګناهونو کښې به دا انسان هم اخته شی یا کم ازکم د هغوی نه بد او د ګناه څۀ نا څۀ تأثر واخلی او که یو انسان د نیك صالح خلقو سره ناسته ولاړه کوی نو دا انسان به نیك وی یا کم از کم د دې نیکانو خلقو اثر به ورباندې وی یو حدیث کښې راځی نبی ﷺ فرمائی چې د ښه ملګری مثال د یو عطّار عطر فروش د دکان دے که ته په هغه باندې تیریږی نو څۀ عطر به درباندې اولګوی یا کم از کم هغه خوشبو به درته محسوسه شی او د بد ملګری مثال د لوهار د دکان په شان دے چې یا به دې جامو کپړو ته اُور اورسی او یا به درته د هغه د دکان نه هغه سخت لوګے محسوس شی نو سینه کښې به درلره فرق پیدا کړی دغه شان مثال د بدکاره ګناه ګار ملګری هم دے .

څکه شیخ سعدی رحمۃ اللہ علیہ وائی:

صحبت صالح ترا صالح کند

صحبت طالح ترا طالح کند

ښه صحبت او ملګرے به تا لره نیك جوړ کړی او که بد صحبت

او بدملګرے وی نو هغه به دې نافرمانه ګناهګار جوړوی تر دې پورے چې د حیواناتو د محبت هم خپل اثر وی لکه حدیث کښې راځی چې هر پیغمبر ګډه ے، چیلے څرولے دی ځکه دا په انسان کښې عاجزی پیدا کوی بل دا چې د اُمت د سنبهالولو طریقه به ورته زده وی.

والحمد لله رب العالمین

# د ګناه نقصانات

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَمَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءًا يُّجْزَ بِهٖ﴾ (سورة النساء :۱۲۳)

دا مسلمه حقيقت دے چې ګناه انسان ته نقصان رسونکے څيز دے په دنيا کښې هم د دے ضررناك اثرات شته دے او په آخرت کښې هم، دراصل زمونږه دين د دوؤ څيزونو نه مرکب دے يو ته **فعل الخيرات** وائی مطلب نيك کارونه کول او بل ته **ترك المنکرات** وائی مطلب بدے، ګناهونه پريخودل. دا زمونږه د دين بنياد دے د دين تمامے پهلوګانې په دې دوؤ خبرو کښې راجمع شوی دی يو دا چې ښه کوه کوم ته چې شريعت نيکی او ښه وائی دويم د ګناه او بد کار مه کوه کوم ته چې شريعت ګناه او بدی وائی خو د دې دارو قسمه عملونو په دنيا او آخرت دواړو کښې څۀ اثرات وی عمل بے اثره څيز نه دے چې د دې څۀ اثر په انسان باندې نه وی عمل به خپل اثر ښائی، عمل ورکيږی نه د الله په قانون کښې د دنيا په نظام کښې کله څوك تپوس او نه کړی ځکه ناخبری وی خو د الله په دربار کښې د هيڅ چا هيڅ وړوکے يا غټ عمل نه شی پټيدلے بلکه هغه به هلته ښکاره کيږی او د دې وجے نه علمائے کرام وائی چې نيکی کله په اووم پشت کښې ځان ښکاره کوی او دغه شان ګناه هم کله په اووم يا لسم پشت کښې خپل ځان خامخا ښکاره کوی نيکې به چرته سل، دوه سوه کاله مخکښې مړ شوی پلار، نيکه کړی وی او د هغے اثر به نمسو ،کړوسو ته رسيږی دغه شان ګناه به هم خپل ګنده اثر په لاندې نسل باندې ښکاره کوی.

## ګناه او عذاب لازم ملزوم دی:

د ګناه نقصانات په دنيا کښې څۀ دی څوك چې ګناه کوی دغه انسان ته په دنيا کښې څۀ نقصانات او تکليفونه رسيږی د دې لږ وضاحت مخکښے کوؤ د مولانا اشرف علی تهانوی رحمة الله عليه يو کتاب دے او د هغے نوم دے "جزاء الاعمال" يعنې د اعمالو بدله، د نيك عمل به څۀ بدله وی د بد عمل به څۀ بدله وی دا ټولے خبرے په تفصيل سره هغه ذکر کړی دی تر دې پورے که يو انسان ګناه د خلقو نه پټه کوی يا په ډيره چالاکے سره يوه ګناه کوی او دا غواړی چې څوك د دې ګناه نه خبر نه شی يا کوی ګناه خو ظاهری شکل ورته د نيکے ورکوی نو دا ياد ساتل پکار دی چې ګناه او سزا لازم او ملزوم دی که دغه ګناه ښکاره وی که پټه وی که د خلقو په مخکښې وی که ظاهری شکل ورته د نيکۍ ورکړے شی او که نور خلط ملط په دې کښې اوکړے شی خو د الله په قانون او دربار کښې پټ نه شی پاتے کيدے هلته به دې انسان ته د خپل عمل هغه بده بدله ملاويږی.

## د علم نافع نه محرومه کيدل:

بيا هغه وائی چې د ګناه دا اثر دے چې انسان ورسره د علم نافع نه محروم کيږی يو معلومات دی دويم علم نافع دے علم صرف د معلوماتو نوم نه دے که علم صرف معلومات وي نو يهودو ته ډير دغه شان معلومات شته دے بلکه د نن صبا زمانے مستشرقينو ته هيڅ څوك په علم کښې نه رسيږی د هغوی سره چې کوم معلومات او علم دے خو دغه علم علم نافع نه دے چې انسان ته د ايمان لاره د الله معرفت ور نه کړی نو دغه علم بيا علم نافع نه شی کيدے او دغه صرف معلومات بغير د عمل نه چې وی د دې مثال په قرآن کښې کله الله ذکر کوی:

﴿فَمَثَلُهٗ كَمَثَلِ الْكَلْبِ﴾ (سورة الاعراف:۱۷۶)
د دې انسان مثال د سپي په شان دے او كله وائی:
﴿كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ اَسْفَارًا﴾ (سورة الجمعة:۵)

د دهٔ مثال د خر په شان دے چې هغه په خپل ځان باندے ډېر لوے لوے بوجونه بار کړی وی خو د دغه بوجونو نه، نه خوراك كوی نه د خپل آرام د پاره څهٔ راغستے شی او نه ورنه نوره څهٔ فائده اغستے شی دغه صرف معلومات بار كول او د هغے نه فائده نه اغستل دا هم دغه شان مثال لری ځکه علم معلوماتو ته نه وائی علم يو نور دے چې هغه الله د انسان په زړهٔ كښې پيدا كوی او د دې د وجے نه انسان په عمل باندے مجبوره كيږی او دې انسان ته تر هغے پورې راحت اطمينان او سكون نه ملاويږی تر څو پورے چې دهٔ دغه علم په عمل كښې نه وی راوستے خو كه د دغه نور او فائدې نه انسان محرومه كيږی نو د دې وجه ګناه او د الله نافرمانی وی.

## حافظه کمزورے کیدل:

كله چې امام شافعی رحمة الله عليه خپل استاذ امام وكيع بن الجراح رحمة الله عليه ته دا شكايت كړے وو چې ماته څهٔ ياد نه پاتې كيږی او هر څهٔ زما د ذهن نه ډېر زر په تيزے سره اوځی شيطان راباندې غالبه كيږی د دې څهٔ علاج دے هغه ورته وائی: ﴿انی اری الله قد القی علی قلبك نورا﴾ اے شافعی زهٔ الله ګورمه چې هغه ستا په زړهٔ كښې ئے يو نور كيخودلے دے ﴿فلا تطفئة بظلمة ولا معصية﴾ دغه د الله دركړے شوے نور او رڼرا د باطن په ګناه يا ظلم زياتی كولو سره مړه نه كړے نو د ګناه نه خپل ځان ساته بيا امام شافعی رحمة الله عليه په خپله ډېر لوے شاعر هم دے دغه نقشه هغه په دې خپلو اشعارو كښې رانقل كړے ده.

شکوت الی وکیع سوء حفظی
فأوصانی الی ترك المعاصی

ماخپل استاذ امام وکیع رحمۃ اللہ علیہ ته د حافظے د کمزورے شکایت اوکړو نو هغه ماته د ګناه د پرېخودلو په باره کښې وصیت اوکړو چې ګناه ته مهٔ نزدے کیږه.

فإن العلم نور من الهی
و نور الله لا یعطی لعاصی

دا علم د الله نور دے رنړا ده او الله خپل نور او رنړا ګناه ګار سړی ته نه ورکوی نو د ګناه غټ اثر یو دا دے چې حافظه ورسره کمزوری کیږی دویم دا چې د علم نافع نه انسان محرومه کیږی د ګناه د وجے نه لکه دا دواړه شکایتونه نن صبا زمانه کښې عام شوی دي ځکه ګناهونه عام شوی دی.

## د رزق تنګی او ګناه:

دویم بد اثر هغه د رزق تنګی ده په ګناه معصیت د الله په نافرمانے سره د انسان په رزق کښې تنګی راځي یو د رزق کثرت دے دا د رزق فراخی او وسعت نه دے چې د انسان سره خپل کور، ګاډے، نوکران وی نا دا د رزق کثرت دے خو وسعت او فراخی نه ده. وسیعه او فراخه رزق د هغه چا رزق دے چې الله ورته په دغه رزق کښې سکون او اطمینان کیخودلے وی خوب او ارام چې د چا نه وی د دنیا د غم د وجے نه د زړهٔ اطمینان او سکون نه وی د الله یره نه وی د غریب حق پکښې معلوم نه وی په دینی او نیك کارونو کښې د دهٔ دا مال نه لګی نو دا د رزق تنګی ده او دا تنګی د رزق په ګناه سره راځی په هره طریقے سره به مال دولت حاصلوی خو دې انسان ته به خیر برکت او فائده نه ورکوی او دغه

وجه ده چې په يو حديث کښې راځي:

﴿إِنَّ الْعَبْدَ لَيُحْرَمُ عَنِ الرِّزْقِ بِذَنْبٍ يُّصِيْبُهٗ﴾

انسان د رزق نه د ګناه د وجے نه محرومه کيږی چې دا انسان ګناه کوی نو الله ئے د رزق نه محرومه کوی او په قرآن کښې هم الله دا خبره بيان کړے ده:

﴿وَمَنْ اَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِيْ فَاِنَّ لَهٗ مَعِيْشَةً ضَنْكًا﴾ (سورة طه:١٢٤)

څوك چې زما د کتاب نه مخ اړوی دې انسان ته به زۀ تنګ او لنډ ژوند ورکړمه او په سورة الطلاق کښې الله د ترك معصيت د ګناه د پريخودلو يو څو غټے فائدے ذکر کړی دی يو پکښے دا هم وه:

﴿وَمَنْ يَّتَّقِ اللهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ﴾

(سورةالطلاق:٢٠٣)

څوك چې د الله نه يريږی الله به دې انسان ته د هغه ځائے نه رزق ورکوی چې د دې انسان به ورباندې ګمان او يقين هم نه کيږی او که يو انسان ګناه نه کوی نو الله به د ده لږ رزق باندې د ده کارونه او ضرورتونه پوره کوی ده ته به په دې کښې الله خير او برکت واچوی او د دې وجے نه به دۀ ته اطمينان او سکون ملاويږی خوب به ورځی سکون به وی، خوشحاله به وی، بد اخلاقی، جنګ جګړے به نه کوی  دا د رزق فراخی ده. نو په رزق کښې وسعت او د حلال رزق ورکړه بيا دغه رزق د ضرورت کارونو ته پوره کيدل دا په انسان کښې د تقوی سره راځی او که يو سړی کښې تقوی نه وی نو ښه ډير مال او دولت سرمايه به وی خو د دۀ ضرورتونه به نۀ پوره کيږی او په دغه ډير مال دولت کښې به دا انسان خوشحاله نۀ وی .

## د مولانا يعقوب رحمۃ اللہ علیہ واقعه:

د مولانا يعقوب نانوتوى رحمۃ اللہ علیہ په دور کښې يو غريب سړے ديوبند سره نزدے اوسيدو د هغه کار کسب دا وو چې هغه به وابنه گياه راجمع کوله او د دغه پيسو نه به ئے څۀ پيسے بچ کولے بيا به ئے په کال کښې يو ځل د دارالعلوم ديوبند استاذان دعوت د پاره راغوښتل نو دغه استاذان به د دۀ د دعوت په انتظار کښې وو يو ځل د مولانا يعقوب نانوتوى رحمۃ اللہ علیہ نه چا تپوس اوکړو چې تاسو د دې غريب سړى دعوت ته ولے خوشحاليږے نو هغه جواب ورکړو چې مونږه کله هم د دۀ دعوت قبول کړے دے نو مونږه په خپل خوراك څکاك، عبادت، درس تدريس کښې يو قسم نورانيت گورو چې د دې سړى په طعام کښې الله کيخودلے دے ځکه ورته مونږه خوشحاليږو نو د حلال رزق دا اثر وى .

## د امام احمد رحمۃ اللہ علیہ او شافعى رحمۃ اللہ علیہ واقعه:

د امام احمد رحمۃ اللہ علیہ استاذ امام شافعى رحمۃ اللہ علیہ په مصر کښې اوسيدو او شاگرد امام احمد رحمۃ اللہ علیہ به په بغداد کښې اوسيدو نو يو ځل امام شافعى رحمۃ اللہ علیہ د خپل شاگرد امام احمد رحمۃ اللہ علیہ کور ته راغلو او هغوى سره ئے شپه وه د امام احمد رحمۃ اللہ علیہ لور د شپے د اودس د پاره څۀ اوبه تيارے کړے وے چې کله شپه تيره شوه سحر شونو لور ورته وائی چې هغه ستا استاذ خو نۀ د شپے نوافلو د پاره دغه اوبۀ استعمال کړى دى او نۀ د سحر مونځ ته تلو نه مخکښې هغه اودس کړے دے ځکه هغه اوبۀ په لوټه کښې هغه شان محفوظے دى استعمال شوى نه دى نو امام احمد رحمۃ اللہ علیہ د لور دغه خبره خپل استاذ ته اوکړه هغه ورته جواب ورکړو چې ما نن شپه په دې کور کښې يو داسے حلال رزق خوړلے دے چې کله د شپے په مونځ کښې قارى صاحب کوم ايات

تلاوت کړی وو هغه تر سحر پورے زما په دې ذهن کښې وو او ما ټوله شپه د دغه ایتونو نه استنباط کړے دے زما د شپے د مونځ په اودس باندې ما د سحر مونځ هم ادا کړے دے نو د نیك خوراك یو خپل اثر وی.

## بدامنی پیدا کیدل:

او قرآن کښې الله د یو کلی واله مثال بیان کړے دے په سورة نحل کښې: ﴿ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا قَرْيَةً اٰمِنَةً مُّطْمَئِنَّةً يَّاْتِيْهَا رِزْقُهَا رَغَدًا مِّنْ كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتْ بِاَنْعُمِ اللّٰهِ فَاَذَاقَهَا اللّٰهُ لِبَاسَ الْجُوْعِ وَالْخَوْفِ بِمَا كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ﴾

(سورة النحل :۱۱۲)

الله د یو کلی واله مثال بیانوی چې هغه مکے واله وو یا یو عام کلے وو الله وربانديې قسم قسم نعمتونه کړی وو فراخه رزق او امن ورته الله نصیب کړے وو نو دغه کلی والو د الله د نعمتونو ناشکری اوکړه نو الله ورنه دغه دواړه نعمتونه واغستل یو دا چې د ګناه او نافرمانے ناشکرے د وجے نه وربانديې الله لوږه، تنده مسلط کړه. دویم دا چې هغه د امن واله حالت ورته الله د ناشکرے د وجے نه په بے امنے سره بدل کړو.

دې ایت نه دا هم معلومه شوه چې بد امنی همیشه د ګناهونو اثر وی که په یو ملك کښې امن و امان نه وی نو په دغه ملك کښې ګناهونه زیات شوی وی.

## ګناه او د الله نه لرې کیدل:

بل د ګناه نقصان دا دے چې په دې سره انسان د الله نه لرے کیږی ځکه ګناه په ځائے د مینې او محبت د انسان په زړهٔ یو بد اثر پیدا کوی او وحشت او نفرت ورکښې وجود ته راځی دا د ګناه اثر وی دغه انسان د الله د عظمت نه یره نه کوی بلکه والعیاذ بالله د الله د احکاماتو سره د دهٔ نفرت وی ځکه د هغے اوریدو ته هم تیار نهٔ وی عمل کول خو

ډيره لږے خبره ده او د دې علامه به دا وه چې دَ الله ذکر به ورته لذت او خوند نه ورکوی عبادت، درس، مسجد کښې ناسته به ورته ښه نه ښکاری په دې ماحول کښې به خپل ځان ورته خوشحاله او مطمئن نه ښکاری بس دا د ګناه هغه بد اثر دے.

## صحیح کارونه خرابیدل:

بل اثر د ګناه دا دے چې صحیح او برابر کارونه به د دغه انسان ورانیږی هغه جوړ او برابر کار به ورنه خطا کیږی او دا به د ګناه اثر وی خلق وائی یره سم کار وو بس وران شو د دې بر خلاف د نیکے او تقوی اثر دا وی چې د دغه انسان غلط او بے ترتیبه کارونه الله برابروی او دغه غلط کار الله صحیح کوی الله په سورة طلاق کښې ذکر کوی:

﴿وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَّهُ مِنْ أَمْرِهِ يُسْرًا﴾(سورة الطلاق:٤)

څوك چې د الله نه یریږی الله به ورته په خپل کار کښې اسان والے پیدا کړی چې کوم کار ته لاس اچوی په دغه کار کښې به ورته الله خیر او برکت پیدا کوی یو هغه چې کله کله د الله د طرف نه امتحان وی نو دا څۀ وخت پورے وی بیا ختم شی او یو دا چې ټول عمر د دې انسان سر تندے نه لږی نو دا هم قسوت قلبی وی او دا انسان دې نظر اوکړی چرته به د دۀ نه ناشکری یا د ګناه کار کیږی ځکه د دې انسان جوړ کارونه خرابیږی د دۀ په زړۀ کښې تیارۀ او ظلمت پیدا کیږی د عبادت خوند او لذت ورسره ختمیږی ځکه خوف خدا نه وی.

## د بد بختۍ څلور علامې:

یو حدیث کښې راځی نبیﷺ فرمائی: ﴿ أَرْبَعَةٌ مِنَ الشَّقَاءِ ﴾ څلور څیزونه د بدبختے علامے دی د زړۀ د تور والی او سخت والی علامات دی یو په هغې کښې ﴿جمود العین﴾ د سترګو اوچېدل دی دا د

خفګان خبره ده حديث کښې راځي تاسو الله ته ژړا کوے او که ژړا نه درځی نو د ژړا واله شکل اختياروے په يو بل حديث کښې راځی چې دوه قطرے الله ته ډيرے محبوبے دی يو هغه چې هغه د الله په لاره کښې د انسان د جسم نه توے شی دويمه هغه قطره ده چې د الله د يرے د وجے نه د انسان د سترګو نه توے شی په دې انسان باندې الله د جهنم اور حرام کړے دے. دويم د بدبختے علامه ﴿قسوة القلب﴾ دے د زړهٔ کلك والے دے. دريم سبب د بدبختۍ ﴿طول الامل﴾ اوږدو اوږدو منصوبو کښې مشغوله وی منصوبه بندی کول منع نه دی خو آخرت ورسره متاثره کول او ټول د دنيا طرف ته متوجے کيدل دا منع دی. څلورم سبب ﴿حرص الدنيا﴾ د دنيا لالچ او حرص کول منع دی صرف د دنيا لالچ کول، نهٔ د مخلوق خدا څهٔ غم شته او نهٔ د آخرت څهٔ سوچ فکر لری نو دا منع دی نو د زړهٔ شقاوت او قساوت د ګناهونو نتيجه وی نن صبا معاشره داسے جوړه ده چې انسان د ګناه نه خپل ځان نشی بچ کولے ځکه د بازار ماحول د ګناه دے د کور علاقے محلے ماحول ټول د ګناه نه ډك دے داسے يو ځائے داسے يو وطن نشته چې په هغے کښې ګناه نه کيږی هر طرف ته فحاشی، عريانی، ګناهونه، بدعملۍ، د الله نافرمانی، فسادات، د قرآن او سنت د احکاماتو خلاف ورزی ، هر طرف ته د ګناهونو يو سيلاب دے خو کمال دا نه دے چې انسان د دې ته تيخته اختيار کړی او يو ګټ او يو طرف ته کينی او د دې ماحول نه کناره کشی اختيار کړی دا کمال نه دے کمال دا دے چې انسان د دې ماحول په مينځ کښې وی هر څهٔ ګوری هر څهٔ وينی او هر څهٔ اوری خو بيا هم د دې حالاتو نه نه متاثره کيږی او په خپل ايمان باندې مضبوط او کلك ولاړ وی او په دې باندې قائم وی د هر قسم ګناه موقع ورته ملاؤ شی خو بيا هم ګناه نه کوی هر قسم د ګناه اسباب ورته مهيا وی او بيا هم د ګناه پرواه نهٔ لری.

## کار نبوت او کار ولایت:

عبد القدوس ګنګوهی رحمة الله علیه وائی چې یو کار ولایت دے یو کار نبوت دے کار ولایت کښې چې انسان یو مرتبے ته اورسیږی بس د هغه مقام نه دوباره د دنیا عالم ته نهٔ راځی او کار نبوت کښې انسان د ولایت د مرتبے نه ډیر بره ځی خو دوباره په هم دې دنیا کښې دې معاشره کښې نورو خلقو ته د دین پیغام ورکوی او دوباره دغه تعلق د الله سره هم قائم ساتی لوېه او غټه تقوی او نیکی دا ده چې انسان د ګناه د کارونو نه ځان اوساتی دا غټه تقوی ده، غټه نیکی او تقوی دا نهٔ ده چې انسان ډیر نوافل ذکرونه تلاوتونه کوی دا پوره تقوی نه ده اګرچه دا هم د آخرت ضرورت دے دا نه شی کیدے چې یو انسان فرض مونځ نه کوی که هغه ډیر د پیر صاحب وظائف اوراد کوی نو دا تقوی نه ده الله دې مونږ ته حقیقی تقوی نصیب کړی. امین

# د کامیابئ سفر او اسباب

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَکَفٰی وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِیَآءِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِیَآءِ اَمَّا بَعْد !فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۔

﴿ قَدْ اَفْلَحَ مَنْ تَزَکّٰی0 وَ ذَکَرَ اسْمَ رَبِّهٖ فَصَلّٰی 0 بَلْ تُؤْثِرُوْنَ الْحَیَاۃَ الدُّنْیَا0 وَالْاٰخِرَۃُ خَیْرٌ وَّاَبْقٰی0 اِنَّ هٰذَا لَفِی الصُّحُفِ الْاُوْلٰی0 صُحُفِ اِبْرَاهِیْمَ وَ مُوْسٰی0﴾

(سورۃ آل عمران:۱۹۱)

## دا انسان کوشش نتیجه:

د قرآن پاك سورۃ اعلی اخری آیتونه تلاوت شو په دې کښې الله رب العزت دا مضمون بیانوی چې په دنیا کښې هر انسان دې د پاره کوشش کوی او دا غواړی دا څيز دې ما ته حاصله شی که هغه مشر دے او که کشر دے ښځه وی که سړے وی ځوان وی که بوډا وی امیر وی اوکه غریب پوهه نا پوهه هر انسان د دې د پاره کوشش کوی او ورپسے لیونے وی نو د دغه څيز مختصر او لنډ نوم کامیابی ده او دا کامیابی د هر چا د خپل سوچ د خپل میدان او د خپل ذهن مطابق وی لکه زمیندار په زمیندارے کښې خپله کامیابی تلاش کوی، تاجر او دوکاندار انسان په خپل تجارت او دکان کښې د کامیابئ سوچ لری که یو ملازم ملازمت کوی نو هغه په دې خپل ملازمت کښې د کامیابئ فکر کوی که یو طالب العلم وی نو هغه په امتحان کښې کامیابی غواړی په دې ټول سعی، جدوجهد کښې خلقه د دنیا کامیابی غواړی خو د دې سره یو د اخرت کامیابی ده که انسان د دنیا کامیابی غواړی او که د اخرت کامیابی غواړی نو د دې د پاره به کوشش او جدوجهد کوی بغیر د عمل او بغیر د کوشش

نه انسان ته کاميابي نه شي حاصليدے په دې سورت کښې الله کاميابي بيانوي چې کاميابي څۀ ته وائي او د دنيا کاميابي څۀ ده او د اخرت کاميابي څۀ ده چې دا انسان په دنيا او اخرت کښې کامياب شي نو الله د دغه کاميابۍ لاره ښائي او په دې کښې چې څومره رکاوټونه دی هغه رکاوټونه ورسره ذکر کوی.

## دا انسان کاميابي:

په دې ايتونو کښې الله رب العزت يو جامع مکمل قانون بيانوی چې کاميابي څنګه انسان ته ممکنه او حاصليدے شي او د دې په لاره کښې مشکلات، رکاوټونه څۀ دی او د دې اسباب څۀ دی الله فرمائي:

﴿قَدْ اَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى﴾ کامياب هغه انسان دے چې خپل ځان د ګناه نه پاك کړی ﴿وَ ذَكَرَ اسْمَ رَبِّهٖ فَصَلّٰى﴾ او بيا د الله ياد کوی او مونځ ادا کوی د دې لارے نه بندونکے مشکل او رکاوټ دا دے ﴿بَلْ تُؤْثِرُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا﴾ بلکه تاسو د اخرت په مقابله کښې دنيا ته فضليت او غوره والے ورکوے دا د اخرت د کاميابۍ نه رکاوټ دے دا اصول او دا خبرې د کاميابۍ الله صرف دې امت ته نه بلکه مخکښے پخواني شريعتونو او دينونو والو ته هم الله دا خبرې بيان کړی دی د ابراهيم عليه السلام او موسى عليه السلام په صحيفو کښې هم د دې بيان شوے دے.

## د کاميابۍ درې لارې:

په دې ايتونو کښې الله رب العزت د کاميابۍ درې لارې بيانوی يو ﴿مَنْ تَزَكّٰى﴾ دويم ﴿وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهٖ﴾ دريم ﴿فَصَلّٰى﴾ هغه انسان کامياب دے چې د خپل ځان تزکيه کوی دا د مسلمان د پاره د کاميابۍ اوله پوړے ده څو پورې چې يو انسان تزکيه نفس نه وی کړی نو تر د هغې پورې دا انسان کامياب کيدے نشي تزکيه څۀ ته وائي دا پاك والی ته وئيلے کيږی

خپل زړهٔ پاك صفا ساتل ځکه دا انسان په حقيقت کښې درې ځيزونه دی يو زړهٔ دے دويم ژبه ده دريم باقی اندامونه دې د دې هر يو خپل مقام او حيثيت دے دې زړهٔ ته د ټول بدن مالکيت بادشاهت حاصل دے د زړهٔ د خبرې بيان په ژبې سره کيږی او نور اعضاء اندامونه په دې باندې بيا عمل کوی نو ﴿تزکی﴾ مطلب زړهٔ صفا کول دی ﴿وذکر﴾ مطلب د ژبې اصلاح پکار ده او ﴿فصلی﴾ مطلب د نورو اندامونو د عمل اصلاح هم ضروری ده دا درے لارې دی او په درے جملو کښې الله د دې بيان کړے دے.

## د زړه پاکوالې:

د زړهٔ په صفائی کښې د دوؤ خبرو کردار دے اوله خبره عقيده برابرول دی چې د انسان په عقيده نظريه کښې به شرك نه وی، باطل عقائد فاسد توهمات او غلطے نظريے به نه وی کله چې د زړهٔ تزکيه نه وی شوې او انسان نور ځومره زيات نيك اعمال کوی نو دا الله ته قبول او منظور نه وی قرآن کښې الله د دغه خلقو په باره کښې فرمائی چې عقيده درسته نه وی او نور عمل کوی نو الله فرمائی:

﴿وَقَدِمْنَآ إِلَىٰ مَا عَمِلُوا۟ مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَٰهُ هَبَآءً مَّنثُورًا﴾

د قيامت په ورځ به د دې انسان دغه نيك اعمال بے ځايه، بے فائدې به وی لکه څنګه چې په طوفان کښې د زمکے د زراتو څهٔ فائده نه وی او ورك شی دغه شان د دې انسان عمل به هم ورك شی د زړهٔ د اصلاح د پاره دويمه خبره د روحانی بيماريانو تزکيه او صفائی ده روحانی بيماريانے ډيرې دی لکه تکبر، رياکاری، حسد کول، بغض لرل، دروغ وئيل، د دنيا سره مينه او محبت، حب جاه وغيره نو د دې نه ځان پاك ساتل دی او اوله پوړے د کاميابئ دا ده .

## د الله ذکر او بندګي:

دویمه خبره ﴿وَذَکَرَ اسْمَ رَبِّهٖ﴾ د زړهٔ د صفائۍ او اصلاح نه بعد د انسان ژبه به صحیح استعمالیږی په دې کښې ډیرې خبرې او تفصیل دے خو بنیاد دا دے چې په دې باندې د الله ذکر جاری شی کوم انسان چې په فارغه اوقاتو کښې د الله ذکر کوی دا انسان به د ګناه نه محفوظ وی.

﴿فَصَلّٰی﴾ دریمه خبره عبادت دے او په عبادتونو کښې اهم عبادت مونځ دے نو ځکه د دې تذکره کوی عبادت څهٔ ته وائی نو خلاصه دا چې عبادت غلامۍ، احتیاجۍ، تابعدارۍ ته وائی دا صرف په مونځ کښې نه ده بلکه دا یو صورت دے. بندګی به د مسلمان په ټول ژوند کښې وی د کور نه واخله تر مسجد پورے او مسجد نه واخله تر بازار پورے په دې ټول ژوند کښې به د الله تابعدار وی په معاملاتو، سیاسات، معاشرت، اخلاقیات هر څهٔ کښې به د الله عبد وی، زمونږه بندګی صرف د مسجد پورې وی او بس په نور ژوند کښې د الله حکم نه پیژنو د دې مثال د هغه غلام دے چې نوم باندې غلام وی خو مکمل د آقا فرمانبردار او تابعدار نه وی غلام د یوې خبرې په باره کښې دا نه وائی چې دا ولے اوکړم هغه ته چې یو حکم معلوم شی نوورباندې عمل کوی د هغے د حکمت په باره کښې تپوس نه کوی مکمل غلام او بنده هغه وی چې د آقا مالك په حکم باندې عمل کوی که هغه په دې علت ،سبب او وجے او حکمت باندې خبر وی اوکه نه وي خبر شوے خو د الله حکم چې ورته معلوم شی نو بیا صرف د دهٔ عملی کاروائی کول وی.

## د عقل غلامی:

مجدد الف ثانی رحمه الله فرمائی که یو انسان شریعت او اسلام منی خو د عقل په تقاضه باندې په دې عمل کوی چې دا راته اوښایه د دې عقلی

څهٔ حکمت او څهٔ فائده ده نو بیا به وربانديږ زهٔ عمل کومه نو دا انسان مسلمان نه دے بلکه ملحد او زندیق دے او د خپل عقل تابعدار دے د الله غلام نه دے اسلام او ټول دین د عقل مطابق دے خو زمونږه دومره محدود او کوتاه عقل دے چې د دې عقل په بنیاد مونږه ته د شریعت هر هر حکم او حکمت کله معلوم نشی نو دا نقصان په شریعت کښې نه دے دا نقصان زمونږه په دې عقل کښې دے.

## کامیابئ کښې رکاوټ:

د دې کامیابئ د لارې نه رکاوټ او مشکل پیدا کونکے څیز هغه د دنیا مینه او محبت دے دنیا بد څیز نه دے خو د دنیا سره اخرت هیره ول دا بد څیز دے دنیا ناروا نه ده د دنیا سوچ فکر کول او آخرت روسته کول دنیا داری کول دا ناروا دی عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه د نبی صلی الله علیه وسلم لوے صحابی دے هغه چې کله وفات کیږی نو ډیر لوې مال دولت سرمایه هغه په میراث کښې پریخودلے ده علماء وائی چې د دې دنیا مثال د یو دریاب د کشتے دے کله چې اوبه د دې لاندې وی نو سفر به جاری وی او مشکل به نه وی خو کله چې اوبه بره شی او کشتے ته دننه شی نو غرقه به شی نو دا دنیا دریاب دے د انسان زړهٔ د دی کشتے ده کله چې دا دنیا کشتے ته دننه شی نو دا انسان ناکام دے او تاوانی دے او دا محبت ناروا دے. والحمدلله رب العالمین

# د سفر اخرت تيارے

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿ قُلْ اِنَّ الْخَاسِرِيْنَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْا اَنْفُسَهُمْ وَاَهْلِيْهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ اَلَا ذٰلِكَ هُوَالْخُسْرَانُ الْمُبِيْنُ﴾ (سورة الشورىٰ:۲۵)

## د دنيا او اخرت سفر کښې فرق:

د قرآن کريم په دې ايت کښې الله رب العزت د دنيا او د آخرت د ژوند بيان کوی ځکښے نه د مرګ او د آخرت متعلق پنځه مقامات او منازل بيان شوی وو اوس دا د آخرت سفر چې ډير د مشقت او تکليف نه ډك سفر دے په لاره کښې ډيرے سختۍ راتلے شی نو د دې د پاره تيارے هم ضروری او اهم دے او دا صرف سفر نۀ دے بلکه په لاره کښې خپل ضرورتونه پوره کول د قيام طعام بندوبست کول د دې تيارے به د دنيا د ژوند نه کوی نو بيا به خپل مقصود ته رسيږی دا خو د دنيا د سفر يو مثال دے حال دا دے چې د دنيا او د آخرت په سفر کښې فرق شته دے هغه دا چې د دنيا سفر د يو څو ورځو سفر دے او د آخرت سفر هميشه نه ختميدونکے سفر دے او د اهمّيت په اعتبار هم پکښې فرق شته دے هغه دا چې د دنيا سفر به يا د دنيا د حاصلولو د پاره وی يا به د تعليم د پاره وی يا به د يو بل عارضی څيز د پاره وی خو د آخرت سفر هغه عارضی سفر نه دے هغه مقصدی سفر دے او دغه وجه ده چې نبی ﷺ خپل شاګرد عبدالله بن عمر رضی الله عنه ته دا خبره کړے وه چې دنيا کښې تۀ ژوند تيروے ستا سوچ او فکر به څۀ وی ځکه د هر کار کولو نه مخکښې

په انسان باندې د خپل سوچ فکر درستګی لازمه ده ذهن نظریه به د انسان برابره وی تر څو پورے چې د انسان سوچ برابر نۀ وی نو دا انسان به ګډو وډو باندې روان وی مقصد به ورنه پاتے وی دې وجے نه نبیﷺ خپل شاګرد ته او د شاګرد په واسطه باندې بیا دې ټول اُمّت ته دا تعلیم ورکوی چې دنیا کښې ته ژوند تیروے نو ستا د دې ژوند حقیقت به څۀ وی آیا په دې دنیا کښې به تۀ همیشه یے دا به ستا د ټول عمر واله کور وی دا به ستا اول او اخر مقصد وی نو ځکه ورته بیا تعلیم ورکوی:

﴿كُنْ فِي الدُّنْيَا كَأَنَّكَ غَرِيبٌ أَوْ عَابِرُ سَبِيلٍ﴾

په دې دنیا کښې داسے ژوند تیروه ګویا چې تۀ یو مسافر ئے یا په لاره تیریدونکے ئے مطلب دا دنیا همیشه هم نۀ ده او دا مقصد هم نۀ دے او په دې کښې پاتے کیدل هم همیشه نۀ دی او د مسافر همیشه دا کار وی چې هغه په پردی وطن کښې کور نۀ آبادوی او نۀ په حالت د سفر کښې د خپل کلی وطن په شان د پاتے کیدو سوچ کوی نو د مسلمان به د دنیا متعلق دا سوچ او نظریه وی.

## په دنیا یقین نه کول:

بیا عبدالله بن عمرؓ ورپسے وائي:

﴿إِذَا أَمْسَيْتَ فَلَا تَنْتَظِرِ الصَّبَاحَ وَإِذَا أَصْبَحْتَ فَلَا تَنْتَظِرِ الْمَسَاءَ﴾

کله چې تۀ صباح کړے نو د ماښام انتظار مۀ کوه او کله چې ماښام کړے نو بیا د صباح انتظار مۀ کوه بیا وائي:

﴿وَخُذْ مِنْ صِحَّتِكَ لِمَرَضِكَ وَمِنْ حَيَاتِكَ لِمَوْتِكَ﴾

د خپل صحت نه د خپل مرض د پاره څۀ تیارے اوکړه او د خپل ژوند په حالت کښې د خپل مرګ د پاره څۀ تیارے اوکړه مطلب کله چې صحت مند ئے نو دا سوچ کوه چې صبا به بیمار یمه دا کار به بیا زۀ نه

شمه کولے نو نن دا د دنیا یا د آخرت کار کول پکار دی او کله پورے چې ژوند شته نو په دې خپل ژوند کښې د خپل مرګ د پاره تیارے اوکړه بیا به څۀ نه کیږی.

## د تعمیر کولو مقام اخرت دے:

عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د نبی صلی الله علیه وسلم یو بل شاګرد دے هغه د نبی صلی الله علیه وسلم نه نقل کوی: ﴿مَا اَنَا وَالدُّنْيَا﴾ زما او د دنیا مثال او حیثیت داسے دے ﴿كَمَثَلِ رَاكِبٍ﴾ د هغه انسان په شان مثال لری چې په سورلے باندې سور وی که ضروت راشی نو ﴿اِسْتَظَلَّ تَحْتَ شَجَرَةٍ ثُمَّ رَاحَ عَنْهَا﴾ د یوې ونے د لاندی سوری کښې آرام اوکړی بیا د هغه ځائے نه روان شی دغه شان مسلمان په دنیا کښې همیشه آرام نۀ کوی ځکه دنیا د مسلمان ځائے د پاتے کیدو او اوسیدو نۀ دے ځکه عیسی علیه السلام فرمائی ﴿اَلدُّنْيَا مَعْبَرَةٌ﴾ دنیا د یو پل پشان مثال لری ﴿فَاعْبُرُوْهَا وَلَا تُعْمِرُوْهَا﴾ د دې نه تیر شے او دا دنیا مۀ آبادوے ځکه د پل د پاسه څوك قیام نۀ کوی او په دغه ځائے یو انسان ابادی نۀ کوی د دنیا دا سفر زمونږه جاری دے خو دا د څۀ د پاره دے نو دا په سورت الملك کښې الله ذکر کوی:

﴿اَلَّذِىْ خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيَاةَ لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا﴾ (سورة الملك:۲)

هغه ذات چې هغه انسان لره مرګ او ژوند پیدا کړے دے د دې د پاره چې د دې انسان امتحان اوکړی چې کوم یو په دې کښې خائسته عمل کوی د دنیا دا ژوند او دا شپه ورځ تیریدل الله د یو امتحان په بنیاد پیدا کړی دی.

## د اخرت د پاره د لارے ضرورت:

اوس دا خبره چې د دې لارے ضرورت څۀ دے چې انسان ئے د ځان سره اخلی او د هغه آخرت د کور ضرورت څۀ دے چې هلته څۀ څیز

انسان ته پکار راځی او څهٔ ورته فائده ورکوی نو د آخرت د تیارے د پاره درے غټے خبرے دی یو دا چې مسلمان دې خپله عقیده عمل برابر کړی او د هغے اصلاح دې اوکړی ځکه د صحیح عقیدے نه بغیر هیڅ یو عمل انسان ته په آخرت کښې څهٔ فائده نهٔ ورکوی که یو انسان د اُحد د غر په مقدار سرهٔ او سپین زر خرچ کړی خو که د دې انسان عقیده برابره نهٔ وی نو هیڅ فائده ورته نهٔ ورکوی که شپه او ورځ د بیت الله نه طوافونه کوی خو چې عقیده برابره نهٔ وی نو دې انسان ته هیڅ قسم فائده نه ورکوی که په بیت الله کښې الله یو مونځ په یو لاکھ باندې قبلوی نو بیا هم دغه انسان ته څهٔ فائده نهٔ ورکوی قرآن کښې الله د مشرکینو د عبادت متعلق ذکر کوی:

﴿وَقَدِمْنَا إِلَىٰ مَا عَمِلُوا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَاهُ هَبَاءً مَّنثُورًا﴾ (الفرقان:۱۲۳)

مونږه به مخکښې شو هغه څهٔ ته چې دوی کوم عمل کړے وی نو مونږه به د دغه انسان دا عمل ګردوغبار اوګرځو د قیامت په ورځ به د دغه انسان د عمل حالت دا وی چې لکه څنګه هوا ،طوفان راشی او د زمکے نه زرّات اوچت کړی هغه خوارهٔ وارهٔ او ګرځوی نو د دې انسان د عمل به دا حیثیت وی نو اوله خبره د آخرت د سفر په تیارے کښې چې پکار راځی هغه صحیح برابره عقیده ده.

## عمل صالح او توبه:

دویم خیز چې د انسان د آخرت د سفر د پاره پکار راځي هغه عمل صالح دے صرف عمل مطلوب نهٔ دے بلکه د عمل سره سره نیک عمل، صالح عمل چې د نبی ﷺ په طریقه باندے وی بدعات او محدثات انسانی او وضعی ترامیم پکښے نهٔ وی شوی خالص اِلٰهی نظام باندے بناء شوی وی.

دریم د خپل عمل د قصور لرے کولو د پاره توبه ویستل که د انسان نه په عمل کښې څۀ کمے یا قصور شوے وی نو په دغه قصور باندې به دا انسان توبه اوباسی لکه قرآن کښې الله ذکر کوی:

﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا تُوبُوا إِلَى اللهِ تَوْبَةً نَصُوحًا﴾ (سورة التحريم:۷)

اے د ایمان خاوندانو!الله ته خالصه توبه اوباسی، د دې نتیجه به دا وی:

﴿عَسٰى رَبُّكُمْ اَنْ يُّكَفِّرَ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَيُدْخِلَكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهَارُ﴾ (التحريم:۸)

یو فائده د دې توبے ویستلو به دا وی چې الله به ستاسو دنیوی تکلیفونه لرے کړی، مسائل پریشانے به ختمے شی یا دویمه معنی دا چې الله به ستاسو دا ګناهونه په توبه باندے معاف کړی او په آخرت کښې به جنت درکړی او په سورت تحریم کښې فرمائی:

﴿ تُوْبُوْا اِلَى اللهِ جَمِيْعًا اَيُّهَا الْمُؤْمِنُوْنَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ﴾ (النور:۳۱)

اے مؤمنانو ټول په شریکه الله ته توبه اوباسی، دې د پاره چې کامیاب شی، نو مونږه بحیثیت فرد هم مجرمان یو او بحیثیت قوم هم مونږه مجرمان یو نو ځکه الله د ټولو نه مطالبه کوی دا په مونږه ملکی مسائل ځکه جوړ شوی دی چې مونږه مجموعی لحاظ سره د الله په بغاوت کښې اخته شوی یو.

## د توبې ویستلو مقام:

بل فضیلت د توبې دا دے چې دا د انسان د پاره د عذاب نه بچ کیدو د پاره الله یوه بهانه جوړه کړے ده چې په دې سره به الله انسان ته معافی کوی بلکې د توبې سره انسان د ګناه نه داسے پاك شی ګویا چې دۀ ګناه نۀ وی کړې حدیث کښې راځی: ﴿اَلتَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لَّا ذَنْبَ لَهٗ﴾

توبه ویستونکے د ګناه نه داسے وی ګویا چې دې انسان ګناه نۀ وی کړې

او د الله بله غټه مهربانی دا ده چې د توبے د پاره الله مونږ ته وسیع فراخه وخت راکړے دے نبی ﷺ فرمائی:

﴿اِنَّ اللّٰهَ لَيَقْبَلُ تَوْبَةَ الْعَبْدِ مَالَمْ يُغَرْغِرْ﴾

الله د خپل بنده توبه قبلوی ترڅو پورے چې د دې انسان د زنکدن حالت د غرغرے حالت نۀ وی شروع شوے. د زنکدن حالت هغه وی چې په دې انسان باندې بل عالم منکشف شی فرشتے وینی نو تر دغه وخت پورے یا د قیامت پورے د دې انسان توبه قبلیږی.

## د مخلوق توبه او د خالق خوشحالیدل:

او د الله مهربانی دا هم ده چې د بنده په توبه باندے الله خوشحاله کیږی او راضی کیږی د انسان دا توبه الله ته دومره محبوبه ده لکه یو انسان په سفر باندې روان وی په سورلۍ باندې ورسره خوراك څکاك اسباب سازوسامان وی او دغه ډیر لوے خطرناك سفر هم وی تهولے صحراګانے او ځنګلونه وی په دې حالت کښې دغه انسان اودۀ شی کله چې رابیدار شی اوګوری نو سورلی نه وی دا انسان تلاش وکړی خو څۀ ورته په لاس باندې ور نۀ شی په دې طمع باندې دا انسان اودۀ شی چې نور خو زۀ ژوندے پاتې کیدے نشمه کله چې راویخ شی یکدم سورلی د خپل ځان مخکښے ولاړه اوګوری نو د ډیرې خوشحالے نه دا خبره د دۀ په خُلے باندے راشی: ﴿اَللّٰهُمَّ اَنْتَ عَبْدِیْ وَاَنَا رَبُّكَ﴾ الله تۀ زما بنده ئے او زۀ ستا رب یمه. دا د ډیرې خوشحالۍ د وجے نه دا انسان دا خبره اوکړی نو دغه انسان په دې سورلے پیدا کیدو دومره خوشحاله نۀ وی څومره

چې الله د دې انسان په دې توبه باندے خوشحاله کیږی نو کومه کوتاهی چې شوی وی هغه کوتاهی برابرلو د پاره الله توبه راویستے ده یوه عقیده او عمل برابرول وو بل چې په عمل کښې څۀ نقصان شوے وی نو د آخرت د سفر د پاره په هغې کښې توبه ویستل انسان ته فائده ورکوی .

والحمد لله رب العالمین .

# د اخرت په سفر کښې د توبې اهیمت

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَتُوْبُوْا اِلَى اللّٰهِ جَمِيْعًا اَيُّهَا الْمُؤْمِنُوْنَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ﴾(النور:۳۱)

﴿قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : كُلُّ بَنِىْ اٰدَمَ خَطَّاءٌ وَخَيْرُ الْخَطَّائِيْنَ التَّوَّابُوْنَ اَوْ كَمَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ﴾ (رواه ابن ماجہ)

## د مرګ حقیقت:

د تیرے جمعے نه د مرګ د تیارے متعلق خبره شروع وه چې دا یو داسے حقیقت دے چې په دنیا کښې هیڅ قوم هیڅ عقیدې واله د دې نه انکار نشی کولے په دنیا کښې داسے یو قوم، دهری، کمیونسټ شته دے چې هغوی د الله د وجود نه انکار کوی خو د مرګ د حقیقت نه انکار نشی کولے ځکه دا بدیهی څیز دے مشاهده کیږی خو دومره فرق د مسلمان او د کافر په مینځ کښې شته دے چې مسلمان د مرګ سره د اُخروی یوه بله زندګی او ژوند منی او کافر د دغه ژوند نه انکار کوی او مسلمان دَ مرګ د پاره تیارے او بندوبست کوی خو کافر د مرګ د پاره هیڅ څۀ تیارے نۀ کوی او د دغه تیاری باره کښې خبره شوې وه چې مسلمان به فرائض او واجبات ضرور اداء کوی نو د مرګ د پاره به تیارے کیږی که داسے نۀ کوی نو دغه تیارے به نیمګړے وی دا به مکمل نۀ وی .

## خطا کار انسان:

بل څیز توبه ویستل دی لکه قرآن کښې الله فرمائی:

﴿وَتُوْبُوْا اِلَى اللّٰهِ جَمِيْعًا اَيُّهَا الْمُؤْمِنُوْنَ﴾ (النور:۳۱)

اے مؤمنانو تاسو ټول الله ته توبه اوباسے د دې د پاره چې کامیاب شئ او نبی ﷺ فرمائی چې هر بنی ادم د هغه نه خطا، ګناه کیدے شی ځکه دا د انسان په فطرت او مزاج کښې موجود ده چې انسان نه به خطا کیږی او د دې غټ دلیل د انسانیت جدِاعلی غټ نیکه آدم علیه السلام دے د هغه نه خطا شوے وه په دنیا کښې یو انبیاء علیهم السلام دې چې د ګناه نه معصوم دی او بل فرشتے دی چې هغوی کښې د ګناه کولو طاقت نشته نور هر انسان ګناه کولے شی ځکه نبی ﷺ فرمائی: ﴿كُلُّ بَنِيْ اٰدَمَ خَطَّاءٌ﴾ هر بنی ادم خطا کار دے ﴿وَخَيْرُ الْخَطَّائِيْنَ التَّوَّابُوْنَ﴾ او غوره خطاکار غوره ګناهګار هغه انسان دے چې ګناه ورنه اوشی ورپسے د الله نه توبه استعفار کوی ګناه ته ګناه وائی او د الله نه د هغے په باره کښې استعفار غواړی.

## توبه د الله د رضا سبب:

بیا دغه توبه استغفار قبلول بنده ته معافی کول نو الله په دې ډیر خوشحالیږی او ډیره زیاته مهربانی الله په خپل بنده باندې کوی دومره مهربان دے چې په یو حدیث کښې راځی چې په بنی اسرائیلو کښې یو کس ډیر ګناهونه کړی وو او ګناه معمولی ګناه نه بلکه قتلونه ئے کړی وو یو دوه قتلونه هم نهٔ بلکه یو کم سل کسان هغه بے ګناه قتل کړی وو آخر دا سرے په دې خپلو ګناهونو نادم او پښیمانه شو نو چا ورته یو بزرګ پیر صاحب اوښودلو چې دَ دهٔ خواته لاړشه نو څهٔ لاره به درته برابره کړی نو د هغه دربار ته حاضر شو خپله اراده ئے ورته عرض کړه چې زهٔ یو داسے مجرم یمه ما یو کم سل مړی کړی دی ﴿فَهَلْ لِيْ مِنْ تَوْبَةٍ﴾ زما د پاره څهٔ د توبے لاره شته دے چې زهٔ د آخرت د عذاب نه خلاص شمه. دغه بے علمه جاهل بزرګ ورته وائی چې نا ستا د پاره د توبے او د

خلاصي شهٔ موقع نشته نو دې مجرم ورپسے توره رواغسته او دغه ئے هم ورسره مړ کړو. بل يو عالم پوهه سړے ورته چا اوښودلو چې د دهٔ خواته لاړ شه د توبے لاره به درته اوښائی کله چې د دغه عالم خواته لاړو او خپله خبره ئے ورته اوکړه نو جواب ئے ورته ورکړو چې آؤ الله به ستا توبه قبوله کړی خو ته دې خواته کلی نه هغه فلانی کلی ته لاړشه ځکه هلته نيك خلق دی او نيك ماحول دے نو دوباره به ستا نه دا ګناه هلته نه کيږی او هلته تهٔ قيام کوه دا د حکمت خبره وه کله چې د علم سره حکمت او دانشمندی يو ځائے شی نو بيا انسان ته ډيره فائده ورکوی ځکه دلته به د دهٔ غلط ملګری، غلط ماحول، غلطه معاشره وی نو بيا په دې حالت کښې د ګناه نه بچ کيدل انسان ته مشکل شی نو دغه مجرم د دې خپلې علاقے نه د توبے په نيت دغه بلے علاقے طرف ته روان دے دغه بلے علاقے ته رسيدلے نه وو چې د دې انسان د مرګ وقت برابر وو فرشتے الله راوليږلے چې ورشی او د دهٔ نه روح واخلی نو دوه قسمه فرشتے روح اغستلو ته حاضرے شوے يو قسم هغه چې د مجرمانو او ګناهګارانو نه روح اخلی دويم قسم هغه چې د نيکانو صالحينو نه روح اخلی او د دواړو فرشتو ورباندې جګړه شوه مجرمانو واله فرشتے وائی مونږه د دهٔ روح اخلو ځکه د سلو انسانانو قاتل دے نيك طرف واله فرشتے وائی چې مونږه د دهٔ روح اخلو ځکه دا په نيکه اراده او د ګناه نه د توبے په عزم باندے روان شوے وو يوه بله فرشته الله د فيصلے د پاره راوليږله نو هغه ورته دا فيصله اوکړه چې دازمکه ناپ کړے که چرته د نيکانو زمکے ته نزدے وی نو نيك فرشتے دې د دهٔ روح واخلی او که د ګناه او بدے کلی، علاقے ته نزدے وی نو د بدانو روحونو واله فرشتے دې د دهٔ روح واخلی کله چې پيمائش اوکړے شو نو الله ورته دغه نيکه علاقه نزدے کړه دا د الله

مهرباني وه چې نيکو فرشتو ورنه روح په دې طريقه واغستلو نو که يو انسان په دې حديث کښې هم سوچ اوکړي چې کله نه يو انسان په صدق نيت سره د توبې ويستلو عزم او اراده اوکړي نو الله د دهٔ د بخښنې بهانې لټوي او په څهٔ طريقه دغه انسان جنت ته نزدې کوي الله په توبې کولو سره په انسان باندې دومره حد پورې مهربانه کيږي.

## د توبې شرائط:

د قرآن او د احاديثو نه د صحيح توبې کولو د پاره څهٔ شرائط معلوميږي يو عالم دې امام نووي رحمة الله عليه هغه په خپل کتاب رياض الصالحين کښې د توبې شرائط رانقل کړې دی کله چې دغه شرائط په توبه کښې پوره شي نو دې ته يقيني توبه وائی يو د عام خلقو توبه ده چې لاس غوږونو سره يو ځائې کړي او وائی زما دې توبه وی دا توبه نهٔ ده دا بس صرف يو رواج جوړ شوې دې. کامله توبه چې انسان ته که وربانديې انعام ملاويږي او الله ورته په دې باندې ګناه معاف کوی هغه دا ده چې اول شرط به ورکښې دا وی چې خپل جرم او ګناه ته به جرم او ګناه وائی که يو انسان خپلې ګناه ته ګناه نه وائی او په خُله باندې توبه توبه کوی نو دا توبه نه ده تر څو چې غلطې ته غلط او جرم ته جرم او نهٔ وئيلې شی دويمه خبره چې دا انسان په دې خپلې ګناه او جرم باندې پښيمانه شی او ځان په دې کار ملامته کړی که يو سړې وائی ګناه ده خو دا ما ښه کار اوکړو فخر وربانديې کوی نو دا توبه بيا نه قبليږی دريم دا چې د زړهٔ نه د ګناه پريخودلو قصد او اراده اوکړی چې زهٔ به بيا دا ګناه نهٔ کومه دې ته توبه نصوحه وئيلې کيږی کومه چې الله په قرآن کښې د مؤمنانو نه د هغې مطالبه کړې ده بل يو شرط ورسره دا دې چې بدعمل نه کله توبه اوباسی نو د دې په مقابله کښې نيك عمل ورسره شروع کړی په دې سره

به د هغه ګناه تدارك اوشی او هغه بدی به یو طرف ته ختمه شی خو بل طرف ته به ورته نیکی ملاؤ شی نو په دې سره به ورنه الله پوره راضی شی او بخښنه مغفرت به ورته اوکړی.

والحمدلله رب العالمين.

# مسنون اذکار

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿سُبْحَانَكَ لَا عِلْمَ لَنَا اِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا اِنَّكَ اَنْتَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ﴾

(سورۃ البقرۃ:۳۲)

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: مَنْ هَالَهُ اللَّيْلُ اَنْ يُّكَابِدَ اَوْ بَخِلَ بِالْمَالِ اَنْ يُّنْفِقَ اَوْ جَبُنَ بِالْعَدُوِّ اَنْ يُّقَاتِلَ فَلْيَقُلْ مِنْ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ فَاِنَّهَا اَحَبُّ اِلَى اللّٰهِ مِنْ جَبَلِ ذَهَبٍ اَنْ يُّنْفِقَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ﴾ (معجم کبیر طبرانی)

## د عظیم فضیلت واله ذکر:

د نبی ﷺ یو ارشاد مبارك ستاسو مخکښې تلاوت شو په دې کښې نبی ﷺ د یو بهترین افضل ذکر تذکره کوی چې څنګه د دې ذکر اجر او ثواب بدله ډیره خائسته ده دغه شان په دې ذکر کښې الله رب العزت د دنیا د مصیبتونو او تکلیفونو حل هم په دې کښې کیخودلے دے دا ذکر انسان ته ډیر اسان وی خو د فائدو په اعتبار چې دنیوی او اُخروی فائدے په دې ذکر کښې ښومره دی د هغے لوے مقام دے څکه نبی ﷺ فرمائی: ﴿مَنْ هَالَهُ اللَّيْلُ اَنْ يُّكَابِدَ﴾

څوك چې د شپے د پاسیدلو همت نۀ لری او پاسیدل د شپے ورته اسان نۀ وی او بیا د شپے د پاسیدلو چې کوم اهمیت وو او د هغے چې کوم اجر او ثواب وو نو هغه معمولی څیز نه وو د قیام اللیل په باره کښې راغی چې دا ﴿دَأْبُ الصَّالِحِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ﴾ د نیکانو خلقو د مخکښے نه دا طریقه وه خو بل طرف ته دا یو مشکل کار هم دے. خوب قربان کول،

مشقت برداشت کول ځکه انسان د ورځې په کار کسب کښې مشغوله وی نو دا همت د شپې په وخت کښې نۀ شی کولے ځکه نبیﷺ فرمائی چې د چا سره دا یره وی چې د شپې قیام اللیل همت به رانه او نۀ شی........؟

دویمه خبره ﴿اَوْ بَخِلَ بِالْمَالِ اَنْ یُنْفِقَ﴾ مال په باره کښې بخل او کنجوسی کوی مال ورسره وی خو کنجوسی وربانديې غالبه شی علماء وائی د ښو او بدو اخلاقو بنیاد په دوؤ خبرو باندې دے یو دا چې انسان کښې بخل او کنجوسی نۀ وی سخاوت پکښې وی ځکه ابن عباسؓ فرمائی چې د نبیﷺ د سخاوت مثال پریخودلے شوے تیز باد دے چې هغه هر ځائے ته دننه کیږی. دغه شان د نبیﷺ سخاوت هر چاته شامل او عام وو.

دویم صفت د ښو اخلاقو ، عاجزی ده چې انسان کښې عاجزی وی تکبر ، لوئی، ریاء ورکښې نه وی نو بیا دغه عاجزه انسان د نیك اخلاقو خاوند وی بیا د دې مقابله کښې دوه صفتونه د بدو اخلاقو بنیاد دے یو کنجوسی او بخل دویم تکبر او فخر کول دی کله چې یو انسان کښې دا دوه خیزونه موجود شی نو دا انسان بیا د بدو اخلاقو سر چشمه وی نو نبیﷺ په دې حدیث کښې دا مضمون بیانوی چې که یو انسان د کنجوسے او بخل په مرض کښې مبتلاء وی.

دریمه خبره ﴿ اَوْ جَبُنَ بِالْعَدُوِّ اَنْ یُقَاتِلَ﴾ بزدلی ورکښے موجود وی چې د دشمن مقابله نۀ شی کولے، جهاد کښې د دشمن مخکښے نه شی اودریدلے ځکه دا هم مشکل کار دے چې د دشمن په مقابله کښے انسان خپل سر په خپل لاس کښے کیخودلے وی او مقابله کوی نو نبیﷺ په دې حدیث کښې د دې درے مرضونو علاج ښودلے دے هغه دا چې

﴿فَلْيُكْثِرْ مِنْ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ﴾ دا انسان دې د دې ذکر ډېر ډېر کوي نو بيا به دې انسان ته د شپې د پاسيدلو توفيق ملاويږي، د مال لګولو، خرچ کولو ،همّت به ورسره هم وي او دا انسان به د دې ذکر سره شجاع، بهادر ، همّت ناك د الله د دشمن مقابله کونکے به ورسره هم جوړيږي.

بيا د الله پيغمبر د دې کلماتو يو بل فضيلت بيانوي هغه دا چې دا کلمات الله ته ﴿اَحَبُّ اِلَى اللّٰهِ مِنْ جَبَلٍ ذَهَبٍ اَنْ يُنْفِقَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ﴾ مطلب دا کلمات ويونکے انسان الله ته د سرو زرو د غر خرچ کونکي نه ډ ير خوښ او محبوب انسان دے.

## د دې ذکر د کمال سبب:

او د دې کلماتو دا دومره لوئے کمال ځکه دے چې دا خالص توحيد دے د الله د وحدانيت دوه پهلوګانے دی يو د کمال صفات الله لره ثابتول دويم د نقصان د صفاتو نه الله پاك ګنړل. اول ته ثبوتی صفات وائی او دويم ته سلبی صفات وائی او په دې کښې دا دواړه شته دے. ﴿سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ﴾ نو په دې کلماتو کښې کامل توحيد دے ځکه دا کلمات الله ته ډېر خوښ دی او د بخاری شريف په آخری حديث کښې راځي چې: ﴿كَلِمَتَانِ حَبِيْبَتَانِ اِلَى الرَّحْمٰنِ﴾ دوه خبرے دی الله ته ډيرے محبو بے دی په تله د ميزان کښې ډيرے وزن دارے دی او په ژبه باندې د هغے ذکر کول ډير اسان کار دے هغه دا دی: ﴿سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ سُبْحَانَ اللّٰهِ الْعَظِيْمِ﴾ نو د دې دا لوے فضيلت ځکه دے چې په دې کښې هم د الله کامل توحيد ذکر شوے دے او په دې حديث کښې هم ځکه فضيلت ذکر شوے دے چې د الله کامل تو حيد پکښے ذکر شوے دے.

## د دې کلماتو نورې فائدے:

دا معلومه شوه چې په دې کلماتو سره انسان ته استقامت، همّت صبر، برداشت حاصلیږی. دې وجے نه پیغمبر ته الله په دې موقعو کښې د حمد او تسبیح تعلیم ورکړے دے که مشکل حالات پیدا شی، که د دشمن مقا بله شی او که بل څۀ مصیبت مخے ته راشی نو پیغمبر ته وائی ﴿فَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ﴾ نو په دې کلماتو سره انسان ته صبر او همّت ملاویږی.

دغه شان د شپے په وخت کښې پاسیدلو سره د رزق پراخی هم راځی لکه یو حدیث کښې دی:﴿إِنَّهَا صَلٰوةُ كُلِّ شَيۡءٍ وَبِهَا يُرۡزَقُ الۡخَلۡقَ﴾ دا د هر یو څیز مونځ دے او په دې سره مخلوقاتو ته رزق ملاویږی نو دا اسان کلمات هر انسا ن لره په خپل ځان باندې لازمی کول پکا ر دی.

## اصلی حقیقی ذکر نبوی:

ډیر خلق په قسم قسم ذکرونو باندې خپل ځان مطمئن کوی څوك د خپل پیر صاحب په ارشاد باندې او څوك کله په یو اخبار کښې یوه خبره اوګوری هغه د خپل ځان د پاره وظیفه جوړه کړی او څوك د چا نه په انټرنیټ یا فیس بك یوه خبره زده کړی او هغه د خپل ځان مشغله اوګرځوی حال دا دے چې د نبیﷺ د ښودلی شوی ذکر نه بهترین ذکر په دنیا کښې د بل چا نشته او د هغه د طریقے نه بهترینه طریقه او اُسوه په دنیا کښې د بل چا نشته خو اصل خبره دا ده چې زمونږ د نبیﷺ د سنت او سیرت سره تعلق، واسطه او مناسبت نشته دے ځکه زمونږه سره د حدیث د نبیﷺ څۀ اهمیّت نشته او د پیغمبر د طریقو او لارے نه بغیر د بل چا په طریقه او لاره باندې خوشحاله یو، حال دا دے چې د نبیﷺ نه نقل شوی اذکارو کښې د دنیا او آخرت خیر او برکت الله

کیخودلے دے. او د نبی ﷺ ذکر ځکه کامل ذکر دے چې هغه د وحی په رهنمائے سره یو کار کوی چې په هغے کښې د الله د طرف نه پیغمبر او اُمّت ته خیر او ثواب ورکولے شی.

**والحمد لله رب العالمین.**

# د ذکر او دعا اهمیت

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَکَفٰی وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِیَآءِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِیَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۔

﴿یَآاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا اذْکُرُوْا اللّٰهَ ذِکْرًا کَثِیْرًا﴾ (الاحزاب:٤١)

﴿وَقَالَ تَعَالٰی: وَقَالَ رَبُّکُمُ ادْعُوْنِیْٓ اَسْتَجِبْ لَکُمْ﴾(المومن:٦٠)

## د الله د طرف نه اوامر:

د قرآن د سورت احزاب او د سورت مؤمن یو یو ایت مبارکه تلاوت شو. په دې مجلس کښې د ذکر او دعا متعلق څۀ خبرے عرض کوم. مسلمان باندې د الله رب العزت د طرف نه څۀ فرائض او واجبات اداء کول لازم او ضروری دی او څۀ نوافل او مستحبات دی په دغه نوافلو کښې ذکر او دعا هم شامل دی چې دا د الله یو لوے احسان دے په مونږ مسلمانانو باندې چې ستاسو به د خپل خالق او رب سره تعلق څنګه برقرار وی او د دې تعلق مناسبت او جوړ ساتلو د پاره یوه آسانه لاره د الله ذکر، د الله نه دعا غوښتل او د الله شکر ادا کول دی. چې کله هم مسلمان په ذکر دعا کښې مشغول وی نو د دۀ به خپل رب، مولا سره تعلق برقرار او برابر وی. لکه څنګه چې د نبیﷺ نه تپوس شوے وو چې په دې اعمالو کښې د ټولونه بهترین عمل څۀ دے نو نبیﷺ جواب ورکړے وو چې﴿اَنْ یَکُوْنَ لِسَانُکَ رَطْبًا مِنْ ذِکْرِ اللّٰهِ﴾ چې ستا ژبه هر وقت د الله په ذکر باندې تروتازه وی. مطلب هر وقت ستا په ژبه باندې د الله یاد وی دې ته ئے بهتر عمل وئیلے دے.

## دانسان خپله فائده:

د دنيا قانون دا دے چې يو مالك په خپل ماتحت غلام باندې يو كار كوى نو خامخا د دغه مالك په دې كښې څۀ فائده وى خو دا ذكر داسے يو عمل دے چې په دې كښې د الله خپله څۀ فائده نشته كه يو انسان په دنيا كښې د الله ذكر او ياد اونه كړى نو د الله په خدائے كښې څۀ نقصان نۀ راځى او نۀ په ذكر كولو سره د الله په خدائے كښې څۀ زياتے كيدے شى ځكه الله بے نياز ذات دے:

﴿اَللّٰهُ الصَّمَدُ﴾ (سورة الاخلاص:۲)

د دے يوه معنى دا هم ده چې د الله چاته څۀ حاجت نشته نه د چا عبادت ته محتاجه دے او نه د چا اعمالو ته محتاجه دے كه يو انسان د عبادت عمل كوى نو الله بے نيازه ذات دے. او دا خبره په يو حديث كښې هم راځى چې كه چرته دا ټول مخلوقات د يو تقوى داره سړى په شان شى نو د الله په بادشاهئ كښې څۀ زيادت نه راځى او كه دا ټول مخلوقات د يو بدكاره سړى په شان شى نو د الله په بادشاهئ كښې څۀ نقصان نشى كولے.

## د ذكر پريخودلو نقصانات:

او د الله د ذكر پريخودلو نقصان څۀ دے چې يو انسان د الله ذكر اوكړى او يا اونه كړى نو څۀ نقصان ورته كيږى نو غټ نقصان دا دے چې انسان د الله د ذكر نه غافله شى په دې غفلت راتلو سره انسان ته لوې نقصان رسى غفلت څۀ څيز دے؟ قرآن د غفلت لوے مذمت بيان كړے دے لكه الله د ناشكره كافر انسان په باره كښې فرمائى: ﴿اُولٰٓئِكَ كَالْاَنْعَامِ﴾ چې دغه خلقه د ځناورو په شان دى او بيا د دے وجه او علت بيانوى چې ﴿اُولٰٓئِكَ هُمُ الْغٰفِلُوْنَ﴾ (سورة النحل:۱۰۸) دغه خلقه

غافله او ناخبره خلق دی ځکه د ځناورو په شان حیثیت لری. چې دا خلق د الله د یاد نه د الله د کتاب او دین نه ناخبره او غافله دی او دا غفلت بیا د ټولو ګناهونو برایانو جرړه او بنیاد دے کله چې انسان غافله شی . نو ځکه انسان ګناه په زړهٔ ورتیا سره کوی، انسان سره شیطان یو ځائے شی او د دې انسان ملګرے جوړ شی لکه حدیث کښې راځی ﴿إِذَا ذَكَرَاللهَ خَنَّسَ﴾ کله چې انسان د الله ذکر شروع کړی نو دا شیطان روستو شی نو د شیطان اثر په انسان باندې وی د غفلت د وجے نه نو بیا د دے اثر شیطانی ګناهونو کښې ډوب شی.

او یو حدیث کښې راځی چې کله یو انسان ګناه کوی غټه ګناه کوی نو دا انسان د غفلت یه بنیاد دا ګناه کوی ځکه د الله عظمت او جلال دې انسان ته مخکښې نه وی او د الله مینه او یره د دهٔ زړهٔ کښې نه وی نو دا انسان په دې ګناه کښې اخته شی بلکه یو حد یث کښې راځی چې د دې غفلت د وجے نه انسان د ایمان نه خلاصیږی لکه حدیث کښې راځی ﴿لَا يَزْنِىْ الزَّانِىْ حِيْنَ يَزْنِىْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ وَلَايَسْرِقُ حِيْنَ يَسْرِقُ وَهُوَ مُؤْمِنٌ﴾ چې یو انسان زنا کو ی نو د زنا په وخت دا د کامل ایمان خاوند نه پاتےکیږی یا غلا کوی نو د غلا په وخت کښې د کامل ایمان خاوند نه وی ځکه که د زناکار الله یاد وی نو دا به زنا نه کوی او که غلا ګر ته الله یاد وی نو دهٔ به غلا نه کو لے. او یو حدیث کښې راځی چې د انسان په زړهٔ باندې تور داغ اولږی او بیا دا داغ صفا کیږی نهٔ او که توبه نهٔ اوباسی بیا دا داغ غټیږی تر دې پورې چې په پوره زړهٔ باندې توره تیارهٔ راپیدا کړی.

## همیشه او ډیر ذکر کول:

دغه وجه ده چې الله مومنانو ته باربار د ذکر کولو ارشاد کوی:

﴿يَاأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اذْكُرُوا اللهَ ذِكْرًا كَثِيْرًا﴾

اے د ايمان والو د الله ډير ډير ذکر کوے او نبیﷺ په خپل حديث کښې هم صحابی ته دا خبره کړې وه چې:

﴿لَا يَزَالُ لِسَانُكَ رَطَبًا مِنْ ذِكْرِ اللهِ﴾

ستا ژبه دې هميشه د الله په ذکر باندې تروتازه وی. او دا بهتر عمل ځکه دے چې دا عمل د هغه لوے لوے نيك عملونو د پاره سبب جوړيږی ځکه د الله په ياد سره د الله خوف د انسان مخے ته وی نو بيا گناه نه کوی او نيك کار ته مخکښې کيږی. او بيا کله چې الله د منافقانو صفت بيانوی نو الله فرمائی:

﴿لَايَذْكُرُوْنَ اللهَ اِلَّا قَلِيْلًا﴾

چې دا خلق الله نۀ يادوی مگر ډير لږ. د الله ذکر کوی هغه ذکر هم د الله د رضا يا د الله د يرے د وجے نه، نۀ کوی بلکه د نور څۀ دنياوی مقصدونو د پاره د الله ذکر کوی ځکه د دې انسان په زړۀ کښې د الله خوف او يره نه پيدا کوی او د شيطان د اثر نه ورباندې دا انسان خپل ځان نشی بچ کولے.

## د ټول جسم صدقه:

بيا د دې ډير ذکر څۀ خاص معّين عدد نشته خو دا خبره ده چې نبیﷺ فرمائی يو حديث کښې راځی:

﴿يُصْبِحُ عَلٰى كُلِّ سُلَامٰى اَحَدٍ مِنْكُمْ صَدَقَةٌ﴾

چې د انسان هر جوړ او هر بند باندې د الله شکر او ذکر کول لازم دی او هغه د صدقے په صورت کښې اداء کيږی که د چا د صدقے وس نه وی نو په هغه باندې د دې هر اندام د پاره ﴿ **كُلُّ تَسْبِيْحَةٍ صَدَقَةٌ وَكُلُّ تَحْمِيْدَةٍ صَدَقَةٌ وَ كُلُّ تَهْلِيْلَةٍ صَدَقَةٌ**﴾ هر تسبيح صدقه ده هر ﴿**اَلْحَمْدُ**

لله﴾وئيل صدقه ده او هر ځل ﴿لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ﴾ وئيل د انسان د پاره صدقه ده . او هر ځل ﴿اَللّٰهُ اَكْبَرُ﴾ وئيل صدقه ده. نو دا ذکرونه د الله د وجود ورکولو صدقه صله او بدله ده نو دا به انسان اداء کوی نو د عام ذکر د پاره يو خاص وقت نشته خو د دې ذکر کثير حاصلولو د پاره نبیﷺ ډير مختلف مواقع او وختونه ښودلی دی چې هغه مسنون تسبيحات او مسنون دعاګانے دی د دغه اذکارو او دعاګانو پابندے سره ځۀ نه ځۀ انسان د الله شکر اداء کولے شی او انسان به د دې سره د غفلت نه محفوظ وی او د شيطان اثر به ورباندې نۀ وی او د انسان تعلق به په دې طريقے سره د الله سره بحال وی .

## د وخت سره متعلقه اذکار:

په دغه وختونو کښې يو وخت په هر مانځه پسے بعد (۳۳) دری ديرش ځله ﴿سُبْحَانَ اللّٰه او اَلْحَمْدُلله) او څلور ديريش ځله (۳٤ ) ﴿اَللّٰهُ اَكْبَر﴾ وئيل دی او يو روايت کښې دا دی چې په سلم ځل دا کلمه ﴿لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْئٍ قَدِيْرٌ﴾ نو پنځه وخته مونځ سره دا سل سل اذکار کول دا ذکر کثير دے او د دے ذکر بيا ډيرے فا ئدے دی يوه فائده دا ده چې د دې انسان ګناهونه که د سمندر د زګ په شان وی الله به ئے ورته معاف کړی خو په دے کښې حقوق العباد نه معاف کيږی او په يو موقع نبیﷺ دا اذکار خپلے لور فاطمهؓ ته ښودلی وو چې کله هغے د غلام د خدمت د پاره مطالبه کړے وه نو نبیﷺ ورته وئيلے وو چې تاسو ته د دې نه بهترين عمل نه ښائم هغه دا چې دا ذکر په خپل ځان باندې لازم کړے او د خوب اودۀ کيدو په وخت کښې دا ذکر کوے.

## د جنت خزانه:

او په دې ذکر کثیر کښې یو بل ذکر چې حدیث کښې راځی نبیﷺ فرمائی چې دا ذکر د جنت د دروازو نه یوه دروازه ده او یو بل حدیث کښې ذکر دی چې دا ذکر د جنت د خزانو نه یوه خزانه ده چې هغه کلمه د ﴿لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ﴾ ده کتاب کنزل العمال کښې دا خبره شته دے چې دا د یو کم سلو بیمارو علاج دے او یو صحابی نبیﷺ ته راغلے وو چې د الله پیغمبر زما بچے په جیل کښې قید دے نو نبیﷺ ورته اووئیل چې دا کلمات په خپل ځان باندې لازم کړه نو الله به ئے درته آزاد کړی دا شان نور ډیر ذکرونه انسان لره پکار دی چې دا ذکرونه په خپل ځان باندې لازم کړی ځکه یو حدیث کښې راځی چې یو قوم په یو مجلس کښې راجمع شوے نه وی مګر که هغوی ذکر او نه کړی یا په نبیﷺ باندې درود شریف او نهٔ وائی نو د قیامت په ورځ باندې به په دغه خلقو دغه یو ځائے کیدل بوج وی بیا د الله خوښه ده که اوغواړی.نو عذاب به ورکړی او که اوغواړی نو الله به ورته بخنه اوکړی او په دې حدیث کښې دَ درود شریف ذکر هم شوے دے.

حدیث کښې راځی نبیﷺ فرمائی:

﴿مَنْ صَلّٰى عَلَيَّ وَاحِدَةً صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ عَشْرًا﴾

خوك چې ما باندې یو ځل درود شریف اووائی نو الله به دې انسان باندې لس ځل رحمت نازل کړی. او یو روایت کښې راځی چې الله ورته لس ګناهونه معاف کوی دا درود شریف انسان په خپل پیغمبر باندې ولے وائی یوه وجه قرآن ذکر کړے ده هغه دا چې:

﴿إِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓئِكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا﴾ (سورة الاحزاب)

الله رب العزت او د هغه فرشتے په نبی ﷺ باندې درود شریف او سلام وائی اے خلقو په خپل پیغمبر باندې تاسو هم درود شریف او سلام وائی نو یوه وجه دا ده چې الله وربانديې دورد شریف وائی دویم دا چې نبی ﷺ زمونږ ډیر لوے محسن دے هغه د خپل امّت سره چې څومره مینه محبت او شفقت لری نو انسان لره پکار دی چې بیا په هغه باندې ډیر درود او سلام اولیږی۔

## ډیر استغفار وئیل:

او په دې ذکر کثیر کښې یو استغفار وئیل دی حدیث کښې راځی نبی ﷺ فرمائی چې زۀ د خپل رب نه په یو مجلس کښې اویا ځله استغفار غواړم او یو روایت کښې راځی چې په ورځ کښې سل ځله زه د الله نه بخښنه او استغفار غواړم نبی ﷺ باندې قرآن ګواه دے چې الله هغه ته د ټولو ګناهونو بخښنه او مغفرت کړے دے نو زه او ته چې دَ ګناهونو بوجونه مونږ په خپل سرونو باندې اغستې دی مونږ لره بیا څومره ډیر استغفار د الله نه غوښتل پکا ر دی.

او بیا دا خبره چې ذکر اذکار سره انسان ته الله یاد وی او د هغه سره ئے تعلق وی او انسان لره په هره موقع د الله ذکر پکا ر دے چې په دې سره ورته الله یاد وی او ورته اجر او ثواب هم ملاویږی او دویم هغه ذکر چې په پوره اهتمام سره اوکړے شی چې د انسان څۀ شغل مشغولیت نه وی او ښه په توجو سره یو طرف ته کینی او الله یادوی نو دا ذکر د عام ذکر نه ډیر اوچت او بهتر دے.

## وقتی او غیر وقتی ذکر:

بیا بعضے ذکرونه داسے دی چې هغے لره څۀ تعداد او مقّرر وخت شته دے لکه مونځ پسے درے دیرش، درے دیرش ځله(سُبْحَانَ اللهِ،

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ، اَللّٰهُ اَكْبَر) وئيل يا سل ځله استغفار وئيل او بيا چې انسان ورته خپل ځان مكمل فارغه كړي او يو طرف ته كيني او دا ذكر په خپل ځان باندې لازم كړي نو دا ډير اعلى قسم ذكر دے او بل عام ذكر دے چې د هغے څۀ خاص مقرر عدد نه دے ښودلے شوے نو انسان دې دا ذكر بيا په هر وخت كښې ښه ډير ډير كوي كه په يو كار كښې مشغوله وي او كه نه وي مشغوله، كه تسبيحات ورسره په لاسو كښې وي او كه نه وي . او كه انسان په دغه اول قسم ذكر كښې د خپل ځان سره مراقبه او محاسبه اوكړي نو بيا انسان د باطنى مرضونو نه ورسره خلاصيږى او د ګناهونو پريخودو توفيق الله ورته وركوى مراقبه او محاسبه په شرعى طريقه سره كول دې ته وئيلے كيږى چې انسان يو طرف ته د خپل ځان سره دا حساب كتاب اوكړي چې ما نن د ګناه كارونه څومره كړى دى او د ثواب كارونه ما نن څومره كړى دى يو بل حديث كښې راځى چې په ذكر كولو سره او مرګ يادولو سره د انسان د زړۀ نه د ګناهونو زنګ لرى كيږى او د انسان زړۀ ورسره خوشحاله كيږى.

## هميشه د ذكر اهتمام:

بيا نبى ﷺ د سحر نه واخله چې د خوب نه راپاسيږى تر ماسخوتن پورے ټوله ورځ د ذكر اهتمام كړے دے كه يو انسان ورسره د دنيا كار كوى نو هغه هم ورسره كولے شى او ورسره ذكر عبادت كښې هم دا انسان مشغول وى مثلاً د خوب نه راپاسيدو دعا، د سحر د مونځ نه بعد دعا، د سحر د وقت اذكار د خوارك كولو اذكار، مسجد ته د ننه كيدو ذكر، واش روم ته د ننه كيدو ذكر، كور ته د راتلو په وخت كښې ذكر، د چا مريض تپوس په وخت كښې ذكر، سورلۍ باندې د كيناستلو په وخت كښې ذكر او دغه شان نور ډير اذكار نبى ﷺ نه نقل شوى دى او د دې

فائده دا ده چې خالص د دنیا کار چې هغه د انسان خپل ضرورت وی هغه ورله عبادت او ثواب اوګرځی.

او په مسنون ذکر کښې کمال دا دے چې دا ټولے دعاګانې الهامی دعاګانې دی که یو انسان په دې ټولو دعا ګانو کښې سوچ اوکړی چې که دا دعاګانے نبیﷺ ماته نه وے ښودلے نو ما به داسے نه وی وئیلے او نه به زما سوچ او ذهن د دې مقام ته رسیدے شی نو د دې مسنون دعاګانو په وخت او وجود کښې بل بهترین ذکر نشته دے.

او په دې کښې الله د دنیا او آخرت خیر او فائده کیخودلے ده که یو انسان د دې په ځان باندې پابندی کوی او دا همیشه کوی نو یقینًا دا انسان د دنیا او آخرت خو شحالے حاصلولے شی او الله ته په دې طریقه سره نزدیکت لټولے شی او دا عجیبه خبره ده چې په دې دعاګانو کښې الله د انسان هر قسمه ضرورت کیخودلے دے.

والحمد لله رب العالمین.

# د سحر او ماښام دعا

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿ وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ ﴾ (سورة المؤمن:٦٠)

## د سحر ماښام اذکار:

د نبیﷺ د مسنونو دعا ګانو سلسله شروع وه چې نبیﷺ په کومه موقع کوم قسم دعاګانے او اذکار پخپله عملی کړی وو او د کوم قسم اذکارو تعلیم هغه خپل اُمّت ته ورکړے وو دا خبره یقینی ده چې د پیغمبر پاك هره دعا جامعه او د خیر او د برکت نه ډکه ده په دې مجلس کښې د هغه دعاګانو تذکره مونږه کوؤ چې هغه د سحر او ماښام سره تعلق لری، د سحر صبا په وخت کښې نبیﷺ کومے دعاګانے کړی دی او مازیګر، ماښام په وخت کښې نبیﷺ د الله نه څۀ غوښتلے دی او خپل دنیا او آخرت ابادولو د پاره ئے د الله نه څۀ سوالونه کړی دی.

## د مصیبتونو نه حفاظت:

یوه مشهور ه دعا چې په احادیثو کښې د هغې ذکر شته دے هغه دا دعا ده: ﴿بِسْمِ اللّٰهِ الَّذِیْ لَا یَضُرُّ مَعَ اسْمِهٖ شَیْءٌ فِی الْاَرْضِ وَلَا فِی السَّمَآءِ وَهُوَالسَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ﴾.

ځوك چې دا دعا سحر او ماښام وائی دغه انسان ته به هیڅ قسمه نقصان شر او مصیبت نه رسی او د دې نه علاوه نبیﷺ د سحر او ماښام په وخت کښې دا دعا هم کوله او دا دعا نبیﷺ اُمّت ته هم

ښودلے ده : ﴿اَللّٰهُمَّ بِكَ اَصْبَحْنَا وَبِكَ اَمْسَيْنَا وَبِكَ نَحْيَا وَبِكَ نَمُوْتُ وَاِلَيْكَ النُّشُوْرُ﴾.

د دې مطلب دا دے، الله مونږه ستا په نوم سره د صبا په وخت کښې داخليږو او ستا په نوم مونږه د ماښام وخت کښې دا خليږو او ستا په نوم مونږه ژوندې کيږو يا حقيقى ژوند مراد دے او يا د دې نه مراد د خوب نه بيداريدل مراد دى او ستا په نوم باندې مونږه مړۀ کيږو يا حقيقى مرګ مراد دے يا د دې نه خوب مراد دے دا ټول څيزونه، د دې واکمند او اختيارمند الله ستا ذات دے زمونږه څۀ اختيار او څۀ تصرف نشته او دا دعا يو قسم له شکر ادا کول دى د الله رب الغزت چې په دې سره بنده د سحر او ماښام په وخت کښې د الله شکر ادا کوى.

## جامعه دعا:

او يو بله دعا د نبى ﷺ نه په دې موقع نقل شوى ده هغه دعا هم ډيره جامعه دعا ده هغه دا دعا ده چې نبى ﷺ به د سحر په وخت کښې وئيله: ﴿اَللّٰهُمَّ اِنِّىْ اَسْاَلُكَ خَيْرَ هٰذَا الْيَوْمِ فَتْحَهٗ وَنَصْرَهٗ وَبَرْكَتَهٗ وَهُدَاهُ وَاَعُوْذُبِكَ مِنْ شَرِّ مَا فِيْهِ وَمِنْ شَرِّ مَا بَعْدَهٗ﴾ .

نو دا دعا به انسان د سحر د مانځه نه بعد يا د نمر د راختلو نه بعد وائى او د دې معنى دا ده ، الله د دې نن ورځے خير درنه غواړم او د دې فتح غواړم مطلب د دې ورځے شروع والے غواړم، مدد او برکت غواړم، د دې ورځے هدايت درنه غواړم بيا د دې څيزونو مقابله کښې د دې ورځے د شر نه پناه غواړم او صرف د دې ورځے د شر نه نه بلکه د دې نه بعد ورځے د شر نه پناه هم زۀ غواړمه نو په ورځ کښې چې څۀ ضرورت انسان ته مخے ته راځى نو په دې دعا کښې د هغے سوال موجود دے .ځکه زمونږ علم پوهه معلومات ناقص او کمزورى دى او د پيغمبر

علم او پوهه د کمال واله وه او دَ پیغمبر ذکر پسے د وحی قوت وو اوکه مونږه ځپله ډیرے دعا ګانے اوغواړو نو مونږه د پیغمبر دعا ته نشو رسیدلے او نه د خپل خیر او شر فیصله کولے شو او نه مونږه خپل خیر او شر معلومولے شو. او دا د پیغمبر پاك خصوصیت وو چې الله هغه ته جوامع الکلم ورکړے وو د هغه ټولے خبرے جامعه وې مختصر الفاظ او پوره معناګانے نو همیشه دے انسان دا کوشش کوی چې پیغمبر د ښودلے شوی ذکر او اذکار دے عملی کړی او بل طرف ته دِ د تلو کوشش نه کوی.

## د دې دعا وضاحت:

که یو انسان سوچ اوکړی نو په دې دعا کښې اول لفظ چې نبیﷺ د هغے سوال کړے دے هغه خیر لفظ دے خیر د دنیا او آخرت ښه والی ته وائی نو په دې لفظ کښې د دنیا او آخرت ټول ضرورتونه موجود دی نو چې انسان د یو ورځے په شروع کښې د الله نه ټول د دنیا او آخرت خیر طلب کړی بیا چې دا انسان څۀ قسمه کار کوی نو الله نه ورسره خپل مدد شامل حال کوی او دویم څیز د الله نه فتح غوښتل دی چې الله مونږه ته فتح راکړے دا لفظ د دې د پاره زمونږه په دې ژبو کښې د دې مترادف لفظ نشته ، د دې د پاره بل جامع لفظ مونږ سره نشته او د دې نه د دنیا او آخرت کارونه مراد دی ځکه انسان ته په هر یو کار کښې څۀ نه څۀ تکلیفونه او رکاوټونه راځی او مسائل پیدا کیږی د دې د لرے کولو د پاره او د دغه مسائلو او تکالیفو نه حفاظت د پاره دې انسان دا دعا غواړی بل لفظ په دې دعا کښې نصرت دے او دا امداد ته وئیلے کیږی چې انسان به د ورځے په ابتداء کښې د الله نه د هغه امداد غواړی د انسان په وس کښې اسباب استعمالول دی او بس نور په دې کښې برکت کیخودل دا د الله رب العزت کار دے او بیا ورکښې برکت لفظ دے برکت ډیر والی ته نه وائی د مال دولت کثرت ته برکت نه وائی د

دې جامع لفظ معنی په پښتو اُردو کښې نشته د يو څيز حقيقی فائده حاصلولو ته برکت وائی کله دا فائده لږ. مال نه انسان حاصل کړی نو انسان به د الله نه برکت هم غواړی چې د اسبابو نه كما حَقُّه فائده واخلی دا برکت لکه څنګه چې د دنيا په کار کښې کيدے شی دغه شان د آخرت په کار کښې هم برکت کيدے شی لکه حديث کښې راځی:﴿خَيْرُ الْاَعْمَالِ اَدْوَمُهَا وَاِنْ قَلَّ﴾

بهترين د عملونو نه لږ عمل خو په دې شرط چې انسان ئے هميشه کوی. نو يو عمل هميشه کول د دې توفيق ملاويدل د عمل برکت دے او دا هم د نيك عمل برکت دے چې انسان دې نه بعد بل نيك عمل کوی کله اولاد لږ خو ډير خير او برکت ورکښې وی کله کله د يو انسان عمر لږ وی خو الله ورکښې ډير خير او برکت کيخودلے وی او د يو څيز نه برکت د ګناه د وجے نه ختميږی بے نمازی، زکوة نه ادا کول وغيره په دې سره برکت د انسان په دولت کښې نه وی او نور ډير مسائل ورته پيدا کيږی په دې دعا کښې اخری سوال د هدايت دے دا هم د دنيا او آخرت متعلق دواړو کارونو کښې کيدے شی هدايت لار ښودلو ته وئيلے کيږی چې انسان ته الله د دۀ برابره لاره اوښائی نو که انسان سوچ اوکړی په دې دعا کښې رسول الله هيڅ د دنيا او آخرت يو ضرورت نه دے پريخودلے بلکه د الله نه ئے د هغے سوال کړے دے. نو انسان دې هميشه نبوی اذکارو باندې د عمل کولو کوشش کوی.

## د نمر راختلو واله دعا:

يوه بله دعا حديث کښې راځی چې نبیﷺ به د نمر راختولو په وخت کښې هغه دعا وئيله هغه دا ده :

﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَقَالَنَا يَوْمَنَا هٰذَا وَلَمْ يُهْلِكْنَا بِذُنُوْبِنَا﴾

حمدونه او شکرونه الله لره دی چې مونږه ئے د سحر په وخت کښې بيدار کړو او د ګناهونو د وجے نه ئے مونږه هلاك نه کړو نو که

انسان سوچ اوكړی د سحر نه مابنام پورې انسان څومره ګناهونه كوی بيا هم انسا ن الله نه تباه كوی كه ګنا هونو ته نظر اوكړے شی نو پكار دا وه چې الله مونږه د شپے شپے تباه كړے وے خو د الله فضل او مهربانی دا وه چې هلاك ئے نه كړو او يوه بله دعا نبیﷺ به د سحر په وخت كښې غوښتله هغه دا چې:

﴿اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ اَوَّلَ هٰذَاالنَّهَارِ صَلَاحًا وَاَوْسَطَهٗ فَلَاحًا وَاٰخِرَهٗ نَجَاحًا﴾

الله د دې ورځے اول كښې صلاح (درستګی) راكړے په مينځ كښې كاميابی او آخر كښې نجات راته نصيب كړے نو په دې دعا كښې د ورځے آغاز او ابتداء نبیﷺ د نيكۍ نه كړې ده دې وجې نه يو بل حديث كښې راځی نبیﷺ فرمائی: ﴿يَا ابْنَ اٰدَمَ اِرْكَعْ لِيْ رَكْعَتَيْنِ فِيْ اَوَّلِ النَّهَارِ اَكْفِكَ اٰخِرَهٗ﴾.

اے ابن ادم تهٔ زما د پاره د ورځے په اول كښې دوه ركعته كوه زهٔ به ستا د پاره د دې په اخر كښې كافی شمه نو د دې دعا نه معلوميږی چې د ورځے ابتداء به انسان د نيكۍ نه كوی كه يو انسان د ورځے د سحر فرض مونځ اداء نه كړی او د نمر ختو سره د اشراق مونځ او نهٔ كړی او د سحر د وخت دعاګانے او نه وائی نو دغه انسان لره به الله نوره ورځ څنګه كافی شی چې د هغه د ورځے ابتداء ښه نه وه نو بيا ټوله ورځ كاميابی نهٔ مومی او بله بد قسمتی زمونږه دا ده چې د ورځے بابركت وخت زمونږه نه د خوب په حالت كښې خراب او ضائع شی لكه حد يث كښې راځی نبیﷺ فرمائی: ﴿بَارَكَ اللهُ لِاُمَّتِيْ فِيْ بُكُوْرِهَا﴾

الله زما اُمّت ته د سحر په وخت كښې بركت كيخو دلے دے. او مونږه په دې وخت كښې د غفلت خوب كښې اخته شوی يو، مسائل به څنګه حل شی، بركت به څنګه راشی چې مونږه داسے قيمتی وختونه هميشه ضائع كوؤ.

# زلزله او چاند ګرهن

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿ اَوَلَا يَرَوْنَ اَنَّهُمْ يُفْتَنُوْنَ فِيْ كُلِّ عَامٍ مَّرَّةً اَوْ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ لَا يَتُوْبُوْنَ وَلَا هُمْ يَذَّكَّرُوْنَ﴾ (سورة التوبة :١٢٦)

## د قرآن نصيحت او عبرت:

د قرآن کريم په دې ايتونو کښې الله رب العزت خپلو بندګانو ته يو تنبيه او خبردارے ورکوی او ترغيب ورکوی چې دا انسان په دۀ باندې قسم قسم امتحانات عذابونه تنبيهات تکليفات مشکلات او مصيبتونه وخت په وخت باندې مخې ته راځی او بيا هم دا خلق د دې حالاتو نه څۀ نصيحت عبرت درس او پند نه اخلی دا حالات الله رب العزت په سورة توبه کښې د منافقانو حالت ذکر کړے دے چې دغه خلق په خپلو ځانونو باندې د ايمان او اسلام دعوی کوی خو د دوی په زړۀ او باطن کښې اسلام ايمان او دين نشته او په ډيرو موقعو باندې دوی د الله پيغمبر خفه کړے دے نو په دغه سورت کښې الله د اوياؤ(٧٠) نه زيات قباحتونه او بيماريانے د منافقانو بيان کړی دی وخت په وخت به الله احکامات راليږل او په دې منافقانو باندې به الله د نصيحت قبلولو د پاره امتحانات هم کول د دې د پاره چې د دغه حالاتو نه څۀ نصيحت قبول کړی خو دې خلقو به نصيحت نه قبلولو نو د حالاتو نه نصيحت نه اغستل دا بله يوه ګناه او بيماری ده نو الله د دوی د دغه مرض بيان کوی فرمائی:

﴿ اَوَلَا يَرَوْنَ اَنَّهُمْ يُفْتَنُوْنَ فِيْ كُلِّ عَامٍ مَّرَّةً اَوْ مَرَّتَيْنِ﴾

آيا دا خلق نه ګورى چې زۀ هر کال دوى ته يو ځل يا دوه ځله دا خبردارے ورکومه د دې د پاره چې دا خلق د دې نافرمانے نه لاس واخلى:

﴿ثُمَّ لَا يَتُوْبُوْنَ وَلَا هُمْ يَذَّكَّرُوْنَ﴾

بيا هم دا خلق نۀ توبه اوباسى او نۀ څۀ نصيحت قبلوى دغه حالت که څلورلس سوه کاله مخکښې د منافقت حالت وو نن دا د مسلمان عادت ګرځيدلے دے چې په دۀ باندې قسم قسم امتحانات هميشه راځى خو بيا هم دا مسلمانان د دې حالاتو نه او د دې امتحاناتو نه څۀ نصيحت عبرت او درس نۀ اخلى او نۀ دا قبلوى.

**زمونږه غفلت:**

که يو انسان سوچ او فکر اوکړى نو نن هم دا حالات شته دے قسم قسم عذابونه تکليفونه ملکى حالات هر کال الله په مونږه باندې راولى کله د سيلابونو په شکل، کله د زلزلے په شکل، کله د رزق د کمى په شکل، کله نورے پريشانے پيدا کيږى خو مونږه مسلمانان په دې سخت حالاتو کښې د الله د دربار نه غافله او ناخبره يو او دَ الله طرف ته توجه نۀ کوؤ دا زمونږه د بدبختئ يوه لويه نخښه او علامه ده دا زمونږه د اعمالو او کارونو نتيجه ده چې الله مونږه ته د دې سزا راکوى کله د خپلو نه په مصيبت کښې اخته يو او کله د نورو نه په عذاب کښې راګير شوى يو کله د يو طرف نه او کله د بل طرف نه امتحاناتو سلسله راځى خو د دې نه مونږه څۀ عبرت او نصيحت نه قبلوؤ ﴿ فَلَا يَتُوْبُوْنَ وَلَا هُمْ يَذَّكَّرُوْنَ﴾ نۀ دا خلق د خپلو ګناهونو نه توبه اوباسى او نۀ نصيحت قبلوى او نۀ د دې طرف ته څۀ سوچ او فکر لرى بلکه دا امتحانات د عام حالاتو په شان يو بے پرواه څيز تصور کوى چې د دې څۀ حيثيت نشته دے. که زلزله راشى او نمر سپوږمۍ تندر اونيسى نو زمونږه هيڅ پرواه نه وى حال دا

دے چې دا د الله د عذاب نخښه وي او د الله د قهر علامه وي.

## د عذاب نخښه:

که زلزله راشي نو مونږه دا تصور ورکوؤ چې د زمکے څۀ فلیټونه حرکت کښې راشي او نمر سپوږمۍ تندر او نیسی زمونږه تصور دا وی چه زمکه د نمر او سپوږمۍ ترمینځه حائله شوه ځکه مونږ ته نمر یا سپوږمی تیارۀ ښکاری خو دا سوچ نشته دے آیا دا په خپله کیږی یا هغه ذات چې په دې کښې دا تغیّر او بدلون پیدا کوی دا هر څۀ د هغه ذات د دست قدرت نه لاندے وجود ته راځی مونږ ته دا عذاب نۀ ښکاری ځکه د هغه ذات متعلق مونږه سوچ نه لرو.

د نبیﷺ په زمانه کښې یو ورځ نمر تندر اونیولو نو صحابهرضی الله عنهم کوری چې نبیﷺ په ځان پسے څادر راښکی او مسجد طرف ته روان دے صحابه ترینه تپوس کوی اے د الله پیغمبره! نن تاسو خفه ئے ځکه ستاسو بچے وفات شوے دے ستاسو د خفګان سره دا نمر او سپوږمۍ هم خفه ده نبیﷺ ورته فرمائی: ﴿إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ اللهِ لَا تَنْخَسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهِ﴾ دا نمر او سپوږمۍ د الله د قدرت د علاماتو نه لوے علامے دی دا د چا د مرګ یا د ژوند د پاره نه توریږی بلکه دا د خلقو د ګناهونو اثر وی ﴿وَلٰكِنْ يُّخَوِّفُ اللهُ بِهَا عِبَادَهٗ﴾ الله د دې په ذریعه سره خپل بندګان یروی چې دا اویریږی نبیﷺ اوفرمائیل: ﴿فَإِذَا كَانَ ذَالِكَ فَصَلُّوْا حَتّٰى يَنْكَشِفُ﴾ کله چې دا حالات راشی نو تاسو اومونځ طرف ته متوجهے شئ تر دې پورے چې دا الله لرے کړی.

## په مخکښې قومونو عذابونه:

قرآن کښې الله د یو قوم تذکره کوی چې په هغوی باندې ګرمی وه بارانونه نۀ کیدل کله چې وریځ راغله نو دغه قوم واله د دې نه لاندې

راجمع شو خوشحالي ئے كوله لكه نن صبا چې خلقه د نمر يا تندر په وخت كښې خوشحالي، لاس پړقول، ډول وهل كوى دغه شان دغه خلق دې ته خوشحاله وو او دا خبره ئے كوله:

﴿هٰذَا عَارِضٌ مُّمْطِرُنَا﴾ (سورة الاحقاب:٢٦)

دا وريځ چې په مونږه باندې به باران كوى هغه د باران او رحمت واله وريځ ورته الله عذاب جوړ كړه.

په قرآن كښې الله د څلورو قومونو تذكره كوى عاديان ، ثموديان قوم د لوط عليه السلام او قوم د نوح عليه السلام د دغه خلقو الله تذكره كوى چې په دوى باندې الله عذابونه مسلط كړي وو او هر قوم لره الله جدا جدا عذاب وركړے وو بيا ذكر كوى چې دا عذابونه د دې قوم د اعمالو سزا وه چې الله ورته وركړه: ﴿ذٰلِكَ جَزَيْنَاهُمْ بِمَا كَسَبُوْا﴾ (سورة سبا:١٧) دا عذابونه د دې خلقو د عملونو بدله وه د دې ظاهرى سبب يا د زمكے پليټونه حركت كښې راتلل دى يا زمكه د نمر او سپوږمۍ په مينځ كښې واقع كيدل دى خو د دې په باطنى سبب باندې صرف يو الله پوهيږى چې هغه د خلقو ګناهونه دى بل څۀ سبب نشته د هغے د پاره.

## بد عملى او سزا:

د دې په باره كښې ډير احاديث دى يو حديث كښې راځى چې كله يو بنده په زمكه باندې زنا كوى نو الله دې زمكې ته يو جړك وركړى زلزله وربانديې راولى او د دې سبب صرف زنا كول وى او يو اوږد حديث كښې نبى صلى الله عليه وسلم اول د قيامت ډير علامات ذكر كړل بيا په اخر كښې د هغے انجام په دغه بد انجامونو كښې يو دا چې زلزله به وخت په وخت باندې راځى. په يو حديث كښې راځى نبى صلى الله عليه وسلم فرمائى ﴿سَيَكُوْنُ فِيْ اٰخِرِ هٰذَا الزَّمَانِ مَسْخٌ وَخَسْفٌ وَقَذْفٌ﴾ د دې اُمت په اخرى زمانه كښې به

مسخ کیدل او په زمکه ژوندي دننه کیدل به وی او په کانړو باندې به ویشتلے کیږی. صحابه رضی اللہ عنہم ورته اوفرمائیل دا به کله وی د الله پیغمبره! نبی صلی اللہ علیہ وسلم ورته فرمائی دا به په هغه وخت کښې وی کله چې ګناهونه عام شی او په ښکاره باندې غټ ګناهونه کیږی او ته به ګورے خلقو ته چې د مونځ په باره کښې به کوتاهی کوی ﴿وَاسْتَحِلُّوا لْكَذِبَ وَاسْتَحِبُّو الدِّمَاءَ﴾ چې خلق به دورغ د ځان د پاره جائز کړی او د یو بل وینے به همیشه ځکل غواړی او دا به ورته محبوب شی او د عامو خلقو مالونه به ضائع شی ﴿وَالْاَمَانَةَ مَغْنَمًا وَالزَّكٰوةَ مَغْرَمًا﴾ امانت به د خپل ځان د پاره غنیمت او زکوة به د خپل ځان د پاره تاوان اوګڼړلے شی ﴿وَاتَّخَذَتَ الْمَعَازِفَ﴾ او خلقه به د خپل ځان د پاره د ګانو بجانو اسباب خپل کړی دا به د خپل زندګۍ یو ضرورت، د وخت پاس کولو ذریعه اوګرځوی تردې پورے چې مسجدونه به هم د دې نه محفوظ نهٔ وی ﴿وَاتَّخَذَتَ الْخُمُوْرَ فِى الطُّرُقِ﴾ په لارو کوڅو کښې به خلقه شرابونه څکی ﴿اَلظُّلْمُ فَخْرًا﴾ او کله چې ظلم باندې فخر کولےشی ﴿وَلَعَنَ اٰخِرُ هٰذِهِ الْاُمَّةِ اَوَّلَهَا﴾ او د دې امّت اخری خلق د دې امت په اولنی خلقو باندې لعنت او ردے بدے وئیل شروع کړی کله چې تاسو دا ګناهونه او نافرمانے اوګورے نو د قسم قسم عذابونو انتظار کوے چې په هغے کښې یو سور باد دے او خلق به زمکه کښې روغ جوړ دننه کیږی او د هغوی شکلونه به خرابیږی د اسمان نه به د کانړو باران شروع شی ﴿وَاٰيَاتٍ مُّتَتَابِعَاتٍ﴾ مختلف قسم قسم عذابونه به شروع شی.

## عذاب او د عمل التزام:

کله چې د الله مختلف قسم عذابونه شروع شی نو یو حدیث کښې راځی ﴿فَاِذَا رَاَيْتُمْ ذَالِكَ فَصَلُّوْا وَكَبِّرُوْا وَتَصَدَّقُوْا﴾ کله چې تا سو دا

علامات اوګورے نو بیا مونځونه کوے، تکبیر الله اکبر وائے او قسم قسم صدقے کوے د الله نه د عافیت دعا غواړے زمونږه په داسے حالت کښې هیڅ پرواه نه وی بلکه د دې نه خلاف مونږه مستے او ګډاګانے او لاسونه پرقوؤ، او دا پته نشته چې دا ولے کیږی او دې وخت کښې څۀ کول د مسلمان د پاره پکار دی افسوس دا دے چې نن مسلمان د دې نه خبر نه دے او الله ورنه هیر شوے دے.والحمد لله رب العالمین.

# استغفار

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿اِسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْا اِلَيْهِ يُمَتِّعْكُمْ مَتَاعًا حَسَنًا اِلٰى اَجَلٍ مُّسَمًّى وَيُؤْتِ كُلَّ ذِيْ فَضْلٍ فَضْلَهٗ﴾(سورۃ ھود:۳)

﴿وَقَالَ تَعَالٰى: اِسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْا اِلَيْهِ اِنَّ رَبِّيْ رَحِيْمٌ وَّدُوْدٌ﴾

(سورۃ ھود:۹۰)

## جسمانی او روحانی بیماریانې:

د قرآن پاك د سورت هود څۀ آياتونه تلاوت شو په دے ایتونو کښې د استغفار او توبے اهمیت او ترغیب بیانیږی انسان چې کله نه الله په دنیا کښې آباد کړے دے نو الله د دۀ سره یو دوه خبرے تړلے دی یو صحت او دویمه بیماری او دا چې څنګه د انسان په جسم باندې راځی دغه شان د انسان په جوهر روح باندې هم دا راتلے شی څنګه چې جسم کله صحت مند تندرسته وی دغه شان روح هم کله صحت مند وی او کله کله جسم بیمار کمزورے شوے وی دغه شان روح هم د ګناهونو مخے ته بیمار او بے بسه وی. د جسم د بیمارے علاج مونږ په دنیا کښې په قسم قسم طریقو سره کوؤ خو ولے د روح د بیمارے د پاره مونږه د علاج معالجے څۀ بندوبست نه کوؤ، سره د دې نه چې د روح بیماری په نسبت د جسم ډیره خطرناکه ده خو ولے مونږه د روح نه غافله یو ځکه پرواه نۀ کوؤ د دغه روحانی بیماریانو تذکره او علاج دواړه قرآن ځائے په ځائے ذکر کړے دے. ابوذر رضی اللہ عنہ فرمائی:

﴿إِنَّ لِكُلِّ دَاءٍ دَوَاءً﴾ هر مرض د پاره دوائی شته دے ﴿وَإِنَّ دَوَاءَ الذُّنُوبِ ٱلْإِسْتِغْفَارُ﴾ د ګناهونو د بیماریانو علاج استغفار وئیل دی. دغه رنګ خبره لوے تابعی قتادهؒ هم کړے ده مسلمانانو ته خطاب کوی چې الله تاسو ته کوم کتاب درکړے دے دا دومره عظیم الشان کتاب دے ﴿ إِنَّ هٰذَا الْكِتَابَ يَهْدِيكُمْ عَلٰى دَاءِكُمْ وَدَوَاءِكُمْ ﴾ دا قرآن تاسو ته ستا مرض او د هغے علاج او دوائی دواړه ښکاره کوی. بیا وائی ﴿فَأَمَّا دَاءُكُمْ فَالذُّنُوبُ﴾ ستاسو بیمارے ګناهونه دی ﴿وَأَمَّا دَوَاءُكُمْ فَالْإِسْتِغْفَارُ﴾ د دې ګناهونو علاج هغه استغفار وئیل او قرآن کریم په استغفار باندې ځائے په ځائے زور راوړے دے په دے ایتونو کښې هم الله خپلو بندګانو ته دا پیغام ورکوی ﴿اِسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ﴾ اے خلقو تاسو خپل رب ته توبه او استغفار اوکړے ﴿ثُمَّ تُوْبُوْا اِلَيْهِ﴾ بیا الله ته توبه اوباسے د دے فائده به دا وی ﴿ يُمَتِّعْكُمْ مَتَاعًا حَسَنًا﴾ الله به تاسو ته په دے دنیا کښې څۀ وخته پورے ښائسته ژوند درکړی او د هغے نه مخکښې به تاسو په عذاب کښې مبتلاء او اخته نه کړی او دویمه فائده به دا وی ﴿وَيُؤْتِ كُلَّ ذِيْ فَضْلٍ فَضْلَهٗ﴾ هر یو خاوند د توحید ته به د هغه د عمل فائده او بدله ملاؤ شی.

## د استغفار فائدے:

او په بل ایت کښې الله د توبے او استغفار څۀ نورے فائدے ذکر کوی الله فرمائی: ﴿اِسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ﴾ (سورة نوح:۱۰) اے خلقو خپل رب ته توبه او استغفار اوکړے﴿يُرْسِلِ السَّمَآءَ عَلَيْكُمْ مِّدْرَارًا﴾(سورة نوح:۱۱) الله به په تاسو باندې فائده مند فائده ورکونکې بارانونه د اسمان نه را اووری. او یو بل ځائے کښې ورسره دا هم ذکر دی چې ﴿وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَّبَنِيْنَ﴾ الله به ستاسو مدد په مالونو او بچو سره اوکړی ﴿وَيَجْعَلْ لَّكُمْ جَنّٰتٍ وَّاَنْهٰرًا﴾ (سورة نوح:۱۲) او ستاسو د پاره به باغونه او میوے

اوګرځوی. دا د استغفار کولو برکت او فائدے دی چې الله په دې کښې کیخودے دی او په یو بل ځائے کښې د دې فائده دا ذکر کوی چې ﴿اِسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْا اِلَيْهِ اِنَّ رَبِّيْ رَحِيْمٌ وَّدُوْدٌ﴾ اے خلقو الله ته استغفار او توبه اوکړے ځکه الله ډیره مینه کوؤنکے او رحم کوؤنکے دے. تاسو سره به مینه اوکړی او رحم به دربانديې اوکړی. نو د دے ایتونو نه معلومه شوه چې الله په استغفار سره انسان په دنیا کښې د عذاب نه بچ کوی او د خوشحالے او د اطمینان ژوند ورته ورکوی. دویم چې په دے سره الله د اسمان نه برکات ، د ضرورت مطابق بارانونه او د زمکے فوائد، ثمرات او برکات چې میوے فصلونه باغونه دی دا دواړه قسمه برکتونه الله انسان ته په استغفار سره ورکوی د رزق فراخی ورسره وی، قحط سالی او د رزق تنګسیا نۀ راځی، څوك چې استغفار وائی. دریم په استغفار سره د الله مینه او محبت انسان ته ملاویږی او د الله رحمت ورته متوجے کیږی نو انسان لره د استغفار ډیر زیات اهتمام کول پکار دی.

## د نبی ﷺ معمول:

دې وجې نه یو صحابی د نبی ﷺ معمول ذکر کوی:

﴿مَا اَصَرَّ النَّبِي ﷺ كَانَ اَسْتَغْفِرُ﴾ همیشه وو نبی ﷺ چې هغه د الله نه استغفار غوښتلو او کله کله به د الله د نبی ﷺ دا استغفار او توبه اویا ځل ته اورسیده او یو بل روایت کښې نبی ﷺ اُمت ته فرمائی چې تاسو د الله نه استغفار غواړے ځکه زه د الله نه په یوه ورځ کښې سل ځله توبه او استغفار غواړمه. اوس هغه معصوم پیغمبر چې بخښنه ورته شوے ده سل ځله د ورځے استغفار غواړی مونږ لره په داسے حالاتو کښې زر ځله د روځے استغفار غوښتل هم کم دی او ناکافی دی. که زیات نه وی نو کم از کم انسان دې دا سل یا اویا ځله د ورځے پوره کوی ځکه چې د دې ذکر په حدیث کښې شوے دے.

## استغفار د الله حکم:

او توبه او استغفار بذات خود یو لازم عمل دے په مسلمان باندې چې دا به اختیاروی په دې باندې دا مسلمان مامور دے لکه الله بار بار ذکر کوی ﴿اِسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ﴾ د الله نه استغفار اوغواړے د الله نه بخښنه اوغواړے لکه څنګه چې په مونږ باندې نور فرائض او واجبات دی دغه شان توبه او استغفار یو مستقل فرض واجب عمل دے په مونږ بندګانو باندې.

## دَ شیخ الاسلام قول:

شیخ الاسلام علامه ابن تیمیه رحمۃ اللہ علیہ وائی چې په استغفار وئیلو کښې ډیرے فائدے او کمالات الله کیخودې دی یو دا چې:

﴿ يُخْرِجُ الْعَبْدَ مِنَ الْفِعْلِ الْمَكْرُوْهِ إِلَى الْفِعْلِ الْمَحْبُوْبِ﴾

استغفار انسان لره د الله د ناخوښۍ او ناراضګۍ دَ کارونو نه خپل د خوښې او رضامندے کارونو طرف ته بوځی که یو انسان په داسې کارونو کښې اخته دے چې هغه الله ته خوښ نهٔ دی نو د دې استغفار د وئیلو د وجې نه به دا انسان الله په داسے کارونو کښې اخته کړی چې هغه الله ته خوښ او محبوب دی.

﴿مِنَ الْفِعْلِ النَّاقِصِ إِلَى الْفِعْلِ التَّامِ مِنَ الْأَدْنٰى إِلَى الْأَكْمَلِ﴾

انسان د ناقص کار د طرف نه کامل طرف ته او د ادنی کم مرتبے والا کار نه اکمل پوره مرتبے والا ته انسان راؤباسی.

یو بل کمال د استغفار وئیلو دا دے چې په دے سره الله د انسان ګناهونه معاف کوی قرآن کښې الله فرمائی:

﴿وَمَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءًا اَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهٗ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ اللّٰهَ يَجِدِ اللّٰهَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا﴾ (سورة النساء:۱۱۰)

ځوك چې څۀ بد كار كوى يا په خپل ځان باندې ظلم كوى بيا د الله نه بخښنه او استغفار طلب كوى نو الله رب العزت به بخښونكے او مهربانه اُوموى. معلومه دا چې په استغفار سره الله د انسان ګناهونه معاف كوى او دا په يو حديث قدسى كښې هم راځى الله فرمائى:

﴿يَا عِبَادِيْ اِنَّكُمْ تُخْطِئُوْنَ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ﴾ اے زما بندګانو تاسو د شپې او د ورځے ګناهونه كوے. ﴿وَاَنَا اَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا﴾ اوزۀ انسان ته د هغه ټول ګناهونه معاف كومه. خو دا په هغه وخت كښې چې تاسو توبه او استغفار كوے ﴿فَاسْتَغْفِرُوْنِيْ اَغْفِرْ لَكُمْ﴾ نو تاسو زما نه استغفار او بخښنه غواړے زۀ به تاسو ته ستاسو ګناهونه معاف كومه.

## مصيبت لرې كيدل:

بل كمال د استغفار وئيلو دا دے چې په دے سره د الله عذاب دفع كيږى او مصيبت ورسره ختميږى الله فرمائى:

﴿وَمَا اَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيْبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ اَيْدِيْكُمْ﴾(شورى: ۳۰)

دا تاسو ته چې كوم مصيبتونه رسى نو د دې اصل وجه ستاسو اعمال دى دا ستاسو جرمونه او ګناهونه دى د دې وجے نه په تاسو باندې بلاګانے، مصيبتونه، افتونه راځى او چې كله انسان توبه او استغفار كوى نو الله د دۀ ټول مصيبتونه لرے كوى.

## د رزق خير او بركت:

بل دا چې د انسان په رزق كښې خير او بركت الله په توبے او استغفار سره پيدا كوى او د دې اهميت پيش نظر علماؤ داسے اوقات ښودلى دى چې په هغے كښې به انسان توبه او استغفار وائى لكه د سحر وقت د سحر وخت نه مراد د تهجدو او نوافلو وقت دے قرآن كريم كښې الله د خالص مؤمنانو ښه صفت بيانوى چې د دوى نيك او ښه صفت دادے ﴿وَالْمُسْتَغْفِرِيْنَ بِالْاَسْحَارِ﴾(ال عمران:۱۷) هغوى د الله نه استغفار

کونکې وي په وخت د سحر کښې نو يو دا وخت دے.

## د استغفار مواقع:

بله موقع د شپے چې انسان خپل اړخ، طرف بدلوی نو په دغه وخت کښې استغفار وئيل لکه د دې بيان په حديث کښې شوے دے. بله موقع د استغفار وئيلو د نيك كار او عبادت نه بعد استغفار وئيل دی لکه زمونږه دا برائے نام نيك اعمال او عبادتونه د الله رب العزت لوے شان ته نه رسی نو په دے باندې به مونږ توبه او استغفار وايو چې د الله د شان مطابق بندګی زمونږه نه اونۀ کړے شوه او نۀ مونږ هغه شان عبادت د الله کړے دے کوم شان عبادت چې پکار وو زمونږه نه په دې عبادت کښې ډيرے کوتاهے او نقصانات شوی دی نو په دې باندې توبه او استغفار اوکړے شی حديث کښې راځی چې نبیﷺ به د عظيم عبادت مونځ نه بعد استغفار وئيلو نو د دې نه بعد استغفار وئيل د دې وجې نا نۀ دی چې چرته دا نعوذ بالله د ګناه کار دے نا د دې د پاره چې که عبادت کښې يا د الله په شان کښې بالفرض څۀ کوتاهی شوی وی نو د هغې بخښنه او استغفار د الله نه طلب کول دی دا شان د ګناه نه بعد انسان لره استغفار وئيل پکار دی حديث کښې راځی نبیﷺ فرمائی: ﴿اَلتَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لَّا ذَنْبَ لَهٗ﴾ توبه ويستونکے د ګناه او د خطا نه داسے دے لکه چې دې انسان ګناه نه وی کړی. دنيا کښې هر انسان نه ګناه کيدے شی بغير د معصوم فرشتو او پيغمبرانو نه نو که څوك په څۀ ګناه کښې اخته شی د هغے د معاف کيدو د پاره توبه نصوحه او استغفار وئيل دی يو بل حديث کښې راځی نبیﷺ فرمائی چې خطا کار او ګناه ګار خلقه ډير دی په دې کښې بهترين خطا کار هغه دے چې الله ته دوباره بيا توبه اوباسې ﴿وَخَيْرُ الْخَطَّائِيْنَ التَّوَّابِيْنَ﴾

## مکمل ګناه ختمیدل:

او اشرف علی تهانوی رحمه الله د دې د پاره ډیره ښه وجه بیان کړے ده چې نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی توبه ویستونکے انسان د ګناه نه داسے دے لکه دهٔ ګناه نه وی کړې داسې نه وائی چې د دې انسان ګناه به بالکل ختمه او کټ شی لکه په دنیاوی تعلیمی اداره کښې که یو انسان غیر حاضری اوکړی بیا ورته هغه معاف شی نو کربښه ورنه تاؤ شی او هغه ریکارډ محفوظ وی دغه شان معامله الله د توبه ویستونکی سره نهٔ کوی دهٔ نه د توبے کولو سره سزا هم معاف شی او هغه زوړ داغ هم ورنه لرے کړے شی د هغے پیغور او علامات بیا داسې ختم شی لکه دې انسان ګناه کول خو لا څهٔ کوے ګناه لیدل یا اوریدل هیڅ څهٔ دې انسان نهٔ وی کړې د توبے او استغفار د ګناه په ختمولو کښې دومره زور او طاقت شته دے.

## ولی الله جوړیدل:

او د الله ولی او دوست جوړیدل دا څهٔ ګران کار نه دے ځکه کوم انسان چې د هغه نه ګناهونه شوې دی نو په توبے او استغفار سره هغه پوره د ګناهونو نه پاك صفا شی او ائنده عزم اوکړی د ګناه نه کولو بس دا انسان د الله دوست او ولی بیا جوړیږی بل د انسان نه همیشه ګناه کیدے شی نبی صلی الله علیه وسلم ته یو کس راغې د الله پیغمبر زهٔ د ګناه نه توبه او استغفار کومه خو دا ګناه بیا بیا زما نه کیږی نبی صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل بیا بیا توبه او استغفار کوه کهٔ تهٔ اویا ځله ګناه کوے او استغفار او توبه ورسره کوے الله به تا ته بخښنه اوکړی د دې دا مطلب نهٔ دے چې انسان دې په ګناه کولو باندې زړهٔ ور شی نا حتی الامکان د خپل وس پورے به انسان خپل ځان د ګناه نه بچ کوی خو که بیا بیا ورنه ګناه کیږی نو په توبے سره الله دغه ګناه دے انسان ته معاف کوی ځکه د توبے استغفار دروازه بنده

شوے نه ده حديث کښې راځی نبیﷺ فرمائی چې د توبے استغفار دروازه به تر دې پورے کولاؤ وی تر څو پورے چې نمر د مغرب طرف نا نۀ وی راختلے د مغرب نه نمر راختل د قيامت غټه او لوے علامه ده بيا د دې نه بعد به د انسان توبه نه قبليږی او يو بل حديث کښې راځی نبیﷺ فرمائی چې توبه الله د انسان نه تر دې پورے قبلوی تر څو پورے چې ﴿مَالَمْ يُغَرْغِرْ﴾ چې تر څو پورے په انسان د غرغرے حالت نۀ وی راغلے. غرغرے حالت څکه هغه د مرګ او زنکدن حالت دے د دې نه بعد توبه نۀ قبليږی.

## د استغفار الفاظ:

د استغفار وئيلو مختلفې صيغې قرآن او حديث کښې ذکر شوی دی په دے کښې يو ﴿اَسْتَغْفِرُاللهَ﴾ وئيل دی لکه د مونځ نه بعد وئيل دی او لږ اوږد استغفار دا دے ﴿اَسْتَغْفِرُاللهَ رَبِّیْ مِنْ کُلِّ ذَنْبٍ وَّاَتُوْبُ اِلَيْهِ﴾ او بل الفاظ دا هم دی ﴿اَسْتَغْفِرُ اللهَ الَّذِیْ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَیُّ الْقَيُّوْمَ وَاَتُوْبُ اِلَيْهِ﴾ د مجلس د ختميدو نه بعد د دغه مجلس د ګناهونو د کفارے د پاره دا الفاظ وئيل: ﴿سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ اَسْتَغْفِرُكَ وَاَتُوْبُ اِلَيْكَ﴾ داسے نور کلمات د توبے او استغفار د پاره شته دے خو دا مشهور کلمات دی. د اشرف علی تهانوی رحمۃ اللہ علیہ نه يو خپل شاګرد د استغفار او توبے باره کښې تپوس اوکړو نو هغه ته وائی چې هر څۀ کوے کوه خو د استغفار توبے د پاره يو خپل خاص وقت مقرر کړه چې په دغه وخت کښې به ته توبه او استغفار کوے بل څۀ معمولاتو کښې به نۀ مشغوله کيږې.

والحمد لله رب العالمين

# كثرت ذكر

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اذْكُرُوا اللّٰهَ ذِكْرًا كَثِيْرًا﴾ (سورة الاحزاب:۴۱)

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: لَا يَزَالُ لِسَانُكَ رَطْبًا مِنْ ذِكْرِ اللّٰهِ﴾ (رواه احمد)

## اهم عبادت:

د قرآن پاك يو ايت او د نبي ﷺ يو ارشاد مبارك ذكر شو په دې كښې الله رب العزت او د هغهٔ پيغمبر ﷺ مونږه او تاسو ته د يو اهم حكم په باره كښې ترغيب راكوى ، **ذكر الله** يعنې د الله ذكر او يادول، دې ته په عبادتونو كښې يو اهم او بنيادى مقام او حيثيت حاصل دے، بلكه دا ذكر د مسلمان د ژوند يو قسم اصلى مقصد هم دے كله چې مسلمان كلمه د لا اله الاالله وائى نو دې په دې سره اسلام كښې داخل شى بيا په دې دين اسلام باندې عمل څهٔ آسان كارنه دے دا د روټۍ خوراك په شان آسان كار نه دے بلكه په دې باندې چې كله يو بنده عمل كوى نو ډير لوى مشقت تكليف به برداشت كوى محنتونه، لوګے تندې به برداشت كوى هغې نه بعد به ورته په دين اسلام باندې عمل كول اسان وى او كه داسې نه وى نو دې انسان ته بيا وړوكے نه وړوكے معمولى نه معمولى كار د غټ غر په شان ګران كار ښكارى او بيا ورباندې دا انسان عمل هم نه شى كولے لكه مثلًا د الله نوم اغستل ذكر الله كول اسان كار دے خو كله چې په دې انسان كښې د مشقت او تكليف برداشت كولو ماده نشته او كله چې دا انسان د دې اموخته او ورسره مانوسه شوے نه دے نو دا اسان كار دے انسان ته بيا مشكل كار ښكارى او په دې باندې د

عمل کولو نه دا انسان محرومه وی او که دا انسان د مشقت سره عادت شی نو دی انسان ته خپل ځان د الله په لاره کښې د الله د پاره قربانی کول هم مشکل نه وی او دا ورته اسان وی د دې مثال داسے دے لکه یو انسان د دنیا په کار کښې لګیا دې هر قسمه تکلیف برداشت کوی نو که په دې انسان بیا شپه وی او که ورځ، ګرمی وي او که یخنی خو دې هر قسمه مشکل کار ته د دنیا د پاره غاړه ږدی او دا ورته مشکل نه وی اوکه دا انسان د تیار خوراك څکاك عادت وی نو که څوك ورته نقدې پیسے په لاس کښې ورکړی چې لاړشه او د بازار نه د ځان د پاره روټے راوړه نو دا هم ورته بیا مشکل په نظر باندې راځی نو څنګه چې د دنیا د کار دا حالت دے دغه شان د دین اسلام معامله هم ده.

## د حضرت علی رضی الله عنه حالت:

د سیدنا علی رضی الله عنه په باره کښې راځی چې هغه به وئیل چې الله ماته خپل عبادت ډیر زیات اسان کړے دے او دا خبره به هم هغه کوله چې د سختې ګرمے په او ږدو ورځو کښې عبادت کول او روژه نیول ماته ډیر زیات خوښ او خوند راکوی او په دې کښې ماته ډیر زیات لذت الله ګرځولے دے. زمونږه حال دا دے چې که په ګرمې کښې روژه راځی نو د یو میاشت نه مخکښې مونږه شکوې شروع کړی وی چې یره ډیره سخته ګرمی ده ، سخ کال به د روژے سره څۀ کوؤ دا خو به مونږه ته ډیر زیات تکلیف او مشقت وی نو دا اصول قوانین او ضوابط په زړۀ او دماغو کښې کیخودل پکار دی او دا به انسان یاد ساتی چې که انسان د دنیا ګټه کوی او که د اخرت ګټه کوی نو دا انسان به هر قسمه تکلیف مشقت برداشت کوی نو بیا به ورته د دنیا او یا د آخرت ثمره او میوه ملاویږی.

## د الله په محبت سره مشقت برداشت كول اسانيږي:

خبره دا وه چې كه انسان ځان ته مسلمان او ديندراه وائی نو خامخا به د الله په دين باندې روان وی او په دې به عمل كوی او د الله په دين چليدلو او عمل كښې راوستلو د پاره به انسان هر قسمه مشقت برداشت كوی او دا په دې صورت كښې كيدے شی چې د دې انسان د الله سره محبت وی نو الله به ورته دا ټولے لارې كولاؤ كړی او عمل كول به ورته هم اسان شی ځكه په دې محبت كښې الله يو داسے قوت او طاقت كيخودلے دے چې دا انسان به د دې وجے نه هر څۀ كولو ته مجبوره وی كه په دنيا كښې د يو انسان د خپلې ښځے سره ظاهری محبت وی نو دغه انسان د دې محبت د وجے نه مسافری كوی يخنی،ګرمی بلكه ورځ شپه نه پيژنی خو د هغې ښځې د ساتلو د پاره په خپل كار كسب كښې اخته وی نو دغه وجه ده چې علماء وائی چې انسان لره په دين باندې چليدل د الله په محبت سره اسانيږی خو دا محبت بيا اختياری څيز نه دے بلكه دا بے اختياره څيز دے د نبی ﷺ ډيرې بيبيانې وے هرې يوې لره به ئے پوره حق وركولو خو محبت د نبی ﷺ د ام المومنين عائشه رضی الله عنها سره زيات وو نبی ﷺ به كله پريشان حاله شو چې دوی ته زۀ نور حقونه خو پوره وركومه خو د زړۀ دا محبت نه تقسيميږی ځكه دا زما په اختيار كښې نه دے نو نبی ﷺ به دعا كوله:﴿اَللّٰهُمَّ هٰذَا قَسَمِيْ فِيْمَا اَمْلِكُ وَلَا تَلُمْنِيْ فِيْمَا لَا اَمْلِكُ﴾

الله څۀ چې زما په اختيار كښې دی د هغے تقسيم زۀ پوره پوره كومه خوراك څكاك، نان نفقه كپړه وغيره الله دا زما په اختيار كښې دی او دا زۀ ادا كومه خو څۀ چې زما په اختيار كښې نه دی په هغے باندې ما مۀ نيسه نو په قرآن پاك سورة النساء كښې الله رب العزت د نبی ﷺ د تسلی د پاره ايت نازل كړو چې په دې باندې انسان مكلف نه

دے خو انسان به ټوله توجه يو طرف ته نه کوی ، بيا دا محبت کم زيات، لږ ډير کيدل دا هم د انسان په اختيار کښې نه دی.

## الله تعالی سره د محبت پيدا کيدو اسباب:

اشرف علی تهانوی رحمة الله عليه وائی چې محبت اختياری څيز نه دے خو د دې د پاره څۀ اسباب دی او هغه اختياری دی که يو انسان دغه اسباب اختيار کړی نو انشاءالله د دې انسان په زړۀ کښې به الله خپل محبت پيدا کړی ځکه کله چې انسان طلب کوی. انابت او رجوع الی الله په خپل ځان کښې پيدا کوی نو الله ورته د خپل معرفت دروازې کولاؤ کړی.

## کثرت ذکر:

اول سبب د الله د محبت د پاره او الله سره دَ تعلق پيدا کولو د پاره کثرت ذکر دے د الله ياد ډير کول ځکه په کثرت ذکر سره د الله محبت د انسان په زړۀ کښې پيدا شی نو په دين ورته تلل اسان شی دا نن که مونږ ته د دين منلو باوجود بيا هم د عمل کولو توفيق نه ملاويږی نو وجه دا ده چې زمونږه په زندګئ او ژوند کښې د الله ذکر د الله ياد نشته مونږ دے يو معمولی اسان شان عبادت پنځه منټه په اودس او پنځه منټه په مونځ په دې لوے ورځ کښې مونږه ته دا لس منټه معمولی کار ځکه مشکل دے چې د الله ياد نشته يو انسان هسے فضول ناست وی په څۀ کار کښې هم مشغوله نه وی ګپ شپ لګوی يا د چا غيبت کوی يا هسے سوچونه کوی يا په نيټ او فيس بك کښې فضول خپل ځان مشغوله کړی خو دا توفيق ورته نه ملاويږی چې تسبيحات راواخلی او د الله ذکر ورباندې اوکړی د ثواب او کاميابۍ غم وفکر ورسره نشته د خپل وخت قيمتی کولو فکر ورسره نشته د اخرت د پاره سوچ کولونه دا انسان خالی دے.

کله په مسجد کښې ناست وی د دنیا په ګپ شپ یا بې ځایه خبرو کښې مشغوله وی خو ذهن کښې ورسره دا فکر نه وی چې د الله د خوږ کلام یو ایت دوه ایته یو رکوع دوه رکوع تلاوت اوکړی دا ځکه چې د الله سره تعلق او محبت نشته مینه او محبت ځکه نشته چې د الله ذکر او یاد نشته د دې انسان په ژوند کښې.

ځکه خو الله په دې ایت کښې مونږه ته د دې حکم کړے دے:

﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا﴾

اے د ایمان والو د الله ذکر ډیر ډیر کوئ لږ نه بلکه الله د ډیر ذکر په باره کښې حکم کړے دے او د نبی ﷺ نه هم یو صحابی تپوس کوی چې په عملونو کښې افضل ترین غوره او بهتر عمل څۀ دے نبی علیه السلام ورته وائی بهتر او غوره عمل دا دے

﴿لَا يَزَالُ لِسَانُكَ رَطْبًا مِنْ ذِكْرِ اللَّهِ﴾

ستا دا ژبه دې د الله په ذکر باندې همیشه تروتازه وی ځکه دا د انسان د سعادت مندئ او نیك بختئ یوه غټه نخښه اولوے علامه ده چې د دې انسان په ژبه الله خپل ذکر او د دې انسان په زړۀ او دماغو کښې الله خپل یاد کیږدی.

دغه انسان ته مبارکی دۀ چې د دۀ په ژبه باندې همیشه د الله یاد وی اوکه لږ څۀ ساعت د پاره غافله شی نو زړۀ ورته بیا الله یاد کړی بیا دا انسان په ذکر مشغوله شې دا دلیل دے د دې خبرے چې د دې انسان د الله سره تعلق ربط او مناسبت شته دے.

## ذکر کښې دا نسان خپله فائده ده:

ذکر کښې الله ته څۀ فائده نشته زمونږه په ذکر سره د الله بادشاهی او ملکیت نه زیاتیږی او زمونږه په نه ذکر سره د الله حکومت

نه کمیږی او نه ورته څهٔ نقصان کیږی په دې کښې د الله ذاتی څهٔ مفاد نشته ځکه الله صمد ذات دے الله الصمد الله بے نیازه دے د چا مدد او عبادت ته د هغه هیڅ ضرورت نشته انسان خو د دې کائنات یو معمولی مخلوق دے که دا تمام کائنات ورځ شپه ټول عمر همیشه د الله په عبادت او ریاضت کښې مشغوله وی نو د الله په بادشاهۍ او استقلال او اختیاراتو کښې زره برابر زیادت په دې سره نه کیږی اوکه دا تمام مخلوقات ، کائنات د الله په بغاوت کولو باندې راجمع شی او خپلو کښې دا عهدو پیمان اوکړی چې مونږه به همیشه د شیطان په شان د الله نافرمانی کوؤ نو د الله په بادشاهۍ کښې څهٔ نقصان اوکمے په دې سره نه راځی نو په دې ذکر کښې د الله څهٔ فائده نشته.

## د ګناه نه حفاظت:

په ذکر کښې د انسان خپل مفادات او خپله فائده ده هغه دا چې کله انسان په ژبه د الله ډیر ذکر کوی او په دماغو کښې ورته الله یاد وی او په زړهٔ کښې ورته د الله خوف او یره حاضره وی نو دې انسان ته به نیك عمل ادا کول اسان وی او دا انسان به د جرم نه منع وی ګناه به ورنه نه کیږی د هر قسمه ګناه نه به لرې وی او د الله د حکم د مخالفت نه به محفوظ او مامون وی په یو حدیث کښې راځی د نبیﷺ نه یو ځل د ګناهونو په باره کښې تپوس اوکړے شو چې د انسان نه ګناه ولے کیږی نو نبیﷺ جواب ورکړو:

﴿لَایَزْنِي الزَّانِيْ حِيْنَ یَزْنِيْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ﴾

یو زنا کار انسان زنا نه کوی مګر په دغه کوم کښې چې هغه ګناه کوی نو دا انسان بے ایمانه وی ایمان ورنه پورته شوے وی.

﴿وَلَا یَسْرِقُ السَّارِقُ حِيْنَ یَسْرِقُ وَهُوَ مُؤْمِنٌ ،وَلَا یَشْرَبُ الشَّارِبُ

حِيْنَ يَشْرَبُ وَهُوَ مُؤْمِنٌ﴾

او يو غلاګر چې په کوم وخت کښې غلا کوی او شراب څکونکے انسان چې په کوم وخت په خپلو شرابو کښې مشغوله وی نو په دغه وخت کښې په دوی کښې ايمانی صفت نه وی ځکه دې ګناه کښې اخته شی که دا ايمانی صفت په دې انسان کښې دغه وخت موجود وے او د الله ياد ورته حاضر وے نو دې انسان به دا ګناه نه وے کړے نو د ذکر يوه فائده انسان ته دا هم ده چې الله ورته ياد وی.

## اسان عبادت:

او الله بيا دا ذکر دومره اسان عبادت مونږه بندګانو ته راکړے دے چې په دې کښې څۀ شرائط نشته لکه په نورو عبادتونو کښې څۀ شرائط وی څۀ پابندۍ وی لکه مونځ چې د اودس په حالت کښې به ئے انسان ادا کوی، وخت به داخل وی، مکان او کپړے به صفا وی يو طرف بل طرف ته به مخ او سينه نه اړوی راړوی وغيره خو ذکر يو داسې عبادت دے چې نه ورته اودس شرط دے، نه وخت نه قبله او نه دا چې انسان به د هر څۀ نه پاك وی دا هيڅ څۀ ورته شرط نه دی که انسان ولاړ وی که ناست وی اوکه روان وی که په لاره کښې وی که په کور کښې وی که د تجارت په دکان کښې وی که د بے اودسے په حالت کښې وی او که د اودس په حالت کښې وی که په ګاډی کښې وی اوکه پيدل روان وی نو په ټولو حالاتو کښې دا انسان د الله ذکر کولے شی او دې انسان ته به د دې فائده ملاويږی دا يو داسے اسان عبادت دے نو ځکه الله د ذکر کثير حکم کړے دے.

ښه خبره دا ده چې انسان سره هر وخت تسبيحات په لاس کښې وی وجه دا ده چې په دې سره انسان ته د الله ذکر ورياديږی بيا روسته چې انسان د دې عادت شی نو د دې تسبيحاتو ضرورت هم ورته بيا نه وی .

## د ذکر کثیر دویم مطلب:

یا د **ذکر کثیر** مطلب دا دے چې څومره دعاګانے نبی ﷺ په کوم وختونو، مقاماتو کښې ښودلی دي نو انسان به د دې اهتمام کوی څکه داسې یو مقام او مکان نشته داسې یو وخت او لمحه نشته مګر په دے ټولو کښې د نبی ﷺ نه دعا ګانے نقل شوی دی جماعت ته تلل، راوتل، بازار کښې څۀ اغستل خرڅول، کور ته دننه کیدل اووتل وغیره په دې هره موقع کښې د نبی ﷺ نه دعاګانے نقل شوی دی، اودۀ کیدل پاسیدل جامے اغوستل، خوراك ته کیناستل، پاسیدل، سحرکیدل، ماښام کیدل دا ټولے اهم مرحلے دی او د دې دعاګانے د نبی ﷺ نه نقل شوی دی دا دویمه د ذکر کثیر طریقه چې انسان دغه مسنون دعاګانے په یادو باندې یادې کړی او د دې اهتمام کوی نو دا مصداق دے د قرآن کریم د دې ایت ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا﴾

اے د ایمان خاوندانو د الله ډیر ډیر ذکر کوی۔

والحمد لله رب العالمین.

# د فرائضو نه بعد د دعاء ترغيب

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿سُبْحَانَكَ لَا عِلْمَ لَنَا اِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا اِنَّكَ اَنْتَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ﴾(البقرة:۳۲)

﴿وَعَنْ اَبِيْ اُمَامَةَ رضی اللہ عنہ قَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ اَيُّ الدُّعَاءِ اَفْضَلُ وَاَسْمَعُ قَالَ جَوْفُ اللَّيْلِ الْاٰخِرِ وَدُبُرُ الصَّلٰوةِ الْمَكْتُوْبَةِ اَوْ كَمَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ﴾

## د عبادت مغز او اصل:

په عبادتونو کښې بهتر او غوره عبادت دعا او ذکر او اذکار دي د دعا په باره کښې حديث پاك کښې راځی نبیﷺ فرمائی: ﴿اَلدُّعَاءُ مُخُّ الْعِبَادَةِ﴾ دعا د عبادت خلاصه نچوړ او اصل دے دعا د عبادت يو جزء يوه حصه نه بلکه عين عبادت دے په دې سره انسان ته د الله قرب او نزديکت حاصليږی او خپل تمام حاجتونه ضرورتونه انسان په دې دعا سره د الله نه غوښتلې شی او په دې سره الله د خپل بنده نه خوشحاليږی او رضا کيږی لکه قرآن کښې الله فرمائی:

﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُوْنِيْ اَسْتَجِبْ لَكُمْ﴾

الله فرمائی زما نه غواړے زۀ به ستاسو حاجتونه پوره کومه او څوك چې د دې نه تکبر کوی او لرې کيږی نو الله فرمائی دغه انسان به زۀ جهنم ته ذليله داخل کړم حالانکه د دنيا قانون دا دے چې څوك د يو انسان نه په دنيا کښې غواړی نو دغه انسان په دې باندې خفه او ناراضه کيږی او دا خپل تاوان تصور کوی خو د الله در داسې دے چې انسان د هغه نه په غوښتلو باندې خوشحاليږی او رضا کيږی حالانکه د دعا

مفادات زمونږه خپل مفادات دی په دې کښې الله ته څۀ فائده نشته په دې غوښتلو کښې زمونږه خپله فائده ده.

## د دعا د قبلیدو مقامات:

دغه شان ذکر هم یو اهم عبادت دے او خاص کر د فرض مونځ نه بعد چې د نبیﷺ نه کوم اذکار نقل شوی دی د هغے لوے اهمیت او مقام دے ځکه یو خو دا چه دا اهم عبادت دے او کله چې دا په غوره او اهم وخت کښې ادا کړے شی نو د دې دا کمال او فضلیت نور هم زیات شی او د دعا د قبلیدو څۀ خپلے مواقع دی په دغه مواقعو کښې یوه موقع د دعا د قبلیدو هغه د فرض مانځه نه بعد دعا غوښتل دی په دې حدیث کښې صحابی امامهؓ فرمائی چې یو ځل ما د نبیﷺ نه تپوس اوکړو چې یا رسول الله ﴿اَیُّ الدُّعَاءِ اَسْمَعُ﴾ د انسان کومه دعا الله ښه اوری او هغه قبلوی یعنی د الله نه د سوال کولو د پاره غوره وخت هغه کوم وخت دے نو نبیﷺ په دغه موقع دوه وختونه ښودلی وو یو ﴿جَوْفُ اللَّيْلِ الْاٰخِرِ﴾ یو د شپے اخری حصه په دغه وخت کښې الله د خپل بنده دعا فریاد زیات قبلوی بلکه حدیث کښې راځی چې الله رب العزت د خپل شان مناسب د دنیا اسمان ته راکوز شی او دا اعلان کوی څوك بخښنه غوښتونکې شته چې هغه ته بخښنه اوکړمه څوك رزق غوښتونکې شته چې رزق ورته ورکړمه څوك ضروت مند شته دے چې زۀ ورله ضرورت پوره کړمه نو دا د دعا د قبولیت بهتر وقت دے دویم وخت د دعا د قبولیت د پاره ﴿دُبُرِالصَّلٰوةِ الْمَكْتُوْبَةِ﴾ هغه د فرض مونځ اخری حصه ده یا د فرض مونځ نه بعد واله وخت دے چې په دې کښې الله د بنده دعا قبلوی مثلا د غرمې د مونځ نه بعد د مازیګر د مونځ نه بعد د ماښام د مونځ نه بعد د جمعے د مونځ نه بعد په دې وختونو کښې

الله د بنده دعا نه قبلوی.

## غوره اوقات او غفلت:

افسوس دا دے او دا زمونږه لوېه بد قسمتی ده چې دغه بهتر او غوره اوقاتو کښې مونږه غافله یو کله د شپے په دغه وخت کښې د غفلت په خوب کښې اودهٔ شوی یو او کله د فرض مونځ نه بعد دعا غوښتل خو لا څهٔ کوے چې مونږه ورته هغه مسنون اذکار هم پرېږدو او په څهٔ طریقه باندې د مسجد نه باهر ته د تلو کوشش کوؤ او دا یوه مسئله هم ده چې د فرض مانځه نه بعد متصل به انسان نفل یا سنت نه ادا کوی بلکه مسنون اذکار به اوکړی او که څهٔ عذر ورته وی یا مسافر وی په ګاډی کښې وی نو بیا دا جدا خبره ده که دغه انسان سنت نه ادا کوی جائز دی.

## عملی بدعت او نقصانات:

خو دا خبره یاد ساتل پکار دی چې کله هم یو انسان د پیغمبر سنت طریقه پرېږدی نو د دې نعمت د ناشکرے د وجے نه الله په دغه قوم باندې خپل قهر نازل کړی نو دغه قوم بیا په قسم قسم عملی، نظریاتی بدعاتو رسوماتو کښې اخته شی او دا قسم غلط رواجونه په دې قوم کښې عام شی. حسان رضی الله عنه فرمائی:

﴿مَا ابْتَدَعَ قَوْمٌ فِيْ دِيْنِهِمْ اِلَّا وَقَدْ نَزَعَ اللهُ مِنْ سُنَّتِهِمْ مِثْلُهَا ثُمَّ لَا يُعِيْدُهَا اِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ﴾

یو قوم واله چې کله په خپل دین کښې خلاف سنت د بدعت څهٔ کار پیدا کړی نو د دغه قوم نه الله د دې په مقابل کښې سنت طریقے اوچتے کړی ترڅو پورے چې دې قوم والو توبه نه وی کړی او په اخلاص سره دوباره سنت طریقے ته نه وی راغلې نو دغه بدعات په دې قوم کښې

همیشه بیا موجود وی نو سنت طریقه دا وه چې انسان به د فرض مونځ نه بعد دعا کوی خو د جهالت ، ناپوهے د وجے نه دغه د الله واله طریقه او د نبیﷺ سنت مونږه پریښودلی دی ځکه دا قوم په بدعاتو کښې مبتلا شوے دے او که د فرض نه بعد دغه دعا اوکړے شی نو د سنت عملی سره به بدعات ختم شی حدیث کښې راځی امام ابوداود رحمة الله علیه دا نقل کړی دی یو تابعی دے د هغه نوم ارزق بن قیس دے هغه وائی مونږه ته یو ځل امام صاحب رحمة الله علیه مونځ اوکړو د هغه امام کنیه ابو رمسه وو کله چې د جمعے د مونځ نه فارغه شو نو زمونږه طرف ته هغه مخ راوګرځولو او بیا ئے او فرمائیل: ﴿صَلَّيْتُ هٰذَا الصَّلٰوةَ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ﴾

ما د دې وخت واله مونځ د نبی علیه السلام سره کړے وو

﴿وَكَانَ اَبُوْ بَكْرٍ وَ عُمَرَ رضي الله عنهما يَقُوْمَانِ فِي الصَّفِّ عَنْ يَمِيْنِهٖ﴾

ابوبکر او عمر رضی الله عنهم به د نبیﷺ سره مخکښې په ښی طرف واله صف کښې اودریدل او یو بل سړے مونږه سره په دې مونځ کښې د اول تکبیر نه شامل شوے وو بیا نبیﷺ ښی او کس طرف ته سلام اوګرځولو تر دې پورے چې مونږه د هغه د مخ سپین والے اولیدلو نو که انسان اوګوری صحابه کرامو رضی الله عنهم د نبیﷺ هره طریقه، هره خبره داسې په تفصیل سره رانقل کړے ده چې وړے وړے خبرے ورکښې هم هغوی نه دی پریخودلې او بیا نبیﷺ مونږه طرف ته مخ راوګرځولو ﴿كَانْتِقَالِ اَبِيْ رَمْسَه﴾ لکه څنګه چې ابورمسه دا مخ دې طرف ته راوګرځولو خپل ځان په باره کښې وائی که زۀ په دې طریقه باندې عمل کومه نو د دې وجے نه چې نبیﷺ هم په دې باندې عمل کړے دے دا زما د طرف نه نوے ایجاد شوے کار نه دے بلکه د نبیﷺ طریقه او د هغه سنت دے چې په دې باندې زۀ عمل کومه نو په دغه وخت هغه سړے اودریدلو او

مونځ ئے شروع کړو عمر رضی اللہ عنہ ورته اودریدو اوګے ئے ورته اونیولے او ورته ئے اووئیل چې کینه ځنګه ته بغیر د څۀ فاصلے نه متصل فرض مونځ پسے اودریګے، پخوانی اهل کتاب د دې وجے نه تباه شوی وو نو وجه دا وه چې هغوی به د فرضو او سنتو په مینځ کښې فاصله نه راوسته تا نه ذکر اوکړو، نه دعا کوے او سنت مونځ ته متصل اودریګي نبی صلی اللہ علیہ وسلم ورته نظر اوچت کړو او ورته وائی ﴿أَصَابَ اللهُ بِكَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ﴾

اے د خطاب ځویه ته الله حق ته اورسولے دا صحیح خبره ده نو د دې واقعه نه معلومه شوه چې د فرضو او سنتو په مینځ کښې به انسان د ذکر او دعا اهتمام کوی.

سائب رحمۃ اللہ علیہ دا یو بل تابعی دے دا وائی ما یو ځل د معاویه رضی اللہ عنہ سره د جمعے مونځ اوکړو کله چې هغه د مونځ نه فارغه شو نو زۀ یکدم بغیر د څۀ فاصلے نه سنت مونځ ته اودریدم کله چې ما مونځ پوره کړو او هغه خپل د ناستے ځائے ته دننه شو نو هغه ماته د راتلو پیغام راکړو چې راشه زۀ ورته حاضر شوم نو ماته ئے دا خبره اوکړه ﴿لَا تَعُدْ لِمَا فَعَلْتَ﴾ دغه خپل کار ته دوباره مه واپس کیږه دا کار مه کوه د فرض مانځه نه بعد به بغیر د فاصلے نه مونځ ته نه اودریږې ځکه د دے په مینځ کښې به فاصله وی او بیا معاویه رضی اللہ عنہ ورته حواله په نبی صلی اللہ علیہ وسلم ورکړه چې هغه مونږ ته دا خبره کړے وه دا دوه واقعات د دے دلیل دے چې انسان به د فرض مونځ نه بعد یکدم په ذکر اذکار کښې مشغوله کیږی او بغیر د عذر نه به دا نه پریږدی.

## د فرض مونځ نه بعد اذکار:

هغه کوم اذکار دی او هغه کومے دعاګانے دی چې د نبی صلی اللہ علیہ وسلم نه په دی موقع نقل شوی دی او زمونږه پکښې خیر دے په هغې کښې یو څو دعاګانے او ذکرونه دا دی یو دا چې عبدالله بن عباس رضی اللہ عنہ فرمائی:

﴿كُنْتُ اَعْرِفُ اِنْقِضَاءَ صَلٰوةِ رَسُوْلَ اللهِ بِالتَّكْبِيْرِ﴾

مابه د نبی ﷺ د مونځ پوره کیدل په تکبیر سره پیژندلو کله چه به مونځ نه فارغه شو سلام نه بعد به هغه په تیز آواز سره الله اکبر اوئیلو نو فرض مانځه نه بعد الله اکبر وئیل یو سنت ذکر دے دویم دا چې درے ځله به استغفار وائی استغفرالله، استغفرالله استغفرالله دا دوړاه ذکرونه سنت دی دا استغفار ولے انسان په دې موقع وائی دا خو د ثواب کار دے د ګناه کار خو نه دے چې انسان وربانديې استغفار اووائی نو جواب دا دے چې کله استغفار د ګناه نه بعد د توبے ویستلو دپاره وئیلے کیږی او کله استغفار د درجو د اوچت والی د پاره انسان وائی دویم دا چې مونځ د الله لوې عبادت دے او دا عبادت به دې انسان د الله د شان مطابق نه وی کړے نو په هغے باندې دا انسان د الله نه بخښنه غواړی چې الله دا عبادت ستا د شان مطابق ادا نه کړے شو نو په دے باندې بخښنه غواړمه.

بل ذکر د فرض مانځه نه بعد ﴿اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ يَا ذَالْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ﴾ او دا د ثوبان رضی الله عنه نه په حدیث کښې نقل شوی دې په احادیثو کښې همدا الفاظ نقل شوی دی او دا مکمله او جامعه دعا ده دا د نبی ﷺ طریقه ده بعضې خلق په دې دعا کښې نور څۀ زیادت کوی کله وائی: ﴿فَحَيِّنَا رَبَّنَا بِالسَّلَامِ وَاَدْخِلْنَا الْجَنَّةَ مَعَ السَّلَامِ﴾ کله وائی ﴿تَبَارَكْتَ وَتَعَالَيْتَ وَتَعَاظَمْتَ يَاذَالْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ﴾ دا په احادیثو کښې نشته دا دے خلقو د ځان د طرف نه جوړ کړے شوی دی دا که څوک د سنت په نیت وائی نو دا بدعت دے.

## فرض مونځ نه بعد نورې دعاګانې:

او د مغیره بن شعبه رضی الله عنه نه دا روایت نقل دے چې ﴿كَانَ

النَّبِيُّ ﷺ يَقُوْلُ فِيْ دُبُرِالصَّلٰوةِ الْمَكْتُوْبَةِ﴾ نبی علیه السلام به د فرض مانځه نه بعد دا ذکر هم کولو ﴿لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ. لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْئٍ قَدِيْرٌ﴾ او ورسره دا الفاظ هم نقل شوی دی ﴿اَللّٰهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا اَعْطَيْتَ وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ وَلَا يَنْفَعُ ذَاالْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ﴾ یو ذکر دے یوه دعا ده او په یو موقع نبی ﷺ معاذ رضی الله عنه ته دا ذکر ښودلے وو کله چې نبی ﷺ هغه د لاس نه اونیولو او بیا ورته وائی اے معاذ رضی الله عنه زۀ ستا سره مینه کومه بیا ماته فرمائی چې زۀ درته ذکر ښائم د هر مونځ نه بعد دا ذکر مه پریږده ﴿اَللّٰهُمَّ اَعِنِّيْ عَلٰى ذِكْرِكَ وَشُكْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ﴾ او د دې نه علاوه دعاګانے هم نقل شوی دی د مختلف خیرونو دعا به ئے د الله نه کوله او د مختلف شرونو نه به ئے فناء غوښتله لکه یو دعا دا وه: ﴿اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُبِكَ مِنَ الْكُفْرِ وَالْفَقْرِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ﴾ الله زۀ په تا سره د کفر نه پناه غواړم هسې نه چې د ایمان نه محرومه نه شمه دا په اصل کښې مونږه اوتاسوته تعلیم دے او د محتاجۍ نه پناه غواړم او د عذاب قبر نه پناه غواړمه.

عقبه بن عامر رضی الله عنه فرمائی نبی ﷺ ما ته فرمائیلی وو ﴿اَنْ اَقْرَأُ دُبُرَ الصَّلٰوةِ﴾ چې زۀ د مانځه نه بعد معوذ تین اخری دوه سورتونه به اووایمه او په یو سورت کښې درے درے ځله د دې د وئیلو تلقین شوے دے.

## زیات او کم مقدار کښې ذکر:

او یو حدیث کښې راځی چې څوك د مانځه نه بعد دری دیرش(۳۳) ځله سبحان الله، دری دیرش ځله الحمد لله او څلور دیرش ځله الله اکبر وائی نو دې انسان ته به الله د هغه ټول ګناهونه معاف کړی اګرکه هغه د سمندر د زګ په شان ډیر ولے نه وی او په احادیثو کښې بیا د دې تعداد مختلف راغلے دے په بل حدیث کښې د دے (۱۱)یوولس یوولس ځله ذکر راغلے دے په یو حدیث کښې (۲۵) پنځه ویشت ځله

ذکر راغلے دے او په یو حدیث کښې (۱۰) لس ځله د دے ذکر راغلے دے نو د دے وجه دا ده که انسان سره موقع وی او څۀ مشغولیت نه لری نو زیات ذکر به کوی او که څۀ عذر دے خو وړوکے عذر دے نو پنځه ویشت ځله به د غه ذکر کوی او که غټ عذر دے یا ضروری کار دے نو یولس یا لس ځله به دغه د ذکر واله کلمات وائی دا ذکر په ښی او ګس دواړو لاسونو باندې انسان کولے شی. خو په ښی لاس باندې کول زیات غوره دی او ډیر فضیلت لری او یو بل حدیث کښې د دے اجرو ثواب دا ذکر شوے دے چې یو په لس دې انسان ته الله نیکۍ ورکوی نو که انسان کم مقدار لس ځله پنځه وخته مونځ نه بعد اووائی نو یونیم سل او بیا چې دے لره په لس کښې ضرب ورکړے شی نو دوه نیم زره نیکۍ د دې انسان جوړیږی اوکه یو انسان دا ذکر ډیر کوی نو د دې نه زیاتے نیکۍ به ورته الله ورکوی دا د دې ذکر فضیلت او ثواب مقام او مرتبه ده معمولی آسان ذکر دے خو لوئے مرتبے او ثواب واله شان لری.

او په یو حدیث کښې راځی چې څوك د فرض مونځ نه بعد اية الکرسی وائی نو د دے انسان او د جنت مینځ کښې دومره فاصله به وي چې دا انسان مړ شی نو جنتی به وي د جنت نه داخلیدو د پاره منع کونکے څیز هغه د دے انسان مرګ دے دا د اية الکرسی اجر او ثواب دے.

# فضيلت بسم الله

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَاِنَّهٗ مِنْ سُلَيْمَانَ وَاِنَّهٗ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ﴾(نمل:۳۰)

﴿وَقَالَ تَعَالٰى :اِقْرَءْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِىْ خَلَقَ﴾ (علق:۱)

﴿وقال رسول الله ﷺ كُلُّ اَمْرٍ ذِىْ بَالٍ لَمْ يُبْدَأُ فِيْهِ بِبِسْمِ اللّٰهِ فَهُوَ اَقْطَعُ اَوْ كَمَا قَالَ ﷺ﴾ (جامع المسانيد)

## د ذكر كثير مطلب:

مخكښې نه دا خبره شروع وه چې د الله ذكر دا يو اهم عبادت دے او قرآن پاك كښې بار بار الله د ذكر په باره كښې حكم كوى بلكه د كثرت ذكر به باره كښې حكم كوى:

﴿وَاذْكُرُوا اللّٰهَ ذِكْرًا كَثِيْرًا﴾

اے خلقو الله ډير ډير ياد كړے.

د دے ډير ذكر بيا څهٔ صورتونه دى يو دا چې انسان د الله ذكر په ژبه باندے كوى او د انسان ژبه هميشه د الله په ذكر باندے لمده وى لكه نبى ﷺ يو صحابى ته دا وصيت كړے وو دا هم د الله ډير ذكر دے دويم دا چې هر قسم عبادت كښې مشغوله كيدل دا هم د الله ذكر دے دريم د مسنون اذكارو پابندى كول كوم چې جناب رسول الله ﷺ په مختلفو وختونو او مكانونو كښې عملى كړى دى يا د هغے تعليم نبى ﷺ خپل امت ته وركړے دے نو د دې پابندى كول دا هم په كثرت

ذکر کښې داخل دی بلکه د کثرت ذکر یو خائسته او غوره صورت دے د سحر نه واخله تر ماښام پورے چې یو انسان څومره اعمال کوی تقریباً په دے هره مرحله کښې د نبیﷺ نه څۀ نه څۀ ذکر نقل شوے دے چې انسان د دې پابند جوړ شی.

## د بسم الله مقام او فضیلت:

په دغه مسنون دعاګانو کښې یو اهم ذکر او دعا چې هغه مونږه ته معمولی کار ښکاری خو په هغے کښې چې الله کوم کمال کیخودلے دے د هغې فضیلت او ثواب ډیر زیات دے او په هغے کښې چې الله کوم برکت او خیر کیخودلے دے نو د انسان ذهن هغے ته رسائی نشی کولے او الله او رسولﷺ چې څومره د هغې د وئیلو په باره کښې تلقین کړے دے نو که انسان ته دا معلوم شی او ځان ورباندے پوهه کړی یقیناً د دے انسان به دا عقیده جوړه شی چې دا وړه کلمه بسم الله الرحمن الرحیم د الله څومره لویه خزانه ده او دا څومره قیمتی جوهر دے.

قرآن پاك کښې الله د سلیمانعلیہ السلام او د بلیقس واقعه بیان کړې ده کله چې سلیمانعلیہ السلام هغے ته خط لیکی او د الله عظمت او وحدانیت ورته ښائی نو د دے خط په شروع کښې دا اهمه کلمه ﴿بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ﴾ لیکی او په حدیث کښې نبیﷺ فرمائی چې هر یو کار که هغه په بسم الله سره شروع نه شی نو هغه ناقص او نامکمل کار وی دغه وجه ده کله چې په نبیﷺ باندے د الله د طرف نه وحی راځی نو الله ورته حکم کوی ﴿اِقۡرَاۡ بِاسۡمِ رَبِّكَ﴾ د الله په نوم باندې شروع کوه او که انسان

هر قسمه نيك او ښه كار كوى نو د شريعت حكم دا دے چې دا انسان به په شروع كښې بسم الله وائى.

## د طعام په ابتداء كښې ذكر:

بعضې دعاګانو كښې صرف د بسم الله ذكر راغلې دې او په بعضې موقعو باندے ورسره نورے دعاګانے هم يوځائے شوى دى بسم الله د خوراك شروع كيدو په وخت كښې وئيل پكار دى او كه د انسان نه په شروع كښې بسم الله هيره شى نو بيا به په مينځ كښې به ﴿بِسْمِ اللّٰهِ اَوَّلَهٗ وَاٰخِرَهٗ﴾ وائى ځكه حديث كښې راځى چې كله انسان د خوراك ابتداء كښې بسم الله اووائى نو د شيطان نه محفوظ شى خو كله چې ورنه هيره شى نو دغه شيطان ورسره يو ځائے خوراك كوى كله چې دا انسان بسم الله اوله وآخره اووائى نو شيطان دغه خوراك اولټے كړى او دغه خوراك را اوغورځوى.

## د بسم الله سره نورې دعاګانې:

او كه يو انسان د شپے په وخت كښې اوده كيږى نو احاديثو كښې مختلفې دعاګانې راغلې دى يوه دعا وركښې ﴿بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ﴾ وئيل هم دى او ورسره دا دعا هم نقل شوے ده ﴿اَللّٰهُمَّ بِاسْمِكَ اَمُوْتُ وَاَحْيَا﴾ دغه شان مسجد ته داخليدو په وخت كښې احاديثو كښې ورسره د بسم الله وئيلو ذكر شته دے داسے دعا ده ﴿بِسْمِ اللّٰهِ وَالصَّلٰوةُ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِيْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ﴾ دغه شان بيت الخلاء ته د داخليدو وخت كښې بعضې رواياتو كښې ورسره د بسم الله ذكر شته دے

داسے دعا ده ﴿بِسْمِ اللهِ اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُبِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ﴾ د دے دعا ذکر ورکښې شته دے. دغه شان د جامو اغستولو په وخت کښې دا دعا ورسره یو ځائے شوے ده ﴿بِسْمِ اللهِ اَللّٰهُمَّ اَنْتَ كَسَوْتَنِيْهِ اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ خَيْرَهٗ وَخَيْرَ مَا صُنِعَ لَهٗ وَاَعُوْذُبِكَ مِنْ شَرِّهٖ وَشَرِّ مَا صُنِعَ لَهٗ﴾ په دې دعا کښې هم بسم الله ذکر ده او کله چې یو انسان د خپل کور نه باهر اوځی نو ﴿بِسْمِ اللهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ﴾ به وائی داسې نورې ډیرے موقعے چې په هغے کښې د الله د پیغمبر پاك ﷺ نه دعاګانو کښې بسم الله وئیل نقل شوی دی دا ټول بسم الله په اهمیت فضیلت او لوے مقام باندې دلالت کوی چې د الله په نزد د بسم الله څومره لوے مقام دے ځکه دا بار بار ذکر کوی.

## د درد او مصیبت نه حفاظت:

په یو حدیث کښې راځی که د یو انسان په یو اندام باندې درد او تکلیف وی نو درے ځله دې دا انسان بسم الله اووائی او بیا دې ﴿اَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شَرِّ مَا اَجِدُ وَاُحَاذِرُ﴾ اووائی نو د انسان دا تکلیف به الله لرې کړی.

یو حدیث کښې راځی څوك چې سحر او ماښام دا دعا وائی: ﴿بِسْمِ اللهِ الَّذِیْ لَا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهٖ شَيْءٌ فِی الْاَرْضِ وَلَا فِی السَّمَآءِ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ﴾ او درې درې ځله دا دعا وائی نو دې انسان ته به د سحر نه ماښام پورے هیڅ ضرری او نقصانی څیز ضرر نه ورکوی یو لوے محدث دے هغه وائی چې دا دعا وئیل زما معمول دےخو کله نه چې زۀ د دې د فضیلت نه خبر شوے یمه ما دا دعا نه ده پریخودې او یوه ورځ زما نه دا دعا هیره شوه

ما او نه وئیله نو په دغه ورځ د فالج دا بیماری په ما باندې راغله.

## د الله نظام ربوبیت:

دا بسم الله صرف یو منتر نه دے بلکه د دې د وئیلو سره یوه عظیمه فلسفه او حکمت د الله یو ځائے دے او د دې وئیلو په ذریعه سره هغه فلسفې ته د انسان توجه پیدا کول مقصد دے چې انسان ته به دا فلسفه مخکښې موجود وی که انسان هر قسمه کار کوی نو هیڅ یو کار د الله د توحید نه بغیر ظاهر کښې انسان ته دا خپل محنت کوشش ښکاری خو د دې نه روستو د الله یو عظیم الشان نظام ربوبیت کار فرما دے د دې یو مثال دا دے چې انسان کله یخې اوبه اوڅکی نو دغه انسان ته ښکاری چې په ظاهره باندې ما دا اوبه د کوهی نه یا ټیوب ویل نه راوستی دی او ماته دا ملاؤ شوی دی خو کله چې انسان د دې د څکلو په وخت کښې بسم الله وائی نو په دې سره الله دا انسان د ظاهر بینۍ نه یو حقیقت ته بوتلل غواړی چې دا صرف ستا کمال نه دے بلکه د الله یو لوئے نظام دے چې څومره د انسان څۀ ته ضرورت دے دغه څیز ورته الله په زمکه کښې ښه په ډیر لوے مقدار کښې پیدا کړے دے او بیا دغه نعمت الله انسان ته مفت ورکوی او خوږې اوبه ورکوی ترخې د سمندر واله اوبه الله انسان ته نه ورکوی نو انسان به دې موقع باندې د الله نوم په دې لوې نعمت باندې ذکر کوی او د هغه د نعمت شکر به په دې طریقه ادا کوی.

## د اوبو انتظام:

او بیا الله د انسان د پاره په دې طریقے سره د دې اوبو انتظام

اوکړو چې کله په دغه سمندر باندې نمر لږې نو د نمر سره د هغے نه باد اوچتیږی او بره د وریځې په شکل کښې بیا الله په خپل قدرت سره د هغے نه خوږې اوبه زمونږه د فائدې د پاره را نازلوی که انسان سوچ اوکړی نو دا د الله څومره لوې نعمت او رحم دے څۀ اوبه الله په دریابونو کښې روانې کړې، څۀ اوبه زمکه جذب کړی، په څۀ اوبو باندې الله پټی اوبه کړی د فصل انتظام ورسره برابر شی، څۀ اوبه انسانانو ته اورسیږی او څۀ حصه د دې نه الله د غرونو په سرونو باندې کیږدی چې ټول کال بیا هغه وئیلے کیږی او مونږه ته د هغے نه فائده راځی نو په دې یو ګلاس اوبو څکلو کښې الله انسان ته دغه خپل تمام نظام ربوبیت ورمخې ته کړی، د دې وجے نه ورته الله په دې موقع باندې د اوبو څکلو په وخت کښې د بسم الله وئیلو حکم کړے دے.

## په هر څیز کښې د الله قدرت:

دغه شان که یو انسان خوراك کوی نو الله ورته حکم کړے دے چې بسم الله وایه ځکه د خوراك نه ورسته هم د الله یو لوے نظام کار فرما وی او که انسان اوده کیږی نو شپه راوستل دا ټول نظام برابر کیدل په دې کښې د الله لوے نظام ربوبیت موجود دے اوکه یو انسان بیت الخلاء ته دننه کیږی نو د بسم الله حکم دے ځکه دغه خوراك څکاك د جسم په مختلف حصو باندې تقسیم کول او بیا دغه ګندګی او فُضله باهر راوتل د دې نه شاته هم د الله لوے قدرت دے اوکه الله نه غواړی نو دغه انسان به د دې ګندګې د وجې نه په څومره تکلیف کښې وی چې دا هضم نشی او درد پیدا شی ځکه الله انسان ته حکم کوی چې په دې

موقعو باندې د بسم الله ذکر کوه چې په ټولو څيزونو کښې ته الله ته محتاجه ئے او ستا بغير د الله د محتاجۍ نه بله لاره نشته نو د دې نعمتونو د شکريه په سلسله کښې به انسان بسم الله وائی.

# د کور نه د وتلو او داخلیدو دعا

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَقُلْ رَّبِّ اَدْخِلْنِيْ مُدْخَلَ صِدْقٍ وَّاَخْرِجْنِيْ مُخْرَجَ صِدْقٍ وَّاجْعَلْ لِّيْ مِنْ لَّدُنْكَ سُلْطٰنًا نَّصِيْرًا﴾ (بنی اسرائیل:۸۰)

## دوه اهمې دعاګانې:

د مسنون دعاګانو متعلق خبره شروع وه په دغه دعاګانو کښې دوه اهمے دعاګانے چې نبی ﷺ د کور نه د باهر کیدو په وخت او کور ته دننه کیدو په وخت کښې د دغه دعاګانو اهتمام کړے دے او د دې په باره کښې نبی ﷺ حکم او تلقین خپل امت ته کړے دے نو د دې په باره کښې څۀ ضروری خبرې کوو د دې دعاګانو معنی مطلب او مراد څۀ دے په دې خاص موقعه د دې د وئیلو حکمت څۀ دے انسان ولې نورې دعاګانې نه غواړی چې دا دعا غواړی او په دې باندې عمل کوی. د کور نه چې کله یو انسان باهر راوځی د څۀ غرض یا ضرورت یا د څۀ حاجت د پاره نو په دغه وخت کښې نبی ﷺ دا دعا ښودلې ده:

﴿بِسْمِ اللّٰهِ وَاعْتَصَمْتُ بِاللّٰهِ وَتَوَكَّلْتُ عَلَى اللّٰهِ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ﴾

او په بعض روایاتو کښې درې جملے ﴿بِسْمِ اللّٰهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللّٰهِ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ﴾ دا ډیره اسانه دعا ده تقریبًا هر مسلمان ته به یاده هم وی. د دې معنی او مطلب دا دے بسم الله د الله په نوم شروع کومه ځکه د مسلمان مؤمن شان دا دے چې کوم کار کوی نو د الله نه د هغے د اسانولو سوال کوی الله ته خپل ځان محتاجه کوی چې د کور نه اووتلو په وخت کښې

چې زهٔ کوم کار شروع کومه هغه د الله په نوم باندې شروع کومه ﴿وَاعْتَصَمْتُ بِاللّٰهِ﴾ د دې حاصل دا دے د الله نه پناهی طلب کومه ﴿تَوَكَّلْتُ عَلَى اللّٰهِ﴾ په الله باندې اعتماد او بهروسه کومه ﴿وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ﴾ نشته اوړيدل د ګناه نه او نشته طاقت د نيك كار كولو مګر دا چې الله چاته دغه طاقت ورکړی.

## ځان الله ته حواله کول:

دې دعا کښې د بسم الله ذکر دے او مخکښې جمعه په دې باندې تفصيل سره بيان شوے وو بيا ورپسې جمله ﴿وَاعْتَصَمْتُ بِاللّٰهِ﴾ ده دې سره انسان خپل ځان په الله باندې سپاری خپل ځان الله ته حواله کوی د دې وئيلو فلسفه په دې موقع دا ده چې انسان کله د کور نه باهر کيږی نو د څهٔ حاجت يا ضرورت د پاره راباهر کيږی که تجارت وی، ملازمت وی نور څهٔ کار وی نو په دغه کار کښې به دا انسان يا کامياب شی او يا به کامياب نشی پته نه لږی ځکه نبی ﷺ دا دعا او ښودله چې په الله باندې ځان حواله کړه او هغه ته خپل ځان اوسپاره نو الله به ستا مدد کوی د هغه امداد به ستا سره په دې کار کښې شامل حال وی او ګناه به درنه نه کيږی شيطان به په دې کار کښې خپل تصرف نشی کولے او نه به درته څهٔ خلل پيدا کوی که څوك تپوس اوکړی چې دا کار به اوشی اوکه نه به کيږی نو دا انسان جواب ورکړی يره زما په الله بهروسه ده هغه ته ما خپل ځان سپارلے دے که د هغه خوښه وی نو دا کار به کيږی او که د هغه خوښه نه وی او ما ته پکښې خير نه وی نو دا کار به نه کيږی.

## په الله اعتماد او بهروسه:

نو دا ظاهری اسباب به انسان استعمالوی خو يو کار کاميابيدل او کارامد کيدل نو په دې کښې به د انسان په الله باندې بهروسه او اعتماد

کوی لکه یو انسان په سفر باندې یوځائے ته روان وی په دې کښې مختلف احتمالات دی چرته ګاډے خراب نشی، لاره کښې نقصان پیدا نشی، منزل مقصود ته رسیدو کښې څۀ رکاوټ پیدا نشی، دا مختلف احتمالات پیدا کیږی نو ظاهری اسباب به انسان استعمال کړی او نوره بهروسه او توکل به د دې انسان په الله باندې وی که دغه احتمالات او سوچونه انسان کوی نو دا به د خپل کور نه بیا نه اُوځی نو ځکه ورته شریعت د الله په بهروسه حکم کړے دے. که د دنیا کار یو انسان شروع کوی او د دې اذکار او دعاګانو اهتمام ورسره کوی نو دغه د دنیا کار ورته الله د دین په کار سره بدل کړی.

## په الله د خیر او شر عقیده ساتل:

او بله جمله په دې دعا کښې ﴿لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ﴾ ده نو دیکښې هم د انسان د عاجزے او کمزورے اظهار دے او په پخه عقیده باندے دلالت کوی که یو انسان وائی چې ما دومره سفرونه، تجارتونه کړی دی نو پیغمبر وائی ورسره دا هم وایه ﴿لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ﴾ چې د الله کمال درته مخکښې وی او د هغه نه نۀ غافله کیږې که ته څۀ کار کوے نو د الله توفیق درسره ملګرے دے دا ستا کمال نه دے بله فلسفه ورکښې دا ده چې بازار د شرونو او فتنو ځائے دے انسان نه په بازار کښې قسم قسم ګناهونه کیدے شی لکه نبی ﷺ فرمائی چې ناخوښ ځایونه الله ته بازارونه دی ځکه هر قسم ګناه، دروغ ،دهوکه، سود وغیره په بازارونو کښې کیږی نو په دې موقع که انسان د ګناه نه بچ کیږی نو د الله په حفاظت سره به بچ کیږی ځکه وائی ﴿لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ﴾ که انسان د ګناه نه بچ کیږی او که نیکی کوی نو دا د الله په توفیق سره وی نو دا یو قسم دعا ده چې الله ماله د دغه ځائے د ګناهونو نه محفوظ اوساتی.

## د مشرکانو اعتراض:

بازار ته وتل منع نه دی ځکه دا د انسان ضرورت دې خامخا به بازار ته ځی دا خو د مشرکانو اعتراض وو په نبیﷺ باندې چې هغوی به دا خبره کوله:

﴿مَا لِهٰذَا الرَّسُوْلِ يَأْكُلُ الطَّعَامَ وَيَمْشِيْ فِي الْاَسْوَاقِ﴾

په دے پیغمبر باندې څۀ شوی دی چې دې په بازارونو کښې ګرځي دې خوراك ولې کوی دې څکاك ولې کوی نو که پیغمبر خوراك نه کوی څکاك نه کوی نو د دے سنت طریقو عملی تعلیم به څنګه خپل امت ته ورکوی اوکه پیغمبر بازار ته نه ځی نو انسان به د حلالو او د حرامو تمیز څنګه معلوم کړی او د پیغمبر ژوند به څنګه د امت د پاره اسوه حسنه جوړه شی نو بازار ته د ضرورت د پاره تلل منع نه دی خو کله چې ضرورت د انسان پوره شی نو بیا به دغه انسان را واپس کیږی.

## د بازار دعاګانی:

او بازار کښې دننه کله چې انسان خپل ضرورت پوره کوی نو د هغے د پاره نورے دعاګانې دی لکه یوه دعا دا ده ﴿لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِيْ وَيُمِيْتُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْئٍ قَدِيْرٌ﴾ او یوه دعا دا هم ورسره ده ﴿بِسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُكَ خَيْرَ هٰذِهِ السُّوْقِ وَ خَيْرَمَا فِيْهَا﴾ الله زۀ ستا نه د دې بازار د خیر سوال کومه ﴿وَاَعُوْذُبِكَ مِنْ شَرِّ هٰذِهِ السُّوْقِ وَشَرِّمَا فِيْهَا﴾ الله د دې د شر نه پناه غواړمه او یو روایت کښې ورسره د سودا اغستولو خرڅولو په وخت کښې دا دعا هم ښودلې شوې ده ﴿اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُبِكَ مِنْ صَفْقَةٍ خَاسِرَةٍ وَيَمِيْنٍ فَاجِرَةٍ﴾ الله د سودا د تاوان نا ما بچ کړے او د دروغژن قسم نه ما بچ کړے.

## کور ته دَ د ننه کیدو دعا:

او کله چې انسان خپل کور ته دا خلیږی نو د دې مسنون دعا دا ده: ﴿اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡ اَسۡئَلُكَ خَیۡرَ الۡمَوۡلِجِ وَخَیۡرَ الۡمَخۡرَجِ بِسۡمِ اللّٰهِ وَلَجۡنَا وَبِسۡمِ اللّٰهِ خَرَجۡنَا وَعَلَى اللّٰهِ رَبِّنَا تَوَكَّلۡنَا﴾ اے الله زهٔ ستا نه سوال کوم د بهتر مقام د دننه کیدو او د خیر واله راباهر کیدو سوال کومه د الله په نوم باندې دننه کیږمه او د الله په نوم باندې بیا باهر ته اوځمه او په الله باندې چې زمونږه رب دے په هغه باندې بهروسه او اعتماد کومه په دې دعا کښې بیا لویه معنی او فلسفه موجود ده.

اوله خبره الله زهٔ درنه بهتر مقام ته دَ دننه کیدو سوال کومه ځکه انسان بذات خود د کور نه باهر وی دا پته ورته نه لږی چې د کور به څهٔ حالات وی کور کښې به خیر وی اوکه نه به وی زهٔ کور ته دننه کیږم هسې نه چې د څهٔ نا مناسب حالاتو سره مخامخ شمه یا یو دم د برداشت نه باهر د نقصان واله خبر سره مخامخ نه شمه نو ځکه درنه د دننه کیدو په وخت کښې خیر غواړمه اوکه کور ته انسان دننه شی نو خامخا به باهر ته راوځی نو د هغې په باره کښې هم د الله نه د خیر سوال کوی چې الله زهٔ درنه باهر هم خیر غواړمه دا دعا به ځکه غواړی کله چې د کور نه اوځی نو دا انسان د الله خیر ته باهر هم محتاجه دے صرف تجارت د دے انسان اسره نشی کیدے او دا صرف انتها او مقصد نه دے او که انسان کور ته دننه کیږی نو دا گمان د انسان پیدا نشی چې دا کور زما حفاظت کوی نا، حفاظت د انسان الله کوی نو کور کښې دننه هم دا انسان بیا د الله خیر ته محتاجه دے ځکه عافیت ډیر لوے نعمت دے د الله د طرف نه او ځکه به نبی ﷺ یو بله دعا دا غوختله الله ما ته د دین او دنیا عافیت را نصیب کړے.

او د کور نه وتلو وخت کښې يوه بله دعا ذکر شوې ده چې هغه لګه اوکده دعا ده ﴿اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُبِكَ مِنْ اَنْ اَضِلَّ اَوْ اُضَلَّ اَوْ اَظْلِمَ اَوْ يُظْلَمَ عَلَیَّ اَوْ اَجْهَلَ اَوْ يُجْهَلَ عَلَیَّ﴾ دې دعا کښې هم تقريبًا دغه مخکښې مضامين راجمع شوی دی نو مسلمان لره په دې باندې پابندی او عمل کول پکار دی.

# بيت الخلاء ته دَ دننه کيدو او باهر کيدو دعا

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَاِذَا سَاَلَكَ عِبَادِیْ عَنِّیْ فَاِنِّیْ قَرِیْبٌ اُجِیْبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ اِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيْبُوْا لِیْ وَلْيُؤْمِنُوْا بِیْ لَعَلَّهُمْ يُرْشِدُوْنَ﴾ (سورة البقرة:۳٦)

## دا انسان مختلف حالات:

په مسنون دعاګانو کښې يوه موقع چې د اهم ضرورت او حاجت پوره کولو په وخت کښې نبیﷺ خپل اُمت ته د هغے تعليم ورکړے دے په دې خلورويشت ګهنټو کښې انسان د مختلفو حالاتو سره مخامخ کيږی کله خوشحالی وی کله غم وی کله په انسان داسے مرحله وی چې انسان په خُله باندې د هغې اظهار کولې شی او څهٔ مرحله داسے وی چې انسان د هغے اظهار نشی کولے انسان فطری د دغه کار نه يو قسم شرم محسوسه وی او انسان د دې نه خلاصے نشی موندلے انسان دې ته مجبوره وی په دغه موقعو کښې هم نبیﷺ خپل اُمت ته څهٔ دعاګانے ښودلی دی په دې کښې يوه موقعه دَ قضائے حاجت ده، انسان د خوراك څکاك نه بعد به خامخا اودس ماتی د پاره بيت الخلاء ته ځی ځکه دا د انسان ضرورت دے نو نبیﷺ د دې طريقه او دعاګانې ښودلی دی.

## د بيت الخلاء دعا:

د تلو طريقه دا وه چې بيت الخلاء ته به انسان په کسه خپه

داخلیږی ګسه خپه به اول دننه کوی ګسه خپه څکه دننه کوی چې دا د ناخوښې کار دے خو انسان ورته مجبوره دے او په دغه موقع نبیﷺ دعا ښودلې وه ﴿اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُبِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ﴾ او په څهٔ روایاتو کښې ورسره بسم الله هم راغلے ده د دې معنی دا ده الله زهٔ په تا سره پناه غواړم د مذکر او مونث خبیث مخلوق نه مراد د دې نه یا شیطانان دی که یو انسان عام صحرا کښې ولاړ وی او قضائے حاجت ته کینی نو د عورت ښکاره کولو نه وړاندے به دا دعا وائی.

## ضرر ناک مخلوق نه پناه غوښتل:

او د دې حکمت څهٔ دے چې په دې موقعے د دغه خبیث مخلوق نه د پناه غوښتلو د پاره نبیﷺ په دې موقع باندې حکم کړې دې او د دې په باره کښې ئے تلقین او یاد دهانی کړې ده نو وجه دا ده چې په بل حدیث کښې راځی نبی ﷺ فرمائی:

﴿اِنَّ هٰذِهِ الْحُشُوْشَ مُحْتَضَرَةٌ فَاِذَا اَتٰی اَحَدُکُمُ الْخَلَاءَ فَلْیَقُلْ اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثَ﴾

دې مقاماتو د قضائے حاجت ته شری ضرری مخلوقات حاضری کوی شیطانان جنات د پاره د قیام ځائے د ګندګۍ واله مکانات وی نو کله چې یو انسان دې ته دا خلیږی نو دغه انسان دې د الله نه پناه غواړی هسے نه چې څهٔ شر او تکلیف ورته ور نه کړی د دې نقصان څهٔ دے دا دوه قسمه نقصانات انسان ته په دې موقع باندې ورکوی یو ظاهری او جسمانی نقصان او دویم روحانی نقصان انسان ته په دې موقع ورکوی

جسمانی نقصان دا چې د انسان وجود کپړے لباس ګنده کړی په دغه ګندګۍ باندې او کله کله دا شیطانان د جسمانی ظاهری بیمارۍ سبب اوګرځی ځکه وائی چې پناه غواړی دې دَ پاره چه ظاهری شر نه انسان بچ شی او روحانی بیماری دا ده چې انسان ته په دغه موقع شیطان قسم قسم ګنده خیالات وسوسې په ذهن کښې بردی او دا شیطان انسان په وهمی وسوسې واله بیمارے کښې اخته کوی ځکه په دې موقع د دې شیطانانو نه پناه غوښتلې شوې ده کله چې د دې مسنون دعاګانو اهتمام نه کوی نو دا انسان په وهمی بیماریانو او وسوسو کښې مبتلاء کیږی.

## د هر عبادت شیطان:

بلکه په دې کښې هر عبادت باندې یو خاص شیطان مقرر دے لکه د مونځ د پاره یو خپل شیطان مقرر دے د هغه نوم خنذب شیطان دے دا شیطان انسان په مونځ کښې خطا کوی کله بار بار نیت تړی کله بار بار قراءة کوی کله رکوع سجده کښې ورته وسوسه اچوی او یو شیطان په اودس مقرر دے چې انسان ته د اودس په موقعه وسوسه اچوی زیات نه زیات درے ځله به انسان هر اندام وینځی د درے ځلو نه زیات وینځل جائز نه دی خو دغه انسان چې کله د دې شیطان په وسوسه کښې اخته شی نو بیا یو یو اندام لس لس ځله شل شل ځله وینځی نو دا د دغه شیطان تصرف وی په دے انسان باندے د دے شیطان سره به انسان مقابله کوی دغه وهم او شك ته به څۀ حیثیت نه ورکوی نو نبیﷺ دا دعا د دې خبیث شیطان نه د پناه حاصلولو دپاره غوښتلے وه.

کله دغه شیطانان او جنات انسان ته دومره لوے نقصان ورکړی

چې دا انسان ورسره مړ کیږي لکه يو صحابي دے سعد بن عباده رضی الله عنه هغه ته چه کله نبي صلی الله علیه وسلم دا تعليمات نه وو ښودلي هغه اودس ماتي ته ناست وو نو جناتو وربانددے حمله کړے وه او هغه ئے شهيد کړے وو.

## اودس ماتي نه بعد دعا:

اودس ماتي نه بعد دعا به انسان په دے وخت کښې وائي چې کله د اودس ماتي نه فارغه شي او عورت پټ کړي نو دا دعا به وائي: ﴿غُفْرَانَكَ﴾ الله زهٔ ستا نه مغفرت او بخښنه طلب کوم او دويمه دعا دا ده:

﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ اَذْهَبَ عَنِّيَ الْاَذٰى وَعَافَانِيْ﴾ د دے معنیٰ دا ده شکرونه او حمدونه الله لره دی چې هغه زما نه تکليف لرے کړو او هغه ماته عافيت را کړو.

## د مغفرت غوښتلو حکمت:

دا اودس ماتې د ضرورت واله کار دے دا خو څهٔ د ګناه کار نه دے نو سوال دا پيدا کيږي چې انسان د الله مغفرت په دے موقع ولے طلب کوي اصل وجه دا ده چې دلته په دے مقام طلب مغفرت د پاره دوه وجے دي يو دا چې کيدے شي د دے انسان نه څهٔ غلط حرکت او عمل به څرګند شوے وي ځکه په دے موقع شيطان په انسان باندے حمله کوي نو هسے نه چې دا انسان د ګناه په دے موقع کښې طلب کوي دويمه وجه، فائده او حکمت دا دے چې د انسان په بدن کښې کومه فضله ګندګي موجود وه او د هغې څهٔ فائده نه وه که دغه ګندګي الله د انسان په خيټه کښې بنده کړے وے نو څومره نقصان به وے بلکه کله کله د انسان د

مرګ د پاره سبب جوړ شي نو دا ګندګی د انسان نه لرې کیدل د الله یو لوے نعمت وی په خپل بنده باندے او انسان د دے نعمت کماحقه صحیح شکر نه ادا کوی د دے وجے نه وائی الله زۀ ستا نه مغفرت او بخښنه طلب کومه او بیا ورپسے د شکر دعا ده:

﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَذْهَبَ عَنِّیَ الْاَذٰی وَعَافَانِیْ﴾ الله لره شکر دے چې زۀ ئے د ګندګۍ نه محفوظ کړمه او هغه ماله عافیت راکړو.

یو بله دعا هم ورسره شته دے په کنزل العمال کښې دغه حدیث شته دے او دعا دا ده:

﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَذَاقَنِیْ لَذَّتَهٗ وَ بَقِیَ فِیَّ قُوَّتَهٗ وَاذْهَبَ عَنِّیْ اَذَا﴾ حمدونه شکرونه الله لره دی چې د خوراك لذت هغه ماته نصیب کړو او د هغے قوت الله زما په جسم کښې محفوظ کړو او تکلیف ده ګندګې نه هغه ماته خلاصے راکړو نو دا څۀ عجیبه الفاظ دی د دے دعا د خوراك لذت د انسان په خوله کښې پاتې کیدل قوت او طاقت د خوراك د جسم په فائده کښې ګرځیدل او اضافی ګندګی او فضله بیا د جسم نه باهر کیدل دا څۀ عجیبه الفاظ دی نو دا درے نعمتونه دی څکه د الله حمد وئیل پکار دی زمونږه سوچ صرف د ژبے لذت په باره کښې وی.

## په انسان کښې د الله د قدرت علامې:

الله دومره لوے انعام او احسان کړے دے چې د دے انسان په بدن کښې الله د انسان د حفاظت یو لوے نظام پیدا کړے دے چې هغې ته نظام انهضام وائی دا یو خود کار مشین دے کله چې انسان خوراك اوکړی نو دغه مشین دا خوراك تقسیم کړی کومه حصه چې فائده منده

ده هغه په جسم کښې برقرار پاتې شي او کومه حصه چې فضله او بے کاره ده هغه د معدے په ذريعه باهر کړی په دغه فائده مند خوراك کښې څۀ حصه غوښې ته فائده ورکوی څۀ خوراك هډوکو ته څۀ خوراك د انسان ويختو ته فائده ورکوی دنيا سره د ترقۍ او سائنس نه داسے يو خود کار مشين نشی جوړولے دا د الله يو قدرتی نظام دے په دے کښې څۀ حصه خوراك هضم کوی څۀ حصه وينه جوړوی څۀ بل کار کوی او څۀ بل کار هر يو حصه په خپل کار کولو کښې مشغوله ده او دا نظام الله په دنيا کښې هر انسان ته يو شان ورکړے دے داسې الله نه دې کړي چې کافر يا جاهل انسان د دے نعمت نه الله محرومه کړی.

ځکه الله چې کله هم خپل قدرت بيانوی نو انسان ته فرمائی:

﴿وَفِيْٓ اَنْفُسِكُمْ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ﴾

ستاسو په دے نفسونو کښې د الله د قدرت نښې او علامې دی ايا په تاسو کښې عقل نشته چې د دے نه عبرت او نصيحت واخلے ځکه انسان لره په دے موقع باندې دا اهمې او ضروری دعاګانې وئيل پکار دی چې په دے سره د الله شکر دا انسان ادا کړی نو په دے سره به د کثرت ذکر حکم د الله پوره کيږی او انسان ته به په هره موقع الله ته استغفار کول يا دوی.

والحمد لله رب العالمين

# د خوراک څکاک دعا

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُوْنِيْٓ اَسْتَجِبْ لَكُمْ اِنَّ الَّذِيْنَ يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِيْ سَيَدْخُلُوْنَ جَهَنَّمَ دَاخِرِيْنَ﴾ (مومن:٦٠)

## ظاهري اسباب او د الله قدرت:

د مخکښې نه د دعاګانو په باره کښې سلسله شروع وه چې د نبي ﷺ نه کومې دعاګانې مسنون نقل شوی دی په دے کښې څۀ هغه دعاګانې دی چې د هغے تعلق د خوراك څكاك سره دے دا خوراك څكاك د الله په نعمتونو کښې يو لوے نعمت دے او په دنيا کښې د انسان د ژوند دارومدار په دې خوراك څكاك باندې وی دا دنيا الله رب العزت د اسبابو سره تړلے ده الله يو انسان بغير د خوراك څكاك نه هم ژوندے ساتلے شی خو عام قانون فطرت د الله د طرف نه دا دے چې خوراك څكاك د انسانيت د بقاء او ګذران د پاره يو ظاهري سبب دے په دې دنيا کښې او کله چې الله غواړی نو انسان به بغير د دے نه هم ژوندے وی د دې مثالونه ډير دی لکه يونس علیہ السلام خلوېښت ورځې د مَهی په ګيډه کښې څۀ خوړل دغه شان اصحاب کهف درې سوه نهه کاله په يو غار کښې اوده شوی وو نو هغوی الله رب العزت بغير د دے نه ژوندی ساتلی وو خو عام قانون او عادت د الله دا دے چې انسان به ظاهري اسباب استعمال کړی د هغے نه بعد به نور توکل، يقين، اعتماد او بهروسه په الله باندې کوی.

نو دا یو لوے نعمت دے کله چې انسان د دے نعمت شکریه ادا کړی الله دغه بنده ته د دے پوره فائده ورکوی او نور وربانديِ دغه نعمت زیات کړی.

## د طعام اداب:

د نبیﷺ بی بی ام سلمه رضی الله عنها د هغے اول خاوند وو د هغه نوم ابو سلمه رضی الله عنه وو کله چې هغه وفات شو نو نبیﷺ دغه بی بی په خپله نکاح کښی واغسته نو د نبیﷺ پرکتے عمرو رضی الله عنه د نبیﷺ سره یو ځل په خوراك باندے ناست وو نو عمرو رضی الله عنه وائی چې زما لاس په کاسه کښې تاویدو راتاویدو نو نبیﷺ ماته فرمائی او اداب بیانوی چې د دے ادابو خیال ساته ﴿كُلْ مِمَّا يَلِيْكَ﴾ د خپلې مخې نه خوراك کوه ﴿وَسَمِّ اللهَ﴾ بسم الله وایه نو انسان به بسم الله وائی.

په دے کښې څهٔ حکمت او فلسفه ده نو د دے حکمت او فلسفه دا ده چې انسان په دے سره د الله د نعمت اعتراف کوی او په دے سره انسان ته د الله د نعمت حضور وی چې الله دا خوراك خوړل ستا ورکړه ده او ستا نعمت دے او بل دا چې په دے سره انسان کښې عاجزی وی او د الله د نعمت اقرار ورسره وی او د دے بسم الله په باره کښې مخکښې تفصیل او فلسفه ذکر شوې وه.

## د طعام په مینځ کښې دعا:

اوکه د یو انسان نه د خوراك په ابتداء کښې بسم الله هیره شی او د طعام په مینځ کښې ورته یاده شی نو په دغه وخت کښې به ﴿بِسْمِ اللهِ اَوَّلَهٗ وَاٰخِرَهٗ﴾ وائی په یو موقع یو کس د نبیﷺ سره ناست وو او د هغه

نه بسم الله هیره شوے وه کله چه ورته بسم الله یاده شوه نو دے سړی بسم الله اووئیله نبی ﷺ په خندا شو او ورته وائی چې ما شیطان لیدلو چې هغه تر اوسه پورے ستا سره په خوراك کښې شریك وو خو کله چې تا بسم الله اووئیله نو شیطان هغه خوړلې شوې خوراك اولټې کړو نو نبی ﷺ په خندا شو نو په بسم الله نه وئیلو سره د طعام نه برکت ختمیږی او برکت ورسره نه وی. بله خبره دا ده چې بسم الله سره د مسلمان او د کافر په مینځ کښې فرق راځی ځکه کافر خوراك کوی خو بسم الله وربانديې نه وائی او مسلمان چې خوراك کوی نو د الله په نوم سره خوراك کوی ځکه د کافر مقصد صرف خوراك کول صرف خیټه مړه ول وی صرف لذت اغستل وی او د مسلمان مقصد دا وی چې الله دا رزق راکړے دے او دا صرف لذت نه دے بلکه په دې سره به الله ماته طاقت راکړی نو زهٔ به په دې سره د الله عبادت کومه او د الله عبادت کښې به ډیر کوشش کومه.

## د مسلمان او د کافر په خوراك کښې فرق:

یوه بله دعا هم د نبی ﷺ نه نقل شوے ده هغه دا:

﴿ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ أَطْعَمَنِیْ هٰذَا الطَّعَامَ وَرَزَقَنِیْهِ مِنْ غَیْرِ حَوْلٍ مِنِّیْ وَلَا قُوَّةٍ ﴾

ټول ښه صفتونه الله لره دی چې هغه ما ته دا خوراك زما د طاقت او قدرت نه بغیر راکړو نو مسلمان چې خوراك کوی هغه د خپل عظمت او قدرت نفی کوی او د الله د عظمت او قدرت اثبات کوی او کافر چې کله خوراك کوی نو د خپل ځان د قدرت او عظمت اثبات کوی او د الله دَ

قدرت نه انکار کوی د کافر سوچ دا وی چې دا ما محنت کړے دے دا زما د تجارت وجه ده دا زما د ملازمت کمال دے او د مسلمان یقین او عقیده دا وی چې دا هر څۀ د الله د طرف نه وی او دا زما څۀ کمال نه دے دا د الله رحم دے .دا د قارون نظریه وه چې هغه به د کمال نسبت خپل ځان ته کولو او د الله د قدرت نه هغه انکار کړے وو. نو نتیجه دا شوه چې الله هغه لره په زمکه باندې اومنډلو او الله تباه او هلاك کړو نو د خوراك په موقع به انسان بسم الله وائی.

## د طعام برکت:

یوه بله دعا د نبی ﷺ نه دا هم نقل شوې ده:

﴿اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لِيْ فِيْهِ وَاَطْعِمْنِيْ خَيْرًا مِنْهُ﴾

الله دا رزق ستا د طرف نه ماته ملاؤ شو نو په دې کښې راته خیر او برکت واچوې ځکه کله الله بنده ته رزق ورکړی خو په دغه رزق کښې خیر او برکت نه وی نو انسان به د الله نه د رزق خیر او برکت طلب کوی د خیر او برکت مطلب دا دے چې انسان ته الله په دې رزق کښې فائده ورکړی او د دۀ ضرورتونه ورباندې الله پوره کوی کله ډیر خوراك یو انسان کوی خو د دې انسان لوږه ورسره نه ختمیږی او کله یو انسان ډیرې اوبه څکې د دې انسان تنده ورسره نه لرې کیږی دې ته عرب **جوع البقر مرض** وائی نو دَا د طعام هغه بے برکتی وی او دا هم برکت دے چې خوراك د دې انسان د پاره د بیمارئ ذریعه نه وی بلکه الله ورته په دې سره صحت ورکوی ﴿وَاَطْعِمْنِيْ خَيْرًا مِنْهُ﴾ په بله موقع الله د دې نه بهتر خوراك

راکړے د دی شکر کول او ائنده هم الله ته د عاجزۍ او بےوسے اظهار کول.

## په هر څيز کښې خير او برکت:

الله انسان ته په هر څۀ کښې برکت راولی کله د انسان په عمر کښې برکت وی کله د انسان په رزق کښې برکت وی او کله د انسان په اولاد کښې برکت وی او کله د انسان په عمل او علم کښې الله برکت ورکړی د عمر برکت دا دے چې انسان نه الله په لږ عمر کښې زياته فائده واخلی لکه څنګه چې صحابوۀ﷢ په لږ وخت کښې د خپل عمر نه زياته فائده اغستې وه په رزق کښې برکت دا وی چې انسان حلال رزق او پاك رزق خوری په اولاد کښې برکت دا وی چې فرمانبرداره اولاد الله انسان ته ورکړی او د علم برکت دا وی چې دغه علم باندې ورته الله عمل ورنصيب کړی او عمل کښې برکت دا دے چې الله ورنه دغه په خپل دربار کښې قبول کړی او دې انسان ته ورباندې الله ښه بدله او صله ورکړی الله ورنه په دې عمل سره رضا شی او دۀ ته اجر وثواب ورکړی.

هر کله چې خوراك د الله نعمت دے نو دا به بے ځايه نه ضائع کوی فضول خرچی به ورکښې نه وی د بل غريب مسلمان به ورکښې حصه وی تر دې پورې چې کوم خوراك د انسان په ګوتو باندې باقی وی نو هغه به هم په اخر د خوراك په ژبه باندې ستې خوری به ئے ځکه حديث کښې راځی چې انسان ته دا معلومات نه کيږی چې د دې خوراك برکت په کومه حصه کښې دے.

## د خوراك نه بعد دعا:

د طعام نه بعد هم نبی ﷺ دعاګاني فرمائیلی دی مشهوره دعا دا ده ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ﴾ ټول ښه صفتونه الله لره دی چې هغه مونږه ته خوراك راکړو او مونږه ئے د مسلمانانو نه ګرځولی یو او بعضې روایاتو کښې دا دعا داسې راغلې ده:

﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَكَفَانَا وَاٰوَانَا وَجَعَلَنَا مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ﴾

د كفانا معنی دا ده چې الله مونږه لره کافی کیدونکے دے رزق ئے راکړے دے او د **اوانا** معنی دا ده چې الله مونږه له د سر سورے او د پردے مقام کور په دنیا کښې راکړے دے په دې باندې د الله شکر دے نو دا دعاګانې د خوراك په ابتدا درمیان او اخر کښې نقل شوی دی مسلمان لره بحیثیت مسلمان د دې اهتمام کول پکار دي.

الحمدلله رب العالمین

# مسجد ته د ننه کیدو او باهر کیدو دعا

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿فِيْ بِيُوْتٍ اَذِنَ اللّٰهُ اَنْ تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ فِيْهَا اسْمُهٗ يُسَبِّحُ لَهٗ فِيْهَا بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ﴾ (سورة النور:٣٦)

## د مسجد اداب:

د مسنون اذکارو سلسله شروع وه په دې موقع مسجد ته د دا خلیدو او باهر کیدو په وخت کښې چې کومې دعاګانې راغلې دی د هغې متعلق به خبره کیږی د مسجد ادب او احترام زمونږه په شریعت کښې یوه مسلمه خبره ده چې د مسجد یو خپل مقام مرتبه او حیثیت دے انسان به د دې خیال ساتی په دې ایت کښې الله رب العزت دغه مقام مرتبه بیا نوی:

﴿فِيْ بِيُوْتٍ اَذِنَ اللّٰهُ اَنْ تُرْفَعَ﴾ (سورة النور:٣٦)

د مسجدونو متعلق د الله دا حکم دے چې دا دِی د الله په یاد او ذکر سره اباد کړے شی او د الله تسبیح لوے شان دِی په دې مسجد کښې سحر او ماښام یاد کړے شی یعنې هر وخت د الله عبادت، ذکر په دې کښې پکار دے هر کله چې مسجد د الله کور دے نو دې ته د داخلیدو او اووتلو هم څۀ اداب او طریقه ده انسان به د دې پابند وی.

مسجد ته دننه کیدل او باهر کیدل دا یو قسم عبادت دے نو د دې سره الله څۀ اداب هم ذکر کړی دی یو دا چې انسان د داخلیدو په

وخت کښې د نفلي اعتکاف نيت اوکړی چې څومره وخت زۀ مسجد کښې ناست يمه نو دا به زما د اعتکاف په نيت ناسته وی نو دې انسان ته به د اعتکاف واله اجر ملاويږی. دويم دا چې دا انسان به خپله ښے خپه دننه کړی لکه څنګه چې د باهر کيدو په وخت کښې ګسه طرف واله خپه به باهر ږدی او دا يو قسم عملي تربيت دے چې داخليږی نو انسان خپله ښے خپه دننه کړی ګويا چې زۀ په دې سره خوشحاله يمه او باهر ته اووتلو باندې زۀ خوشحاله نه يمه خو خامخا ضرورت وی مجبوری وی نو ځکه باهر طرف ته ګسه خپه باهر کوی.

## مسجد ته د دننه کيدو دعاګانې:

داخليدو په وخت کښې دعا ﴿اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِيْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ﴾ او په څۀ رواياتو کښې په دې موقع درے ذکرونه راغلي دی يو بسم الله وئيل دويم درود شريف وئيل دريم دا دعا وئيل دی ﴿بِسْمِ اللهِ وَالصَّلٰوةُ عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِيْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ﴾ بسم الله ولے وئيل کيږی نو مخکښې دا خبره شوې وه چې د مسلمان هر کار به د الله په نوم باندې شروع کيږی ځکه په دې کښې د الله د قدرت او طاقت اظهار دے او د خپلے عاجزے کمزورے اقرار دے او د دې تفصيل مخکښې تير شوے وو او په دی کښې دا هم يو اقرار دے چې مسجد ته د راتلو دا توفيق ماته الله راکړو دا زما خپل څۀ کمال نه دے بلکه دا د الله توفيق دے او د دې نعمت شکر دے دويم ذکر په دې کښې درود شريف وئيل دی ﴿وَالصَّلٰوةُ عَلٰى رَسُوْلِ ﷺ﴾ نو دا درود شريف په دې موقع وئيل څۀ حکمت او څۀ

معنی لری نو د دې یوه وجه دا ده چې جماعت مسجد ته راتلل او د نیك عمل توفیق ملاویدل دا په حقیقت کښې د نبیﷺ د تعلیم او د تلقین د وجے نه دی که د نبیﷺ تعلیمات احادیث د هغه رهنمائی تلقین نه وے نو دا خبره زمونږه په ذهن کښې به نه وے ناسته نو په دې اعتبار د هغه احسان دے په دې امت باندې ځکه به په هغه باندې درود شریف وائی او د دې عامے فائدې هم ډیرې زیاتے په احادیثو کښې راغلی دی دا د خیر نه خالی نه وی بله دا چې دا د پیغمبر په حضور کښې یو قسم تحفه ده هغه به د دې بدله دې امتی ته په اخرت کښې ورکوی.

## مقدس مقام او د الله رحمت:

وروستے کلمات ﴿اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِیْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ﴾ الله ماته ستا د رحمت دروازے کولاؤ کړه د رحمت د دروازو کولاؤ والی دعا ځکه کوی چې کله یو انسان د الله دربار ته داخل شی نو که په دې انسان د الله د رحمت دروازے کولاؤ نه شی نو د دې انسان په حق کښې په ځائے د ثواب دا د وبال او ګناه یوه ذریعه جوړه شی ځکه کیدیشی د جمات او د مسجد د آدابو او اصولو خلاف ورزی اوکړی یا ورنه په دغه مقدس مقام کښې بے ادبی یا د ګناه کار څرګند شی نو انسان به ځکه د الله د رحمت سوال کوی.

او په دې دعا کښې د الله نه سوال د ډیرو دروازو په باره کښې کوی داسے وائی ابواب رحمتك ستا د رحمت هغه ډیرې دروازے ماته کولاؤ کړې دا ځکه چې د الله ډیر زیات مختلف قسم قسم رحمتونه دی نو دا انسان به د الله نه دغه ټول رحمتونه طلب کوی څۀ رحمتونه الله په دنیا

کښې په بنده باندې کوی څهٔ رحمتونه الله په اخرت کښې په بنده باندې کوی او څهٔ رحمتونه الله په بنده باندې په قبر کښې کوی نو دغه ټول رحمتونه به انسان د الله نه غواړی او د دې دنیا رحمتونه څهٔ د انسان د صحت سره تعلق لری څهٔ د بدن د سر نه واخله تر خپو پورے اندامونو سره تعلق لری نو انسان دې رحمتونو ته محتاج دے هسے هم مسجد د الله د رحمتونو ځائے دے په دې کښې د الله د طرف نه انوارات او رحمتونه شپه او ورځ هیمشه راروان وی نو په را دننه کیدو سره دا انسان دغه ټول رحمتونه د الله خپل ځان ته مکمل متوجې کړی او دا دعا د دې سوچ سره وئیل پکار دی صرف د عادت په طریقے سره نه بلکه دا ټوله خاکه او پس منظر به د دې انسان په ذهن کښې موجود وی او بیا به دا دعا وائی.

## مسجد کښې نورعبادات:

بیا کله چې د الله رحمت دې انسان ته مخامخ شی نو دغه رحمت به دا انسان په دنیاوی خبرو ،ګپ شپ سره د خپل ځان نه، نه لری کوی بلکه نور نور به د الله نه طلب کوی که وخت وی نو تحیة المسجد مونځ کښې به مشغوله شی یا به د قرآن پاك تلاوت کوی که دا هم نشی کولے نو ذکرو اذکار به کوی خو دنیوی خبرو ته به توجو نه کوی او که هیڅ نشی کولے صرف د جمعے دَ مونځ په انتظار کښې ناست وی نو په دے سره هم الله دې انسان ته اجروثواب ورکوی او دا هم د دے انسان د پاره په عبادت کښې شمار کیدے شی او یو روایت کښې راځی کله چې انسان د مونځ په انتظار باندے ناست وی نو ګویا چې دا انسان د جنت په یو باغ کښې ناست دے نبیﷺ فرمائی چې د دے جنت د باغ نه څهٔ خوراك هم

ورسره بیا پکار دے چې دا انسان به د دے نه خوراك كوى او خوراك دا دے چې انسان به ذكر كوى دا د جنت ميوه ده.

## د مسجد نه باهر کیدو دعا:

او کله چې انسان د مسجد نه باهر کيږی نو ګسه خپه به باهر کوې دا ځکه چې مسجد د پريخودلو ځائے نه دے خو د انسان ضرورت وی مجبوری وی ځکه باهر ځی نو ګسه خپه به باهر كوى چې په دے زۀ خوشحاله نه یمه او بیا د بل مونځ د پاره به زۀ دوباره خامخا حاضری کومه په دے موقع به انسان دا دعا وائی: ﴿بِسْمِ اللهِ وَالصَّلٰوةُ عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ﴾ نو په دے موقع بسم الله ځکه وائی چې انسان به د دنیا کار شروع کوی نو د الله په نوم به شروع کوی او په نبی ﷺ درود ځکه وائی چې د دنیا تجارت د خپلې بنځې او بچو حقوق انسان ته بغير د پیغمبر د تعلیماتو نه نه حاصليږی ځکه به په دې موقع دا دعا وائی او وربسې ﴿اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ﴾ الله څنګه چې ستا رحمت زما سره په مسجد کښې ملګرے وو نو د مسجد نه باهر هم ستا فضل او رحمت زما نه مۀ جدا کوه.

## رحمت او فضل کښې فرق:

قرآن او حدیث کښې چې څوك سوچ كوى نو رحمت او فضل کښې لږ شان فرق شته دے ځکه مسجد ته دننه كيدولو په وخت کښې بنده د الله نه د هغۀ رحمت غواړی او باهر کیدو په وخت کښې د الله نه د هغه د فضل په باره کښې مطالبه کوی نو رحمت د دین نعمت ته وئیلے

کیږی نو ځکه د الله نه په دغه موقع رحمت غواړی او کله چې باهر ته ځی نو فضل د دنیا نعمت ته وئیلے کیږی او د دنیا په کار کښې لین دین معاملات تجارت وغیره سره انسان مخامخ کیږی ځکه په دے موقع د الله نه د دنیا نعمت د فضل مطالبه کوی لکه قرآن کښې الله ذکر کوی ﴿وَابْتَغُوْا مِنْ فَضْلِ اللهِ﴾ د الله دَ فضل په باره کښې تلاش کوے کله چې د جُمعے مونځ ادا شی نو د دے نه مراد تجارت دے که د انسان دا دعاګانې قبولی شی نو یقیناً چې دې انسان ته به الله د دین او دنیا دواړو ورکولو توفیق ورکړی او دا انسان به کامل مکمل کامیاب شی.

د دے دعاګانو شرعی حیثیت دا دے چې دا واجب فرض نه دی خو دومره ده چې دا د نبیﷺ یو سنت طریقه ده او مستحب عمل دے په سنت باندے پابندِ عمل کیدل دا ډیر لوے د الله فضل او رحمت وی ځکه دا د الله لوې نعمت دے په خپل بنده باندے ځکه په سنت باندې عمل کولو سره انسان ته د الله محبت حاصلیږی لکه قرآن کښې الله فرمائی:

﴿قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ﴾

اے خلقو که تاسو د الله محبت غواړے نو زما تابعداری اوکړے الله به د دے اتباعِ سنت د وجې نه ستاسو سره محبت اوکړی، مسلمان لره د دے اهتمام کول پکار دی. **والحمد لله رب العالمين**

# د اودس دعاګانې

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِيْ عَنِّيْ فَإِنِّيْ قَرِيْبٌ أُجِيْبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ﴾

(سورة البقرة:١٨٦)

## اودس د عظيم عبادت ما نځه د پاره سبب:

د مسنون اذکار او دعاګانو سلسله شروع وه په دے مجلس کښې د اودس متعلق چې کومې دعاګانې په احاديثو کښې ذکر شوی دی د هغے متعلق به بيان کيدے شی اودس د مانځه د پاره شرط دے او د شريعت حکم دے څنګه چې مونځ يو عظيم عبادت دے دغه شان اودس چې هغه د دې د پاره سبب او ذريعه ده دا هم يو لوے عبادت دے د شريعت حکم دے نو دا به د شريعت د ادابو مطابق او د سنت طريقے موافق پوره کولے شی او بيا چې د نبی ﷺ نه په دې موقع کومې دعاګانې نقل دی د دې بيان او وضاحت کوؤ.

د نبی ﷺ نه په دې موقع څلور يا پنځه دعاګانې نقل شوی دی بعض کتابونو والو د هر اندام د پاره جدا جدا دعا ذکر کړې ده خو دا چرته په احاديثو کښې نشته که څوک دا د سنت په نيت وائی نو دا بدعت دے البته نورې صحيح دعاګانے په صحيح احاديثو کښې د نبی ﷺ نه نقل شوی دی.

## د اودس دعاګانې:

نو یوه دعا بسم الله وئیل دی دا په احادیثو کښې ثابته دعا ده او د اودس په دوران کښې ورسره دا دعا وئیل ﴿اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِیْ ذَنْبِیْ وَوَسِّعْ لِیْ فِیْ دَارِیْ وَبَارِكْ لِیْ فِیْ رِزْقِیْ﴾ الله زما ګناهونه معاف کړے او زما په کور کښې وسعت او فراخی پیدا کړے او ما لره زما په رزق کښې برکت کیږدې. که دا یوه جامعه پوره دعا د انسان قبوله شی نو یقینا چې دا انسان به په دنیا او آخرت دواړو کښې خوشحاله وی او کامیاب به شی.

## په دې موقع د استغفار وجوهات:

او په دې دعا کښې لوې حکمت پروت دے د دې اولے جملے ﴿اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِیْ ذَنْبِیْ﴾ تعلق د اخرت سره دے او د اخرت په ټولو نعمتونو کښې لوے نعمت د مغفرت درخواست دے چې اے الله دغه لوے نعمت د اخرت په ما باندې اوکړے تر دې پورے چې نبیﷺ هم د الله نه مغفرت طلب کوی سره د دې نه چې پیغمبر د ګناه نه پاك وی هغه ګناه نه کوی نو په دې کښې یو څو مقصدونه دی یو دا چې امت ته تعلیم دے چې دا ډیر اهم او ضروری حکم دے ځکه نبی سره د معصوم والی نه د الله نه مغفرت طلب کوی او دغه استغفار یو ځل نه بلکه حدیث کښې راځی نبیﷺ فرمائی ﴿اِنِّیْ لَاَسْتَغْفِرُ اللهَ فِی الْیَوْمِ الْوَاحِدِ سَبْعِیْنَ مَرَّةً﴾ زهٔ د الله نه په یوه ورځ کښې اویا ځله توبه استغفار طلب کومه ځکه دا ضروری او اهم پیغام دے دویمه وجه دا ده چې څنګه د انسان قصدا ګناهونه په دې سره معاف کیږی نو د دې سره سره انسان ته د غفلت یا د

جهالت واله کوتاهياني او خطاګاني هم معاف کيږی که د يو بنده نه د اودس دوران کښې کوتاهی شوی وی نو دغه ورته هم الله معاف کوی . او کله استغفار د رفع درجاتو دپاره وی چې په دې سره د انسان درجه پورته کيږی او په دې موقع د استغفار څۀ مطلب دے دا خو د ګناه کار نه دے نو دا ځکه وئيل کيږی چې که د انسان نه د اودس په دوران کښې څۀ کوتاهی شوی وی يا څۀ خطا شوی وی او دا انسان د دې نه خبر نه وی نو الله ورته دغه خطا په دې سره معاف کوی ځکه انسان د الله کماحقه عبادت نه شی ادا کولے ﴿مَاعَبَدْنَاكَ حَقَّ عِبَادَتِكَ﴾ الله مونږه ستا صحيح عبادت اونه کړے شو لکه څنګه چې ستا حق دے نو انسان عمل نه پريږدی عمل به د خپل وس مطابق کوی خو د الله د لوے شان او حق مطابق په کمزوری او معمولی عمل سره مونږه صحيح حق نه شو ادا کولے نو ځکه انسان به په دې موقع استغفار وائی.

## ظاهری او معنوی وسعت:

دويمه جمله ﴿وَوَسِّعْ لِيْ فِيْ دَارِيْ﴾ د دې تعلق د دنيا سره دے اوله جمله کښې د اخرت واله نعمت طلب شوے وو ځکه په دنيا کښې د ژوند مقصد اصلی مطلوب هغه آخرت دے نو ځکه اول د دې په باره کښې سوال دے بيا د **وسعت** نه مراد دلته يا ظاهری معنی ده چې انسان ته الله فراخه لوے کور ورکړی ځکه انسان فطرتًا په دې کښې خوشحاله وی او يا باطنی وسعت مراد دے چې هغه ارام اطمينان او سکون دے ځکه کله انسان ته فراخه کور ملاؤ شی خو خوشحالی اطمينان راحت سکون اتفاق اتحاد وحدت ورکښې نه وی دا

غټ کور انسان ته بیا فائده نه ورکوی که انسان د خپل تجارت نه دکان نه یا ملازمت نه ستړے خپل کور ته لاړشی او هلته ورته آرام نه وی نو دغه انسان کله په دې خپل ژوند باندې تنګ شی او دا خبره یاد ساتل ضروری دی چې دا اطمینان د الله په دین سره په دې کور کښې راځی چې کله انفرادی اجتماعی د دین ماحول په دغه کور کښې جوړ وی. او یو حدیث کښې راځی چې درے څیزونه د انسان د نیك بختے علامه ده یو دا چې صالحه نیکه ښځه ورته الله ورکړی دویم فراخه کور ورته الله ورکړی دریم چې دې انسان ته ارام ده سورلی ملاؤ شی.

## په رزق کښې د برکت مطلب:

دریمه دعا او جمله دا وه ﴿وَبَارِكْ لِيْ فِيْ رِزْقِيْ﴾ الله زما په دې رزق کښې خیر او برکت کیږده. دا نه وائی چې زما رزق زیات کړه ځکه زیادت یو څیز دے او برکت بل څیز دے کله ډیر رزق کښې برکت نه وی نو انسان خپل ضرورت پوره کولے نشی خوشحاله او مطمئن نه وی کله ورنه دغه رزق غله او ډاکوان اخلی کله په فضول خرچے کښې او د بے دینے کار کښې خرچ شی کله بیمارۍ وی چې د هغې د وجې نه انسان نه دغه مال ضائع شی او کله د دې مال د وجے نه خپل خپلوان رشته داران، عزیزان، رونړه، بچی د دې انسان دشمنان جوړ شی نو دا هغه د مال بے برکتی ده نو دا دعا به انسان په دوران وضوء د اودس په مینځ کښې وائی.

## د اودس دویمه دعا:

دویمه دعا چې نبی ﷺ د اودس په دوران کښې وئیلے وه لکه

مسلم شريف کښې دا شته دے چې نبیﷺ به د اودس نه بعد دا دعا وئيله ﴿اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ﴾ دا دوه شهادته دی د الله د توحيد او د نبیﷺ د رسالت او حديث کښې ورسره دا راځی څوك چې دا کلمات وائی نو دې انسان ته الله اَته واړه دروازے د جنت کولاؤ کړی بعضې خلق په دې دوران کښې اسمان ته مخ اوچت کړی او ګوته ورسره اوچتوی نو په صحيح رواياتو کښې دا نشته ها ګوته اوچتول په يو ضعيف روايت کښې شته دے خو دا مستقل سنت نه دے مستقل سنت دا کلمات وئيل دی.

## د توبې توفيق:

د اودس نه بعد دعا چې هغه که يو انسان د دې سره يو ځائے وائی او که هغه جدا کړے شی نو هم پرواه نه کوی هغه دا دعا ده ﴿اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِيْ مِنَ التَّوَّابِيْنَ وَاجْعَلْنِيْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِيْنَ﴾ الله ما د توبه ويستونکو خلقو نه اوګرځوے او ما د پاکو خلقو نه اوګرځوے دا ځکه چې په يو روايت کښې راځی الله خپل بنده ته واړهٔ ګناهونه په دې اودس سره معاف کوی دغه ګناهونه د دې انسان نه لری شی هر کله چې واړهٔ ګناهونه په اودس سره معاف شی نو د غټ ګناهونو معاف کولو د پاره د الله نه په دې موقع سوال کوی چې الله ما ته د غټې ګناه نه د توبے ويستولو توفيق راکړے ځکه غټه ګناه د توبے نه بغير نه معاف کيږی د هغے د پاره توبه ويستل ضروری دی لکه څنګه چې زما ظاهر په اودس سره پاك شو نو دغه شان زما باطن هم د ګناهونو نه پاك کړے ځکه د مسلمان ظاهر او

باطن دواړه به پاك صفا وی ګنده به نه وی تاریخ واله لکهی چې د صحابو رضی الله عنهم په دور کښې د مسلمان او کافر په مینځ کښې به فرق دا وو چې د مسلمان د کور مخه به پاکه وه او د کافر د کور مخه به ګنده وه بل دا چې د مسلمان د کور نه به د قرآن د تلاوت آواز اوریدل کیدو او د کافر د کور نه به د ګانو بجانو د ګناه آوازونه اوریدل کیدل او په یو حدیث کښې راځی چې نیك عمل او د ایمان یوه شعبه دا ده چې ﴿إِمَاتَةُ الْاَذٰی عَنِ الطَّرِيْقِ﴾ د لارې نه تکلیف واله څیز لرې کول.

او تواب د مبالغے کلمه ده د دې معنی ده ډیره زیاته توبه ویستل هر کله چې انسان ګناه باربار کوی نو بار بار به توبه اوباسی.

## د اودس نه بعد اهمه دعا:

د اودس اخری دعا دا ده ﴿سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ سُبْحَانَكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ اَسْتَغْفِرُكَ وَاَتُوْبُ اِلَيْكَ﴾ د دې دعا فضلیت دا دے حدیث کښې راځی کله چې یو انسان دا کلمات وائی نو فرشتے دغه کلمات په یو کاغذ کښې رابندی کړی بیا دغه کاغذ فرشتے د قیامت په ورځ به کولاؤ کړی د قیامت د ورځې نه مخکښې دغه کاغذ نه کولاویږی که انسان دا دعاګانې په اهتمام سره وائی نو الله دې انسان ته په دې کښې لوے خیر او برکت ګرځوی صرف د اودس په موقع نه بلکه په عام حالاتو کښې هم د دې اهتمام ضروری دے چې انسان به دا کلمات په عامو حالاتو کښې هم په پابندے سره وائی.

والحمدلله رب العالمين